

# رحمان بابا دیوان

پښتو ټولنه ١٣٥٦

4645

4645

Marfat.com

...یل احمد شرقپوری نقشبندی مجددی

...س میاں صاحب نے

...ل لائبریری کو عطا فرمایا

S-369


د قومونو او ورو ملتونو وزارت

د کتنو د چاپ شوو آثارو سیمینار

درحمان بابا د عکس انځور

دمحمد روحانی رؤیا

د پښتو ټولنې پرله پسې لمبر ۲۲۵

# د
# رحمان بابا دیوان

خپرونکی

پښتو ټولنه

د

۱۳۵۶ کال د زمري پنځلسم

د چاپ شمیر ۳۰۰۰ ټوکه

دولتي مطبعه

Marfat.com

88019

70579

مرتب او مهتمم :

څېړنيار محمد عارف غروال

د نسخو مقابله کوونکي :

څېړنمل عزيز الله

څېړنيار محمد عارف غروال

څېړونکی محمد عمر

Marfat.com

# چې کشور د افغانانو معطر کړي
# د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړي

له څه مودې راهیسې د رحمان بابا د دیوان چاپي نسخې بالکل نایابه شوې وې

له همدې امله، پښتو ټولنې تصمیم ونیو چې د بابا یو نسبتاً جامع او بشپړ دیوان چاپ

کړي. ځکه چې کتاب د یوې علمي او ادبي اکاډمۍ له خوا خپرېده لازمه وه چې تر وسه

وسه پورې اکاډمیک او علمي پرنسیپونه پلي او عملي شي. د دې هدف د تحقق دپاره،

له ټولو چاپي او شپاړس قلمي نسخو څخه استفاده وشوه. دا باوري خبره ده چې د رحمان بابا

د دیوان قلمي نسخې د پښتونخوا په هر گوټ کې پیدا کېږي. خو له یوې خوا د ملکو ادبي

تنظیم او علمي ارتباط او له بلې خوا د پښتو ټولنې مالي امکاناتو اجازه نه ورکوله چې دا

کار نور هم وځنډېږي.

په همدې اساس، د پښتو ټولنې د کتاب او فولکلور لوی مدیریت ته وظیفه ورکړه شوه

چې د بابا د دیوان یو انتقادي متن تیار کړي. د دې دیوان په خپرېدو سره به د ادب تاریخ څېړونکي امکانات

تر لاسه کړي چې د بابا ادبي سبک "ژبه"، او د فکر طرز په ښه توگه وڅېړي

او د هغو اشعارو په ماهیت باندې هم رڼا واچوي چې رحمان بابا ته منسوب شوي دي.

Marfat.com

دا د بابا څېړونکي د خپلو علمي څېړنو دپاره، البته، په دې نسخه باندې بسنه او قناعت نشي کولی
ځکه سره له دې چې کتاب له یو شمېر نسخو څخه ترکیب شوی دی خو هره نسخه یې د متنې کره کتنې -
textual criticism له مخې ځانګړې مطالعه او ژوره څېړنه غواړي. له دې امله، د دې
نسخې په چاپېدلو سره دا د کره کتونکو وظیفه پای ته نه رسېږي بلکه په نوي افق کې به خپلو څېړنو
ته دوام ورکوي.

زه دلته د رحمان بابا د افکارو د ترجمانۍ، تعبیر او تفسیر څخه ډډه کوم ځکه چې هر حرکت یې له خپلو
عملونو څخه په بل رنګ وینې او بهتره به وي چې په دې باره کې ځانګړې رسالې یا کتابونه ولیکل شي.
سره له دې، د کلتور او فولکلور د لوی مدیریت له خوا د رحمان بابا یوه لنډه بیوګرافي ترتیب کړې ده
چې مبتدي لوستونکي له څېړنو، عمل او اساسي ټکو سره آشنا کړي او د بابا ته د زیاتې څېړنې دپاره
چلینج ورکړي.

د دې کتاب په تدوین کې د کلتور او فولکلور د لوی مدیریت مسلکي غړو ښاغلي محمد عارف غروال،
ښاغلي عزیزالله، ښاغلي شاه ولي او ښاغلي محمد عمر او نورو ډېر زیار ایستلی دی. پښتو ټولنه
په دې وسیله د دوی د زیار او د اهتمام یادونه کوي او د پښتو ژبې او کلتور د خدمت په لاره کې د دوی
د زیاتو بریالیتوبو هیله کوي.

۱۳۵۵/۷/۱

څېړنوال محمد صدیق روهي
د پښتو ټولنې رئیس

4645

# رحمان بابا

## ژوند پېژندنه او دیوان

لیکوال

حبیب الله رفیع

ما غوښتل چې په دې لیکنه کې د رحمان بابا په ژوند پېښو، فکر او فن لنډې خبرې وکړم. لټون مې پیل کړ، یادداشتونه مې راغونډ کړل، ډېرې نوې خبرې مخې ته راغلې مجبور وم چې په ټولو وغږېږم نو ځکه خبره د دیوان له سریزې څخه لوی لنډېر کتاب ته اوږده شوه.
په دې سریزه کې د رحمان بابا د فکر او فن له څېړنې څخه تېرېږم ځکه چې لویه خو خبره اوږده به شي او له بله پلوه دده فکر او فن په دې دیوان کې ستاسو په مخ کې دی. نو یوازې ژوند پېژندنه او له دیوان سره مربوط مطالب یې راوړم، البته دده په باب به هراړخیزې خبرې به هغه ځانګړي کتاب کې چې "رحمان بابا - د پښتو عالمګیر" مې نوم ورته ټاکلی دی وړاندې شي.

Marfat.com

زه عاشق یم سر وکار مې دی له عشقه
نه خلیل، نه داوُد زی یم، نه مومند

# [ I ]

# د رحمان بابا تاریخي څېړه

رحمان بابا لکه څومره چې په پښتنو کې وتلی او منلی شخصیت دی هماغومره یې ژوند پېښې تتې او د تاریخ په تیارو کې پټې دي، دا ځکه چې دی د یوې غریبې کورنۍ غړی و او د غریبانو ژوند او مرګ ته چا د دې ارزښت نه ورکاوه چې ځان پرې سترې کړي او ژوند پېښې یې وکاږي، دده ژوند هغه وخت ارزښت وموند چې دده د خپل شعر په قوت د پښتنو زړونه او د "روه" سیمه تسخیر کړل او د تولو پام یې ځان ته واړاوه خو دا هسې وخت و چې دده د ژوند د ډېر څه هېر شوي وو.

دده د ژوند پېښو په باب د ډېرو کسانو دا تکل نیلی ځغلولی او د ډېرې خبرې پرې شوې خو دده د ژوند په باب د ډېرو حقایقو پته هم یا نه شوې او ډېر داسې څه هم ورسره ترل شوي چې په اصطلاح دده ارواحم ترې خبره نه ده.

**ټبر، کلی او ښوکره :** رحمان بابا د پښتنو د روایتي سلسلة النسب له مخې "سړبن"(1) په سړبن کې غوریا خېل(2) په غوریاخېل

---

(1) یو کتاب په سړبن کې چا وند کړ ... لې رحمانه چې لې وکړ دا کتاب
(رحمان بابا دیوان، کابل پښتو ټولنه ۱۴۱ مخ)

سل سړبني دې تر دا یو غزل ځاریږي ... نن چې دا پښتنو د کړلانو خوشال ویلي
(کلیات خوشحال خان خټک ... دوست محمد خان کامل په سریزه ۶۸۱ مخ)

پاتې په (۳) مخ کې

Marfat.com

کې "مومند" (۳) په مومند کې "دویزي" (۴) او په دویزیو کې "ابراهیم خېل" (۵) دی. راوړتي دي په مومندو کې غوریاخېل بولي (۶) خو څرنګه چې مومند د غوریاخېلو ښاخ دی نو ځکه نو موږې ختیځ یوه تېروتلې او دخبرې د ښه سپینتیا به له پاره له مومند نه ترسرېن پورې شجره دلته کاږو :

---

د (۲) ګ پاتې :
فکر کیږي چې له سربني نه مراد رحمان بابا وي او د رحمان بابا د ابیت د ده څواب ګڼل کېدای شي :

یو خوشال یو کم سل ختک لوړ په طبیعت کې — ځارشه د رحمان سربني لـه یوه فرده
(د رحمان بابا دیوان ، کابل ، ۱۴۲ مخ)

بیا به دور د شاه عالم په غمرېنو کې — راښکاره شو په جهان عبد الرحمان
(پیر احمد شاه رضواني - د وهي ګلونه ، ۱۲۳ مخ)

(۲) - زه ختک دیار په غم تازه تازه شم — غوریه خېل رحمان که شو ورځني سترې
(د عبد القادر خان ختک دیوان ، د استاد حبیبي تدوین او تعلیم ، ۱۳۴ مخ)

<u>د دې مخ د متن پاڼلیکونه</u> :

(۳) که لې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي — غوږ به نه باسي په شعر د خوشال خوک
(د رحمان بابا دیوان ، کابل ، کهتار ښېنوا په سریزه ، ۹۴ مخ)

خدایه ولېښې مومند عبد الرحمان — پرې نازل کړې خپل رحمت لکه باران
(دیوان عظیم (عبد العظیم رانیزی) لاهور ۷۶ مخ)

(۴) ما نجیبم په دا طور غزل ووې — که ویلی دویزي عبد الرحمان دی
(دیوان نجیب ، د پېښور پښتو اکاډمي ، ۲۷۳ مخ)

د ملا نبا لیسته خان په جونګ کې هم چې د رحمان بابا د شعرونو وخت ته ورلنډ کښل شوی ، د ده له نامه سره د دویزي کلمه شته
(د ملا نبا لیسته خان جونګ ، قلمي نسخه ، د لیکوال کتابتون)

(۵) "رحمان بابا لکه چې یادې هیوړلیکې ابراهیم خېل مومند و . د پېښور د مومند و په تپه کې چې کوم حلګ ځان د رحمان بابا منسی او عزیزان بولي هغوی په ابراهیم خېلو یادیږي ..." (رحمان بابا ، دوست محمد کامل مومند ، پېښور ۱۹۵۸ ع ۸ مخ)

(۶) کامل ، دوست محمد : "رحمان بابا" ، ۵ مخ

# خلوړم




---

* . دا شجره په ترتيب لوکی دخواجه نعمت الله هروي له "مخزن افغانی" په ۱۹۶۲ ع . کال کی دډاکې چاپ دحافظ رحمتخان له "خلاصة الانساب" په ۱۹۷۳ ع . کال د پيښور د پښتو اکيډمۍ چاپ، دافضل خان خټک له "تاريخ مرصع" په ۱۹۷٤ ع کال کې د يونيورسټي بک ايجنسی چاپ ، دظفر کاکاخيل له "پښتانه د تاريخ په رڼاکی" په ۱۹۶۵ ع . کال کی ديونيورسټی بک ايجنسی چاپ ؛ نه استفاده شوې ده .

(۷) "پښتانه د تاريخ په رڼاکې" دا لوم "گند" کاږي .

(۸) "تاريخ مرصع" دکاسي نوم نه اخلی .

(۹) دا لوم "خلاصة الانساب" د "شمځي" مصحف بولی . مخزن افغاني لې "شيخا" او "خرخښي" قيدوی . پښتانه د تاريخ په رڼاکی لې په دريو بڼو "شيخا ، خونبي ، خابي" راوړی

(۱۰) د "غوريا" لوم مخزن افغاني "غوري" او "غوزل" او تاريخ مرصع "غوری" راوړي .

(۱۱) خلاصة الانساب او دمخزن افغانی ځيني نسخې (چې دخلاصة الانساب اخځ هم همدا دي) دغوريا زامن پنځه بولي په دې ترتيب :
"خليل ، داوُد ، مندك ، يوسف ، مومند" او په دې اساس مومند او داوُدزی دخليل ورېرونه نه بلکه ورونه گڼي او سبکاري چې رحمان بابا هم دهمدې عقيدې په اعتبار کې وايي :
"نه خليل نه داوُدزی يم نه مومند"
دمخزن افغاني ځيني نسخې د "دولت يار" وجود دځينې فولکلوري روايا تو په اساس ردوي او مومند او داوُدزي دزامنو په توگه غلط بولي

(۱۲) دمخزن افغاني معتبري نسخې دغوريا په زامنو کې ترخليل وروسته د "منوزلي" په نامه يو لوم زيا توي او دغوريا زامن پنځه بولي

(۱۳) دا لوم د مخزن ځيني نسخو "جوکن" ضبط کړی دی .

(۱۴) د "زيراني" لوم مخزن افغاني "زيرانه" راوړي دی .

(۱۵) د "ملی" لوم مخزن افغاني او پښتانه د تاريخ په رڼاکې "ملهی" کښلی دی .

(۱۶) د "ترك" لوم په خلاصة الانساب او مخزن افغاني کی نشته .

(۱۷) د "شجاع" لوم هم خلاصة الانساب او مخزن افغاني نه راوړي .

(۱۸) دا لوم خلاصة الانساب او پښتانه د تاريخ په رڼاکې "مهيار" کاږي .

Marfat.com

رحمان بابا په "لهٔ ادر کلي" کې چې له پېښور څخه دري څلور ميله لېرې[19] جنوبي اړخ ته پروت دی[20] له عبدالستار مومند کره وزېږېده[21] پټه خزانه د محمد رسول کلاټول د بياض[22] له مخې د رحمان بابا د زېږېدو کال (۱۰۴۲ ه.ق.) ښيي[23] که څه هم ځيني کسانو څخه کړې چې دا سند سم و نه بولي خصوصاً ښاغلی کامل مومند په خپل "رحمان بابا" نومي تحقيقي اثر کې زيار ايستلی چې دا تکلونه په اساس دري کال په څنګ کې د زېږېدو کلونه وړاندې کړي خو بريالي شوی نه دی او مجبور شوی چې د خپل بحث په پای کې بيا هم دده زېږېدل د همدې کال شا او خوا بولي.[24]

د پښتونستان يو بل مؤلف ښاغلی عبدالحليم اثر سره له دې چې د پېښور د پښتو اکېډمۍ د پښتو مجلې د ۱۹۷۶م. کال دا پرېل په ګڼه کې پټه خزانه يو ډېر باوري کتاب بولي خو د ښاغلي مير عبدالصمد خان د "رحمان بابا شاعر انسانيت" د کتاب په سريزه کې بې له دې چې کوم اخځ وښيي، کارې چې سوانح ليکونکي د رحمان بابا د زېږېدو کال ۱۰۴۰ ه.ق. بولي![25] بيا دا کال رد وي او جالبه دا چې دا څل هم بې له دې چې کوم لاسوند ولري، ليکي: "زما د معلوماتو (؟) له مخې رحمان بابا د ۱۰۳۸ ه.ق. کال د جمادی الثاني په ۲۱ نېټه د جمعې په ورځ د پېښور له مضافاتو څخه په لهٔادر کلي کې وزېږېد".[26]

د رحمان بابا نومې بې ليکوال د کتاب هم د رحمان بابا د زېږېدو په باب د فکر نيلي. زغلولي او د پټې خزانې د صراحت په خلاف يې دده د زېږېدو کال ۱۰۶۳ ه.ق. اټکل

---

(۱۹) عبدالصمد خان، رحمان بابا شاعر انسانيت، ۱۹۷۴ ع. پېښور، ۶۹ مخ.
(۲۰) حبيبي، استاد عبدالحی، پښتانه شعراء (لومړی ټوک)، ۱۳۲۰ ش.، کابل، ۱۹۲ مخ.
(۲۱) محمد هوتک "پټه خزانه" د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي په سريزه، سمون او تشريح ۱۳۲۲ ش. کابل ۹۳ مخ.
(۲۲) د دې بياض نسخه محمد هوتک ليدلې وه خو اوس يې چېرته پته نشته او د زمانې په سپنوله ستر ګو الونيا کړې ده.
(۲۳) پټه خزانه، ۹۳ مخ.
(۲۴) وګورئ: له ۷ تر ۱۶ مخ پورې.
(۲۵) رحمان بابا شاعر انسانيت، ۱۳ مخ.
(۲۶) هم دا اثر.

کړې دی. (۲۷)

د هېواد پیاوړي محقق لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی د رحمان بابا د زېږېدو په باب د پټې خزانې وینا سمه بولي او هېڅ شک ځای نه پکېويني (۲۸).

په دې ترتیب وینو چې د رحمان بابا د زوکړې په برخه کې د پټې خزانې د وینا په مقابل کې ما تو ونکی سند نشته. نو موږ په دې برخه کې د ده خپل دیوان ګورو، چې هلته د دې وینا په رد یا منلو کې څه موندلای شو که نه؟

رحمان بابا په خپل دیوان کې ځینې بیتونه او بند ونه د ده بولو لري، چې د دنیا بې وفایي او خپل ځان سپین ږیرتوب پکې انځوروي او د اورنګزیب په مړینه بحث او ساندې پکې کوي، د ابوالله ظاهراً په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال چې د اورنګزیب د مړینې کال دی (۲۹) او یا هم احیاناً په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال ویله شوې ده. په دې بولو کې یو بیت داسې لولو:

ترپنځا و پنځه تېر شوې       تر لا ځان بولې پسر (۳۰)

نو که چېرې دی په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال تر پنځه پنځوس تېر وبولو او دا تېر والی هم د ده شپېته کلنې ومنو نو بیا د ده د زېږېدو کال ۱۰۵۸ هـ.ق. راځي او د پټې خزانې تر سنې (۱۶) کاله لوړ و سته کېږي خو د پټې خزانې کال له دې سره هم نه ردېږي. ځکه چې دا بیت د رحمان بابا د دیوان په بېلو بېلو نسخو کې یو له بله توپیر لري.

---

(۲۷) محکمۀ نشر و اشاعت قبایل، "رحمان بابا". دا کتاب نه دلیکوال نوم لري او نه يې د چاپ کال ښته او ښکاري چې د کوم غرض له مخې په ډېر عجولانه ډول د رحمان بابا په باب د افکارو د تشتت له پاره خپور شوی.
(۲۸) - حبیبي، پوهاند عبدالحی، د افغانستان ببلیک، ۱۳۵۲ ش، ۱٤۰ مخ.
(۲۹) محي الدین اورنګزیب عالمګیر د کورګاني شاهجهان دریم زوی دی چې په ۱۰۲۷ هـ.ق. کال د هند په احمد آباد کې وزېږېده. په ۱۰۶۸ هـ.ق. کال يې خپل پلار بندي کړ او دی پر تخت کېناست د ده د خپلې واکمنۍ په دوره کې پښتانه ډېر وکوټل او په پښتونخوا کې د ده په ضد پیاوړې ملي نهضتونه پیل شول چې د اخوند چالاک، ایمل خان او خوشال خان غورځنګونه يې زموږ د ملي تاریخ روښانه بابونه دي. (د تفصیل له پاره وګورئ: تاریخ افغانستان در عصر کورګانی هند، د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی اثر، د خوشال خټک مرغلرې، کلیات خوشال خان، ارمغان خوشحال او نور ....).
(۳۰) دیوان عبدالرحمن، د پښتو ټولنې اکېډمي، ۳۸ مخ.

او خصوصاً د رحمان بابا د دیوان په یوه هغه نسخه کې چې د پښتو ټولنې په کتابتون کې ساتله کېږي ، دا بیت داسې دی :

ترېخا وشسته تېر شوی    ته لا ځان بولې پسر

او په دې متن کې هم همدا بیت د اصل په توګه راغلی دی .

د بیتې خرابې د سمېدلو لپاره اوخت د دوه عمر ۷۶ کلو ته رسېږي او تر شپېته کلنۍ تېر بدل شپږ او یا کلنۍ ته رسېدل نه مقید وي لوکه د بیتې خرابې و بنا بیا هم سم او په ځای ده .

## استوګنه ، زده کړه ، او سفرونه :

مونږ مخکې وویل چې رحمان بابا پېښور ته ورنږدې مهمند په بهادر کلي کې زېږېدلی دی . راوړتي لیکي چې دی د پېښور د مومند و دتپې په هزارخانۍ نومي کلي کې اوسېده[۳۱] دا چې رحمان بابا په هزارخانۍ کې اوسېدلی له لوړه دا یا تو تعه هم سنکاري خو دا چې دی په څه علت له بهادر کلي نه هزارخانۍ ته تللی د څېړلو وړ ده .

لوی استاد پوهاند حبیبي په دې برخه کې کاږي : " ... عبدالرحمن په خپله زمانه کې یو صوفي مشرب او په عشق کې داسې ډوب شاعر تېر شوی دی چې خپلې فقیر مزاجۍ او په خپل عشق کې فنا شوی حالت - دی د خپل کلي (نه) هزارخانۍ ته په تللو او استوګنه مجبور کړ ."[۳۲] په دې توګه وینو چې درونداو محترم استاد دده د لېږد علت دده فقیر مزاجي ګڼي .

د "رحمان بابا" لومي کتاب نامعلوم مؤلف دده د دې لېږد د لپاره لاندې دوه علتونه ټوټي : " ... لکه څنګه چې مشهوره ده رحمان بابا پیدا شوی خو په بهادر کلي کې وحو روستو

(۳۱) - کامل مومند ، دوست محمد ، رحمان بابا ، ۴۹ .
(۳۲) - پښتانه شعراء ، ۱۹۲ مخ .

دځینو وجوهاتو له کبله یې خپل کلی پرېښود او هزارخوانې (؟) ته راغی. په دې وجوهاتو د وه خبرې زما په خیال قیاس ته د ېرې نږدې دي: یوه داچې د ه په هزارخوانې کې د ېر خواخوږي خپل خپلوان لرل د هغوی کشش دی هلته بوتله او دویمه داچې دی د علم حاصلولو د پاره هزارخوانې ته راغلی وي او بیا د همدې ځای شوی وي، بلکه دا دواړه قیاسه یو ځای کولی هم شو چې د علم د تحصیل له پاره هزارخوانې ته راغلی وي. دلته یې خپل خپلوان وي. استوګنه یې د هغوی کړه وي. وروسته یې واده هم دلته کړی وي او بیا د همدې ځای شوی وي.(۳۳)

بناغلي اثرله بهادرکلي نه هزارخانې ته د رحمان بابا لېږد بدل د قبايلي ولېش(۳٤) له مخې بولي او وايي چې د دې ولېش په سلسله کې د دوی کورهزارخانې ته راغی(۳۵) دا اټکل ځکه سم نه برېښي چې که رحمان بابا د "ولېش" دوران ته لوېدلی وای نو باید لس دوولس کاله وروسته په هزارخانې کې هم نه وای پاتې شوی او کومې بلې سیمې ته لېږدول شوی وای، سره له دې چې دده تول ټږوند په هزارخانې کې تېر شوی او هورې مړ او خښ شوی دی.

زما عقیده دا ده چې بناغلي رحمان بابا د کورنۍ اصلي ځای هزارخانې وي او په موقتي ډول بهادرکلي ته تللی وي چې دا وخت دی هم هورې زېږېدلی او دماشومتوب دوره یې تېره کړې وي. د دې یو دلیل دادی چې پښتانه خپل مړي په خپله ادیره کې خښوي. نو که د دوی صلي ځای بهادرکلی وای حتماً به یې دده مړی بېرته بهادرکلي ته وړی وُ، سره له دې چې دده مړستون (قبر) په هزارخانه کې دی او هم دمومندو

(۳۳) رحمان بابا، محکمهٔ نشر واشاعت، ۱۷ مخ.
(۳٤) د ولېش قوانین د پښتنولوی مفکر او مقنن شیخ ملي جوړ او په خپل دفتر کې یې وکښل د دې ولېش له مخې به بېرهر و لسو دوولسو کلو کې د پښتنو د ټبرلو - ټبرلو کورنیو ترمنځ محکمه او کورونه سره بدلېدل او د بالغانو په سر به ولېش کېده. شیخ آدم ملي په قام یوسفزی او خیل قام ملومشرو چې د ۸۳۰ هـ.ق کال په حدودو کې یې ژوند کاوه (د تفصیل له پاره وګورئ: د پښتنو ادبیاتو تاریخ (دوهم ټوک)، د استاد حبیبي تالیف له ۲۳۵ تر ۲٤۲ مخ پورې).
(۳۵) رحمان بابا شاعر انسانیت، سریزه، ۱۷ مخ.

د ویزي په هزارخانه کې استوګن سنکاري ځکه چې د رحمان بابا تر ژوند خوکالدرا وروسته د احمدشاه بابا په دوره کې یو بل د ویزي مومند چې رکن الدین نومېږي اوشاعر دی هم په هزارخانه کې مېشته و ، دی وایي :

که ظاهر لیسه ساکن هزارخانه کې — زړه مې خاص دی ستا دربار په دربالخه کې
په نسب کې دیوزي یا مهمندی یم — ستا ... ددربندي یم [36]

د رحمان بابا د استوګنځی په باب که حقیقت هر څه وي خو دا منلې خبره ده چې د ی په بهادرکلي کې زېږېدلی ، په هزارخانه کې استیدلی او هم هلته مړ شوی او خښ شوی دی.

اوس د رحمان بابا د زده کړې او د علومو تحصیل ته رسېږو ، پټه خزانه دده د زده کړې په باب کاږي :

"رحمان بابا له ملا محمد یوسف یوسفزي ځخه لوست وکا او له هغه ځخه يې فقه او تصوف زده کړل ، بیا ولاړ کوهاټ ته ، هلته يې هم سبقونه ولوستل او بیا عالم شو . په ځوانۍ يې دنیا پرېښوده او اکثر به په غر وګرځېدی او کله به ولاړ دهندوستان پرخوا او د خدای عبادت به يې کاوه د دنیا په کار و به نه مشغول کېدی ، عبدالرحمان بابا یو عالم رباني او عابد سړی و ".[37]

ښاغلي عبدالحلیم اثر بې له دې چې ځیلې وینا له پاره کوم تاریخي سند ملاتړ وښیي ، دده د زده کړې په باب تر دې زیات معلومات وړاندې کوي او لیکي چې : رحمان بابا تر زېږېدو او وه کاله وروسته په ۱۰۴۵ ه . ق . کال په بهادرکلي کې له مولینا عبدالحق ځخه قرآن مجید او لوړ لومړني دیني علوم زده کړل ، په ۱۰۵۲ ه . ق . کال يې له مولینا محمد یوسف د مولینا محمد یعقوب یوسفزي له زوی ځخه د پېښور په سلطانپوره کې

(36) شاهنامهٔ احمدشاه ابدالی ، پښتو اکېډمي ، پېښور ، ۱۹۶۵ ع . ضمیمې برخه ، ۲۰۸ ع .
(37) پټه خزانه ، عکسي چاپ - ۱۳۵۴ ش . د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت ، ۴۴ - ۴۵ مخونه .

Marfat.com

زده کړه وکړه ، بیا حضرت محمد صدیق پېښوري ته کوهاټ ته ورغی. څرنګه چې محمد صدیق پېښوری د پښتو لوی شاعر و ، نو دا وخت رحمان بابا ته لا ده ته د فیض موندلو موقع لاس ته ورغله ، هم دا وخت لې د شعر او شاعرۍ دوره پیل شوه ، دخپل استاد په غزلونو لې د ډېر ځوابي غزلونه جوړ کړل چې لمونې لې په دېوان کې شته[۳۸]

په ۱۰۶۱ هـ.ق. کال کې بیا د کوهاټ په شېرکوټ کې دا خوند محمد یوسف سره و ، په ۱۰۶۶ هـ.ق کال په پاس شېرکوټ کې و . په همدې کال لې د اخوند درویزه لمسي اخوند کریمداد سره وکتل او حاجي بهادر کوهاټي چې دا خوند کریمداد د مخلص و د رحمان بابا استاد او طریقې لارښود و . دې دوه کاله په پېښور کې دا خوند کریمداد په حضور کې و او د کبرویه سلسلې بیعت لې ترې وکړ او د شعر او ادب په دې خاص مکتب کې ورودل شو .[۳۹]

داسې ، د کار او د رحمان بابا د علمي او ادبي زده کړې په باب ، په زړه پورې معلومات دي خو کاش چې سناغلی اثر خپل سند سنوولی وای ، ځکه په داسې زړورتیا د کلونو او نېټو سنوول او په داسې قاطعیت د پښتو بیا اول د تاریخي خبرونو په برخه کې د ټینګ سند ترسنوولو پورې هیڅ اعتبار نه لري ، تاریخي پېښې او نېټې په قاطعیت سره راوړل دا ټکل او اندکار نه دی دا کار پوخ سند او لاسوند غواړي. نو که د سناغلی اثر دا معلومات رښتیني وای او غوښتی لې چې خوک لې ورسره ومني سنا لې د خپلو خبرو ملاتړ لې په ټینګو سندونو کړی وای ، خو څرنګه چې سند لې نه دی راوړی نو موږ د دې خرابې د باوري سند په درلودلو سره دا لې سنده خبرې نشو منلای .

---

(۳۸)- رحمان بابا شاعر انسانیت ، داثر سریزه ۱۳-۱۴ مخونه
(۳۹)- همدا اثر ، ۱۵-۱۷ مخونه

مخکې مو وویل چې پښتې خزانې د محمد رسول کلاتوال د کشف نه مخې د ده د زیږېدو کال ۱۰۴۲ هـ.ق. ښودلی او بل داسې سند نه لرو چې داسې غلطه وباسي. نو ځکه د اثر صاحب دا خبره چې تذکره لیکونکي د ده د زیږېدو کال ۱۰۴۰ هـ.ق بولي او دده دا خبره چې زماد معلوماتو له مخې رحمان بابا په ۱۰۳۸ هـ.ق کال زیږېدلی دی منلو وړ نه ده. دا خبره هم د منلو وړ نه ده چې رحمان بابا په ۱۰۴۵ هـ.ق کال په زده کړه پیل کړی وي. ځکه چې دی دا وخت درې کلن و او په درې کلنۍ کې هیڅ ماشوم هم په منظمه زده کړه پیل نشي کولای. په همدې ډول یې نور کلونه هم درو ځلي.

یاتې شوه له محمد صدیق پېښوري څخه د ده د ادبي زده کړې موضوع، موږ په پښتو تذکرو کې د صدیق په نامه یو شاعر لرو چې د بشپړ دیوان پته یې لا تر اوسه نشته خو د وینا ولمونې یې له دوو لاړو موږ ته رارسېدلې. لومړی د چمن بې نظیر په خطي نسخه کې[40] د ده دا او ولسو غزلو موجودیت دی چې یا درې هیوږ په کلید افغاني[41] کې دوې غزلې ترې راخیستې او بیا دا غزلې لوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي په لومړي ټوک پښتانه شعرا[42] کې راوړې دي. او بل د ملا سپا یسته خان په جونګ کې[43] دده یو غزل او یو بیت دي چې ما په ادبي ستوري[44] کې ترې راخیستې. دا شاعر لوی استاد پوهاند حبیبي په متوسطه طبقه شعراو کې د رحمان بابا له پیروانو څخه بولي[45]

---

(۴۰) چمن بې نظیر د پښتو شعر یو انتخابي اثر دی چې د پښتو د ۲۹ نومورکو او نا متو شاعرانو شعر ونه یې راغلي او په الفبايي ډول ترتیب شوي دي. (د برتانوي تا یوګانو په کتابتونونو کې د پښتو قلمي نسخو کتلاګ، د بلوم هارت او ډاکټر مکینزي تالیف، لندن ۱۹۶۵ ع. - دا اثر ګران ملګری ښاغلي عنایت الله ځرالي را ته ترلاسه کړی چې په دې وسیله مننه ترې کوم.)

(۴۱) کلید افغاني د پښتو د نثر او نظم او لیکو نو مجموعه ده چې پادری هیوز تولیه کړې ده او وړمه نسخه یې چې په ۱۸۷۲ ع. کال خپره شوې ۴۱۱ مخونه لري. (د پښتو ځوانانو تذکره، حبیب الله رفیع، د افغانستان اکاډمي، د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۵۰ ش، ۶۸-۶۹ مخونه.)

(۴۲) وګورئ: پښتانه شعرا، لومړی ټوک ۳۰۸-۳۰۹ مخونه.

(۴۳) د ملا سپا یسته خان جونګ د دوولسمې پېړۍ په وروستۍ برخه کې راټول شوی او یوه نسخه یې د لیکوال په کتابتون کې ده.

(۴۴) وګورئ: ادبي ستوري، لومړی ټوک، حبیب الله رفیع، پښتو ټولنه، ۱۳۵۳ - ۲۴۱-۲۴۷ مخونه

(۴۵) پښتانه شعرا ۱/۳۰۸

او غلب گمان دا دی چې تر رحمان بابا کش اوددوولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې به یې ترونډ کړې دي . که له محمد صدیق پېښوري څخه دښاغلي اثر محمد صدیق مراد وي دا سرې خوځاهرًا تر رحمان بابا را وروسته دی او که بل سړی وامے نو ښاغلي اثر دده په باب مستند معلومات وړاندې کړي وای ، هغه ځای یې سنو دلی وای چې دده دیوان یکي ساتل کېږي او دهغه اثر نوم یې اخیستی وای چې دده په باب . معلومات لري ، همدارنګه دصدیق په نامه نور شاعران هم تر ده را وروسته دی*، درحمان بابا کوم غزلونه او بیتونه چې اثر صاحب دمحمد صدیق پېښوري دغزلونو او بیتونو په پیروۍ بللي کېدای شي چې دده له خوا دسند د نه ښودلو تر وخته پورې داغزلونه او بیتونه درحمان بابا دغزلونو او بیتونو په پیروۍ وبولو او صدیق درحمان بابا شاګرد وګڼو نه رحمان بابا دده !

همدارنګه له اخوند کریمداد درویزه لي او حاجي نهادر کوهاټي څخه دده علمي او ادبي زده کړه دکوم سند له خوا نه تأیید یږي او خصوصاً دده په دیوان کې داسې اشارې او دلایل شته چې دی دفکر او شعر له مخې درویزانیانو پیرو وُ او درویزیان په هغه روښانه لاره یې یون کاوه چې درویزه یان یې کلک مخالف وو او ددې لارې په وړانولو کې یې تول ترونه صرف کړي وُ . (٤٦)

په هر حال ، دیتې خرابي صراحت او دده دخپلو وینا وُ شهادت څرګندوي چې رحمان بابا دوخت دودي علوم لوستي ووا ودعلم تر بشپړتابه وروسته یې باطني تزکیې او تصوف ته لاس اوږد کړی وُ او په سنه پوهه او بصارت یې مسایل څېړلاے او تحلیلولاے شوای . ده سنه علمي او ادبي مطالعه درلوده ، دیني مسائل یې په شعرونو کې ځای په ځای بیان

---

* وګورۍ هیوادمل ، زلمی : فرهنګ زبان وادبیات پښتو ، دص ردیف .

(٤٦) په دې موضوع ما په "رحمان بابا - دپښتو ژبې عالمګیر" نومي اثر کې داسنا دو په رڼا کې بشپړه بحث کړی چې شر به دارب دعلاقمندانو خدمت ته وړاندې شي .

شوي چې په ديني علومو کې دده د ښو معلوماتو څرګند وي کوي او هم دده په شعر ونو کې دا رزاني ، ميرزا ، دولت او خوشال خان يادونه شوې چې د دغو شاعرانو د ديوانونو لوستي وو او دده په ادبي پيا وړتيا کې د دې شاعرانو د شعر د روند اغېز و ، همدارنګه د دري شاعرانو ديوانونه هم په ښه توګه کتلي وو او ځای په ځای يې د دوی له وينا و څخه لفظي او معنوي اخيستني کړې او د ديوان په هغو دوو نسخو کې يې چې له ما سره شته د حکيم سنايي غزنوي نوم صراحتاً اخيستی او ويلي يې دي :

په پښتو کې رحمان وو يې
په فارسي کې سنايي

دده ادبي لټون دومره پياوړی و چې د پښتو او دري د هغو شاعرانو شعرونه يې هم لوستي وو چې له ده سره يې د ژوند وخت لږ و اټن درلود د مثال په توګه ميرزا عبدالقادر بېدل چې په ۱۰۵٤ هـ . ق . کال[٤٧] يعنې تر ده وروسته زېږېدلی يو بيت لري :

هر که پا کج ميگذارد خون دل ما ميخوريم شيشهٔ ناموس عالم در بغل داريم ما[٤٨]

او رحمان بابا وايي :

که سنبسته د نام و ننګ دې شي ترخنګه دا رچا په کجروي به خپل ځيګر خوري

نو که په دې بيتونو کې د تواردله موضوع نه سترګې پټې کړو ولقيناً رحمان بابا د بېدل يو تنې بيت وراسپړلی دی .

د رحمان بابا د سفر او چېرته تګ په باب يو ته خزانه وايي : " ... په ځوانۍ يې د نيا پرېښوده او اکثر به په غزو ګرځېدی او کله به د لاړ د هندوستان ير خوا ... " خو ښاغلي کامل مومند د او وينا د رحمان بابا د ځينې بيتونو له مخې سمه نه بولي او وايي چې دی

---

(٤٧) احوال و آثار ميرزا عبدالقادر بيدل ، دکتور عبدالغنی . د مير محمد آصف انصاري ژباړه ، کابل پوهنتون - د ادبياتو پوهنځی ١٣٥١هـ . ش ، ٤٩ مخ

(٤٨) کليات ميرزا عبدالقادر بيدل . توک

# څورلسم

چېرته نه دی خوښېدلی. په دې برخه کې په څو لوړو بیتو سرېښ دا بېتونه راوړي:

هم په دا چې نه له ځایه چېرته خوځم — نه د هېڅ یوه مخلوق یم منت بار
نه مې ښکته ملک لېدلی دی نه پورته — خبر نه یم په یمین او په یسار
آب وخور لکه آسیا په ځای راړسي — په خیال کور کې مې سکون دی هم رفتار (۴۹)

په سرسري نظر به د دې بیتونو په رڼا کې د پېټي خرالې وینا ناسمه وبولو خو لږ غور نه وروسته که ووایو څرنګه چې د دې بیتونو د ویلو نېټه نه ده څرګنده نو شاید هغه ټول بیتونه به چې ښاغلي کامل راوړي رحمان بابا تر خپل سیر او سیاحت وړاندې ویلي وي ځکه موږ ته ثابته ده چې د ده شاعري له زلمیتوب څخه پیل کړې او د یوه شاعر په دیوان کې یو د بل ماتوونکي شعرونه له ډېرې کمبله. موندل کېږي چې یو شعر یې د ژوند د یوه وخت او بل یې د بل وخت وي. او که په دې پسې د رحمان بابا دا بیتونه هم ولولو چې:

روښنایي مې په طلب کې شوه حاصله — شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم
چې صفت د تور و زلفو د آشنا کړم — پلې سر په لوېه لار د هندوستان یم

* * * * *

داشنا زلفې مې وینوي په لاس کې — بند په لار د هندوستان ولیدی دریغ

نو نه یوازې د ده "سکون" ماتوي بلکه صراحتاً د هندوستان د سفر یادونه کوي او ثابتوي چې دی هندوستان ته تللی دی. او که تر دې وروسته دا بیت هم وګورو:

ښتا په زلفو په رخسار پسې رحمان شوې وطن — مسافر د هندوستان د خراسان دی زما روح

نو نه یوازې دا ترې زباد بږي چې دی هندوستان ته تللی و، دا هم ثابتوي چې دی خراسان ته هم راغلی و، ځکه چې پښتون د لرغوني خراسان په ساحه کې نه و او دا بل بیت که

---

(۴۹) رحمان بابا ۱۷ مخ.

دده وې [50] چې پرې ورزيات کړو :

چې مېوې يې دکابل خوړلې نه وې   دهغوله خمه وخلې شي ګوړ ګوړې

داتکل هم په لاس راکوي چې دې کابل ته هم راغلی او دلته يې دومره وخت تېر کړی چې دکابل بېلابېلې مېوې يې خوړلې دي ځکه په هغه وخت کې دارتباط دعصري وسايلو دنشتوالي له کبله کابل او پېښور د پر سره لرې وو او دکابل مېوې په هغه صلحکم او کيف چې رحمان بابا يې ستايي پېښور ته نشوې رسېدلی.

په دې باب دده لوړ بېتونه هم شته چې دده له کوره وتل او په غرو کې اوسېدل ښکاره کوي.

عاشقي سرې مجنون کاندې رحمانه
ګنه څوک په هوښياريه وزي له کوره

* * *

که ليلی غواړې بايد دې دارحمانه
چې مجنون غوندې ساکن دکوه وکار شې

## خپلوان، اولاد وند او مالي وضعه :

درحمان بابا يو بيت دی :

نه شي دخانانو دملنګو سره کلی   چېرته عزيزخان چېرته ملنګ عبدالرحمان

له دې بيت نه خلکو افسانې جوړې کړې چا عزيزخان دده ورور ګڼلی ، چا يې نژدې تربور بللی او ځينې بيا وايي چې عزيزخان دی بندي کړی وُ او څه خه . . .

---

(50) ښکاره چې دابيت په لږ تغيير دخوشال خان خټک په ديوان کې هم شته نو ځکه ددې ځای پيدا کېږي چې دابيت به کاتبانو دده په غزل کې ورزيات کړی او دخوشال بابا له ورته غزلې څخه به يې راخيستی وی ( دې موضوع ته لومړی ښاغلی مومند متوجه شوی او په خپل "رحمان بابا" نومي کتاب کې يې کړې ده ).

# شپارسم

خوله بیت نه تر دې زیات صراحت لاس ته نه راځي چې عزیزخان او رحمان بابا دیوه کلي وو هغه د کلي خان او دی یو ملنګ سړی وُ او په دې بیت کې رحمان بابا دخپلې استغنا له مخې اعلان کړی چې دی دخانانو فرمانبردار نه دی.

د رحمان بابا له نورو بیتونو څخه داڅرګندېږي چې د ده دخپلوانو سلسله پراخه وه ، دیوه کور په ځای په کورونو کې اوسېدل او ده له ټولو سره راشه درشه درلوده په دردلې دردمن او په خوښ ولې خوښ سړی وُ ، وايي :

په هرکور کې ځوان را ته پراته دي — لاس مې نه رسي، د هیچا په دوا

د ده د واده کولو په باب دا بیتونه پوره صراحت لري :

په مجنون باندې قلم راغلی نه دی — که حلال یې پېژني وړشي که حرام

حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی — په حلالو کې مدام وي احترام

د رحمان بابا دا بیتونه د داسې وخت دي چې د ده مینه بریالی شوې او شرعي واده یې کړی دی.

تر دې وروسته نو بیا داولاد په غوښتنه کې داشرطونه ږدي .

خدای له هسې ننګ زوزاده امان راکړه — چې بې دین ،بې دیانت شي، بې لمانځ

یو وخت یې چې اولاد مومندلی ، ورونه او خپلوان یې مطالعه کړي نو خپلې مطالعې نتیجه یې په خپل یوه بیت کې داسې ځای کړې ده :

که مې ورور،که مې عزیز، که مې فرزند دی — واړه غواړي خپله ـ خپله مدعا

د رحمان بابا د دیوان په داخلي شهادت بر سېره ځینې مؤرخین هم دده داولاد په باب روایتونه لري له دیو نه یو هم انګلیسي ځینې یوه میجر راورټي دی او وایي چې د رحمان بابا دلور له طرفه د هغه اولاد او س هم د مومندو په بهادر کلي کې اوسي خو د هغه دیکې یو نوی

Marfat.com

اولاد د پره مونده وشوه چې ختم دي.(۵۱)

رحمان بابا د نورو خپلوانو په سلسله کې "حمید ګل" نومي شاعر دارمستتر دده خورني بولي او د "پښتو نخوا د شعر هار و بهار" کې یې دده یوه غزله را اخیستي ده(۵۲)

رحمان بابا د مالي وضعې په باب هم دده په خپل دیوان کې داخلي شها د تونه شته دي په خپلو یا رکو کې له ناداری او تش لاسۍ څخه سرتکوي ، د نار و غالو د د رملږ پیسې نه لري او د درهم او دینار مالك نه دی :

په هر کور کې نځوران را ته پرانه دي — لاس مې نه رسي د هیچا په دوا

د دنیا خبرې وایمه په دنیا شي — ما به څه کا څوك ، چې نه لرم دنیا

* * *

څوك دې را کاندې قسم په کرد ګار — که درم لرم په کور کې یا دینار

خو بیا هم خرنګه چې چا ته یې لاس اوږد نه و ، ګوزاره یې کېدله او ځای په ځای خواره ورسېدل نو ځکه خلکو فکر کاوه چې دنیا دار دی :

نه درم او دینار نه لرم په کور کې — ولې نورعالم مې بولي دنیا دار

هم په دا چې نه له ځایه چیرته خوځم — نه د هیچ یوه مخلوق یم منت بار

نه مې سنګته ملك لیبلي دي نه پورته — خبر نه یم په یمین او په یسار

آب و خور لکه آسیا په ځای رارسي — په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار

دده د وینا په رڼا کې دا اټکل کولای شو چې رحمان بابا هم لکه د نورو پښتنو غوندې دومره ځمکه درلوده چې د هغې په حاصل یې ګوزاره کېدله خو محصولات یې دومره نه کېدل چې خرڅ کړي یې وای او پیسې یې پرې ترلاسه کړې وای ، دده د ځمکې درلودل د هغې بوللی په ترڅ کې چې د :

هر چې کښت یې په باران او په سیلاب وي
د هغو غم به وایمه په عذاب وي

(۵۱) دیوان عبدالرحمن ، د مولانا عبدالقادر سریزه ، "ت" مخ ؛ رحمان بابا ، کامل مومند ، ۲۸ مخ .
(۵۲) وګورئ : دارمستتر ، د پښتونخوا د شعر هار و بهار ، ۱۸۸۸ ع ، د پاریس سرکاري مطبعه ، پښتو متن او فرانسوی سریزه .

Marfat.com

په کسر پیل شوې، څرګند یږي. د لیسنتنو په کلیوالي ژوند کې لا ترا وسه هم داجنا سو تبادلې تر ډېره حده د پیسو د رلودلو ضرورت تر سره کړي، نو خلکه هغه وخت هم د درم او دینار نه د رلودل د مفلسۍ او غریبۍ نښه نه وه.

موږ ته د رحمان بابا وینا داهم را ښیي چې دی که د نیادار و او که نه خو داسې لوړ همت یې د رلودچې د دنیا تر لاسه کولو لپاره یې د زردار وخنګ ته نه پرېښود او په ډېر جرأت یې په زرداری او زردار و دو وینا وار و نه کول او شعار یې ورکاوه چې:

آدمیت خه په دولت نه دی رحمانه
بت که جوړ شي د سره زر نه انسان شه

## سماع، موسیقي او دمیني پراوونه:

د رحمان بابا د فکري اړخ په څېړلو کې دده په تصوفي لاره او تصوفي منابعو ډېرې خبرې کېدای شي خو دلته دده د ټو ند دیوه اړخ په توګه دده په سماع، موسیقي او مینه لنډې خبرې کوو.

د رحمان بابا د تصوف په باب ډېرې خبرې شوې خو دده د سماع(۵۳) په برخه کې خه نه دي ویل شوي دا ځکه چې دده تصوفي لار دده له شعر و نو څخه را وزي او دده د دیوان په خورو لسیخو کې داسې کوم شعر نه و چې د رحمان بابا د سماع په برخه کې

(۵۳) سماع په تصوفي اصطلاح کې هغه غږ ته ویله کېږي چې د اورېد نکي په حالت کې اوښتون راولي. په شرح تعرف کې وایي چې: «څوا نیو به چېل نفس د پر مجاهده او دومره ریاضت یې وکړ چې وبه وېږېدل له کاره و نه لوېږي نو د نفس د بیا د پېتیا له پاره به یې خه وغوښتل او دوه بیتونه به یې اورېدل الستدحال سره سم بیت ... خو چې به په وجد راغلل او لدځا نه به یې خبره شول او د مستۍ په حال کې به یې ځان نشو اداره کولی او په نخا به راتلل» (سماع در سلسله هو، بهمن جهان بګلو «تجدد» ایران، ۱۳۵۱ ش.) د مولانا جلال الدین بلخي تصوفي رقص لا تر او سه هم پیروان لري او په ترکیه کې د کال په ټاکلي وخت کې د مولانا د علامه مد الوله خوا تر سره کېږي. په چشتیه طریقه کې د سماع او موسیقي ستره برخه ده، چې تفصیل یې د تصوف په باب په لیکلو آثارو کې شته.

لاسوند شوي واى ، په دې برخه کې دده يکې يوازې غزل متعصبينو د بڼخوا دده له ديوان څخه غورځولې وه ، خو له نېکه مرغه دده د ديوان په يوه زړه نسخه کې دا غزل وموندل شو چې په دې چاپ کې هم نيول شوې او په صراحت راښيي چې رحمان بابا سماع او صوفيانه رقص کاوه د غزلې څو بيتونه دا دي :

ساقي راکړه نه وماند جام د رقص
زه ارزو په زړه لرم مدام د رقص
دا وې اوس به د خوښۍ ساعت په تاشي
مغني راکړه ته وما پيغام د رقص
سرنې پاس ترنه فلکه خرگند بڼ چې
چې په چاوښي ارشاد اعلام د رقص
لياقت يې هر وگرې څخه نشته
په لايقو باندې وي انعام د رقص
خو لچپ سا په وجود شته عبدالرحمانه
حقيقت به هو مرې ند کا تام د رقص

د رحمان بابا د موسيقي او خصوصاً د رباب د زده کړې په باب تردې بڅوا هم خبرې شوې ، ميجر راورتي او عبدالمجيد افغاني د واړه مني چې موسيقي د رحمان بابا په ژوند ژوراغيز درلود ، رحمان حساس او ژوندى زړه درلود او چې د رباب تار به وکړنگيد او د مغنه نه به خوږه نغمه راولرزيده نو د رحمان رگ - رگ به وريږيده د بالي گوندبه لکه دده د زړه په تار لگيده . دى به اکثر د استغراق په حالت کې و . . . عجب خان - والي چې د رحمان آشنا مجنون په هندوستان کې د بزرگانو د خدمت له کبله د برخې خاوند شو او چې څه وخت وطن ته رخصتيده نو د خيل پيرشاه شرف قلندر

Marfat.com

نه يي د رحمان د پاره هم څه تحفه وغوښته. شاه شرف قلندر په رباب کې د رحمان برخه مقرره کړه او راوالي ستولو. ولې شرط دې کې داو چې مجنون به ترمخې راځي نه ګوتې نه وروهي ترڅو چې تې رحمان نه وي ليدلی او رحمان ته دې هغه ګوته ومې کومه چې د شاه شرف له لورې به مقرر شوې وه. نو مجنون به مرشي او رحمان به تر ونډي شي هم دغه وشوه. مجنون چې هغه ګوته ووهله نو دی خو په ځای پرېووت مړ شو او رحمان د دې ورځې بېهوښه و او چې په خود شو نو حال يې بدل و ...(۵۴)

همدارنګه ښاغلي جعفر اختري هم په دې برخه کې کاږي:

« وايي چې په رحمان به کله د آمد دوره راغله نو هغوی به خپل رباب په غېږ کې ورته کښېښووی او به تار و نې ګوتې پورې کړې، د تارو څه به يو پرسوزه ساز پيدا شو او بيا به يې په خپله خپل اشعار ويل شروع کړه، پرسوزه آواز او دلکش ساز به په يوه آن کې د عقيدتمند و اجتماع جوړه کړه ...» (۵۵) څرنګه چې د دې خبرو له پاره کوم سند نه و نو دا تر اوسه د دغو فولکلوري خبرو له ډلې څخه ګڼلې کېدې چې په رحمان بابا يې کېدلې خو اوس د هم دې رقص په غزل کې يو داسې بيت مومو چې د رحمان بابا د موسيقۍ په زده کړه دلالت کوي او ښيي چې ده موسيقي له استاد څخه زده کړې او په فني ډول يې په موسيقۍ کې لاس درلودلی دی، وايي:

مستي علم خپل استاد راته تعليم کړ
راښايي کړه هر تار مقام د رقص

اوس مو چې د رحمان بابا دا غزل تر لاسه شوې نو د ده د دې بلې غزلې خوبيو ته يې هم په ملا ترکې ور اندې کولی شو:

---

(۵۴) ديوان عبدالرحمان، د مولانا عبدالقادر سريزه؛ ديوان عبدالرحمان د پروفيسر عبدالمجيد سريزه؛ سوانح عمري د ملا عبدالرحمان، د عجب خان فولکلوري کيسه، د لاهور چاپ.

(۵۵) اختري، محمد جعفر: "ونډر" ۱۹۵۹ع. کوټه، ۱۵۳مخ.

88019

# یوویشتم

هر مطرب چې غوږ ئې تاو کا د رباب      په دا تاو کې زما زړه کاندې کباب
چې سامع ئې په نغمه په ترانه شم      دیوانه شم گریوان خیرې مستخراب
هم ئې تار هم ئې گفتار هسې اثر کا      چې څوک لې نه طاقت لري نه تاب

تر دې وروسته د رحمان بابا د مینې پړاو دلو ته راسېږو ، دی د مجازي مینې په پوړیو د حقیقي مینې د معراج لوړ ته ورختلی ، ځینې کسان د ده مینه یوازې حقیقي مینه بولي او له مجازي مینې نه ئې منکر دي خو د ده په دیوان کې داسې بیتونه مومو چې هېڅ منکر دانشي ویلی چې ده دې مجازي مینه نه وي کړې . موږ د ده له یارکونه دا رالیسلی شو چې رحمان بابا په ښکلا او ښکلو مین وُ ، د ژوند ډېره برخه ئې د مینې په یادونو او د بېلتون په باد ونو کې تېره کړې ده ، کله هجران ځوړولی ، کله له وصال ، کله یوه ئې مخې ښکار کړې او کله بل ، کله مینې کلې ورته اوړ کړې او کله ئې په بېدیا کې ئې تابه کړې دی ؛ د ده د ژوند دا ټولې پېښې د ده په شعرونو کې نغښتلې شوې او تر موږ پورې را رسېدلې دي د رحمان بابا د ژوند ډېره برخه په مجازي مینه کې تېره شوې او د عشق په مدرسه کې ئې ئې له زلفو ، ئې له خطه ، ئې له خاله بل څه نه وولوستې . په مینه کې ئې له پېغور څخه عار نه درلود:

زه عار نه لرم په عشق کې له پېغوره      ئې پروا یم د ستي په خبر له اوره

د ده شعرونه ښیي چې ده زیاتې مینې کړې او زیاتو ښکلو ئې زړه وړې:

زه رحمان په زړه نرې کړم هغو نجونو
چې ئې ملا وې د ولبسته په دود نرې ؛

* *

په رحمان د ښایسته وُ قدر ډېر دی
د طبیب له قدره چا زده ئې رنځوره

Marfat.com

## دوه ویشتم

کړې پېرې کړمې پلورې چاره نشته
زه رحمان د ښایسته وُخانه زاد یم
* * *
ګوښې ګوښې ښایسته مې زړه وکاږي
زه وکوم یوه ته وایم چې تا یو وړه

او یو وخت داسې هم پرې راغلی چې:

زړه که یو وي ما خو تا لره درکړی
مګر نور و لره نور زړه و نه پیدا کړم

رحمان بابا مینې داسې پوړې ته رسولې وه چې دخپل او زړې له کوچنی بند نه یې پسته لوا او ویل به یې:

زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه
نه خلیل، نه داوُد زی یم، نه مومند

د نو خط مینه د رحمان بابا بله مشغولا وه:

خط دې لوح رخ دې پاڼې دکتاب دي
شغل دکتاب دې بل کتاب رانغښ یو وړ
* * *
په رخسار چې دې د خط غبار ګډ شو
سربلنده شوه فرقه دخاکسارانو
* * *
سیاهي د نوي خط دې هسې زېب کا
لکه کښلې وارې لوړې د قرآن
* * *
څه شو که زه یم انګشت نما په مینه ستا کې
زیات له ماند خوښ ته د قاضي هم د ملا یې

Marfat.com

ده ته عشق دومره رښتينی ؤ چې دسر قرباني يې په دې لاره کې هيڅ بلله :

وهغو ته عاشق نه ويلی بويه

چې يې فکر يا دسر يا ددستار وي

په هرحال دده مينه دحسن او ښکلا مينه وه له جنسي او نفسي غرضه پاکه وه نوځکه يې په جرأت سره ويل :

پسران دې عار زما له عشقه نه کا

پاک عاشق ، پيرا و پلار دې وار ه لوړ دي

* * *

پاک او منزه دی عشق نفس له خاصيته

چېرته چاه دگيډې ، چېرته چاه د زنخدان

او همدې مينې ده ته داسې استغنا او غرور ور بښلی وو چې په لوړه غاړه به يې ويل:

دلبرانو وته خاک ترتلی لاندې

ددې نور جهان په سر لکه آسمان يم

* * *

نوکري دمعشوقو کوم په عشق کې

عمينی نه دبهلول ، نه داورنگ خورم

درحمان بابا په نظر کې دمينې معراج ته رسيدل هغې مرحلې ده چې :

که مين يې په خپل يار بانديې رښتيا | آواره کړه اول دين پسې دنيا
دجنت له حورو تبرشه که يارغواړې | خدای دې نقد دچا نه کا نديې نسيا

* * *

عاشقان دسپين څسار دتور و زلفو

خريداري دکفر داسلام

خبره نه اوږدوم، خو دومره وایم چې دده د مینې هم پړاو حقیقي او د خدای مینه ده، دا پړاو دده د مینې معراج دی:

رحمان حسن دیار وینم په پرده کې
نه پټیږي نور د شمعې په فانوس

* * *

دا حجاب چې لوی عالم یې حجاب بولي
دا زما د یار تر میانه حجاب نه دی

* * *

که څوک وایي هغه څوک دی؟ وایه دا دی
چې یې خدای په نوره مینه په ځانکه

## ادبي شهرت او مقبولیت:

په وړاندې یادونه مو د پښتو خزانې په استناد وویل چې رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ ق کال زېږېدلی. خو ښاغلی اتل یې چې د کوم سند تر ښودلو پرته د زېږېدو کال ۱۰۳۸ هـ ق. ښودلی دا نظر هم وړاندې کړی چې دده تر څوارلس کلنۍ وروسته د محمد صدیق پېښوري نه ادبي زده کړه کړې او شعر یې ویلی دی. موږ دا تر خبرې محکې هم نه شو منلی او دلته یې هم نه منو؛ خو د رحمان بابا روانې طبعې ته چې ګورو یقیناً په څوارلس کلنۍ او پنځلس کلنۍ کې به یې د شعر ویل پیل کړي وي. نو زموږ په حساب به د ۱۰۵۶ یا ۵۷ - ۵۸ او ان تر ۱۰۶۰ کلونو پورې دده د شعر پیلولو وخت وي. دا وخت په هند او افغانستان کې د شاه جهان ګورګاني د واکمنۍ (۱۰۳۷-۱۰۶۷ هـ ق) دوره ده. د رحمان بابا په دیوان کې داسې بیتونه موندل کېدای شي چې د شاه جهان

دواکمنۍ په دوره کې چې د ویلو وخت وانګکلو لکه دا بیت :

د کاملې عقیدې له برکته

دد ولهی په غاړه ناست شاه جهان یم

نو په دې اساس تر ۱۰۵۶ هـ. ق. کال وروسته دده شاعري په اټکلي

دول اوتر ۱۰۶۷ هـ. ق کال وړاندې په باوري توګه پیل شوې ده او که دخان

خوشالخان ختک دا بیت :

سل سړي ني دې تر دا یو غزل ځاري ده

من چې دا پیسنو ده کرلاني خوشال ویلي (۵۶)

دده په برخه کې ویلو بیا نو داهم ویلی شو چې درحمان بابا شاعري تر ۱۱۰۰ هـ. ق

کال وړاندې چې دخوشال بابا د مړینې کال دی د ومره شهرت موندلی و چې

خوشال خان غوندې قادرالکلام او لې جوړې شاعر لې هم دې تدارک کړي و چې

دده دشعر داغبرګ کمولو له پاره په تعلی لاس پورې کړي او خپل شعر تر ده

سه وبولي .

دخوشال خان ختک خوږ تر لې زوی اشرف خان هجري چې په ۱۱۰۶ هـ. ق کال

لې له دنیا نه سترګې پټې کړي دخپل وخت دشاعرانو په ډله کې رحمان بابا نه په

دې مقام قایل دی :

خوږ ژبان په زمانې ښکري تو لی هغه واڼ چې مستقر لې پیسنور دی (۵۷)

درحمان په ویل ځای دلقب نشته چې لې ما شعر منظور کړ معتبر دی (۵۸)

---

(۵۶) کلیات خوشال خان ختک ، ۴۶۸ مخ .

(۵۷) واڼ بلبل .

(۵۸) رحمان بابا ، کامل مومند ، ۳۲۴ مخ ( ده دا شعر دهجري له یوې داسې قلمي نسخې څخه راخستی چې دحاجي نسخې په اصل کې دی )

Marfat.com

د رحمان بابا په شعر د اقضاوت د داسې شاعر له خوا شوی چې د خپل شعر په باب داسې نظر لري :

چې لې سحر بولي څوک شعر زما دی ‏‏ ‏‏ نور د وارو شعر شعر سحر دادی

که باور دې په دانه شي پاخه گوره ‏‏ ‏‏ زما هر غزل شاهد په دا دعوادی (۵۹)

پښتانه محققین د رحمان بابا په شعر د حمري د دې قضاوت کولو وخت تر ۱۰۹۲ ه.ق. کال وړاندې بولي ځکه چې تر دې کال وروسته حمري په هندوستان کې د کورگانیانو له خوا په بېلو - بېلو زندانو کې اچول شوی ؤ. نو ځکه ده دا قضاوت باید داسې وخت کړی وي چې د رحمان بابا د اشعارو زیاتې لمونې ورته رسېدلې وي(۶۰).

له دې خبرو نه څرگندېږي چې د رحمان بابا شعر تر ۱۱۰۰ ه.ق. کال وړاندې سنه شهرت موندلی او په ادبي حلقو کې پېژندل شوی او منل شوی ؤ.

همدا راز تر ۱۱۱۹ ه.ق کال وړاندې دده اشعار د دېوان په بڼه په ټولو پښتنو کې خواره شوي او د پښتونخوا گوټ - گوټ ته رسېدلي وو او ده د خپل دې ادبي او روحاني شهرت په بدل کې له پښتنو نه د "بابا" اعزازي لقب تر لاسه کړی ؤ ځکه چې په یو رښتیني کال میرویس نیکه په کندهار کې د خپل ملي غورځنگ د پیل لپاره د ده په دېوان فال اچوی او له ده نه یې د دې الفاظو مشوره غوارې :

" راسئ چې عبد الرحمان بابا قدس سره هم ویلي پښتو، چې دده دېوان یې خلاص کا هسې شعر ونه وو . . . " (۶۱)

عبد القادر خان خټک (۱۰۶۳ - ۱۱۲۵ ه.ق.) چې دده همځولی دی هم دده یادونه کوي:

---

(۵۹) دېوان حمري، مرتب همیش خلیل، ۱۹۵۸ ع، ۱۰۵ مخ.
(۶۰) رحمان بابا، کامل مومند، تر ۴۳۳ مخ وروسته.
(۶۱) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۶ مخ.

Marfat.com

زه ختک دیاں په غم تازه - تازه شم
غور یه خپل رحمان که شو ورځني ستړي [٦٢]

د رحمان بابا په ژوند دده د ادبي شهرت د خوریدلو په باب دده په خپل دیوان کې هم ځای په ځای ځیني بېلګې شته چې ځیني یې سره له دې چې د شاعرانه غرور او تعلي زېږنده دي خو بیا هم دده دادبي شهرت د خوریدلو نماینده ګي کوي:

ستا د حسن د تعریف له برکته
د رحمان د شعر کوکې په عالم دي

* * *

چا پېژندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې
او س مې ستا له رویه لوم رسوا په درستجهان دی

* * *

خوشالا او دولتا مې غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

رحمان بابا د ومره ادبي شهرت موندلی و چې د یوه ځانګړي ادبي سبک تینګه یې کېښوده او دده په ادبي مکتب کې د پښتو د برخورتلي شاعران وروزل شول او همدا سبب و چې را وروسته شاعرانو په یوه خوله دده ستاینه وکړه او یوه یو نیم تېرې تعصب له کبله دده په شعري مقام سترګې پټې کړې.

دده په مرثیه دده شاګرد یونس خیبري چې په ۱۱۰۰ هـ. ق. کال زېږېدلی یوه له سوزه ډکه مرثیه وویله او دده ادبي مقام یې پکې وستایه:

چې پېیل له اشنا یه سره هجران شه    څکه داغ مې په خاطر باندې ارمان شه

---

(٦٢) دیوان عبدالقادرخان ختک، مرتبه همیش خلیل، ۱۹۷۲ع، ۲۱٦ مخ.

انجمن دسنو یارانو نوبهار دی — جدایي ورباندې پېر وکه خزان شه
چې په قدر کې دروند دریاب وو — اوس صدف دمغو در وگورستان شه
چې په شرق داشنا لېد لکه لمر وخوت — په مغرب دجدایي کې نهان شه
داچې باد دجدایي په جهان گرځي — لدهیبته مې صورت بید لرزان شه
دسکوت قلف به یې خرنګ لیرې کړې — چې په مرګ یې درون بند کلید زبان شه
لد رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه — چې لد دې سرایه په نوي سرای مهمان شه
مرګ سخي دسنو خبر وهسې شوم کا — چې یې یو کلام زړه نه کړې یرې ګران شه
چې په ملك یې نام دنیکو شه مړنه دی — خه شو داکه په حساب دمردګان شه
په پښتو شعر یې هسې نامه یو وړه — چې خبر یې په اشعار ایران توران شه

پرلذت شعر به خوك کاندې 'یونسه!
چې په مرګ څنې خاموش عبدالرحمان شه"(٦٣)

مصري خان ګګیاڼی درحمان بابا دعصر یو بل شاعر دی چې دده دخوازه شعر ستاینه داسې کوي:

شعر دفارسي وېنم شېرین لکه شکره
شعر دپښتو کړ ترفارسه حمید رحمان لذیذ(٦٤)

معزالله مومند هم چې درحمان بابا دپېړۍ شاعر دی درحمان بابا دادبي قدرت او قوت ستاینه په دې ټکو کې کوي:

دټولو پښتو نغوالو شاعرانو
معزالله عبدالرحمن دی منتخب

---

(٦٣) دیونس خیبري دیوان، دجمهوري ارګ دکتابتون نسخه، ددې غزلې نقل ښاغلي خیبر ندوي عبدالله خدمتګار راسپارلی چې په دې وسیله منندوي کوم.

(٦٤) دمصري خان ګګیاڼي دیوان، دپښتونو پښتو اکیډمۍ، ١٩ مخ

* * *

که دشعر کرامت دچا نه غواړې
معزالله درحمان شعر کرامت دی (۶۵)

کاظم خان شیدا چې درحمان بابا ترمړینې وروسته زیږېدلی او دپښتو دېر خوږ ژبی شاعردی درحمان بابا دغزلو پیروي کوي :

درحمان په دا مصرع دشیدا زړه دی
"ته پرې یې ، که آهو یې ، که جادو کړې" (۶۶)

اوهم په خپل یوه بل بیت کې دی او حمید بابا د دوو مومندو په نامه دسبق ازلي حکیمانو په توګه پېژني :

په دې وخت کې که شیدا دواړه مهمند وې
ثناخوان به وو هردم ستا د و یلو (۶۷)

عجیب چې درحمان بابا دادبي مکتب شاګرد دی په ځای درحمان بابا د شعرونو په اقتفا او پیروي شعرونه وایي او دده په باب عقیده لري :

دشعراو سرحلقه عبدالرحمان دی
زه عجیب دده دشعر دامنګیر یم
چې یې شعر لامثل دی باندې سنایي
که رحمان وایي په شعر عالمګیر یم (۶۸)

دپښتو خوږ ژبی بېدل چې دپښتنو شاعرانو دیادونې په لړکې رحمان بابا

---

(۶۵) دیوان معزالله خان مومند ، دخیال بخاري ترتیب اوتدوین ، ۱۹۵۸ ع . پښتو اکیډمۍ ، ۱۶ ، ۱۰۰ مخونه .
دیوان معزالله خان مومند ، دهمېش خلیل ترتیب اوتدوین ، ۱۹۶۱ ع . دارالتصنیف ، ۲۶ ، ۱۳۹ مخونه
(۶۶) دیوان کاظم خان شیدا ، دهمېش خلیل ترتیب اوتدوین ، ۱۹۶۵ ع ، ۱۴۲ مخ . دابیت دکابل په چاپ کې نشته
(۶۷) دکاظم شیدا دیوان ، داستاد بېنوا ترتیب اوتدوین ، ۱۳۳۱ ش ، پښتو ټولنه ، ۵۲ مخ . دیوان کاظم خان شیدا ، دهمېش خلیل ترتیب ، ۵۲ مخ .
(۶۸) دیوان عجیب ، ۱۵۱ مخ .

Marfat.com

ته راښېږي چې نو د سلطان الشعراء لقب ورکوي او وايي :

چې مشهوريږي په پښتو ژبه ديوان دی — شعرا ؤ کې هغه عبدالرحمان دی
قال وحال يې سره سم زيات وکم نه دي — مسلم ځکه دهر دانا نادان دی
په سلطان الشعراء دی ملقب دی — چې يې بيت مصرع په هر ځای کې برهان دی[69]

عبدالعظيم رانيزی دده د پېړۍ بل شاعر دی چې د ده ناوې سره داسې ورته ښيتوي :

د محمد عبدالرحمان صاحب په مثل — هسې خوږ ژبان زما وی دريغه دريغه
زه عظيم به خاص غلام د دې محمد وم — اوس شړوندی که په دنيا وی دريغه دريغه[70]

دده عصر په شاعرانو کې يوازينی شاعر چې له رحمان بابا سره يې د مومنديه او ختيکې تعصب کړي نوا ژختک دی او منا يې چې هغې شاعرانه غرور کسات اخلي چې رحمان بابا دخان خوشالخان ختک په برخه کې کړی ، نو ځکه وايي :

چې په غوږ کا خوک ګوهر زما د نظم — د رحمان ديوان به ومنډي په جيب
برابر مې کړه غزل دده له شعره — چې د ووزی له خاطره ښک او ريب

* * *

په لحد کې به توبه کاندي له شعره
داغزل که مې خوک ولولي رحمان ته[71]

د پښتو خوږ ژبي او د ځانګړي ادبي مکتب د رلودونکی شاعر پير محمد کاکړ چې په همعصر وکې ترخيل شعر لوړ نه وينې ، د رحمان بابا شعر معجز ګڼي او وايي :

که هر څو وايي نازک شاعران شعر — ولې دوی ګڼي معجز د رحمان شعر

---

(٦٩) ديوان بيدل ، د همېش خليل ترتيب او تدوين ، ١٩٥٧ع . ، ٢١٢ مخ .
(٧٠) ديوان عظيم ، ١٣٣٣ ق . ، لاهور ، ٦٣ مخ .
(٧١) وړکه خزانه ( لومړی ټوک ) ، همېش خليل ، ١٩٦٠ع . ، ٣ ، ٥ ګڼه ( ديوان ختک برخه ).

Marfat.com

سوز ګداز د محبت یې مګر زیات و — چې سوزان یې هسې شان کړ بیان شعر
جوړ په شعر کې رحمان غیب اللسان دی — په داخبر نشته هر ګز دانسان شعر
تر مصرع یې ځار شه لازم د ملغلرو — په خه تار یې آویخته کړ یکسان شعر
هیڅ تر شعره د رحمان به ډیر کم نه وي — ومنصف نه د ختیک خوشال خان شعر (۷۲)

رحمت داوي د دوولسمې پیړۍ داوا خرو یو بل شاعر دی چې په کشمیر کې هستېده او د رحمان بابا تر شعر داسې قربانېده :

هر څوک شعر کا هم لاف د شاعرۍ کا
زه قربان تر شیرین شعر د مهمند (۷۳)

شمس الدین کاکړ چې د پیر محمد کاکړ د ادبي مکتب پیرو دی ، د خپل استاد په پیروۍ د رحمان بابا په باب وايي :

که څوک ونیسي په لاس میزان د شعر — په عروض کا سنجیده بیان د شعر
و به نه رسي په شعر له رحمانه — که هر څو کوي هوس افغان د شعر
په تحقیق سره رښتیا لسان الغیب دی — لیاقت یې درلوده لسان د شعر (۷٤)

میرزاحنان بارکزی د رحمان بابا شعر یو تر بل سره ګټي او وايي :

بل رحمان سربندی د پښتنو دی — په پښتو یې غزل به دی یو تر بل (۷۵)

عبدالله یوپلزی یو بل کندهاری شاعر دی چې د رحمان بابا شعر معجزه بولي او وايي :

د رحمان له شعره بوی د معجزې ځي
مرید نه کاندې له پیره برابر (۷٦)

---

(۷۲) د پیر محمد کاکړ دیوان ، د استاد بینوا ترتیب او تدوین ، ۱۳۲۵ ، پښتو ټولنه ، ٤۲ مخ .
(۷۳) ورکه خزانه ، لومړی ټوک ، ۱۵۳ مخ .
(۷٤) د شمس الدین کاکړ دیوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳۳۳ ش . ، ٤۱ مخ .
(۷۵) د حنان بارکزی دیوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳۳٦ ش . ، ٦۳ مخ .
(۷٦) روهي ګلونه ، د استاد خادم ټولونه ، ۱۳۲٦ ش . پښتو ټولنه ، ۱۲۱ مخ .

Marfat.com

عبدالغفار هوتک د کلات دسیوري شاعر چې د دیارلسمې پیړۍ په اوایلو کې یې ژوند کاوه د رحمان بابا د ادبي مکتب پیروي او ځان ددة نایب بولي:

په افغان کې شاعران تر حساب تیر دي
عبدالغفار دی د رحمان شاعر نایب (۷۷)

د روانې پیړۍ د اوایلو شاعر قاضي میر احمد شاه رضواني د رحمان بابا شعر ونه له وجد او جذب څخه ډک ګڼي او وایي:

بیا به دور د شاه عالم په ځمکو کې | راښکاره شو په جهان عبدالرحمان
موسیقار غوندې یې هسې نغمې وکړې | چې یې پورې کړ لواور په کل جهان
تا به ویې چې د شیراز خواجه حافظ دی | چې پیدا شو په اولس کې د افغان
که صوفي، که محتسب او که قاضي و | یې له مانه تول یې ګډ کړه په میدان (۷۸)

په دې سربیره احمدي صاحبزاده (۷۹)، قنبر علي خان اپریدی او قاسم علي خان اپریدی (۸۰) هم د رحمان بابا په پیروي شعرونه وایي او یادونه یې کوي.

د رحمان بابا شهرت او مقبولیت د ومره زیات وُ چې په ډېر لنډ وخت کې یې شعر تول پښتونخوا تسخیر کړه او د «روه» لوستي، نیم لوستي او نالوستي تول خلق یې ځان ته د رجلب او جذب کړې. صوفیانو یې په شعر کې د معنوي دنیا وړانګې ولیدې، سیاستمدارانو او ملي مترانو د خپلو ملي غورځنګونو په لار وکې د ډېرې کار تړې وا حیست. مستانو او مجذوبانو د رباب په تارونو کې د ده نغمې ونغوبلې، هر څوک یې په ژبه یوه او هر چا د زړه تېرونو ته ملهم شو، څوک چې لوستي وو

---

(۷۷) د عبدالغفار هوتک قلمي دیوان.
(۷۸) روحي ګلونه، ۱۲۳ مخ.
(۷۹) تیرهېر شاعران، عبدالحلیم اثر، ۱۹۶۳ ع. پښتو اکېډمي، ۱۴۲ مخ.
(۸۰) وګورئ د قنبر علي خان دیوان، د پېښور چاپ او د ني لومړی مؤلف «رحمان بابا».

Marfat.com

دده شعر ونه یې په خپله ولوستل ، دنیمه لوستونکو یاره یې دلوستو شوق او ذوق ور وباسه او ډېر داسې کسان پیدا شول چې یوازې د رحمان بابا دشعر دلوستو مینې دتور او بور زده کړې ته اړ کړل . چا چې په خپله نه شوی لوستی هغوی هغه کسان لوستلو ته مجبور کړل چې لوستای یې شول ، او دوی ته یې واورول ، مطلب ئر او ښځو ټولو ته دده شعرونه ور ورسیدل او هرچا دخپل زړه هیلې او مرادونه پکې ولټول او پکې وموندل .

دده په ژوند دده دیوان په ټوله پښتونخوا کې خور شو او ډېر ژر د رحمان بابا لوی ادبي مکتب په ورځ دلپښتونخوا ډېر شاعران ورننوتل او له دې منبع څخه یې دشعر سوز او الهام واخیست .

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی د رحمان بابا دادبي سبک ښېګړې او ځانګړنې داسې شمېري :

۱ - په دې سبک کې شاعر د روح الهام مني ، د مادي سرّ یې ډېر سروکار نه دی ، له هغې دنیا څخه خبرې کوي چې له دې خاکي دنیا څخه پرته بله دنیا ده او د معنوي فیوضاتو منبع هم دغه ځای دی .

۲ - په دې سبک کې شاعر له مادي کثافاتو څخه لیرې کېږي او هلته ځي چې صلح کل دی او د دې خاورینې نړۍ غوغا او شور ماشور پکې نشته ، شاعران یې د دنیا پر بد و تنقید کوي او ځان یې له ګکړو او کړکیچو څخه ساتي .

۳ - په ادا او د احساساتو په تصویر او نورو ښېګړو کې دا سبک خو راسپېڅلی او سلیس دی ، الهام سره ګډ ګي . دشعر الفاظ او عبارات ساده او سپېڅلي عوږه کوي .

٤ - غزلیات ، قصاید ، رباعیات ، مخمس او دشعر نور ټول اقسام په سپېڅلي دول وایي او ډېر له مینې او اخلاقو څخه رغېږي .

Marfat.com

۵ - د عشق او مينې په دنيا کې هم د واقعيت خوا ته ځي او د خيال لن تابع کېږي.

۶ - د دې سبک شاعر عشق او الهام د ترونډون مدار ګڼي، يقين او ايمان پر عقليت بانديې خوښوي. [۸۱]

هو! په دې لاره د ېر شاعران روان شول او په سوونو وينا والو له رحماني غزنې نه الهام واخيست.

د رحمان بابا ادبي لارې مشهور لاروي دادي:

عبدالرحيم هوتک، احمد شاه بابا، اخوند ګدا، عبدالعظيم سواتي، ميا نعيم متي زی، ملا جمعه بارکزی، عبدالنبي بېټنی، شېر محمد هوتک، مطيع الله پير خېل، قاسم علي اپريدی، يونس، غفور، صديق، شمونزی، داليوري حافظ [۸۲] نياز محمد، عبيد، نصرت [۸۳]، ابن يمين، بازمحمد بنګښ، عبدالرسول ماشوري عبدالغفار هوتک، عجب، فضل شاه، ګل محمد کاکړ، شيخ نامدار، معزالله خان مومند [۸۴]، عبدالوهاب اخکزی [۸۵] او نور ...

په پښتونخوا کې د رحمان بابا شهرت او محبوبيت دومره زيات شو چې د ده شعرونو د خلکو په ورځنيو خبرو کې د متلونو بڼه وموندله او د يا خه سند په توګه استناد ورته وشو.

د پښتنو ديوه لوی روحانی شخصيت سوات صاحب نه روايت کېږي چې ده به ويل: "چې که څېرې د کلام پاک نه علاوه بل کلام کې موږ کول روا وي نو ما به يقيناً د رحمان صاحب کلام غوره کړی و." [۸۶]

---

(۸۱) پښتانه شعرا، ۱/ ۳۱

(۸۲) د دې کسانو سوانح په لومړي او دوهم ټوک پښتانه شعرا کې ولولئ!

(۸۳) د دې شاعرانو سوانح په لومړي ټوک ادبي ستوري کې ولولئ!

(۸۴) د لنډې پېژندګلوي له پاره يې وګورئ: هيوادمل، زلمی: فرهنګ زبان و ادبيات پښتو.

(۸۵) وګورئ: رېړی، دليکونکي مقاله، د ۱۳۵۶ کال، ۱۳ ګڼه.

(۸۶) تاريخ رياست سوات، محمد آصف خان. ۱۹۵۸ع، ۱۱۱ مخ.

هغه مشاعرې چې لا تراوسه یې هم دلړۍ او برې پښتو نخوا شاعران د بابا په مزار کوي دده محبوبیت او مقبولیت ښه ښکاره ند وې کولای شي او خوږې پښتنو او پښتنو وی "رحمان" ته "بابا" او وینا به یې دزړونو دوا وي.

## مړینه او مزار :

پټه خزانه کاږي چې رحمان بابا "په سنه ۱۱۱۸ هجری وفات سو خلق یې تراوسه د پېښور په هدیره کې زیارتونه کا."(۸۷) نورچا دده دمړینې نېټه نده ضبط کړې خصوصاً درحمان بابا شاگرد یونس خیبري دده له سوزه ډکه مرثیه وایي خوله بده مرغه دمړینې تاریخ یې نه ښیي.

درحمان بابا په دیوان کې داسې داخلي شهادتونه شته چې دده ژوندتر دې کال را ورو ستههم ثابتوي، په دې شهادتونو کې یو هغه اوږد نظم دی چې داورنگزیب مړینه پکې یاده شوې. اورنگزیب د ۱۱۱۸ کال دمیاشې په ۲۸ نېټه مړ شوی دی خو په دې نظم کې یو بیت دی:

اوس نوبت د شاه عالم دی

دور اولحور یې شو دگر

او خرنگه چې شاه عالم د ۱۱۱۹ ه. ق په عاشور یا خیره کې خپله پاچاهي اعلان کړې نو ځکه ښاغلی کامل داپا رکی د ۱۱۱۹ ه. ق. کال بولي(۸۸) او په دې وسیله دده ژوند تر ۱۱۱۹ ه. ق کال پورې ثابتیږي. همدارنگه د بابا په دیوان کې د گلخان او جمال خان دمړینې په بېښه هم یو نظم شته چې د ا

(۸۷) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۵ مخ.
(۸۸) رحمان بابا، ۲۲ مخ.

Marfat.com

پښتنه د رحمان بابا ژوند څېړونکو د راورټي د ویناله مخې له ۱۱۲۳ هـ.ق. کال سره مربوطه ګڼله او د راورټي د وینا په استناد دې د ده ژوند تر دې کال پورې هم اټکلاوه[۸۹]؛ خو څرنګه چې راورټي خپل سند نه ؤ ښودلی داسند اټکلي بلل کېده، او س چې د تاریخ مرصع متن د کامل مومند په همت خپور شو هلته په صراحت سره د دې پېښې په باب لیکل شوي:

"پس له فوته داورنګ زیب بادشاه جمال مهمند او بعضي ظاهر بین کوتاه اندیش ورسره سره په شورش پورته کړي ؤ. په مهمند کې موسزي وه او موسزي په مهمند و کې کمزوري تېره ده. غرض یې داوه چې په دا شورش کې به د مانا مه ناموس وشي. اربابي به بیا موم - په دامیان کې د پر افراط تفریط ورځه وشه - هر ګاه چې په سن زر سل دوه ویشت صوبه داري د دار الملک کابل په نامه د ناصرخان شوه. پېښاور ته راغی، اربابي یې ورکړه. امادده نا کړ دې چې بخوا د ناصرخان تر سر داري یا به صوبداري کې یې د ناصرخان کړي وې د ناصرخان په خاطر وې په خپلې اربابۍ کې یې کلی د عیسی مهمند هم وواهه - په تل یې ختنه وکړه - عیسی مهمند په خپل خېل کې زور وري جوړه یې د ناصرخان سره وکړه - د مغل په وېرانۍ کې پښتانه خپله مدعاده.

مصرع: هر طرف که شود کشته سود اسلام است

په دامیان کې د جمال د زوی د واده کار پېښ شه - ناصرخان دوه سره روپۍ هم په طریق د انعام ورکړې - لو عیسی په توم د مغل جر یې ور لېږې کړه - هغه شپه چې یې د زوی واده ؤ دلسبکره سره وروان شه.

---

(۸۹) رحمان بابا، د دوست محمد کامل، ۲۷ مخ. رحمان بابا، د مجهول مؤلف، ۱۲ مخ.

په کوږلي ورغی - جمال له دې هسې آفته غافل وُ مخې ته ورووت - تاب يې دجنگ ورانه ووړ - زخمي کوږته نسووت - عيسلى يې په کوږ اوږپورې کړ پکې وسه - اتیاکسه نرښځې وورکې هلکان دوادهم په هغه کوږکې ورسره وسول دا واقعه په سن زرسل درويشت وه - خدامې دې له دې هسې آفته امان وکا.»(۹۰)

موږ وينو چې ددې پيښې په باب تاريخ مرصع يو باوري او د هغه وخت سند دی چې راورته هم لې له دې چې خپل اخځ وښيي له هم دې تاريخ نه ددې پيښې کال سنو دلی دی . له بله پلوه رحمان بابا دا تراژيدی په خپل يوه نظم کې په ډېر سوز اودرد انځور وي :

| | |
| --- | --- |
| ډېر ياران وو دگل خان او جمال خان | په کار نه شو يو په وخت د زراستان |
| دهمه وار ويار الوځ دې تورشي | که به خوك وبله ياري کا په داستان |
| چې يو يار په سوري پروت وي بل په اور کې | وهغو ته به خوك څه وايي ياران |
| هيڅ تعريف يې په دا ش به وايه نه شي | صد رحمت شه په يارانو هم دگل خان |
| په دا پورته د ياري شرطونه څه وې | چې په اور کې دواړه وسوځي يکسان |
| چې له آله لـه اولاده سره وسول | خدامې دې نه کا خوك دهسې مظلومان |

تريا به...

څرنگه چې دا د هماغه پيښې انځور دی او د پيښې کال هم ۱۱۲۳ هـ. ق کال دی نو ددې باوري سند له مخې تر ۱۱۲۳ هـ. ق کال پورې د رحمان بابا ژوندلیقيني کېږي چې خو تر دې وروسته څرگنده نه ده چې تر کوم کال پورې ژوندی و. اوس په دې برخه کې يو بل عـنـ هم رامنځ ته کېږي او هغه دا چې تاريخ مرصع

(۹۰) تاريخ مرصع ، افضل خان ختك ، ۱۹۷٤ ع . ، ٤٠٢ مخ .

او پته خزانه دواړه د پښتنو باوري سند ونه دي او په تاریخ مرصع کې د پېښې کال په تورو : " سن زر سل دروېشت " کښل شوی او هم د تاریخ مرصع ټولې نسخې په دې برخې کې یوه خوله دي ، ځکه د دې کال د با ور یتوب په باب د شک ځای نه پاتې کېږي ، خو په پټه خزانه کې د رحمان بابا د مړینې د کال (۱۱۱۸ هـ . ق .) په باب د اټکل ځای شته ځکه چې هلته دا کال په شمېر (۱۱۱۸) کښل شوی او له بلې خوا د پټې خزانې د تر لاسه شوې نسخې په پای کې کاتب کښلي : " باستعجال تمام قلمی شد " نو د دې اټکل ځای پیدا کېږي چې سنا یې د پټې خزانې په بله نسخه کې به دا سنه "۱۱۱۸" نه بلکه بل څه او هم احیاناً "۱۱۲۸" وي چې د دې "استعجال" په سبب به "۲۸" ، "۱۸" کښل شوې وي . او که دا اټکل و منو نو بیا به د رحمان بابا ژوند تر ۱۱۲۸ هـ . ق . کال پورې را وغزېږي .

په هر حال ، که رحمان بابا د ۱۱۲٤ هـ . ق . کال په شا و خوا کې مړ شوی وي نو ویلای شو چې ده " ۸۲ " کاله عمر کړی او که تر ۱۱۲۸ کال پورې یې ژوند اټکل کړو نو بیا یې ژوند " ۸٦ " کلو ته اوږدېږي او دا کوم غیر عادي او نا شونی ژوند نه دی .

د رحمان بابا مزار د پېښور ښار ته د برلنډ په هزارخانې کې دی او د اخون د رویزه په هدیره کې ښخ دی چې خلک یې زیارت ته ورځي او کال په کال یې د پښتونستان شاعران په مزار غونډه کوي . د ده قبر پخوا له پخو خښتو روغ و خو په ۱۹۵۸ ع . کال پښتو ټولنې د کابل د حجارۍ او نجارۍ په فابریکه کې د مرمرو له ډبرې څخه جوړ شوی ښکلی او نفیس تعویذ ور واستاوه او دده په قبر کېښودل شو .

ښتیا هم چې : که نظر که څوک په کار د درویشانو خو به وویني وقار د درویشانو

هومره خلق یې زیارت کا پس له مرګه چې بازار وي په مزار د درویشانو

زه د رحمان په خپل اشعار شکر ګوزار یم
چې دا هسې رنګ دیوان مې دی موندلی

# [II]

# د رحمان بابا دیوان

د رحمان بابا د دیوان را ټولېدلو په باب هم لکه د ده د ژوند پېښو غوندې هر ځای بېلې بېلې خبرې کړې او بېل . بېل نظرونه پرې ورکړل شوي دي چې مونږ یې دلته بېل . بېل څېړو :

## فولکلوري روایت :

زه لا ډېر کوچنی وم ، د رحمان بابا شعرونه مې له خپلې خورځه ( چې په خوند . به یې لوستل ) اورېدلي وو خو په خپله یې لا د لوستلو نه وم ، په همدې وخت کې مې له دې نه دا فولکلوري روایت هم اورېدلی و : " رحمان بابا یو ملنګ شاعر و ، له خلکو نه به ګوښه د سیند په غاړه ناست و ، شعرونه به یې ویل

Marfat.com

او په هغو کو د و ړ و به يې ليکل چې خيل خنگ ته يې راټول کړي وو ، يو وخت خوك ورغى او دى يې د شعر په ليكلو بوخت وليد ، رحمان بابا د بر ثر ليكل شوي كوډ و ړيي سپند ته واچول ، هغه كو د و ړيي چې تري پاتې وو هغه سړي سره راټول كړل او د رحمان بابا دا موجوده ديوان يې تري جوړ كړ."

دا يو منلى روايت دى چې د رحمان بابا دوينا دعا مو علاقمندانو قناعت يې حاصلاوه او اوس يې هم مني .

## له فولکلوري نه متأثر روايت : د رحمان بابا د ديوان شريز (لومړنی) ليکونکی پروفيسر عبدالمجيد

افغاني د رحمان بابا د ديوان د راټوليد و په باب ليکي :

"... څه وخت چې مجنون (٩١) ده ته هغه رباب د طريقهٔ چشتيه وغږاوه نو مجنون مرشد او عبدالرحمان د دې وروځې سهوسنه پروت وُ چې څه وخت په هوش راغى نو حالت د ده تبديل وخوړ اوله نېكانو شمار رشد او ددې وڅخې نه به ده سرود اوريدلو او اخر پرې د ومره استغراق غالب شو چې لمونځ ترې نه هم پاتې شو او د لېښتنو په اصطلاح د ملا عبدالرحمان نه يو ملنگ جوړ شو ، والې چې شپه او ورځ دى وُ او زړاوه ترهسې حد پورې چې اوسنکو يې په مخ باندې لارې جوړې کړې ، خداى ورله يو څو دوستان هم ورکړي وه چې د ده به څه ويل هغوي به جمع كول او دا د هغي يارانو بركت دى چې د عبدالرحمان د زړه قطرې په هره حجره کې په وينو سرې پرتې دي..."

---

(٩١) مجنون په رحمان بابا پورې د تړل شوي فرضي معشوق نوم دى چې عجب خان يې په آب وتاب بيانوي او يو او ږده كيسه ورته تړي ( وگورئ : سوانح عمري ملا عبدالرحمان ، دلاهور چاپ ).

... بیا هم ددې قابل نه وُچې خپل اشعار يې جمع کړي وي. دوستانو به جمع کول او دهغه دمرګ نه وروسته يې دا دیوان جوړ کړ. مګر بیا هم دعبدالرحمان ډېر اشعار ضایع شوي او اوس هم دهغه په دیوان کې ډېر اختلاف دی، ډېرې غزلې دي چې په موجوده دیوان کې نشته مګر دلپښتنو په مجلسونو کې ویلې کېږي ...»(۹۲)

تر ده وړاندې میجر راورټي هم نظر ورکړی وُچې رحمان بابا به چې شعر ونه وویل نو دهغو نقل به یې خپلو خاصو دوستانو ته واسناوه، دده دوستانو به دغه دخان سره تولول او ساتل خو دیوبل نه خبر نه وو هرا شنا به یې دا خیال کړو چې دده دمرګ نه پس به دغه یو ځای کړي، دده دوستانو هم غسې وکړه، دده ځینې نیمګړو دوستانو په دې غرض درحمان په کلام کې خپل کلام ګډ کړو چې دا معلومه شي چې له دوی څخه درحمان دکلام ذخیره ترنورو زیاته ده، کلام به ددوی وُاو کسر به یې پرې درحمان وویلو ددې نتیجه دا شوه چې دده ددیوان دوه دفترې یا حصې جوړې شوې. داتګی بر ګی به وخت معلومه شوه ځکه چې درحمان ځینې دوستان لاژوندي وو او دهغه ویلې اشعار یې پېژندل هم، دوی پرته چاڼ کړه او سوچه کلام يې پاتې شو خو بیا هم په ډېرو نسخو کې اختلاف موجود دی ...(۹۳)

دراورټي دا نظر هم تر ډېره حده په فولکلوري روایاتو ولاړ بسکارې او دکوم باوري سند له مخې نه غږېږي.

## یوه بله رایه:

درحمان بابا ددیوان غونډولو په باب یوه بله رایه دا رواښاد مولانا عبدالقادر ده:

(۹۲) دیوان عبدالرحمان، دپروفیسر عبدالمجید په سرسېزه، دلاهور چاپ.
(۹۳) دیوان عبدالرحمان، دمولانا عبدالقادر سریزه، "خ" او "د" ح.

چې د نورو رایو په نتیجه کې یې ورکړې ده، دی وایي چې: "د استغراق په دوره کې د رحمان کلام دده دوستانو جمع کړی دی او چې کوم وخت بیا رحمان د دنیا ته راوګرځید او مجبور شو او دده کلام کې د اولس او قوم په اخلاقو دپاره زیات کیفیت پیدا شوی دی - نو شاید ده ته دا خیال پیدا شوی وي چې زما شعر دا دیوان را غونډ کړه دا بعید از قیاس نه ده، دا هم ضروري نه ده چې شاعر چې څه وایي نو ګټه یې تل دی هغه دده د حافظې په کتاب کې موجود وي، د هر څله شاعر ته خپل کلام نه وي یاد ولې دوستانو شاګردانو یې یاد لرلی وي. کیدی شي چې د ترتیب په وخت هغه ټول خلک دده شا او خوا موجود نه وو او څکه دده د بړې غزلې په ملکو کې خورې وې، ولې دیوان کې شاملې نه کړې شوې ... "(۹٤)

## مستند نظر:

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي (۳٦) کاله پخوا په پښتانه شعراء کې وکښل:

" محققین مورخین دې خبرې ته اهمیت نه ورکوي (دده د دیوان وروسته ټولول شي) او وایي چې رحمان بابا خپل دیوان په خپل ژوند غونډ او مرتب کړی دی. لیکن دا موجوده دیوان د رحمان ټول اشعار نه دي ځکه چې د رحمان د هر اشعار په دې دیوان کې نسته مګر د پښتنو په خولو کې جاري دي..." (۹۵)

د دې نظر په ملاتړ کې مون دوه ډوله ملاتړي شها دتونه لرو: یو په خپله هغه شهادتونه دي چې ځای په ځای دده په خپل دیوان کې موندل کیږي.

---

(۹٤) دیوان عبدالرحمان، د مولانا عبدالقادر سرېزه، "د" او "ذ" مخونه.
(۹۵) پښتانه شعرا، ۱/۱۹٤

او بل هم د هغه وخت د معاصرو مټنو نو شها د تونه دی .

مونږ د رحمان بابا په دیوان کې داسې بیتونه مومو چې نه یوازې دا ښیي چې د ه خپل دیوان په خپله ټول کړی بلکه دا هم څرګندوي چې ده له خپلو شعرونو سره ډېره مینه درلوده او په زیاته علاقه یې په غونډولو بوخت وُ او د دیوان ترجوړېدلو مخکې د هغه بیاض پېنه هم راکوي چې ده به خپل شعرونه له ویلو سره سم یکې ثبتول :

هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

ده له خوا د خپلو شعرونو د لیکلو په برخه کې دا بیت مخې ته راځي :

د رحمان ترقلم مسک او عنبر اوري
چې آغاز یې کړه اشعار د تورو زلفو

له خپلو شعرونو سره د ده مینه له دې بیتونو څخه ښکاري :

در ګوهر به تله نه دي چا تللي
د رحمان شعر ګوهر دی څه یې تولې

* * *

په غزل کې خو ده بیله انتخاب وي
د رحمان تمام غزل دی انتخاب

* * *

لکه زه چې سخندان او هنرمند یم
بل به نه وي سخندان او هنرمند

* * *

هم نغمې کاندي هم رقص کا، هم خاندي
د رحمان په شعر تُرکې د باګرام

Marfat.com

او دا بیتونه خو لې دهغه وخت دي چې دی د بشپړ دیوان خاوند وُ :

یو کتاب به سرېږ بن کې چا ونه کړ
لې رحمانه چې لې جوړ کړو دا کتاب

* * *

د رحمان وسوزان شعر ته حیران یم
چې لې اور بل شوی نه دی په دیوان

* * *

درست دیوان د رحمان زار تر دا غزل شه
چې بیان لې کړو کردار د درد روښانو

* * *

زه رحمان په خپل اشعار شکر ګوزار یم
چې داهسې رنګ دیوان مې دی مونډلی

د "کتاب جوړول" ، "درست دیوان" او "دیوان مونډل" په خپله ددې معنی لري چې ده خپل دیوان په خپل ژوند ترتیب کړی او جوړ کړی دی .

د رحمان بابا په ژوند دده د دیوان د ترتیبېدلو په باب یو بل دلیل دا هم دی چې دی لا ژوندی وُ چې دیوان لې په ټولو پښتنو کې خور شوی وُ او پښتنو دده دې لوی ادبي قدرت په صله کې د "بابا" درونډ لقب ورکړی وُ ، په ژوند کې لې دده دیوان د پښتونخوا او د ختیځ افغانستان ټولې سیمې فتحه کړې وې او دده په ژوند دده لقب "بابا" سره د افغانستان لویدیځو سیمو ته ان ترکندهاره پورې رسېدلی ، خور شوی او منل شوی وُ او ورسره ورسره لې رحمان بابا د یوه لوی روحاني شخصیت په توګه خلکو ته ور پېژندلی وُ ، همدا سبب وُ چې د رحمان بابا تر مړینې څو کاله وړاندې ملي مشر میرویس نیکه دده ډېر عقیدت درلودلو

له مخې دده په دېوان پال نېسي او په خپل ملي اقدام کې دده روحاني ملاتړ تر لاسه کوي او دی لومړی ځل ورته والي :

زه مکتوب غوندې په پټه خوله گو یا یم — خاموشي زما تېری کا ترغوغا زما
کښت د عشق په توده زمکه امان چېرې — سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما

خو بیا بل ځل داسې مشوره ورکوي :

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب وُ — خدای و ما و ته ښکاره کړ هغه لمر بیا
چې رقیب راته ترلی په زنځیر وُ — خپل حبیب رابندې پرانست هغه ور بیا

په وصال یې منت بار او سه رحمانه
په صدف کې دخل نشته د گوهر بیا (۹۶)

او میرویس نیکه هم د رحمان بابا مشوره خلکو ته ابلاغوي او په خپل ملي غورځنګ په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال کې پیل کوي.

په دې سرېره دوخت دود هم داسې وُ چې شاعرانو به خپل دېوانونه په خپل ژوند ترتیبول ، مثلاً د خوشال خان خټک هغه دېوان چې دده له مړینې نه یو کال مخکې لیکل شوی ددې خبرې سند ثبوت دی (۹۷) دا چې هر شاعر به مخکې له دې چې د تولو تورو پېتې ر په خپل دېوان کې ولري په خپله ددې سند دی.

اکثرو شاعرانو چې خپل دېوانونه د " يې " تر ردیفه رسولي ، بیا یې سره ټول کړي د دېوان کړي يې دي او په خلکو کې خواره شوي ، د دېوان له ترتیب نه وروسته یې چې کوم غزلونه ویلي هغه بیا دده یا نورو کسانو له خوا په خپل خپل ځای د دېوان په خنډه وا او یا هم د وروستیو نسخو په متن کې ورزیات شوي دي.

---

(۹۶) پټه خزانه (عکسي نسخه) ، ۴۶ - ۴۷ عونه.
(۹۷) د خوشال خان خټک د دېوان دا نسخه د پښتو ټولنې په کتابتون کې خوندي ده.

Marfat.com

کله چې د رحمان بابا په ژوند د ده د دیوان د ترتیبېدو او راغونډېدو په باب دومره کلک اسناد او دلایل لرو نو بیا په دې کې د هیڅ شک ځای نشي پاتې کېدلای چې ده دې خپل دیوان په خپله نه وي ترتیب کړی.

نو ځکه په نتیجه کې ویلای شو چې رحمان بابا خپل دیوان په خپل ژوند په خپله ترتیب کړی دی.

دا چې ځینې غزلې او بیتونه یې کم او زیات دي او یا یې د دیوان د نسخو ترمنځ زیات توپیرونه دي د دې ډېر.. ډېر عوامل دي یو دا چې ښایي ځینې غزلونه له ده نه د تدوین په وخت کې هېر شوي وي او یا یې نقل په لاس کې نه و، ځینې غزلونه یې ښایي تر تدوین وروسته ویلې وي، ځینې شعرونه یې متعصبینو د دیوان له نسخو څخه غورځولي لکه د "رقص" په ردیف غزل چې په یوازېنۍ نسخه کې راپاتې دی او د نسخو ترمنځ سره توپیرونه خو د "خطاطانو او کاتبانو" خاصه لورېینه (!) ده چې د هر چا او هر تألیف په حق کې یې لري او یوازې د رحمان بابا دیوان یې لمونه نه دی.

یوه بله پوښتنه لا پاتې ده او هغه دا چې د رحمان بابا دیوان ولې په عمومي ډول په دوو دفترونو کې راپاتې دی؟

د لنډیو په شکل داسې هم کېدای شي چې ښایي په یوه دفتر کې د رحمان بابا د ژوند د لومړۍ برخې او په بل دفتر کې یې د ژوند د بلې برخې شعرونه ترتیب او تدوین شوي وي. نو که دا شکل ومنو هم د لومړي دفتر شعرونه د ده د ژوند د لومړۍ برخې نه دي ځکه په دې دفتر کې د رحمان بابا هغه نظمونه شته چې د ژوند له وروستۍ برخې سره یې اړه لري لکه د اورنګزیب مرثیه او د ګل خان او جمال خان کیسه؛ نو عجالتاً د خپل دې اټکل مالګه داسې وراندولای شو چې ښایي رحمان بابا د خپل ژوند د لومړۍ برخې شعرونه په یوه دفتر کې سره ټول کړي

او ترديف کړي او تر هغه وروسته شعرونه يې په بل دفتر کې راغونډ کړي او تدوين کړي وي، څرنګه چې د دوهمې برخې شعرونه يې په حمد، نعت او د دنيا په بې وفائۍ پيلېږي نو ځکه دوهم دفتر تر لومړي دفتر وړاندې شوی او يو د بل ځای يې نيولی دی چې دا موږ ومنله نو بايد دا هم ومنو چې په خلکو کې دده په ژوند بايد دده د ديوان دوهم دفتر خور شوی وي او لومړی دفتر يې بيا وروسته خلکو ته رسېدلی وي خو کله چې هغو فالونو ته راورسېږو چې ميرويس نيکه د رحمان بابا په ژوند په ۱۱۱۹ ه.ق. کال کې دده په ديوان اچولي نو بيا زموږ دا تکل داماتي هم وړاندې ځکه هغه دواړې غزلې چې ميرويس نيکه فال پرې نيولی دده د ديوان په موجوده لومړي دفتر کې دي او په همدې دفتر کې د ګل خان او جمال خان د پښتو نظم هم شته چې تر دې فال نيونې پنځه کاله وروسته په ۱۱۲۳ ه.ق. کال ويل شوی دی.

ځکه چې له دې بحث نه هم نتيجه نه تر لاسه کېږي نو دده د ديوان د وه دفترونه جوړېدل تر اوسه کوم تاريخي اصالت او روايت تر شا نه لري.

ښاغلی کامل د دوو دفترونو سره ګډ وونکی استاد بېنوا بولي[98]؛ خو دا کار د بېنوا شوی او له ما سره د رحمان بابا د ديوان يوه زړه قلمي او يوه زړه چاپي نسخه شته چې متاسفانه دواړې نيمګړې دي او د ليکلو او چاپ کال نه لري، دا دواړې د يوه دفتر په اساس دي او د دواړو دفترو شعرونه يې سره يو ځای کړي او په يو ځلي ترديف کړي دي. همدا راز د بمبئ د ۱۸۸۳ ع. کال چاپ نسخه هم په يو دفتري ډول ده[99] چې ښايي زما نيمګړې چاپي نسخه همدا نسخه وي.

---

(۹۸) رحمان بابا، ۷۰ مخ.
(۹۹) د برتانوي ټاپوګانو په کتابتونو کې د پښتو قلمي نسخو کټلاګ، ډاکټر ميکنزي، لندن، ۶۸۵ مخ.

## قلمي نسخې

: څرنګه چې رحمان بابا د پښتنو ملي شاعر دی نو ځکه دده د دیوان ډېرې نسخې لیکلې شوې

او خورې شوې دي . پټه خزانه کاږي : " چې ظل الله پادشاه جهان شاه حسین کاتبان واستول او له پېښوره یې د عبدالرحمان بابا علیه الرحمة د دیوان نقلونه راوړل او په قندهار کې علما او زهاد و کښېنل او اوس ډېر دي. فقرا او د خدای دوستان د عبدالرحمان بابا شعرونه ډېر لولي او خوښوي او عام خلق فالونه پرګوري . حتی چې ښځمنې هم دا کتاب ډېر وايي او خدای تعالی دده په وینا کې هسې برکت اېښې دی چې د هر خوږ من زړه دار و په کا او هر غریب او محتاج مستغني کا ."[100]

دا روایت ښيي چې له ډېر پخوا څخه د رحمان بابا د دیوان د تکثیر او ډېر ښت له پاره کار پیل شوی او په پښتنو کې یې زیاتې نسخې خورې شوې دي .

د مېجر راورټي دا خبره چې په نظر کې ولرو چې ده د رحمان بابا د وینا د انتخاب په وخت کې له شپېتو نسخو څخه استفاده کړې[101] نو بیا د پښتو تر هر کتاب نه دده د دیوان د نسخو شمېره ډېره ده ان چې د اخون درویزه تر مخزن الاسلام نه یې هم د نسخو شمېره اوړي خو په موجود وخت کې د رحمان بابا د دیوان د قلمي نسخو د شمېر له مخې تر مخزن الاسلام را وروسته دوهم کتاب دی[102] او دهیواد او نړۍ په بېلو - بېلو رسمي او شخصي کتابتونو کې یې نسخې شته .

د پښتو خطي نسخو په لاره کې زما التون روان دی خو تر اوسه نه یم بریالی شوی چې په ټوله نړۍ کې د پښتو خطي نسخو شمېره تر لاسه کړم ، په همدې توس

---

(100) پټه خزانه (عکسي چاپ) ، ٤٥ مخ

(101) د دیوان عبدالرحمن . د مولانا عبدالقادر سریزه ، " د " مخ . د دوران "مجله ، پېښور ١٩٥٨ ع . (١٤،١٣ اګست) د نومورې مولانا مقاله .

(102) رفیع ، حبیب الله ، " د پښتو قلمي نسخې " ورمه ، ١٩ کال ، ٤ ګڼه (١٣٥٤) ، ٨٣ مخ .

درحمان بابا د دېوان د ټولو نسخو شمېره هم زما په لاس کې نشته، خو تر کومه ځایه مې چې یادداښتونه راغونډ کړي د رحمان بابا د دېوان دالاندې نسخې راته معلومې دي:

**الف:** د برتانوي تاپوګانو په بېلو بېلو کتابتونو کې د رحمان بابا د دېوان ۹ پوره او نیمګړې نسخې شته په دې ډول:

۱ ـ برېټش موزیم: د سید غلام علي په قلم، ۱۳٤ پاڼې، کال نه لري.

۲ ـ د لینډن سیانا کتابتون: خطاط نلري، ۱۳۳ پاڼې، بې تاریخه.

۳ ـ د هند اداري کتابتون: خطاط میا صدرالدین، ۱۵۳ پاڼې، د خطاطۍ کال ۱۲۰۷ هـ. ق.

٤ ـ برېټش موزیم: خطاط میرزا محمد اسماعیل، ۱۹٤ پاڼې، د ۱۲۷۷ هـ. ق.، ۱۸۶۱ ع. کال لیک.

۵ ـ برېټش موزیم: خطاط غلام جیلاني پېښوري، ۱۳۹ پاڼې، د ۱۸۷۲ ع. کال لیک.

۶ ـ د هند اداره: ۱۵۷ پاڼې، خطاط او د خطاطۍ کال نه لري.

۷ ـ د هند اداره: خطاط فاضل محمد د عبدالغني کاسي زوی، ۱۱۸۷ هـ. ق، ۹۳ پاڼې.

۸ ـ برېټش موزیم: خطاط سراج الدین، ۱۱۱ پاڼې، د ۱۲۷۱ کال لیک.

۹ ـ بودلیان: (د دېوان انتخاب)، ۸۵ پاڼې، د ۱۹۰۰ ع. کال شا او خوا لیکل شوی[۱۰۳].

**ب:** د لېننګراد په آسیایي موزیم کې د رحمان بابا د دېوان درې نسخې خوندي دي:

۱۰ ـ د ۱۸۱۰ ع. کال لیک.

۱۱ ـ د ۱۸۳۰ ع. کال لیک.

۱۲ ـ د ۱۸۳۷ ع. کال لیک[۱۰٤].

**ج:** د هند په کتابتونو کې سربېره د رحمان بابا د دېوان پر درې نسخو چې حو دادرې نسخې یې فهرست شوې:

۱۳ ـ د رامپور رضا لایبرېري: خطاط محمد شاه بلخي، د ۱۲۱۹ کال لیک، ٤۷۰ پاڼې مصوره نسخه[۱۰۵].

۱٤ ـ د بنګال د ایشیایي ټولنې کتابتون: د شاه ثناءالله په قلم.

---

ددې مخ د متن پایلیکونه په (۵۰۱) مخ کې وګورئ.

Marfat.com

۱۵ - د ډیلي د پوهنتون کتابتون : د حافظ عبیدالله په قلم (۱۰۶) .

ل : د پښتونستان په شخصي او رسمي کتابتونو کې د رحمان بابا د دیوان ډیری نسخې شته خو متأسفانه د ټولو فهرست لی لاس ته نه دی راغلی ، یوازې دا لاندې نسخې لیدا ته معلومې دي :

۱۶ - د پېښور د اسلامیه کالج کتابتون (۱۰۷)

۱۷ - د پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ کتابتون : د ملا ولي په قلم ، ۹۰ پاڼې .

۱۸ - د سیال کاکړ کتابتون : د ملا ولي په قلم ، ۱۷۹ پاڼې (۱۰۸)

هـ : په فرانسه کې د رحمان بابا د دیوان د دوو نسخو پته شته :

۱۹ - د فرانسې د ګیمې موزیم : د ۱۲۰۹ ق . کال لیک د ولي محمد په قلم .

۲۰ - د فرانسې د ګیمې موزیم : د ۱۷۹٤ کال لیک (۱۰۹)

و : په امریکا کې د یوې نسخې پته شته :

۲۱ - د پرنسټن د پوهنتون کتابتون (۱۱۰)

ز : د کابل د خطي نسخو کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان دا نسخې موجودې دي :

۲۲ - د ملا ولي په قلم چې ۳۲ انځورونه هم لري ، ۱۸٤ پاڼې .

۲۳ - په کشمیر کې د ۱۲۲۷ کال لیک ، د ملا عبیدالله په قلم ، ۱٦۰ پاڼې .

۲٤ - بله نسخه ۱۱۹ پاڼې لري .

---

د ٤۹ مخ پاڼلیکونه :

(۱۰۳) د برتانوي تاپوګانو په کتابتونو کې د پښتو قلمي نسخو کتلاګ ، ډاکټر مکینزي ، ۱۹٦۵ ع . له ۸۵ تر ۹۳ مخ .

(۱۰٤) هیواد (ورځپاڼه) ، ۱۳٤٦ کال ورځ ، د سنا علي رښتین مقاله .

(۱۰۵) د خان غازي کابلي قلمي یادداشت ، د استاد بینوا د کتابتون .

(۱۰٦) هیواد ، د سنا علي رښتین مقاله .

(۱۰۷) هماورځپاڼه .

(۱۰۸) سیال کاکړ ، پروفیسر ولي محمد : " پښتو نسخې " قلمي .

(۱۰۹) هیواد ورځپاڼه ، یاده شوې مقاله .

(۱۱۰) هماځ .

۲۵ ـ بله نسخه چې ۶۵ پاڼې لري.

۲۶ ـ بله نسخه چې ۱۷٤ پاڼې لري.

۲۷ ـ بله نسخه لې چې ۱۶۷ پاڼې لري او له حُسینې شعر و سره یې درې ژباړه هم شته (۱۱۱)

ح : د جمهوري آرګ په کتابتون کې د رحمان بابا د دېوان دا نسخې شته:

۲۸ ـ یوه نفیسه نسخه ده چې ۱۲۰ پاڼې لري (۱۱۲)

ط : د هرات په موزیم کې:

۲۹ ـ خوشخطه نسخه ده چې ۱۸۲ پاڼې لري (۱۱۳)

ی : د کابل پوهنتون په کتابتون کې هم د رحمان بابا د دېوان دا لاندې نسخه ساتل کېږي:

۳۰ ـ د ملا ولي د زوی ملا کمال په لیک چې ۱٤٤ پاڼې لري (۱۱٤)

ک : د پښتو ټولنې په کتابتون کې د بابا د دېوان دا لاندې نسخې شته:

۳۱ ـ د شاه زمان د سلطنت په وخت کې لیکل شوې نسخه ده چې ۲۵۱ پاڼې لري خطاط یې وجه الدین او د خطاطۍ کال یې ۱۲۳۰ هـ. ق. دی.

۳۲ ـ د سرلېکه خوا نیمګړې نسخه ده چې ۱٤۲ پاڼې یې پاتې دي.

۳۳ ـ د سر او پای د دواړو لخوا نیمګړې نسخه ده چې ۱۳۱ پاڼې یې پاتې دي.

۳٤ ـ د ملا اختر بیاض دی چې د رحمان بابا د اشعارو ځانګې پکې شته (۱۱۵)

ل : د محترم استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په کتابتون کې د رحمان بابا د دېوان نسخې شته چې یوه هم نسخه یې دا ده:

۳۵ ـ د ۱۱٤۵ هـ. ق. کال لیک ده او کامګار خان خټک د نامدار خان زوی

(۱۱۱) "د پښتو قلمي نسخې" د لیکوالې اثر، خطي.
(۱۱۲) د بورکوي د خطي نسخو فهرست، ۱۹٦٤ ع. ۶۵ مخ.
(۱۱۳) هماغه اثر، ۳۲۹ مخ.
(۱۱٤) ستوده، محمد ابراهیم او عبدالرحمن: "د پښتو د ۱۰۸ قلمي نسخو لنډه پېژندنه"، ۱۳۵۴، ګستنري چاپ، ۲۵ مخ
(۱۱۵) "د پښتو قلمي نسخې".

داشرف خان لمسي او دخوشال خان ختک کړوسي يوه مثنوي په خپل قلم پرې کښلې او مهر يې پرې لګولی دی.[116]

م : دښاغلي عبدالقدوس نجيب په کتابتون کې يې دا نسخې شته :

۳۶ - د ۱۲۷۹ ه.ق. کال ليک چې ۱۳۶ پاڼې يې پاتې دي او دپای پاڼې يې نشته.

۳۷ - يوه نيمګړې نسخه ده چې ۵۳ پاڼې يې پاتې دي[117].

ن : دښاغلي محمد حليم سلمي په کتابتون کې هم درحمان بابا ددېوان دوې نسخې خوندي دي :

۳۸ - خطاط يې انعام لومبړی چې په ۱۱۷۶ ه. ق. کال يې کښلې ده، دواړه دفترونه يې بېل - بېل ګڼډل شوي دي چې ټولې پاڼې يې ۱۳٤ دي.

۳۹ - د ۱۱۹۹ ه. ق کال په شاوخوا کې کښل شوې ، د پای لخوا نيمګړې ده او ۷۲ پاڼې يې پاتې دي[118]

س : دښاغلي زلمي هېوادمل په کتابتون کې درحمان بابا د دېوان لاندېنۍ نسخې خوندي دي :

٤۰ - د ۱۲۱۲ ه.ق کال ليک چې ۸٤ پاڼې لري.

٤۱ - يوه زړه بې تاريخه نسخه چې ۲۰۰ مخه لري.

٤۲ - درحمان بابا د شعرونو يوه انتخابي مجموعه چې ۱٦ پاڼې لري[119]

ع : دليکوالي په کتابتون کې درحمان بابا د دېوان دالاندې نسخې خوندي دي :

٤۳ - دملا قمردين په خط ليکل شوې نسخه ده چې دسرخو پاڼې يې لوېدلي

---

(۱۱٦) دمحترم استاد ، پوهاند عبدالشکور رشاد ياد داشت چې په خاصه لورېينه يې راسپارلې دی.

(۱۱۷) "دپښتو قلمي نسخې" ښاغلي نجيب صاحب په دېره مينه دخپل کتابتون نسخې دمعرفي په غرض راسولې چې په دې وسيله منته ترې کوم.

(۱۱۸) "پښتو قلمي نسخې" دښاغلي سلمي صاحب هغه سخاوتمندي چې دخپل خاني کتابتون دنسخو په راسولو کې يې کړې ده برې منې ور ده.

(۱۱۹) "پښتو قلمي نسخې" . دګران ملګري ښاغلي زلمي هېوادمل لورېينه ترتعارف لوره ده ځکه کتابونه مو داسې سره ګډ دي چې داسې وختونه هم پېښېږي چې يو دبل کتاب نه سره بېلوو ..

اودیای یوځ یې نښته موجودي پاڼي یې ۹۱ دي .

٤٤ ـ بله نسخه ده چې ځینې پاڼې یې ضایع شوي ، دا نسخه په یوه دفترکې ترتیب شوې خو نوې غزلې هم لري چې پاتې پاڼې یې ۸٤ دي .

٤٥ ـ ددې نسخې هم ځینې پاڼې لویدلې او ۹۶ پاڼې یې راپاتې دي .

٤۶ ـ ددې نسخې زیاتې پاڼې نیمه خواشوې او یوازې ٤۷ مخه ترې راپاتې دي .

٤۷ ـ دا یوه زړه نسخه ده چې پنځوس پاڼې یې راپاتې دي .

٤۸ ـ دملا سنایسته خان جونګ چې درحمان بابا زیاتې غزلې یکې چاپ شوې او خوندي دي .[۱۲۰]

له دې سره - سره بیا هم دا یو تینګه احصائیه یوه ډېره لنډه ګنډه او نیمګړې احصائیه ده ځکه د بابا د دیوان ډېرې نورې نسخې هم شته چې علاقمندانو یې ساتلې دي ، ما دا تلونکو احصائیو په هیله دا شمېره وړاندې کړه .

## چاپي نسخې :

لکه څرنګه چې درحمان بابا د دیوان قلمي نسخې ډېرې دي همدا راز د دې دیوان چاپونه هم له ځوا را هیسې روان دي او په لسهاؤ ځله خپور شوی دی .

ددې دیوان ترټولو زړه چاپي نسخه چې مالبدلې ده په ۱۲۸۰ هـ . ق . کال کې دممبي چاپ نسخه ده چې په سنه صحافت خپره شوې ده[۱۲۱]

او ترټولو ښه چاپي نسخه یې چې ډاکټر مکینزي اود "رحمان بابا" دکتاب بې نومه مؤلف درحمان بابا د دیوان لومړۍ چاپي نسخه ګڼلې ، هغه نسخه ده چې مولوي احمد

---

(۱۲۰) "دپښتو قلمي نسخې" په دې نسخوکې دوې نسخې ګران ملګري ښاغلي احسان الله آرینزي راسپللې چې کورودانی ورته وایم .

(۱۲۱) دا نسخه د ښاغلي رلي هیوارمل په کتابتون کې خوندي ده .

د تنګی د خو نسخو له مخې ترتیب کړې او په ۱۸۷۷ ع. کال په لاهور کې پادري هیوز چاپ کړې ده (۱۲۲)

د دې دیوان یوه بله زړه چاپي نسخه د حیدري مطبعې چاپ ده چې د قاضي فتح محمد په اهتمام خپره شوې، په ۱۸۸۳ کال کې یو ځل په بمبئي او دوه ځل په ډیلي کې چاپ شوې او تر هغه وروسته یې چاپونه له شمېره اوړي. یوه ډېره نفیسه نسخه یې چې په ښکلي خط کښلې شوې په ۱۳۲۸ ش. کال پښتو ټولنې د استاد بېنوا په زیار خپره کړه او یوه بله انتقادي متن یې د پېښور پښتو اکېډمۍ په ۱۹۶۳ ع. د اروا ښاد مولانا عبدالقادر په سریزه خپور کړ او هم یې هم د دې اکېډمۍ له منظورۍ ارد و ترجمې سره یو متن خپور کړ (۱۲۳).

## چاپي انتخاب :

د رحمان بابا د دیوان چاپي انتخاب د ده تر ټولو چاپي نسخو وړاندې دی ځکه لومړی ځل د ده غزلې آلماني ختیځ پوه ډورن په خپل "خریستوماتیا" نومې کتاب کې چې د پښتو ادبیاتو انتخابي مجموعه ده په ۱۸۴۷ ع. کال په پتر زبورګ کې خپرې کړې (۱۲٤) بیا د ده غزلې انګریزي ختیځ پوه میجر راورټي په ۱۸۶۰ ع. کال په خپل "ګلشن روه" نومې مجموعه کې نشر کړې (۱۲۵) او بیا پادري هیوز په "کلید افغاني" کې د رحمان بابا د دیوان غزلې انتخاب کړې چې یو چاپ یې د ۱۸۷۲ ع. کال دی (۱۲۶).

همدا راز په "جشن ویروزی"، "ګلشن نوروزی"، "بهار ګلشن" او د قاضي میر احمد شاه رضواني په "بهارستان" او "شکرستان" کې هم د ده د دیوان انتخابات شوي او په دې سربېره په ډېرو نورو پاتو مجموعو کې د رحمان بابا ملکوتي وېناوې خپستلې شوې او خپرې شوې دي.

---

(۱۲۲) د قلمي نسخو کتلاګ. ډاکټر مېکنزي، ۸۵ مخ. رحمان بابا، ۲۲ مخ.
(۱۲۳) د رحمان بابا دیوان شمېر چاپي نسخو د معرفي لپاره وګورئ: پښتو کتاب سوبو، د لیکوالکی اثر.
(۱۲٤) وګورئ، خریستوماتي.
(۱۲۵) وګورئ: ګلشن روه ۱-۳۰ مخونه.
(۱۲۶) وګورئ: کلید افغاني.

# اخځونه


۱ - افضل خان ختک : "تاریخ مرصع"، مقابله - تصحیح او نوټونه د دوست محمد خان کامل مومند
١٩٧٤ ع. یونیورسټي بک ایجنسي - پېښور.

۲ - حافظ رحمت خان : "خلاصة الانساب" د محمد نواز طائر دیباچه او ترجمه، ۱۹۷۳ع.
پښتو اکېډمي - پېښور.

۳ - خواجه نعمت الله هروي : "تاریخ خان جهاني د مخزن افغاني"، تصحیح او تنقیح د
سید محمد امام الدین، ۱۹۶۰-۶۲ع. ایشیاټک سوسائټي ډاکه (په دوو ټوکونو کې).

٤ - محمد هوتک : "پټه خزانه"، د استاد حبیبي سریزه او سمون، ۱۳۲۳ش پښتو ټولنه کابل

۵ - محمد هوتک : "پټه خزانه" (عکسي چاپ)، د استاد حبیبي نوې سریزه، ۱۳۵٤،
د پښتو د پراختیا او پیاوړتیا آمریت، کابل.

۶ - ښایسته خان : "د ملا ښایسته خان جونګ"، د دوو لیکمې پېړۍ لیک، د لیکوال کتابتون

۷ - حبیبي، پوهاند عبدالحی : "پښتانه شعراء" (لومړی ټوک)، ۱۳۲۰ش، پښتو ټولنه، کابل

۸ - حبیبي، پوهاند عبدالحی : "افغانستان د عصر ګورګاني هند" ۱۳٤۱، تاریخ ټولنه.

۹ - حبیبي، پوهاند عبدالحی : "د پښتو ادبیاتو تاریخ" (دوهم ټوک)، ۱۳٤۲، پښتو ټولنه - کابل

۱۰ - حبیبي، پوهاند، عبدالحی : "د افغانستان پېښلیک"، د پوهنې کتاب خپرولو موسسه، ۱۳۵۳، کابل


Marfat.com

۱۱ - حافظ مرغزي : " شهنامهٔ احمدشاه ابدالي " . پښتو اکېډمي ، ۱۹۶۵ ع . پېښور .

۱۲ - کامل مومند : " رحمان بابا " ، ادارهٔ اشاعت سرحد ، ۱۹۵۸ ع . پېښور .

۱۳ - عبدالصمد خان : " رحمان بابا شاعر انسانيت " ، داثر په سرېزه ، ۱۹۷٤ ع . پېښور .

۱٤ - بې نومه مؤلف : " رحمان بابا " محکمهٔ نشر و اشاعت قبايل .

۱۵ - ظفر کاکاخېل ، سيد بهادر شاه : " پښتانه د تاريخ په رڼا کې " يونيورسټي بک اېجنسي پېښور ۱۹۶۵ ع .

۱۶ - حبيبي ، پوهاند عبدالحی ( تصحيح او سرېزه ) : " د خوشال خان خټک مرغلرې " طلوع افغان ۱۳۱۷ کندهار

۱۷ - کامل ، دوست محمد ( سرېزه او سمون ) : " کليات خوشحال خان خټک " ، ادارهٔ نشر و اشاعت سرحد ، ۱۹۶۰ ( دوهم چاپ ) پېښور .

۱۸ - رسا ، سيد رسول ( سرېزه او ترتيب ) : " ارمغان خوشال " ، يونيورسټي بک اېجنسي ، پېښور .

۱۹ - بېنوا ، عبدالرؤف ( سرېزه او سمون ) " د رحمان بابا ديوان " ، پښتو ټولنه ، ۱۳۲۸ کابل

۲۰ - عبدالقادر ، مولانا ( سرېزه ) : " ديوان عبدالرحمن " ، پښتو اکېډمي " ۱۹۶۳ ، پېښور .

۲۱ - عبدالمجيد ، پروفېسر ( سرېزه ) : " ديوان عبدالرحمن مع رباعيات ديوان عبدالحميد " ، صابر الکترک پرېس - لاهور .

۲۲ - غروال ، څېړنيار محمد عارف ( سمون ) : " د رحمان بابا ديوان " ( همدا متن ) لاسکښلې نسخه

۲۳ - خادم ، قيام الدين ( ټولوونکی ) " روهي ګلونه " ، پښتو ټولنه ۱۳۲۶ کابل .

۲٤ - حبيبي ، پوهاند عبدالحی ( سرېزه او سمون ) : " د عبدالقادر خان خټک ديوان " ، طلوع افغان ۱۳۱۸ کندهار .

۲۵ - عظيم : " ديوان عظيم " ، ۱۳۳۳ هـ . ق . ، مطبع اسلاميهٔ لاهور .

۲۶ - بخاری ، خيال ( ترتيب او تدوين ) : " ديوان نجيب " ، پښتو اکېډمي ، ۱۹۷۲ پېښور .

۲۷ - دارمستتر : " د پښتنخوا د شعر هار و بهار " ، د پاريس د خپلو ټولنه ، ۱۸۸۸ ع . پاريس .

۲۸ - همېش خليل ( ترتيب او سرېزه ) : " ديوان حجري " ۱۹۵۸ ع . پېښور .


Marfat.com

٢٩ - همیش خلیل (ترتیب او سریزه): "دیوان عبدالقادر خان خټک"، ١٩٧٢ ع. پېښور.

٣٠ - دیوان خیبري دیوان، دارګ دکتابتون قلمي نسخه.

٣١ - عبدالقادر، مولانا (سریزه): "دیوان مصري خان ګګیاڼي". پښتو اکیډمي پېښور

٣٢ - بخاري، خیال (ترتیب او تدوین): "دیوان معزالله خان مومند" ١٩٥٨ ع. پښتو اکیډمي پېښور

٣٣ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب): دیوان معزالله خان مومند"، ١٩٦١ پېښور.

٣٤ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب): "دیوان کاظم خان شیدا"، ١٩٦٥ ع. پېښور

٣٥ - بېنوا، عبدالرؤف (سریزه او ترتیب): "د کاظم خان شیدا دیوان" ١٣٣١ کابل

٣٦ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب): "دیوان بیدل" ١٩٥٧ ع. پېښور

٣٧ - همیش خلیل: "د رکه خزانه" (لومړی ټوک)، ١٩٦٠ ع. پېښور

٣٨ - بېنوا، عبدالرؤف (ترتیب او سریزه): "د پیر محمد کاکړ دیوان"، ١٣٢٥، پښتو ټولنه کابل

٣٩ - "د شمس الدین کاکړ دیوان" ١٣٣٣، پښتو ټولنه کابل.

٤٠ - "د حنان بارکزي دیوان" ١٣٣٦، پښتو ټولنه کابل.

٤١ - "د عبدالغفار هوتک دیوان"، قلمي نسخه.

٤٢ - اثر، عبدالحلیم: "تېر هېر شاعران"، ١٩٦٣ ع. پښتو اکیډمي، پېښور.

٤٣ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب): "دیوان قنبر علي خان".

٤٤ - دورن (ټولونکی): "خرېستوماتیا"، پترزبورګ، ١٨٤٧ ع.

٤٥ - راورټي، میجر (ټولونکی): "ګلشن روه"، ١٨٦٠ هرتفورډ.

٤٦ - هیوز، پادري (ټولونکی): "کلید افغاني"، ١٨٧٢ ع. لاهور.

٤٧ - محمد آصف خان: "تاریخ ریاست سوات" ١٩٥٨ ع. سوات.

٤٨ - خان غازي کابل (قلمي یادداشت): "کتابچه رضا"، د استاد بېنوا کتابتون.

٤٩ - سیال کاکړ، پروفیسر ولي محمد خان: "پښتو نسخې"- سیال کاکړ خاني کتابتون دښو مرغي"


Marfat.com

لاسکښلې نسخه .

۵۰ - بورکوی : " دافغانستان خطي نسخې " ، ۱۹۶٤ ع .

۵۱ - میکنزی ، ډاکټر : " دبرتانوي تاپو گانو په کتابتونو کې دخطي نسخو کتلاک " ( ددې کتاب لښېږمتن گران ملگري عنایت الله محرابي راته ژباړلی ) .

۵۲ - عبدالغني ، دکتور : " احوال وآثار میرزا عبدالقادر بیدل " ژباړن میر محمد آصف انصاري ، کابل پوهنتون ، ۱۳۵۱ .

۵۳ - " کلیات بیدل " ، دپوهنې وزارت ، کابل .

۵٤ - تجدد ، مهین جهانگلو : " سماع درسلسلهٔ هو " ۱۳۵۱ ، تهران .

۵۵ - اڅکزی ، محمد جعفر ، " ونډر " ۱۹۵۹ ع . کوټه .

۵٦ - عجب خان دچکني : " سوانح عمري دملا عبدالرحمن " ( فولکلوري کیسه ) ، لاهور .

۵۷ - ښتیان ، صدیق الله : " دپښتو نسخو فهرست " ، هېواد ( ورځپانه ) ، ۱۳۵٦ ، دهېواد لاسکښلي گڼې .

۵۸ - ستوره ، محمد ابراهیم او عبدالرحمن : " دپښتو د ۱۰۸ قلمي نسخو لنډه پېژندنه " ۱۳۵٤ ، گستنري چاپ دکابل پوهنتون کتابتون .

۵۹ - هېوادمل ، زلمی : " فرهنگ زبان وادبیات پښتو " . لاسکښلې نسخه .

٦۰ - رفیع ، حبیب الله : " عبدالوهاب اڅکزی " زیری ، ۱۳۵٦ ، دجوزا ۱۳ گڼه .

٦۱ - رفیع ، حبیب الله : " دپښتو کوالی تذکرې " ، افغانستان اکاډمي ، دتاریخ اوادب ټولنه ۱۳۵۰ کال

٦۲ - رفیع ، حبیب الله : " ادبي ستوري " ( لومړی ټوک ) ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۳ ، کابل

٦۳ - رفیع ، حبیب الله : " دپښتو قلمي نسخې " ، وږمه ، نولسم کال ، لسمه گڼه ، ۱۳۵٤ ش .

٦٤ - رفیع ، حبیب الله : " دپښتو خطي نسخې " ( په نړۍ کې دپښتو خطي نسخو معرفي ) ، قلمي .

٦۵ - رفیع ، حبیب الله : " دپښتو کتاب بنود " ، قلمي .

Marfat.com

# د متن نسخې

## د رحمان بابا د دیوان د انتقادي متن په برابرولو کې له دغو چاپي او خطي نسخو څخه کار اخیستل شوی دی:

د رحمان بابا د دیوان د دغه انتقادي متن په تیارولو کې له څلورو چاپي نسخو، شپاړسو خطي نسخو، خرستوماتي یا د ورو مجموعو او د شوروي اتحاد څخه د راغوښتل شوې میکروفلم څخه کار اخیستل شوی دی. کوم څرګند توپیر چې په کومه نسخه کې په نظر راغلی یا کوم نوی غزل او نوی بیت موندل شوی دی په لمن لیک کې د هغې نسخې حواله ورکړل شوې ده. د دغو نسخو ته موږ مخفف نومونه ورکړي دي ترڅو محققین او لوستونکي له زیاتو خنډونو سره مخامخ نه شي، مثلاً د پښتو ټولنې نسخې ته مو د "پ"، د اطلاعاتو او کلتور د خطي کتابخانې نسخې ته مو د "خ" نسخه په نامه او د پېښور چاپي نسخو ته مو د "پ.پ" یعنې پښتو اکېډمۍ چاپ، "ق.ک" یعنې قدیمي کتابخانې چاپ او "ق" یعنې قصه خوانۍ چاپ نومونه او د پښتو ټولنې د بېنوا صاحب له خوا چاپ شوي دیوان ته مو د "ب" چاپ نوم ورکړی دی. د دغه انتقادي متن مولکه د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي دیوان څونډې په یوه دفتر کې ترتیب کړې او د پښتو ټولنې د مسلکي غړي او ځوان

Marfat.com

خطاط شاغلي نصير "هنر" پښتون لهٔ خوا خطاطي شوی دی.

ددې د پاره چې رحمان بابا د دیوان د دغه انتقادي متن محترم لوستونکي لهٔ ټولو چاپي او خطي نسخو سره سم بلد شي هره نسخه په ځانګړې توګه معرفي کېږي.

## د کابل د پښتو ټولنې چاپ :- د دغې نسخې کچه ۱۵×۱۰ سانتي متره ده او په کوچنۍ قطع چاپ شوې ده د دغې نسخې مصحح، مدون او مقابله کوونکی استاد بېنوا دی چې د ښاغلي عزیزالدین وکیلي لهٔ خوا خطاطي شوې او په ۱۳۲۸ کال کې د کابل د عمومي مطبعې په آفست کې چاپ شوې دی. مقدمه هم د استاد بېنوا لهٔ خوا پرې لیکل شوې چې د رحمان بابا د ژوندلیک په باب خورا په زړه پورې مواد لري.

د دغه چاپي دیوان ټول "۲٦۰" مخونه دي چې (۱۳۰) پاڼې کېږي، په دغه دیوان کې (۳۳۸) پارکې راغلي دي او د ټولو بیتونو شمېر يې (۳۸۵۳) دی. دغه نسخه د رحمان بابا د نورو چاپي او خطي نسخو پر خلاف په یوه دفتر کې ترتیب او چاپ شوې ده.

## د پېښور د پښتو اکېډمۍ چاپ :- کچه یې ۲۰×۱٦ سانتي متره ده. د دغه چاپي دیوان د لومړي ځل لپاره د ۱۹٦۳ ع. کال د جولای د میاشتې په دېرشمه نېټه د هغه وخت د پښتو اکېډمۍ د مشر مولانا عبدالقادر په تمهید چې د ۱۳٦۸ هـ. کال د صفرالمظفر د میاشتې په ۱۸ نېټه یې چې د ۱۹٤۸ عیسوي کال د دسمبر له شلمې نېټې سره برابره ده کښلی، چاپ شوی دی. د رحمان بابا دغه نسخه په دوو دفترونو کې چاپ شوې چې د مخونو شمېر یې (۲۸۵) ته رسېږي او مقدمه یې د الفبا په ترتیب ورسره چاپ شوې ده.

په دغه دیوان کې (۳٤٤) پارکې راغلي دي چې ټول (۳۷۰۰) بیته دي.

Marfat.com

**د پېښور قديمي کتابخانې چاپ :-** درحمان بابا د غه چاپي ديوان کچه ۲۴×۱۵ - سانتي متره ده ، د پېښور د کالج د پروفيسر عبدالمجيد او شاه افضل صاحب په سريزو په (۱۷۷) مخونو کې د پېښور د قصه خوانۍ د تاجرانو حاجي فضل احمد او حاجي عبدالرحيم له خوا چاپ شوی دی . د چاپ نېټه يې نه ده معلومه ، د پاڼو شمېر يې (۳۴۷) او د بيتونو شمېر يې (۳۷۹۴) دی ، د غه نسخه هم په دوو دفترونو کې ترتيب او چاپ شوې ده.

**د پېښور قصه خوانۍ چاپ :-** د دغې چاپي نسخې کچه هم ۲۴×۱۵ سانتي متره ده چې په ۱۹۲۰ عيسوي کال کې چاپ شوې او د مخونو شمېر يې (۱۸۴) دی ، په دغه نسخه کې ټول (۳۲۱) پاڼې راغلي او د بيتونو شمېر يې (۳۶۰۳) دی ، دغه چاپي ديوان هم په دوو دفترونو کې ترتيب او چاپ شوی دی .

**د پښتو ټولنې د کتابتون خطي نسخې :-** د پښتو ټولنې په کتابتون کې درحمان بابا د ديوان درې خطي نسخې او يو قلمي جونګ چې درحمان بابا يو شمېر غزلې هم پکې دي شته چې په هره نسخه په بېلا بېل ډول خبرې کېږي .

**د "ب" لومړۍ نسخه :-** د "ب" د کتابتون د لومړۍ نسخې کچه ۲۳×۱۳ سانتي متره ده دا نسخه د سر او پای له خوا بشپړه ده ، د مخونو شمېر يې (۲۵۱) او د پاڼو شمېر يې (۳۱۴) دی. د غه نسخه د شاه زمان د سلطنت په مهال کې ليکل شوې ده .

Marfat.com

**د "پ" دویمه نسخه :-** د "پ" په کتابتون کې د رحمان بابا بله نسخه هم شته چې د دویمې نسخې په نامه نومول شوې ده، د دغې نسخې کچه ۲۶×۱۴ سانتي متره او د مخونو شمېر یې ۱۴۱ دی، د خطاطي کال او د خطاط نوم یې نه ښکاري. دا نسخه نیمګړې ده او ټول ۲۴۹ پاڼې یې پکې راغلې دي.

**د "پ" دریمه نسخه :-** د "پ" د کتابتون دغه نسخه هم د سر او پای له خوا نیمګړې ده د مخونو شمېر یې ۱۳۱ او د پاڼو شمېر یې ۱۵۲ ته رسېږي او کچه یې ۱۶×۱۴ سانتي متره ده.

**د کابل پوهنتون د کتابتون نسخه :-** د کابل پوهنتون په لوی کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان یوه قلمي نسخه شته چې د دغه انتقادي متن په تیارولو کې استفاده ترې شوې ده، د دغې نسخې کچه ۱۵×۷ انچه او د خطاطي کال یې نه دی معلوم خو د ملا کمال د ملا ولي د زوی لخوا لیکل شوې ده ټول مخونه یې طلايي او سره چوکاټ نمونه لري. د پاڼو شمېر یې ۱۴۴ دی چې ټول ۲۸۸ مخونه کېږي.

**د اطلاعاتو او کلتور د خطي کتابتون خطي نسخې :-** د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په خطي کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان پنځه قلمي نسخې شته چې د دغه انتقادي متن په تیارولو کې استفاده ترې شوې ده او په ترتیب سره څېړل کېږي:

**د "خ" مصوره نسخه :-** د دغې نسخې کچه ۱۸×۱۲ سانتي متره ده د لیک ډول یې نسخ دی د پاڼو شمېر یې ۱۸۳ ته رسېږي چې ټول ۳۶۶ مخونه کېږي ۲۹۸ غزلې او دوه مخمسه لري. پښتي یې کېږه، (۳۲) ښکلي عکسونه او یونیم مخ نقاشي لري، په کشمیر کې د ملا ولي په قلم لیکل شوې ده.

Marfat.com

د "خ" لومړی نسخه :- د "خ" د دغې نسخې کچه ۱۳×۱۹ سانتي متره او د لیك ډول یې نسخ دی ، د ځرمنې پښتي لري.

د پاڼو شمېر یې (۱۶۰) دی چې (۳۲۰) مخونه کېږي (۳۵٤) غزلې او دوه مخمس لري

د غه نسخه په ۱۳۲۷ کال په کشمیر کې لیکل شوې ده.

د "خ" دویمه نسخه :- د خطي کتابتون د دغې نسخې کچه ۳۳×۲۱ سانتي متره او دلیك ډول یې نستعلیق دی

د پاڼو شمېر یې (۱۱۹) دی چې ټول ۳۳۸ مخه کېږي ۳۰۸ پارچې او دوه مخمس لري،

پښتي نه لري او لیکونکی یې معلوم نه دی.

د "خ" دریمه نیمګړې نسخه :- د خطي کتابخانې د دغې نسخې لیکونکی نه دی معلوم. د سر او پای لخوا نیمګړې ده کچه یې ۱۷×۲٤ سانتي متره او کاغذي پښتي لري. دلیك ډول یې نسخ او ٥٦ پاڼې لري چې ۱۱۲ مخه کېږي او ټول (۱۸۰) پارچې پکې راغلي دي.

د "خ" څلورمه نسخه :- د خطي کتابتون د دغې نسخې لیکونکی هم نه دی معلوم. دلیك ډول یې نستعلیق او کچه یې ۱۳×۲۱ سانتي متره ده ، پښتي یې کاغذي او د پاڼو شمېر یې ۱۷٤ دی چې ټول ۳٤۸ مخه کېږي ، ۳۲۹ پارچې پکې راغلي دي یو مېناتور لري او د هر غزل له پیل سره د بېرسنګلې او په زړه پورې ګل کاري شوې ده .

د زلمي هیوادمل نسخې : له ښاغلي زلمي هیوادمل سره هم د رحمان بابا د دیوان دوې قلمي نسخې شته چې د دغه

انتقادي متن په تیارولو کې کار ترې اخیستل شوی دی او په لاندې توګه خبرې پرې کېږي:

**لومړی نسخه:-** د دغه نسخې کچه ۱۷×۱۴ سانتي متره ده، ټولې ۷۴ پاڼې لري چې ۱۴۸ مخه کېږي. خطاط یې نه دی معلوم او په ۱۲۱۲ هـ.ق. کې لیکل شوې ده.

**دویمه نسخه:-** دغه نسخه ډېره زړه ده (۲۰۰) مخه لري او په هر مخ کې یې معمولاً (۱۸) بیته لیکل شوي دي چې په دغه حساب یې ټول بیتونه ۳۶۰۰ ته رسېږي.

**د حبیب الله رفیع نسخې:-** د ښاغلي حبیب الله رفیع په شخصي کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان خلور خطي نسخې شته چې په دغه انتقادي متن کې استفاده ترې شوې ده چې دوې نسخې د ښاغلي احسان الله آرینزي له خوا ورکړل شوي دي او په لاندې توګه خبرې پرې کېږي:

**لومړی نسخه:-** یوه زړه نسخه ده سر او پای نه لري، د خطاط نوم او د لیکلو کال یې نه معلومېږي. د مخونو شمېر یې (۱۹۰) ته رسېږي، په هر مخ کې یې معمولاً پنځلس بیته راغلي دي د دوو دفترونو په وېش لیکل شوې ده او کچه یې ۲۱×۱۷ سانتي متره ده.

**دویمه نسخه:-** د ښاغلي رفیع د کتابتون دغه نسخه هم زړه ده. د سر او پای پاڼې یې نشته. ترلاسه شوي مخونه یې ۱۷۴ دي. هر مخ یې ۱۴ بیتونه لري. ټول شعرونه یې په یوه دفتر کې راټول شوي

او دوه دفتره وېش نه لري. تر ټولو نسخو زياتې غزلې لري او تقريباً يوه وتلې نسخه بلل کېدای شي. کچه يې ۱۷,۵ X ۲۱ سانتي متره ده.

**دريمه نسخه:-** د سناغلي رفيع د کتابخانې د دغې نسخې د سرخو پاڼې لوېدلي دي. خطاط يې د ملا حسن زوی ملا قمرالدين دی. مخونه يې ۱۸۲ دي. او په هر مخ کې يې ۱۹ بيتونه راغلي دي. د غه نسخه په دوو دفترونو کې ترتيب شوې ده. ځينې زيات بيتونه هم لري او کچه يې ۱۵ X ۲۵ سانتي متره ده.

**د ملا شايسته خان جونګ:** د ښاغلي رفيع په کتابتون کې د ملا شايسته خان يو قلمي جونګ هم شته چې د رحمان بابا ځينې غزلې پکې راغلي دي او د غه انتقادي متن په برابرولو کې استفاده ترې شوې ده.

خير نيا، محمد عارف غزوال

Marfat.com

# د پاکو لاربنود

## دلوم لیومسر یو دلومړي توري له مخې

ترتیبوونکی: حبیب الله رفیع

د دې لیاره چې د رحمان بابا د دیوان عنعنوي دود هم ساتل شوی وي، په دې لاربنود کې
د هغو غزلو سر لیکه چې د دیوان په زړو چاپونو کې په دوهم دفتر کې راغلې د ستوري (✱)
نښه شوې او په دې ترتیب دلومړي او دوهم دفتر ویش سره شوی او هغه غزلې چې نوې
موندل شوې له مسري سره یې کوچنی دایره (۵) کښل شوې ده چې نوې موندل شوې
غزلې په نښه کړي.

اته شپېتم

# آ

مخ


آشنايي بده بلا ده آشنا مه شي ۲٤۲
آفرين د عاشقانو په همت ٤٠


# ا


اعتماد به په دنيا كوې تر كومه ۱۷۰
اورنګ زيب او شاهجهان غوندې اشراف ۷۹
* اورنګ زيب چې آرايش د تخت و تاج كا ۱۹
اوښكې نه لري حساب زما د سترګو ۱۲۲
اومه كله دي پاخه والي واعظ ۷٦
○ اې د نفس او د حرص په هوا ليوه ۲۸٥
اې زما د زړه آرامه راشه راشه ۱٥٥
ابسنې مې په سر دې ستا د مخ د مينې ګل ۸۸


# ب


بادشاهانو كه قمر وند كړل بنياد ٤٦
* بادشاهي لري هر يو غلام د ستا ۱۲
* باړه و تړه هله كښت، زراعت كړه ۱٥۲
بداختر به نيك اختر نشي هر ګز ٦۹
* بدلوې په دنيا دين او ايمان ولې؟ ۲٥٤
○ بلبلان كه له ګلزاره موي حظ ۷۷
* بوص تو مارا كجا ہا تھ ہے ۲۷٦


Marfat.com

* بیا دې مخ دی جار وتلی څه بلا شوه ۱۷۷
* بیا دې نوې شراب څښلي دي پوهېږم ۹۷
بیا مې زړه د تورو زلفو مسخر شه ۱۵۸
* بېلتانه دې هسې خوار کړم زما دل ۹۱

## پ

* پاڅه یو ځل د سېراب د عشق په جام شه ۱۵۹
o پټ پناه مې په خاطر لګی اورونه ۱۷۵
* پس له مرګه که څوک ارت غواړې خپل ګور ۹۵
* پورته بدن راښکاره شو ښکته ملر ۵۶
* په امید د ګانده ورځ زړور مه شه ۱۶۰
o په اول کې تا د عشق وهلې لافې ۲۴۵
* په بزرګه د هغه پاک پروردګار ۵۰
په پیرۍ کې چې هوس دی ناب کړې ۲۱۷
په تنده چې آتش بل کړ مدام شمع ۷۷
* په حالت د عاشقانو نظر بویه ۱۷۹
* په ځوانۍ کې بد دماغه بدګمان یې ۲۷۱
* په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دی ۱۸۸
* په خاطر مې غلبه شول ستا غمونه ۱۷۴
* په دنیا کې که څه کار دی خو د دین دی ۲۰۰
* په دنیا کې که هر څو وبله پیوند وې ۲۶۲
* په دنیا کې له دنیا ګوښه کنار شه ۱۵۷

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| | په دنیا کې مخ د یار دی نور څه نشته | ۱۳۶ |
| | په دوران مې هسې رنګ دلبر پیدا شه | ۱۵۵ |
| | په سنا دې سنا دستوی نه یم دهیچا | ۱۱ |
| | په سنا یست زما دیار نه دې خبر څوک | ۸۵ |
| * | په سنه خوی له بدخواهانو بې پروایم | ۱۰۱ |
| * | په طلب د هر ویانو سرګردان دي زما رو | ۴۳ |
| | په ظاهر صورت چې ستا د درګدای دی | ۲۰۹ |
| * | په لبمه کې مې مدام | ۹۳ |
| | په نامه د هغه خدای مې دا بیان دے | ۱۹۵ |
| | په نظر د بې بصر | ۵۹ |
| * | په نور څه پسې بې خدایه ژاړې ولې؟ | ۲۵۵ |
| * | په ورځ ناست یې بې طلبه | ۱۲۸ |
| * | په هر ځای چې ستا تماشې شبوه ګرې | ۲۱۲ |
| * | په هر زړه چې د یار مینه شي غالبه | ۱۳۱ |
| | په یوه ذره به ورنه ی یا به مورې | ۲۷۰ |
| | په یوه غمزه دسترګو یې فنا شوم | ۱۰۰ |


## ت


| | | |
|---|---|---|
| | تا چې په دا تورو سترګو وکا تدوماته | ۱۳۱ |
| | تا چې رنګ دمیو ورکړ ولبانو | ۱۲۴ |
| | تا چې مخ دیری سترګې دا آهو کړې | ۲۲۴ |
| * | تا خوږده زما دزړه لہ احتیاجه | ۱۳۷ |

* تبسم مې د وګړي پہ روزګار شي ۲۳۰
* ترا بدې ورځې پورې بہ جفا کړې ۲۱۷
ترحد تېره شوه پہ یار پسې ژړا زما ۲٤
ترهغہ حڅ پھورتہ بد سړے شوم ۱۰۰
* تل بہ نہ وي شګفتہ ګلزار دحسن ۵۵
* تل دے ستا دخواب آلود وسترګو خواب وي ۲۵۹
○ تل ژړا فریاد کړم د دلبر پر آستانہ ۱۷۲
* تورلېمہ مې دفراق پہ ژړا سپین شول ۹۲
تہ پہ هره ګړۍ غم دسیم وند خورې ۲۱۵
تہ چې خپلہ بې عقلي هوښیاري بولې ۲۵۵
تہ چې ما تہ والې چې پہ چا باندې شیدا یې؟ ۲۶۷
* تہ چې ما تہ والې چې پہ خہ کوے ژړا؟ ۱۰
* تہ چې هسې ګاه یې ترش ګاه یې خندان ۱۱٤
* تہ شہا یې شکرلبہ ۱۲۹
تہ ناحق پہ ما کینہ کړې کینہ نا کہ ۱
تېر شو پہ دا طمع پہ درستا عمر زما ۲۸۲
* تېر شو درست عمر زما پہ دا هوس ۷۱


## چ


چا چې کړې ودنیا و تہ اسرې دي ۲۱۱
* چا چې لمرې وي پہ خپلو وېنو وللی ۲۲۷
* چې امید پہ عمارت د دې جهان کا ۲۲


Marfat.com

* چې امید په عمارت د دې د نیا کا ١٧
چې بر هم کا عاشقي د چا مزاج ٤٢
چې پایې بند شو د لیلی په اشتیاق ٨٠
* چې پخته شي آشنایي ٢٦٧
* چې په زړه مې تور لحد شي د خپل خاك ٨٢
چې په زور ورسره نه يې برابر ٥٧
چې په سترګو کې يې خار وي خه به خوب کا ١٨
* چې په مخ باندې د اوښکو يو رقم وي ٢٦٥
چې په نور څه یوړې زړه ترې يې خدایه ١٧٩
* چې په وخت د ځنکدن وکاږې زړه ١٤٦
چې پیدا شوه ستا چشمان داهسې شوخ ٤٦
* چې تر سنګ او تر آهن يې زړه سخت وي ١٨٦
چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه ١٣٧
* چې خیمه يې د سیلاب په مخ شوه لکه ١٦٧
* چې دارو د درد و غم دی هغه مې ٢٧٤
* چې داهسې لاس په لاس دنیا پرېښودي ٢٠٢
* چې د ځنګه مې دلبر په لاس کې جام دی ١٩٤
○ چې دوې سنځې وي د چا ٤
چې دې زړه دی یرې ترلې استوار ٥١
* چې ته د یار شو نه بې چې نه غم د دل وجان ١١٦
* چې سرې له بله بد والي بد ګوی شي ٢٤٤

Marfat.com

چې شهید د تورو سترګو په خنجر شي ۲۳۱

○ چې ښکاره شو رانه راز د یار له پته ۱۶۳

چې علاج کولی نه شي د قسمت څوک ۸٤

* چې غبار د سنا له لارې په خوا ور شي ۲۳۲

چې غرقاب شي تر وچشمان په یم د زړه ۱۵۰

* چې کوتلی وي په تیغ ستا د چشمانو ۱۲٤

چې له تاسره په سر کاندې سودا ۱۵

* چې له سترګو مې خوناب د زړه عیان شه ۱۶۱

* چې له مرګه بې پروا یې په هر دم ۹۸

* چې له نازه پوشیده لرې چشمان خپل ۹۱

* چې مجنون غوندې یو موټی استخوان شي ۲٤۱

* چې مدام د بل وعیب وته نظر کړې ۲۱۸

چې مشغول نه وي د ترکو په جمال څوک ۸۶

* چې مې مینه خدای په تا باندې پیدا کړه ۱۵۱

* چې مې یار ولید په سینه داغ اغیار ګله ٤۹

چې نصیب یې سینه چاکه زړه افګار شه ۱۵۶

چې نظر کړم په قسمت او په نصیب ۳۸

* چې نظر کړم د خوبانو ورخسار ته ۱۳۲

چې واده یې که په ډول او په سرنا ۲۸

چې وصال د خپل جانان مې دی موندلی ۲۵۳

چې ویلي مې له تا دی احادیث ٤۲


Marfat.com

* ما د دهر غم و هلی دی په لته ۱۳۳
* ما د ستا لمن ته اچولی داخیل لاس دی ۱۹٤
* ما سحر سبا لیدلی ؤ د چا مخ ٤۵
* ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې مینه ۱۷٦
* مخ ته که دې نرو ایم د نر زلفې تارتار نشته ۱۳۵
* مخ د یار شمس وقمر دی وار یو دے ۲۰۱
* مدام ناست یم وچ گوگل سترګې په نم کې ۲٤۹
○ مست د هغه مخ یم چې مستانې لرې سترګې ۲۸۷
* مغرور مه او سه د عشق په کاروبار کې ۲٤۸
مه غوږ باسه د نا اهلو قیل وقال ۹۰

# ن

○ نن نګار وما ته راکړ د یاری خط ۷٦
* نه رسیږي ستا وحسن وته حوره ۱٤۵
* نه یم خوښ د سروګلونو په سایا زه ۱۵۳

# و

* وخت د عیش وطرب تیر شو خزان راغې ۲٤۵
* وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره ۱٤۲
* وخوبانو وته ولې نظر نه کړې ۲۲٦
ورځ چې بده شي عاقل ودانا خره کا ۲۱
* ورځ دې تیره په شومه کړه شپه له خوابه ۱۲۸
ورقونه لټوم د هر مکتوب ۲۸


Marfat.com

خود به وران شي د دنیا بازاره ناره ۱٤۹
* خوزما په ورمېږه ماتول شي لې ۲٦۹
* خوی که په داشان وي دل آزار ستا ۱۳

## د

داچې مست په میو راغی یار د چا دی ۱۸٤
داخـه مـخ دی منـور ٥٤
دا دنیا ده بې وفا ۱۱
* دا ژوندي چې معلومېږي واړه مړه دي ۲۰۸
* داشنا له لاسه ناست یم په زړه ستړې ۲۲۰
* دا یوځ نګه ژوندون دی نه پوهېږم ٤۷
* د بلبل له حاله زده کړه په خزان کې ۲٥۰
د بې دردو همدمي به دې بې درد کا ۱۹
○ د پېړوان غمي دي زیب کا په لبانو ۱۲٦
د خپل ځان له خاکسارۍ نه بلند شوم ۲۸٤
د دلـبرو په درګاه ۱۲۷
* د دنیا د سـود د پاره غمګین مه شه ۱٥۹
د دنیا کاروونه واړه غولـول دي ۱۹۳
* د ربغـه ولبدی یو ځل صغه مخونه ۱۷٥
د زړه حـال وتا ته څه وایم په ژبه ۲۸۸
د ساقي په لاس کې جام د میو ناب دی ۱۸٥
* دستا درد به په تمام جهان ورنه کړم ۹۷

Marfat.com

* دسکوت په تیغ چې ژبه بریده شي ۲۴۴
دعاشق بې خپاره یاره قرار نه شي ۲۴۳
دعاشق نظر په خوردو په خواب نه دی ۲۰۴
دعشق زخم څه د زخم په شان نه دی ۲۰۴
دغه یار دی دا اغیار ۵۳
دلربا که دخپل حسن مخ عیان کا ۲۸۳
دلرمخ چې ستا لدمخه نه شرمېږي ۲۲۷
دل و دین مې هغې ترکې کړ رها ۲۹
دنیا دار دد نیا کار کا زه ددین ۱۱۳
دنیا دار که مستغني په سیم و زر دی ۱۹۰
دواړه سترګې مې کړې دستا په لوري ۱۹۱
* دوباره دې راتله نشته په دنیا ۲
* دوصال په هوا والوتې مرغه شوې ۲۶۴
* دوصال شپه مې بدله په بېلتون شوه الغیاث ۴۱
دهجران له دېره غمه ولې نه مرم ۹۴
○ دهغو چې په هجران شي سینه داغه ۱۶۳
* دهغو چې وبله نه مر و محبت وي ۲۶۰
* دهغې بنا چې لوم محنت آبادوي ۲۶۱

## ډ

* ډېر عمر مې تېر کړ بېهوده په زمانه ۱۷۱
ډېر یاران وو دګل خان او جمال خان ۱۱۰

Marfat.com

* دېرې خولې زما په یاد شکرخورې شوې ۲۷۵

## ر

راشه مه کوه له چا سره جفا ۷
* راکوی د بېلتون د ګړه پيغورونه ۱۷۳

## ز

○ زړه مدام را ته ویل چې ژاړه ژاړه ۱٤۸
* زړه مې بایلو ستا په مهر و محبت کې ۲٤۷
* زړه مې بې له خپل نګاره آرام نه کا ۲۲
زړه مې تراشي د بڼو په تېره نوک ۸۳
* زړه مې ډوب ډوب کېږي ستا د غم په غلبو کې ۲۵۱
* زړه مې ستا په ذکر و فکر ګلستان دی ۱۹۸
* زړه مې ورکړ و خود رای ۱۸۰
زخره واغونده ملا و تړه په جنګ ۸۷
* زلفې دې له ډېرې درازیه پای تر سر دی ۱۸۹
* زما او ښکې چې د اهسې شست و شو کا ۲۱
* زه بلبل ستا د وصال یم بوستان خر دی ۲۰۲
* زه په سل رنګه راغب ۳۹
* زه تېر شوی یم ترسر ۵٦
زه د اهسې دیوانه او مجنون چا کړم ۹٦
* زه دستا له غمه ژاړم وا ړه وینې ۲۷۲
* زه دیار په درد و غم کې شادمان یم ۱۰۵

Marfat.com

* زه د یار په دردوغم کښې غرقاب خونښ یم ۱۰۴
زه عار نه لرم په عشق کښې له پیغوره ۱۴۴
زه که لافه د وفا کوم هر چند ۴۸
زه له دې جهانه تلونې په شتاب یم ۱۰۱
زه یو دم د ستا له غمه بې غمه نه یم ۱۰۸

# ژ

ژوبل ژوبل د ترکانو په نګاه یم ۱۰۶
* ژوندي کاندې د دنیا کاروبار ونه ۱۷۴

# س

ساقي پورته شه د میو جام تیار کړه ۱۵۰
○ ساقي راکړه ته و ماته جام د رقص ۷۴
* سپین رخسار و مشکین خال دې وبله ضم دي ۱۹۴
سپین مخونه تور کوري شي په پیریدو کې ۲۵۲
ستا په خبر نه دي خوبان لېدلي ما ۲۷
* ستا په عشق کې دروغژن یم سر تر سره ۱۴۳
ستا په عشق کې هسې خلاص یم له شعوره ۱۴۷
* ستا په مخ کې چې حساب د جمال نشته ۱۳۴
* ستا جفا تر حد پورته ده صنمه ۲۷۸
ستا د تورو سترګو په یاد داشتې اوښکې اورې ۲۱۴
ستا د عشق ځونه تور نه دي ګلګون دي ۱۹۹
* ستا د میني ګوهر نشته په هر آب کې ۲۴۶


Marfat.com

* ستادې خواب آلودو سترګو خواب راڅخه یووړ ٦٦

ستا له رحمه به زه ولې نا امیدي کړم ٢٨٦

* ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی ١٩١

* ستا له غمه مې په مخ باندې ولې دي ٢١١

* ستا له لاسه په ماجور دی که داد دی ١٨٧

* ستا وصال دې رابښلی زما روح ٤٤

* سر زما سامان زما ، ځار شه ترجانان زما ٢٦

o سر مې په کار نه دی چې یې ستا تر سر قربان کړم ٩٥

* سل ځله که وخوري ناصحان ځیګر زما ٢٥

## ش

o شمع د دلبر سترګې عاشق پرې پروانه ١٧٠

## ښ

* ښخ مې ستا د ښو غشي په سینه دي ٢٠٣

ښه ده ښه ده دا د نیا ٥

## ص

* صبحدم چې هغه یار را باندې راشي ٢٢٨

* صبح وشام مې لاس ښولي دي دعا کړم ٩٦

## ط

طمع مه کړه په دنیا کې د نشاط ٧٥

## ع

* عاشقان د ناصحانو وینا نه کا ٢٣


Marfat.com

* عاشقان دي په اور سوي دي که نه دي ۲۰۷
عاشقي را باندې سورې کړې مرنه ۲۱۳
عاشقي مې لې په زړه وکړه ګوزر بیا ۳۰
عالمان دي روښنائي د دې د نیا ۱۰

غ

* غمخواري دا هسې چېرې وې غمخور ۲۱۵
* غم دې هسې غلبه شو په ما باندې ۲۰۰
غواصان که ګوهر غواړي ګوهر دا دي ۱۸٤

ف

* فراموش مې دي دسنا په مینه ځان ۱۱٦

ک

* کرد ګلو کړه چې سېمه دې ګلزار شي ۲۲۸
* کشکې زه خاورې ابرې دستار دوای ۱۸۱
* کله شولا کله خبر ارم ستا د غم ۴۵
* کمیني یو نا در کار دی ۱۸۹
که لې ځا یه زړکې نه وسکې آواز ٦۹
* که څوا تر آشنا یجه وی بیلتون ۱۲۰
که په بخت کم بختان نه وای خسته دل څوک ۲۸۳، ۸۷
* که په سر دمغه یار له لاسه سنګ خورم ۹۵
* که په عقل پسې ولاړم په کار نه شه ۱٦۲
که په قطع د تمام جهان ملک یې ۲۸۷


Marfat.com

که په ګنج د شاهي فخر شهریار کا ۲۰
* که په هجر کې څوك ما پوښتي له حاله ۱۶۸
○ که ترستوني دې شي ګوټ له جام خاص ۷۳
* که ترې ولوښته شاهان او سلطانان ۱۱٤
که ته نه کړې په بل چا باندې غرض ۷٤
که څوك فخر کا په ننګ او په ناموس ۷۱
که څوك لاس له سوده وکا بې زیان نشته ۱۳۵
که څوك یار په جهان غواړي یار دې دا ۱٤
* که خدا والیم له هجرانه وایم خه ۱۳۹
که خپل زړه غواړې له چا ۱۱
* که د خلقو و نظر ته آدمی دی ۲۱۰
* که د درستې دنیا غم مې په سر بار وي ۲۶۲
که د زړه و مېړو سړو ی خوږې مړ شي ۲۳٤
* که د زړه په وینو رنګ د چا ګو ګل شي ۲٤۰
* که د ستا د خاطر مینه په اغیارو ی ۲۶٤
که د عشق خبر بې تبر بې ترګلو کړې ۲۲۳
که د عشق لاره اغزنه ده هر ګور ۶٤
* که د عقل خه اثر لرې و سر ته ۱۳۲
که د لدار په دلدارې زما قدم ن دي ۱۹۲
○ که دې پرې کړه له وګریو ښتیا طمع ۷۸
* که دې غم د درست جهان تر زړه چا پر شي ۲۳۲


Marfat.com

* که زما مینه په تا ده خطا نه ده ۱٤٠
* که ستا خپله سیاه رولي نه وي دښمنه ۱۷۶
* که سړي دخپلې پوهې تقصیر نه کا ۲۳
* که سل ځله هم کنار وهم بغل شي ۲۳۹
که صورت دمحمد نه وی پیدا ۲
که قاصدې دمقصود ٤۷
○ که گوهر دعشق په لاس راکړي غواص ۷۳
* که له تالې شرم نه کیږي مړیه ۲۱٤
* که له دبره غمه دم دچا ختي ۲۷٤
* که له مخه یوه خوا کا حجابونه ۱۷۲
* که ماښام ترستونې ښکته کړې حلوا ۲۹
* که مطلب ومدعا دسړي خدای دی ۲٠۹
که مې غوږ په فقیرۍ ه شمېري فقیریم ۱٠۳
که مین یې په خپل یار باندې رښتیا ۳٠
که مې وشي له دلبره ملاقات ۳۹
که مې ونڅي ساقي په یوه جام ۹٤
○ که مې یار په د یدن سرغواړي عوض ۷۵
که نظر په ما توگوره دروزگار کړې ۲۲۵
که نظر کاخوک په کار ددرویشانو ۱۲۵
* که هزار ځله نژدې دزړه په یادیم ۱٠۳
* که هرخوب په صحرا سرشوم هم په کلیو ۱۲۶

Marfat.com

* که يو ځل مې هغه يار وليدى دريغه ١٦٤
* که يې مهر و محبت که يې عناد دى ١٨٧

ګ

ګاه په غاره سو ځي ګې رېبن دى په ساره ١٤٨
* ګوره بيا به خوك ادا په زړه کا غونډه ١٤١
ګوره څه بلند مقام دى د اخلاص ٧٢
ګوره هسې کردګار دى رب زما ١
* ګبه وتره په پړى سره ککله ١٦٨

ل

* لاس مې وتړئ د زلفو په طناب ٣٧
لکه کاندې په کوتر و نظر باز ٦٨
* له اغيار سره خندا څه په کار نه ده ١٤٠
○ له چشمانو مې د غم اوښې اوريږي ٢١٦
له دې کته له پوزيه خوبه ولاړ شې ٢٣٣
* له هغو سره به څه فکر د يار وي ٢٦٣

م

* ما به ولې کړ فرياد او فغان دريغه ١٦٤
ما په تا پسې دا سپينې جامې رنګ کړې ٢٢٢
* ماتو به مې خوله په سوك ٨٣
ما چې جور و جفا بيا مونده له ياره ١٤٢
* ما چې سترګې و ګلرخ ته واړولې ٢٥٣

Marfat.com

* چې هر چا لېدلی نه وي یار زما — ٢٩
○ چې هر دم له خپله ځانه ګرېزان یم — ١٠٦
* چې یې نقش په زړه خیال شي د آشنا — ٢٨
چې یې ولید د ستا حسن بې حسابه — ٣٩

## ښ

* ښو به شمېرم زه غمونه د هجران — ١١٧
* ښو به صبر په جفا د یار کوم — ٩٩
○ ښو به هسې آزادي په دا جهان کړې — ٢٢١
* ښو تر میانه وړانه نه کړې د تن پوله — ١٦٩
ښو جفا قبوله نه کړې د اغیار — ٥٢
ښو دې راکاندې قسم په کردګار — ٥٣
* ښو به ځلې تاراج په جفا نه کا — ٢١
ښه شو که خاموش یم ستا د عشق له آه سړه — ١٣٩

## خ

* خان سلطان د دې جهان — ١١٨
خبر نه یم چې یې راوستم له کومه — ١٦٩
* خدای دې وژغوره له هرې پرېشانۍ — ٢٧١
* خدا یه څه شوه هغه ښکلي ښکلي خلق — ٨٢
خدا یه زړه د رقیب نرم په احسان کړې — ٢٢١
* خدا یه مه کړه نا امید هغه وګړي — ٢١٩
* خراب زړه مې د دلبرو هوا یووړ — ٦٧

Marfat.com

ورك شه ورك شه بد کردار او بد سیري ۲۷۳
* ورکه عاشقي شه هم یې نوم هم یې نښان ۱۱۸
* ولې تللی یې له ما مدام په خه ۱۳۸
* ولې نه ګورې وما ته سم په خه ۱۳۸
* ولې ولې وعاشق ته نظر نه کړې ۲۲۶
و محمود و ته نظر کړه مدام ۹٤
* وښته سپین ستر ګې تاریکې غاښ کندلاس ۷۰

## ه

○ هر چې خپلې میني خوار کړ خوار یې مه ګڼه ۲۸٤
هر چې ستا په زنخدان کې یې منزل شي ۲۳۹
* هر چې ستا کو خه ما واکا ۱۶
هر چې کښت یې په باران او په سیلاب وي ۲۵۷
هر چې نه وي خوار و زار ۵٤
* هر چې وویني په ستر ګو روی دستا ۱۳
* هر ساعت زما دغوږ په تا وولو ۱۲۳
* هر ساعت که خه ګوزران دی بې مخلصه ۱۶۲
هر ګفتار هره وینا چې خوك عبس کا ۲۸۲
* هر مطرب چې غوږې تا وکا درباب ۳۷
هر نګار چې بې وفا دی نګار نه دی ۲۰۶
* هر و ګړی چې منصور غوندې په دار شي ۲۲۹
هر یو ګل دستا د باغ، روښن تر دی تر چراغ ۷۸

Marfat.com

* هسې بې یاره خفه یم په جهان کې ۲۵۰
هسې تله کاندې وګوره یاران ژړږ ۵۷
هسې تېزده ومې د و ر ا ن ۱۰۹
هسې خوښ یم ستا دره په خاکسارۍ کې ۲۵۱
* هسې ډوب یم ستا دغم په دریاب تللی ۲۵۶
* هسې رنګ نعمت راکړی خدای ومادی ۱۸۳
هسې مست یم ستا د شونډو په شراب ۳۵
هسې نه چې زما یار واړه جفا که ۱۶۷
* هسې یاد لې همېشه مدام زما ۲۵
هسې یمه یاره ستا په غم تازه ۱۵۳
هغو بیا موند سعادت په دا دنیا ۳۱
هغه دم چې زړه ملال شي ۲۳۴
هغه زړه چې خدای روښان کا جام د جم شي ۲۴۰
* هغه زړه چې ستا دعشق په اور کباب دی ۱۸۵
هغه ژوی چې بې خدایه محبت کا ۱۹
هغه ژوی چې مین وي ښه به خوب کا ۱۷
هغه یار چې بې وفا دی ښه یار نه دی ۲۰۷
* هغه یار چې ښایسته دی ترآفتابه ۲۷۹
همېشه دې زما سر او ستا قدم وې ۲۶۶
هوښیار مه ګڼه هوښیار د دې دنیا ۳۳
هومره اوښکې مې بهېږي په رخسار ۵۱

Marfat.com

* هیڅ ثابته نه کړه چا د دې دنیا وفا — ٤
هیڅ مې نه زده نه پوهېږم دا څه پېښه — ١٥٨
هیڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل — ٨٩
هیڅوک مه شه ګرفتار د تورو زلفو — ١٢١

# ی

○ یادا ستا چشم وابرو وینم په خواب کې — ٢٤٦، ٢٨٦
یادوې په خوله مکه او مدینه — ١٧٧
* یار یاري راسره نه کا الغیاث — ٤١
○ یو ځل ولیدې د یار پر پېشانۍ زلفې — ٢٥٢
* یو یو داغ په تن را ایښی د هر چا دی — ١٨٢

Marfat.com

Marfat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

وره هستي کردګار دی رب زما
چې صاحب د کل اختيار دی رب زما

همګي بزرګواران چې څوک يې وي
تر همه و بزرګوار دی رب زما

نه يې هيڅ حاجت په چا باندې موقوف دی
نه د هيچا منت بار دی رب زما

له نيستي يې د هستي صورت پيدا کا
هسې رنګ پروردګار دی رب زما

هم صانع دی د جمله و مصنوعاتو
هم سامع د هر ګفتار دی رب زما

چې يې هيچ پرې نه مثل نه مثال شته
د چغو عطر و عطار دی رب زما

هر نعمت چې د دنيا او د عقبی دی
د همه واړو معمار دی رب زما

خوانند د نا نويسو صحيفو دی
دانند د هر اسرار دی رب زما

که ظاهر دی که باطن دی که مابين دی
له همه و خبردار دی رب زما

که پيدا که پوشيده دی که اوسط دی
په همه و وقوف دار دی رب زما[1]

شريک نه لري په خپله بادشاهي کې
بې شريکه شهريار دی رب زما

هسې نه چې واحد يې دی له عجزه
په واحد وجود بسيار دی رب زما

څه حاجت دی چې ويل خواته يې غواړم[2]
په خپل کور کې همکنار دی رب زما

حاجت نه لري د هيچا و ياری ته[3]
له هغو سره چې يار دی رب زما

هيڅ تغير او تبديل نه لري
تل تر تله برقرار دی رب زما

۱

۱۵

---

(۱) دا بيت د "ب" په قلمي نسخه او د کلتور وزارت په دوو قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(۲) قلمي نسخې: "څه حاجت دی چې يې بله خواته غواړم".

(۳) د "ب" په نسخه کې "حاجت نشته د نورچا و ياريه ته"، د "خ" په اوله نسخه کې "حاجت نه لري د نورچا و ياری ته"، او په دوهم نسخه کې "حاجت نه لري د نورو و ياري ته" راغلی دی.

Marfat.com

کہ صورت د محمدؐ نہ وی پیدا    پیدا کړی بہ خدای نہ وہ دا دنیا
کل جہان د محمدؐ پہ مخ پیدا شو    محمدؐ دی د تمام جہان آبا
نبوت پہ محمدؐ باندې تمام شو    نشتہ پس لہ محمدؐ ہ انبیا
نور ہالہ د محمدؐ ؤ پیدا شوی    چې نہ عرش ؤ نہ کرسي وہ نہ سما
بوی ہالہ د محمدؐ ؤ پہ جہان کې    چې بوی نہ ؤ د آدم او د حوا[1]
کہ صورت یې آخرین دی پیدا شوی[2]    پہ معنی کې اولین دی تر ہر چا
کہ نبي دی کہ ولي دی کہ عاصي دی    محمدؐ دی د ہمہ واړو پیشوا
چې یې دین د محمدؐ دی قبول کړی[3]    جنتي دی کہ فاسق دی کہ پارسا
محمدؐ د گمراہانو رہنما دی    محمدؐ دی د ړندو د لاس عصا
کہ ړنا دہ پیروي د محمدؐ دہ    گنہ نشتہ پہ جہان بلہ ړنا
محمدؐ د بیچارہ ؤ چارہ گر دی    محمدؐ دی ہر درد منہ لرہ دوا
خدای یې مہ گنہ بیشکہ چې بندہ دی    نور یې کل واړہ صفات دی پہ رښتیا[4]

ز ہ تاج د محمدؐ د درخاکروب یم    کہ مې نہ کا خدای لہ دې درہ جدا[5]

۲

۲۸

دوبارہ دې راتلہ نشتہ پہ دنیا    نن دې وخت دی کہ دروغ کړې کہ رښتیا[6]
ہر چا چې تر وخت تیرہ شي عنقا شي    عنقا نہ دی پہ دام نیستی د ہیچا
تر وخ تیرې او بہ بیرتہ نہ جاروزي    نہ جاروزي تیر ساعت پہ بیرتہ بیا
تیر ساعت پہ مثال مړي د لحد دے    مړ چا نہ دی ژوندی کړی پہ ژړا[7]
کہ مقصود لرې تلوار کړہ وخت کوتاہ دی[8]    غرہ مہ شہ د دې عمر پہ بقا

---

(۱) دا بیت پہ چاپي دیوانونو کې نہ دی راغلی.
(۲) د "ب" پہ نسخہ کې: خہ شو کہ صورت یې آخرین دی پیدا شوی". د "خ" پہ لومړی نسخہ کې "کہ صورت یې آخرین ؤ پیدا شوی"،
پہ دوہمہ نسخہ کې: " پہ دا خہ شو کہ صورت یې آخرین دی پیدا شوی".
د "ب" چاپ: "نہ صورت کہ آخرین دی پیدا شوی    پہ معنی کې اولین دی لہ ہر چا".
بمبئ چاپ: "کہ صورت یې پیدا شوی آخرین دی    پہ معنی کې اولین دی تر ہر چا".
(۳) د "خ" پہ لومړی نسخہ کې: "چې چا دین د محمد دی قبول کړی".
(٤) د "ب" لومړی نسخہ او د "خ" پہ دوہمہ نسخہ کې: "نور محمد واړہ صفات دی پہ ړښتیا".
(۵) د "ب" چاپ: "کہ مې خدای نہ کا لہ دې درہ جدا".
(٦) دا غزل پہ مصورہ نسخہ او د "ب" پہ دوہمہ نسخہ کې نشتہ. پہ چاپي دیوانونو کې د دوہمې مسرې "د وخت" پر ځای "وار" راغلی دی.
(۷) قلمي نسخې او د "ب" چاپ: "مړ چا نہ دی ژوندی کړی پہ دنیا".
(۸) د "ل" او "ک" چاپ: "کہ مقصود لرې پہ زړہ کې وخت کوتاہ دی".

Marfat.com

هر نفس چې صحیح کښې په ژړه کې — په غرور به دغه[1] نفس کړې خطا

په امید امیدې خلق نا امید کړل — د ایام له مکره مرشد بې پروا

چې د مرګ په تماچه دې شي خوله ماته — تر و به ماته خوله به څرنګ کړې[2] ثنا

وینځه لې اتینې چې وینا وایې[3] — تا ته وایې که پوهېږې دا وینا

هلاک نه یې چې په زور دې څوک تعلیم کا — هم عاقل یې هم بالغ یې هم دانا

په عمل د نېک و بد و فهم[4] وکړه — چې په دا کې دې بهبود دی که په دا

سر د ننه په ګرېوان کړه سترګې روڼې — درې په پوړ ته پوړ ته مه ځه سر هوا

سر هوا سر هوا مه ځه و آسمان ته — ته په اصل کې له ځمکې یې پیدا

د عمل په ځای به دا پوښتنه نه وي — چې ته زوی یې یا لمسی یې د فلانا[5]

په خپل ځان ښېګڼه وکړه غره مرشد — په ښېګڼه دادې او د بابا[6]

هغه نا وي چې په ځان ښایسته نه وي — څوک یې څه کا ندې ښایست د مور د نیا[7]

دا خبره زه و ځان ته کړم ای یاره[8] — دلګیر مرشد که مې نوم واخیست د ستا

نوم د ستا او د بل اخلم ځان ته وایم — داعیبونه دي همه واړه زما[9]

هر چې وایم همه واړه ځان ته وایم — نه مې کار نه مې غرض شته په نور چا[10]

هر چې وایم همه واړه ځان ته وایم — داعیبونه دي همه واړه زما[11]

کړې ځای د دې غونو وې په ژړه کې — ما به څه لره کوله دا انشا

۳

چې د مرګ سختي خوارې دا ستا په خوا دي[12]

ای [illegible] ولې نه مرې لا اېخوا

۵۰

---

(۱) "ب" له لومړي نسخې، "ق" "ک" چاپ او "ق" چاپ نه، په نورو نسخو کې "هغه" راغلی دی.

(۲) "ب" چاپ، "ت" چاپ، "ق" چاپ او "خ" لومړۍ نسخه: "تر و به ماته خوله به څرنګ کړې ثنا". "ق ک" چاپ: "یا به ماته خوله ته وایې ثنا".

(۳) "خ" لومړۍ او دوهم نسخو او "ب" لومړۍ او مختلط نسخه: "وینځه لې اتینې چې وینا وایې".

(٤) "ب" چاپ، "ت" چاپ، د "فهم" پرځای "عمل" راغلی دی.

(۵) "ق ک" چاپ [illegible] لومړۍ نسخې "نه وي" پرځای "نه شي" راغلی دی او دوهم [illegible] "چې ته زوی یې د فلان [illegible] د فلانا". "ق" چاپ: "چې ته [illegible] د فلانا".

(٦) "ب" لومړۍ نسخه: "په خپل ځان ښېګڼه وکړه که [illegible] عزه مرشد په ښېګڼه دادې او د بابا".

(۷) "خ" لومړۍ نسخه: "څوک یې څه کا ندې ښایست د مور و نیا". "خ" دوهم نسخه [illegible] مختلط [illegible].

(۸) "ق" چاپ: "دا خبره زه ځان ته [illegible]".

(۹) چاپي دیوانونه: "نه مې کار نه مې غرض شته په بل چا".

(۱۰) [illegible]

(۱۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی.

(۱۲) "ب" لومړۍ نسخه: "چې د مرګ سختي خوارې دي په خوا دي". "ق" چاپ: "چې د مرګ سختي خوارکه دې دي په خوا کې". "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه او "ب" مختلط نسخه: "چې د مرګ سختي خوارکه دې لا په خوا دي".

Marfat.com

هېڅ ثابته نه کړه چا دي دنیا وفا — واړه میني کاندي بیهوده په دا دنیا (۱)
هر څوک چي دعوی په دا دنیا کا د خپلو (ی) — واړه باطل وایي دنیا نه ده د هیچا
دا فلک کلال دی سانول او ماتول کا — د هر چي ما و تا غوندي پیدا کړه هم فنا
هر سنګ و کلوخ چي څرګند بر دي د دهر — واړه ګېړي دي څوک د شاه څوک د ګدا (۲)
دام دي هېڅوک نه بر دي د دنیا و رهګذر — سنګار به و کړي نه شي د سیمرغ او د عنقا (۳)
هر څوک چي لر دي فاني نفس وابستګي کا — نه به شي ترلي په ځنځیر سره هوا (۴)
ماه دی که آفتاب دی عاقبت واړه خراب دي — ګل که همېشه وي هسي نه تر ابدا (۵)

٤ — ٥٨

مه دروه مه ناح (ناح انا) په خلاف د دا نایانو
مینه د دنیا پسندلي نه ده هیڅ دانا

چه دوي بنځي وي د چا — هم سُني وي هم پارسا (۶)
خدمت کړوني د خښتن وي — په بنه خوی وي آراستا
تفاوت پکي حرام دی — که شري وي که خاصا
لازم دادی و خښتن ته — تفاوت دي نه کا بیا
په خوراک هم په پوښاک کي — که ګنه وي که حدوا (۷)
او که داهسي به نه کا — خیل حمل به کا بېدیا
یو دلي به مجنون و مري — بل هوري به شي روي سیا
دا حدیث دی وارد شوی — که څوک فهم کا په دا
هغه څوک چي تفاوت کا — زه وبیزار یم دی لرما
په مشکوة کي دي راغلي — ورشه و پوښته عالما

٥ — ٦٩

ناح (انانه) ژغوري یوه خدایه
له عذابه له خطا

---

(۱) دا غزل د "خ" په دوهم نسخه کي نشته. په چاپي دیوانو، د "خ" په لومړي او مصر نسخه کي د "بیهوده" پر ځای "بې فا" راغلي دي.
(۲) د "ب" لومړي نسخه: "واړه ګکري ده دي څوک د شاه و د ګدا".
(۳) دا بیت او ورپسي بیتونه په مصر نسخه کي نشته.
(۴) "ق" "ک" چاپ: "کله شي ترلي په ځنځیر سره هوا".
(۵) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کي نشته، د "ب" په "چاپ" کي راغلي دي: "ماه دی که آفتاب دی همګي واړه خراب شي ګل که همېشه وي هسي نه تر ابدا".
د "ب" لومړي نسخه: "ګل که همېشه وي هسي نه تر ابدا".
(۶) دا شعر د دوران له مجموعې څخه چي په ۱۸٤۷ کال کي څېره شوي ده، نقل شو او د "ب" په دریمه نیمګړي نسخه کي هم ور دسته لاس ته راغی.
(۷) په اصل نسخه کي "خذوا" راغلي دي، ګرمعني یې څرګنده نه شوه. ځکه نو د لته د "حدوا" په شکل د منول شو چي معنی یې "ناک" دي.

ښه ده ښه ده دا دنیا ‌ ‌ ‌ ‌ چې تو ښه ده د عقبا
مذمت د دنیا مه کړه ‌ ‌ ‌ ‌ واوره پند کړه د اوینا
د دنیا په بازار کېږي ‌ ‌ ‌ ‌ د هغه جهان سودا
په دنیا کې ډېر حکمت دی ‌ ‌ ‌ ‌ پرې پوهېږي حکما[1]
که غلیم له یې ورکړي ‌ ‌ ‌ ‌ غلیم دوست کا په هوا
که ترس یې صدقه کړي ‌ ‌ ‌ ‌ رفع دفع کا بلا
که په اور بانان یې کېږدي ‌ ‌ ‌ ‌ بوی د عود و کا پیدا
که یې تویه په صحرا کړي[2] ‌ ‌ ‌ ‌ بناېسته کاندي صحرا
که یې نذر کړي و پیر ته[3] ‌ ‌ ‌ ‌ خوشحال درومي په خندا
خوږ وندی وي په جهان کې ‌ ‌ ‌ ‌ یادوي د ښې په دعا
دحاتم په خبر دې ستا یې ‌ ‌ ‌ ‌ خطاب درکا د سخا
سخي هر یو دخدای دوست دی ‌ ‌ ‌ ‌ وَلَوْ كَانَ فَاسِقًا
هر بخیل دخدای دښمن دی ‌ ‌ ‌ ‌ وَلَوْ كَانَ زَاهِدًا
دنیا کښت دآخرت دی ‌ ‌ ‌ ‌ داخبره ده د ښتیا
د دنیا طالبان ډېر دي ‌ ‌ ‌ ‌ که یې مومي څوک له چا
ولې مرد پکې هغه دی ‌ ‌ ‌ ‌ چې سخي وي هم پارسا
په دنیا کې بدي نشته ‌ ‌ ‌ ‌ که بدي نه وي له تا[4]
په دنیا کې خطا نشته ‌ ‌ ‌ ‌ که له تا نه وي خطا[5]
دنیا بحر دی ښېږي ‌ ‌ ‌ ‌ آیینې غونډې صفا
خپل خپل مخ پکې لیده شي ‌ ‌ ‌ ‌ که څوک زشت وي که زیبا
هم خط پکې د سر شته ‌ ‌ ‌ ‌ هم گوهر دی لې نها
وفادار له وفا شوه[6] ‌ ‌ ‌ ‌ جفاکار له جفا
له یوه مخه یې درد وي ‌ ‌ ‌ ‌ له بل مخه یې دوا[7]

---

(1) پېښور چاپ او قلمي نسخې: "د رشد ورې ښته حکما".
(2) د "ب" چاپ او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "که یې توبه کړي په صحرا کې".
(3) د "ب" لومړۍ نسخه: "که یې ندر کړي و فقیر ته".
(4) د "ب" لومړۍ او دوهمه نسخه: "که له تا نه وي خطا".
(5) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(6) د "خ" دوهمه نسخه: "وپا کار له وپا شوه".
(7) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی، د "خ" دوهمه نسخه او د "ب" نسخې: "له یوه مخه دوا".

چې ته خوند کاندي د زهد | چې ته خوند کا د حلوا
کار هم واړه موقوف دی | د سړي په مدعا
سالکان دې نندارې چې شي | د خپل ځان په تماشا
هیڅ کا هغه به مومي | دنیا ځای دی د جزا
لکه وي هسې به پاځي | که نادان وي که دانا
فتوی ونیسه په مخ کې | پسې مه ځه په تقوا
دنیا نده هغه دین دی | چې له لمي وي سبوا
وطاعت وته ولاړ وي | همېشه ترلې ملا
لړا مو لې پرهېز وي | هم مشغول په پنج بنا (۱)
کلمې وي قبول له | هم په جهر هم خفا (۲)
د دنیا د کار د پاره | فرض لمونځ نه کاندي قضا (۳)
هم صائم د رمضان وي (٤) | هم زکوة کاندي ادا
کړي توان د حج رسېږي | حج هم وکا پسې بیا
دا پنځه بنا د دین دي | چې بیان لې وکړ ما
چې لې یون په دا طریق وي | هغه کس دی اولیا
کړې مال د دنیا دېر دی | هیڅ دې نه کاندي پروا
دنیا باره د هغو ده | چې لې کسب وي ریا
یا لې کسب د ریا وي | یا لې وګټي په غلا (٥)
یا لې تول کا په ظلم | یا د خمر (٦) په سودا
یا لې وړکا په شرابو | یا لې وړکا په زنا

---

(۱) د "خ" لومړي نسخه: "پای شپول پنج بنا"، د "ب" دوهمه نسخه: "بیاې شپول وي پنج بنا".
(۲) د "ب" چاپ کې: "هم په جهر په اخفا"، په پېښور چاپ کې "هم په جهر هم خفا"، د "پ" په لومړي نسخه کې: "هم په جهر هم خفیا"، د "خ" په لومړي نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې "هم په جهر هم په خفا" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "فرض لمونځ نه کاندي قضا" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(٤) په پېښور چاپ کې "هم صائم وي د رمضان" او د "خ" لومړي نسخه "هم صایم به د رمضان وي" راغلی دی.
(٥) دا بیت د "ب" چاپ کې نه دی راغلی.
(٦) په چاپي دیوانونو کې او د "ب" په دوهمه نسخه کې "خمرو" راغلی دی.

یا ناحق خونونه کا نه دي — یا مالونه خوري د چا

عبادت کا په ځان فرض — د بادشاه د امرا (۱)

حق باطل کا، باطل حق کا — په سبب د رشوې ریا (۲)

نه یې ویره شي (۳) له خدایه — نه یې شرم نه حیا

دیوې ګیدړې د پاره — هزار خوني کا بېدیا (۴)

همېشه یې له ستمه — خلقه وي په غوغا (۵)

ګوش او هوش یې هرګز نه دي — د مظلومو په ژړا

د فرعون په څېر به (۶) ناست وي — بې پروا او کبریا

بتخانې وته یې مخ وي — و مسجد وته یې شا

اختلاط کا له بدانو — له نېکانو وي جلا (۷)

هېڅ یې نه وي په خاطر کې — تولا و تبرا

و ما رحمان ته پېښه مه کړه (۸) — خدایه په هسې رنګ بلا

١٢٤ — ٦

را شه مه کوه له چا سره جفا — لږ ژوندون دې ضایع کړې بې وفا

په دنیا کې هېڅوک نه دي پاتې شوي — واړه تلونې دي که نن دي که سبا

د یاران چې نن وتا وته جلوه کا — په دوه ورځې پس به واړه شي فنا (۹)

که دیدن دې د دوی خوښ وي ور ته ګوره (۱۰) — چې فنا شي بیا به کله شي پیدا

د خزان پاڼې چې بېلې شي له ښاخه — په حکمت به یې پیوند نه کا حکما

چې په ځمکه څاڅکي پرېوځي له آسمانه — بیا له ځمکې ختې نه شي په سما

ګومان مه کړه چې بیا سترګو له ورشي (۱۱) — هغه اوښکې چې له سترګو شي جدا

---

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلي دي: "د بادشاه او د ګدا". د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلي دي: "د بادشاه وامراء". د "ب" لومړۍ نسخه: "د بادشاهانو د امرا".

(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی.

(۳) په چاپي دیوان کې د "شي" پر ځای "دي" راغلی دی.

(۴) د "ب" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "بېدیا" پر ځای "پیدا" راغلی دی.

(۵) په چاپي دیوان کې "واړه خلګ دي په غوغا" او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې "خلقه دي په غوغا". او د ب په دوهمه نسخه کې "خلقې وي په غوغا" راغلي دي.

(۶) د "خ" په دواړو نسخو او د "ب" په دوهمه نسخه کې "به" نه دی راغلی.

(۷) د "ب" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې "سیوا" راغلی دی.

(۸) د پېښور چاپ: "ما رحمان ته پېښه مه کړې".

(۹) د "ب" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "په دوه ورځې پسې به واړه شي فنا". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلي دي: "په دوه ورځو پس به واړه شي فنا".

(۱۰) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "که دیدن دې د چا خوښ وي ور ته ګوره". او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "که دیدن دې حبیب خوښ وي ور ته ګوره".

(۱۱) د "ب" لومړۍ نسخه "ګومان مه کړه چې به سترګو له بیا ورشي". د "ب" په دوهمه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلي دي: "ګومان مه کړه چې بیا سترګو له ورشي". او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلي دي: "ګومان مه کړه چې به سترګو له ورشي".

Marfat.com

دا په هره ورځ چې خېژي بېل بېل نمر دی — هر چې پرې پوځې هغه نه شي ځني بيا
که جنت په زهد نه دی بې کرمه (۱) — هر سړی دې خپله غاړه کا ادا
که د نفس (۲) دپاره سل محنته وکړې — يو محنت به دې په کار نه شي فردا
که تمام جهان په خپله ګېډه وخورې — ياد به نه شي په درود او په دعا
که يوه دانه (۳) دوږي په لاس ورکړې — هم دغه به دې توښه شي د عقبا (۴)
که يو ځاځکی او به تږي لره ورکړې — د دوزخ او ستا ترمیان به شي دريا
که يو ځله سر د خدای دپاره (۵) ټيټ کړې — په قيامت به سربلند شې تر هر چا
بازار دا دی که خوك سودا وسودا کاندي — په هغه جهان نه سود شته نه سودا
آشنايان که خوك (۶) پوهېږي نن يې وخت دی — چې زاريږي يو آشنا تر بل آشنا
که ژوندون دی خو هم دا دی په جهان کې — چې له چاسره تېرېږي په خندا (۷)
خدای امان راکړه له هسې ژوند ګڼه (۸) — چې تېرېږي والې له بله، بل له تا
زړه بنه دی که په صلح او په صلاح وي — نه شکرې په فتنه او په غوغا
نس په خاورو په خس ډك بنه دی بې غمه (۹) — نه د غم په خاورو خس پخه حلوا
ماته ملا په مشقت په محنت بنه ده (۱۰) — نه حرامه هميانۍ د چا تر ملا
ړوند بهتر دی چې څه نه ويني په سترګو — نه چې سترګې په پردي حرام کا وا (۱۱)
ګونګ بهتر دی چې بې کامه بې زبان وي — نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا (۱۲)
کوڼ بهتر دی چې څه نه اوري په غوږو — نه چې غوږ کاندي په بد ويل شنوا (۱۳)
ديو او دد که په خوا درشي خو بهتر دی — خدای دې بد سړی د رنه ولي په خوا (۱۴)

---

(۱) په چاپي ديوانو کې "بې له فضله" راغلي دي. او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې راغلې ده: "که جنت په زاهدی نه دی چا موندلی".
(۲) په "پ" چاپ کې د "نفس" پرځای "نس" راغلی دی.
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "يوه دانه" پرځای "يو ذره" راغلي دي.
(۴) د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "عقبا" پرځای "بقا" راغلي دي.
(۵) په پېښور چاپ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "دپاره" پرځای "په لوری" راغلي دي.
(۶) د "پ" لومړۍ نسخه: "آشنايان که څوك پوهېږي نن لې وخت دی". او په پېښور چاپ کې مسرۍ راغلې ده: "آشنايان که څه پوهېږي دا يې وخت دی".
(۷) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۸) د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "خدای امان وکړې له هسې زندګيه". د "خ" په دوهمه نسخه کې: خدای امان دې کړې له هسې زندګه".
(۹) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۰) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۱) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "نه چې سترګې په پردیو دنیا لوا". او دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۲) دا بيت په پېښور چاپ کې: "ګونګی بنه دی چې بې کامه بې زبان وي ـ نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا". د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې: "ګونګ بهتر دی چې بې کامه بې زبان دی ـ نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا". او د "پ" په دوهمه نسخه کې: "ګونګ بهتر دی چې بې کامه سړيانه دی نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا" راغلي دي.
(۱۳) دا بيت د "پ" په چاپ، د "پ" دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۴) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "ديو دد که په خوا درشي بهتر دی که له چاسره بد مردی اژدها". او د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړۍ مسرۍ داسې راغلې ده: "ديو لېوه که په خوا درشي بهتر دی".

Marfat.com

د جاهل تر همدمۍ نه به بهتر وي — که له چا سره همدم مروي اژدها (۱)

که مشکل دي خو د نړ ونو رغول دي — سهل کار دی سودا و زيان د دې دنيا

سودا و زيان د دنيا واړه سهل کار دی — خدای دې نه کا څوک په سهل کار رسوا (۲)

چې د ورور او د عزيز زړه پرې آزارشي (۳) — حاصل مه شه هغه خپله مدعا

بنه خواره چې يو يې خوري بل ورته ګوري — خواره نه دي هغه زهر دي ګويا

ګاه د نورو رضا بويه ګهې خپله — په کار نه ده هميشه خپله رضا (۴)

چې ښادي يې يو زمان وي بې غم تر تله — دغه هسې چارې نه کا نه دي دانا (۵)

لکه ځان هسې و بل وته نظر کړه — لکه ستا دی هسې ځان دی د هر چا

منصفانو لره بويه چې انصاف کا — نه چې نغوته کا د حرص او د هوا

د سړي په خاطر هر څه هرڅه کړي — هسې نه چې واړه وګڼي روا (۶)

دين داران دې وخپل دين وته نظر کا — څوک فکر ونه د صواب دي څوک خطا (۷)

خدای دې نه کا نه دي خطا د چا له لاسه — څه نسبت دی د خطا و د عطا (۸)

هسې نه چې سړي واړه سره سم دي — څوک عالي (۹) دي څوک اوسط دي څوک ادنا

د هر چا حرمت په خپله اندازه دی — نه چې ځای مومي نفر د امرا (۱۰)

زه رحمان له چا شکوه شکايت نه کړم (۱۱)

نشته بل دوست او دښمن زما بې تا

۷ — ۱۹۴

---

(۱) دا بيت د "ب" په دوهم نسخه کې نه دی راغلی.

(۲) دا بيت د "خ" په دوهم نسخه کې نه دی راغلی.

(۳) پېښور چاپ: "چې د ورور او د عزيز پرې زړه آزار شي". د "ب" دوهم نسخه: "چې د ورور عزيز زړه پرې آزار يږي". د "خ" لومړۍ او دوهم نسخه: ا- لومړۍ نسخه: "چې د ورور د عزيز زړه پرې آزار يږي". په دوهم نسخه کې د "آزار يږي" پر ځای "زهير يږي" راغلی دی.

(۴) دا بيت د "ب" په دوهم نسخه کې نه دی راغلی.

(۵) دا بيت د "خ" په دوهم نسخه کې نه دی راغلی.

(۶) د "ب" لومړۍ نسخه: "نه چې هم واړه وګڼي روا". او د "خ" په دوهم او د "ب" په دوهم نسخه کې داسې راغلی دی: "نه چې ګڼي هم واړه روا".

(۷) دا مسرۍ په "ب" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده "څوک فکر ونه د صواب څوک د خطا". په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده: "څوک فکر ونه د ثواب کا څوک خطا". د "ب" په دوهم نسخه کې "څوک فکر ونه د ثواب دی څوک خطا". او د "خ" په دوهم نسخه کې "څوک پکر ونه د عطا دی څوک خطا" راغلی دی.

(۸) دا بيت د "خ" په دوهم نسخه کې نه دی راغلی.

(۹) د "ب" چاپ، پېښور چاپ، او د "خ" په دوهم نسخه کې د "عالي" پر ځای "اعلی" راغلی دی.

(۱۰) دا مسرۍ په پېښور چاپ، "ب" چاپ، او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "نه چې مومي کفر ځای د امرا".

(۱۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "رحمان شکر شکايت له هيچا نه کړم — نشته بل دوست دښمن ځما بې تا".
د "خ" په دوهم نسخه کې: "زه رحمان شکر شکايت له چا نه کړم — نشته په جهان کې بل دوست دښمن ځما".
او د "ب" په دوهم نسخه کې: "رحمان شکوه شکايت له هيچا نه کړم — نشته بل دوست دښمن ځما بې ما".

ته چې ماته والې چې په څه کوې ژړا — نه دې معلومېږي دغه (۱) خپل جور و جفا

ته جور و جفا کړې زه ژړا کوم دلبره — ستا که دغه نه وي دا به هم نه وي زما (۲)

څه ښادي به کاندي طايفه دعاشقانو — رسم دبتانو (۳) که هم دا وي لکه ستا

دا خصلت چې ستا دی که هم تل په دغه شان وي — نه را معلومېږي دد درد منو زړو دوا (۴)

يو دستا مانې شو بل غوږ چې (۵) د رقيبانو — وار په وار مې وژني کله هغه کله دا

هر چې عاشقي کا که په قطع افلاطون وي — زه خو يې مجنون گڼم که نن وي که سبا

سپي هم په عذاب دجدايۍ دوزلو نه دی — زه خو گوندې ستا دکوڅې سپی شوم په دنيا (۶)

۸ — ۱۷۲

هېڅ مې په کار نه دی رحمان تاغوارم دلبره (۷)
زه په دا راضي يم باقي هر څه ستا رضا

عالمان دي روښنايي ددې دنيا — عالمان دي د تمام جهان پېشوا

که څوک لار غواړي وخدای هم ورسول ته — عالمان دي ددې لارې رهنما

کيمياگر که دکيميا په طلب گرځي — همدمي د عالمانو ده کيميا

په مجلس دعالمانو به سره زر شي — که څوک کاڼي وي که لوټه د صحرا (۸)

جاهلان دي په مثال د مردگانو — عالمان دي په مثال د مسيحا (۹)

چې مرده يې له نفسه ژوندی کېږي — عالمان دي وارهٔ هسې اوليا (۱۰)

هر سړی چې رتبه نه لري د علم — سړی نه دی خالي نقش دی گويا

۹ — ۱۸۰

زه رحمان حلقه بگوش د هر عالم يم (۱۱)
که اعلیٰ دی که اوسط دی که ادنا

---

(۱) د "پ" په لومړي نسخه کې "هغه" راغلی دی .

(۲) د "خ" دوهمه نسخه : ته جور وجفا کړې زه مدام افسوس ژړا کوم ستا که دغه نه وای دا به هم نه وو زما . د "ق ، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "له ما" راغلي او د "پ" په چاپ کې "دا به هم نه وو زما" راغلي دي .

(۳) د "خ" لومړي نسخه کې د "بتانو" پر ځای "خوبانو" راغلي دي .

(٤) چاپي ديوانونه : "نه را معلومېږي دد درد من د زړه دوا" . مصوره نسخه کې لومړی مسرۍ : "دا خصلت چې ستا دی که بل هم په دغه شان وي" . د "خ" دوهمه نسخه : "که دې جور وستم درست په دغه شان دی" .

(۵) چاپي ديوانونه : "هر دور" او د "خ" لومړي نسخه کې "غوږ رنگ" راغلي دي .

(۶) دا بيت د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته . د "ق ، ک" چاپ کې داسې دی :
سپي هم په عذاب سره دې خدای چېرې مه نه کا — زه خو گوندې ستا دکوڅې سپی يم په دنيا
د "ق" چاپ : سپي هم په عذاب دخدای دوزلو يار نه دی — زه خو گوندې ستا دکوڅې سپی شوم په دنيا

(۷) چاپي ديوانونه : "هېڅ لې په کار نه دی رحمان تاغواړي دلبره — دا رما رضا ده باقي هر چې ستا رضا" . مصوره نسخه : "هېڅ لې په کار نه دی رحمان تاغواړي دلبره — زه په دا راضي يم باقي هر چې ستا رضا" .

(۸) "ب ، پ" چاپ : "که څوک کاڼي وي يا بوټي د صحرا" . د "خ" لومړي نسخه : "که څوک کاڼي څوک لوټې د صحرا" . د "پ" لومړي نسخه : "که څوک کاڼي وي که څوک لوټه د صحرا" .

(۹) د "ب" دوهمه نسخه : "عالمان دی وارهٔ هسې اوليا" .

(۱۰) د "خ" دوهمه نسخه : "چې مرده يې په نفس سره ژوندی کېږي — عالمان دی وارهٔ هسې اوليا" .

(۱۱) د "ب" دوهمه نسخه : "زه رحمان دعالمانو خاک پای يم" .

Marfat.com

که خپل زړه غواړې له چا　　　ځان صیاد کړه د عنقا
د حباب کلاه په سر کړه　　　سوړ په آس شه د هوا
لکه خضر هسې پا خه　　　اوبه و څښه د بقا
له زمینه قدم کېږده　　　په آسمان لکه عیسا
د هغه استاد شاګرد شه　　　چې دې وښیي کیمیا(۱)
دا چې ما درته بیان کړه　　　که حاصل کړې واړه دا

۱۰　　　۱۸۷

ها الطمع کړه له خوبانو د وفا

دا دنیا ده بې وفا　　　بې وفا ده بې بقا
نه یې مخ شته نه یې څټ شته　　　لکه لوټه د صحرا
په یوه ګړي یې مخ وي　　　په یوه ګړي یې شا
په یوه ګړي دوستانه شي　　　په یوه ګړي ژړا
په یوه ګړي یې درد وي　　　په یوه ګړي دوا
په یوه ګړي یې خوف وي　　　په یوه ګړي رجا
په ساعت کې یې بقا وي　　　په ساعت کې یې فنا
په ساعت کې یې سکوت وي　　　په ساعت کې یې غوغا
په ساعت کې یې خندا وي　　　په ساعت کې یې ژړا
په ساعت کې یې وفا وي　　　په ساعت کې یې جفا
په ساعت کې یې افلاس وي　　　په ساعت کې یې غنا
چې نه شان لري نه شکل　　　کله داشی کله دا

۱۱　　　۲۰۰

خدای څوک پېښ مه کړه په دا هسې رنګ بلا

په ښادۍ ښاد شوی نه یم د هیچا　　　تور تپ شوی یم په غم د هر آشنا(۲)
که زړه طمع توقع له بله نه کړم　　　د بل طمع توقع کېږي له ما

---

(۱) دا بیت د "پ پ" چاپ کې نشته.
(۲) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "نه وریت شوی یم په غم د هر آشنا".

که مې ورور که مې عزیز دی که مې یار دی (۱)
واړه غواړي خپله خپله مدعا

په هر کور کې ژړوان راته ژگیروي کا (۲)
لاس مې نه رسي د هیچا په دوا

د دنیا خبرې واړه په دنیا شي
ما به څه کا ښوک چې نه لرم دنیا (۳)

که په کلي کې مې کور دی زه گومان کړم (۴)
چې کور نه دی دا مې کور دی په صحرا

چې څه کار یې نه پوره وي نه نیمگړی (۵)
ښوک به څه کا له هغو سره خندا

چې لې بند توښه و بله سره نه شي (۶)
تر هغه آشنا بهتر دی نا آشنا

٢٠٩

په توده ځمکه استوگنه ده مشکله
څه به ژیست شي له [illegible] سره د چا

١٢

با د شاهي لري هر یو غلام دستا
د خاصانو په ځای ناست وي عام دستا

پخته کله وي چې لاف د پختگۍ کا
پختگان دي په داخم کې خام دستا

خو هم هومره یې په ننگ و نام نظر وي (۷)
چا چې نه وي اوریدلی نام دستا

همېشه به له مقامه بې مقام وي
هغه ښوک چې لټوي مقام دستا

ښو په خپلو وینو گل غوندې غرق نه شي (۸)
و به نه وینې رخسار گلفام دستا

صبح و شام په هغو خلقو باندې یو وي
چې آرزو لري هر صبح و شام دستا

بل کلام یې په زړه کله اثر کاندې (۹)
چې تر غوږ یې شي شیرین کلام دستا

فراموش کاندې همه (۱۰) نور یې مستي به
هر چې نوش کاندې باده په جام دستا

دام دستا د تورو زلفو عالمگیر دی (۱۱)
تنها نه یم نښتی زه په دام دستا

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "که مې ورور که مې عزیز که مې فرزند دی". د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "که مې ورور که مې عزیز دی که مې یار وي". د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که مې ورور که مې عزیز که مې څه یار دی" راغلې ده.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی او په نورو ټولو کې د "ژگیروي کا" پر ځای "پراته دي" راغلي دي.
(۳) د "پ" لومړي نسخه: "ما به ښوک څه کا ندي چې نه لرم دنیا".
(۴) د "خ" په دوهمه کې د "گومان کړم" پر ځای "یو عزم" راغلی دی.
(۵) د "خ" لومړي نسخه کې: "چې دی نه پرې څه پوره وي نه نیمگړي". په "پ" چاپ کې داسې راغلي دي: "چې پرې نه دي څه پوره او نه نیمگړي". د "خ" په لومړي نسخه کې: "چې دې نه پر څه پوره وي که نه نیمگړي" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلي دي: "چې دې نه پرې څه نیمگړي نه پوره".
(۶) د "پ" لومړي نسخه: "چې یې هیڅ بند توښه و بله نه شي".
(۷) چاپي دیوانونه: "خو هم هومره یې نظر په ننگ و نام دی".
(۸) چاپي دیوانونه: "چې په خپلو وینو گل غوندې غرق نه دی".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "بل کلام به یې په زړه کله اثر کړه".
(۱۰) د "ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "هغه" او نورو ټولو مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "فراموش که هغه نور جامونه واړه".
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. د "پ" په لومړي او دوهمه نسخه کې: "دام دستا د زلفو عالمگیر دی". په "ق" او "ق ک" چاپ کې داسې ده: "دام د زلفو دې د دنیا کې عالمگیر دی". او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "بوی دستا د تورو زلفو عالمگیر دی".

Marfat.com

۳۱۹ — ۱۳

زه رحمان دعا سلام په هغه وایم (۱)
هر چې ما لره راوړي سلام (۲) دستا

هر چې ووینې په سترګو روی دستا (۳) | مخ یې کوږ وي همېشه په سوی دستا
بې دماغه به ترسره و ماله تېر شي | چې یې تېر شي تر دماغه بوی دستا
که لوئي کړي څه بې ځایه خوبي نه کړي | چې په دار رنګه قامت بې لوی (۴) دستا
نوبهار شو عالم سیر د بوستان کا (۵) | خدای وماوته بوستان کړ کوی دستا
د عیسی له دمه دم وهلی نه شم | چې خوله بېرته شي په ګفتګوی دستا (۶)
هم په دامې له چشمانو نو (۷) بهېږي | چې یادېږي مې قامت د لجوی دستا
همېشه یې زړه په اور باندې سپند وي | وهغه ته چې څرګند شي (۸) خوی دستا
دلهم لاشه یې ماته وي په زړه کې | چې یې نقش وي په زړه ابروی دستا
وځنځیر وته یې څه لره راکا بېږي | لیونیو لره بس وي موی دستا
وګمانګ وته بخیله ځان پرې باسي | چې وزړه وته پرې باسي (۹) روی دستا
که ته سل ځله زما یې زه دستا یم (۱۰) | تلونی نه دی له ما جستجوی دستا

۳۲۱ — ۱٤

ګل لمبه شو د بلبل په آه رحمان (۱۱)
نه ګروهېږي یار په های وهوی دستا

خوی که په دا شان وي دل آزار ستا | څه سبا دي به کاندي طلبګار ستا
حیف چې اورېده شي لیده نه شي (۱۲) | حسن ولطافت دي پر لوار (۱۳) ستا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخې او مصوره نسخه: "رحمان تل دوعا سلام په هغو وایم".
(۲) د "خ" لومړی نسخه: "پیغام".
(۳) د "خ" لومړی نسخه: "نیاز".
(٤) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته، په دوهمه نسخه کې د "لوی" پرځای "دلجوی" راغلی دی.
(۵) چاپي دیوانونه، د "خ" دوهمه او مصوره نسخه: "نوبهار دی عالم سیل د بوستان کا".
د "خ" لومړی نسخه: نوبهار به عالم سیر د بوستان کا".
(۶) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۷) چاپي دیوانونه: "رود" او د "خ" درې واړه نسخې: "جوی".
(۸) د "خ" په درې واړو قلمي نسخو کې د "شي" پرځای "وي" راغلی دی.
(۹) دا بیت په "ق ک" کې نشته. د "خ" په لومړی نسخه کې د "روی" پرځای "موی" راغلی دی. او د "خ" په دوهمه نسخه کې "لوی"
او په "ق" چاپ کې د "ګمانګ" پرځای "ځنځیر" او د "روی" پرځای "موی" راغلی دی.
(۱۰) د "خ" درې واړه نسخې: "که سل ځله زه دستا یم ته زما یې".
(۱۱) د "خ" لومړی نسخه: "ګل که سرلمبه شي د بلبل په آه رحمانه".
(۱۲) د "خ" لومړی نسخه: "حیف چې اورېدی شي لیدی نه شي په جهان کې".
(۱۳) د "خ" دوهمه نسخه: "په هر لور".

Marfat.com

بیا دوباره نه گوري وبل ته (١) — هرچا چې لیدلی وي رخسار ستا
خدای زده چې ته یار د کوم یوه یې — هر طرف یاران دي صد هزار ستا (٢)
ځای د پښو ایښود و موندہ نه شي — هومره عاشقان دي په دربار ستا (٣)
بل به هسې نه وي که یې خدای کا (٤) — ما غوندې خاکسار وهوادار ستا
بل گومان په ما باندې ومه کړه — عمر واړه زه او انتظار ستا (٥)
عشق له حسنه حسن دی له عشقه — ته نگار زما یې زه نگار ستا
ته زما مطلوب یې زه طالب یم — ته زما طبیب یې زه بیمار ستا (٦)
ته که تازه گل د نوبهار یې — زه یم عندلیب په لاله زار ستا
جور که جفا ده که ستم دی — واړه می منلي دي یکبار ستا
جور وجفا څوك په بها پاوري (٧) — زه یم د جور و نو خریدار ستا
یو تار که ضایع شي ستا د زلفو — ځان به صدقه کړم تر (٨) هر تار ستا
سل اره مېښتو دې راوکړه — حیف دی چې لانه شي اعتبار ستا (٩)

١٥

تېر یم زه (؟) تر نوره (١٠) کاره
اوس می ملا تړلې ده په کار ستا

٢٤٦

که څوك یار په جهان غواړي یار دی دا — یار دی دا، که د جهان سینگار دی دا؟ (١١)
خیال د زلفو یې زما تر زړه چاپېر شو — یا ترگنجه چاپېر شوی مار دی دا؟
داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی (١٢) — د جمله وُ مخلوقاتو پلار دی دا

---

(١) د "خ" لومړی نسخه: "بیا به دوباره ونه گوري بل مخ ته".
(٢) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٣) د "خ" لومړی نسخه: "په هغه ځای باندې چې تول دی عاشقان ستا".
(٤) د "خ" لومړی نسخه: "بل به هسې څوك نه وي که خدای کا".
(٥) "ق.ک" چاپ: "عمر واړه زه یم په انتظار ستا".
مصوره نسخه: "عمر واړه زه یم انتظار ستا". د "خ" لومړی نسخه: "عمر واړه او زه او انتظار ستا".
(٦) د "خ" لومړی نسخه: "ته زما نگار یې زه افگار ستا".
(٧) دا بیت په "ق.ک" چاپ کې نشته. قلمي نسخې: "جور د چا څوك په بها پېري".
(٨) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې د "تر" پر ځای "په" راغلی دی.
(٩) د "خ" دوهمه نسخه: "یاری حیف دی چې لانه شي اعتبار ستا".
(١٠) په چاپي دیوانونو کې "له هره کاره" راغلی دی.
(١١) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "یار دی دا که تمام جهان سینگار دی دا".
(١٢) دا مسری د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده:
"داجهان دی خدای په عشق کې پیدا کړی".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بیت بېخي نه دی راغلی.

Marfat.com

ترعشق واړه کاربل په جهان نشته ترهغه کاره نو واړه کاره دی دا (۱)

بل بلبل به د ګل نوم اخستی نه ځو که خبر وي چې ګل نه دی خار دی دا (۲)

بیا راتله دې جهان ته بل وار نشته بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا

د حباب عمر دې وګوره چې څو دی؟ (۳) که څوک شمار کاندي د عمر شمار دی دا

۱۶ — ۲۵٤

د مجنون صورت په زړه کړه ګوره (٤)

ستا په عشق کې هسې خوار و زار دی دا

چې له تا سره په سر کاندې سودا بل به نه وي هسې ما غوندې شیدا (۵)

نه به ما غوندې شیدا وي په جهان کې نه به تا غوندې دلبر شي بل پیدا (۶)

ما د ستا جور و جفا دې قبول کړې (۷) ولې نه شي د زړه په ځای خندا

بې د ستا له مخه کون و که مکان دی سنه تو سنه مې نه په دا شي نه په دا

جدایي به دې هیڅ رنګ قبوله نه کړم خو مې نه دی روح کالبوت سره (۸) جدا

لکه ورستو مقتدیان وړاندې امام وي ما په تا پسې ده کړې اقتدا (۹)

زه یې وینم درست جهان په تا مین دی که بادشاه دی د دې دور که ګدا (۱۰)

کاشکې خط د امانې وما دا کړې (۱۱) چې له ما سره وعده کړې د فردا

زه پخپله په تا نه یم مین شوی ستا له لوري په ما شوې ده ندا

زه په تا باندې مین یم له ازله نه چې کړې مې نن ورځ ده ابتدا

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "ترعشق غوره بل څه کار په جهان نشته ترهغه کاره نو غوره کار دی دا". په "پ پ" چاپ کې "ترعشق غوره بل هیڅ کار په جهان نشته"؛ د "خ" په لومړي نسخه کې: "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته — ترهغه کاره نو غوره کار دی دا". د "خ" په دوهمه نسخه کې "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته" او د "پ" په دوهمه نسخه کې په عین شکل راغلی دی.

(۲) په "پ پ" چاپ کې "یو بلبل به د ګل نوم اخستی نه دو"، د "خ" په دوهمه نسخه کې "لوم د ګل به بلبلان اخستی نه دو". او د "پ" په دوهمه نسخه کې د بیت په دا راغلی.

(۳) دا مسرۍ په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "د حباب عمر ته ګوره چې څه دی؟" په "پ" چاپ کې "د حباب عمر دی وګورې چې څه دی". د "پ" په دوهمه نسخه کې "د حباب عمر ته وګوره چې خودی" راغلې ده او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(٤) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "د مجنون صورت په زړه کړه ای رحمانه".

(۵) دا مسرۍ د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "بل به تا غوندې دلبر شي را پیدا".

(۶) د "پ" لومړي نسخه: "نه به تا غوندې دلبره شي پیدا"، د "پ" په دوهمه نسخه او "پ پ" چاپ کې "نه به تا غوندې دلبر هم را پیدا" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "نه به تا غوندې دلبر شي بیا پیدا" راغلې ده.

(۷) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې "ما به صبر ستا په جور و جفا وکړ" او د "خ" دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "ما به صبر ستا په جور په جفا کړ" راغلې ده.

(۸) د "خ" په لومړي نسخه کې "د بله" او په دوهمه نسخه کې "څبله" راغلی دی.

(۹) دا مسرۍ په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "هسې ما تا پسې کړې اقتدا".

(۱۰) دا بیت په "پ" او "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "زه یو نه یم درست جهان په تا مین دی که بادشاه دی د دې دهر که ګدا". او وروستی مسرۍ یې د "خ" په دوهمه نسخه کې "که بادشاه د دې دهر که ګدا" د "خ" په مصوره نسخه کې داسې راغلې ده: "که بادشاه دی که وزیر دی که ګدا".

(۱۱) دا مسرۍ په "پ" او "پ پ" چاپ کې "کاشکې خط د امانې وما له دا کړې" راغلې ده.

Marfat.com

چې دستا د عاشقۍ په تیغ شهید شي — د رحمان غاړه به هاله شي ا د ا

١٧ — ٢٦٦

د رحمان وزیري رنګ وته نظر کړه
چې مدام په تاپسې کاندې ژړا (۱)

هر چې ستا کوڅه ما وا کا — ځای بې برشي تر افلاکا (۲)
ځان هاله ورته بادشاه شي — چې بې ستا د دَر ګدا کا (۳)
چې دستا د دَر ګدا شي (٤) — بادشاهي وته نو رشا کا
نظر بې دستا له رویه — نه په ارض نه په سما کا
مینه بې دستا له مخه — نه په دین نه په دنیا کا
ستا په مهر و محبت کې — ځان جهان واړه فنا کا
د دنیا کورو ګړي (۵) — ستا په مینه کې تا لا کا
رضا ستا په رضا (۶) کېږدي — ترک خپله مدعا کا
وهر خواته چې ستا مخ شي (۷) — دی هم مخ په هغه خوا کا
که له چا سره جفا کړي — له هغه سره جفا کا
که له چا سره وفا کړي — له هغه سره وفا کا
که په عمر چیری ژاړي — خو په تا پسې ژړا کا
که په عمر چیری خاندي — خوله تا سره خندا کا
که مطلب یې د دیدار وي — ستا د حسن تماشا کا
که مطلب یې د ګفتار وي — ستا په ذکر مشغولا کا
د رښتینو مقام دا دی — که خوك مینه په رښتیا کا (۸)

١٨ — ٢٨٣

عاشقان په عاشقۍ کې
چې رحمان وایي هم دا کا

---

(۱) دا بیت د "خ" لومړۍ او د "پ" د دوهمې نسخې کې نشته.
(۲) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته او د "خ" په دوهمه نسخه کې د دوهم مسرۍ داسې ده: "ځای یې رسي تر افلاکه".
(۳) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې: "چې ځان ستا د دَر ګدا که".
(٤) "ق.ک" چاپ: "خوك چې ستا د دَر ګدا شي"، او دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "د دنیا کور وکوټ"، او د "خ" نیمګړې نسخه: "د دنیا کور اوعلونه".
(۶) د "پ" چاپ کې "قضا" راغلې دی.
(۷) د "خ" قلمي نسخه: "هرې خوا ته چې ستا مخ وي"، د "پ" لومړۍ نسخه: "په هر خوا چې دستا مخ وي".
(۸) په "ق.ک" چاپ کې او هم د "ق" په چاپ کې د "رښتیا" پر ځای "رضا" راغلې دی.

Marfat.com

چې امید په عمارت د دې دنیا کا ... د کاغذ په کشتۍ سیر د دریا کا (۱)

د آسمان توسن هیڅ ناندې تېز لې ... خوک به څرنګه سورلي د باد په شان کا

نه لېوه په آدمیت اموخته کېږي ... نه امید د مروت شي له افلاکا

له فلکه د وفا امید باطل دی ... کله دېوله آدمزاد سره وفا کا

زمانه په اسلام کفر سره ګرځي ... فرق د تور و د سپین کله نابینا کا

ماده د هر علامت په ستر ګو ولېد ... په هر دم هزار پیدا هزار فنا کا

هیڅ امید مې د ایام په ګردش نه شي ... چې فرصت به په خپل دور و مدارا کا

په خپل عمر به هیڅ البدلی نه وي ... هغه چارې چې دی هر ساعت په ما کا

که د ګلو غوټې کېږدم په دستار کې ... شوم طالع مې هغه خار ځنې پیدا کا

که وزر و وته لاس کړم خاورې کېږي ... که د خاورو په ارزوشم استغنا کا

جدايي د خدای بلا شوه نه توانېږم ... خوشې زړه مې په دیدن پسې ژړا کا (۲)

هوم صبر دی عاشق سره له کومه ... چې د نن وعده موقوفه په سبا کا

که د اور جامې راواغوندې دلبره ... په نظر زما جلوه لکه دیبا کا

په خپل عشق کې (۳) که خوک بد راپاندې وايي ... زه ګومان کړم چې حمد زما ثنا کا

ملامت په عاشق بنايي د ادستور دی ... چې روغ خلق په رنځور پورې خندا کا

عاشقي ننګ و ناموس د ی و به لړې ... په روښانه ورځ به څرنګه خوک غلا کا

که زه طمعه کړم د ګلو له طالع نه ... ما عاجز له د ګل په ځای خار راکا (۴)

که زه ځان ژغورم په عشق کې له عالمه ... زمانه مې په جهان بانډې رسوا کا

همېشه به په عالم کې وي سرخرو به ... چې ثنا لکه بلبل د خپل آشنا کا

۱۹

دا ځواب [illegible] هغه کا چې دووی

"که دلبر د دیدن مې پیالې راکا" (۵)

۳۰۳

هغه ژوی چې مین وي ښه به خوب کا ... چې مجنون غوندې کړمن وي ښه به خوب کا (۶)

(۱) دا غزل د "ب" په لومړي، دوهم او مصور نسخو کې نشته د "ب" چاپ کړ د "سیر" پر ځای "سیل" راغلی دی.

(۲) د "غ" په لومړي او دوهمه قلمي نسخو کې د "ژړا" پر ځای "بلا" راغلی دی.

(۳) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "ستا په عشق کې" راغلی دی.

(۴) دا بیت او ورپسې دوه بیتونه په قلمي نسخو کې نشته. دوه بیت لومړی مصرعې په "ق، ک" چاپ کې داسې دی: "که زه طمع کړم د ګلو له خپل بخته"

(۵) د "غ" دوهمه نسخه: "که دلبر د دیدن مسته پیاله راکه". د دولت دیوان: "که دلبر د دیدن مې پیالې راکه" ۱۴۳ مخ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۲.

(۶) دا مسرعه په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "چې فرهاد غوندې کوهکن وي ښه به خوب کا"، په مصوره نسخه او د "غ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "چې مجنون او کوهکن وي ښه به خوب کا" د "غ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې مجنون او کوهکن دی ښه به خوب کا" او د "پ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې مجنون او یا کوهکن دی ښه به خوب کا" او د پېښور چاپي دیوان کې د "ژوی" پر ځای "زړی" راغلی دی.

Marfat.com

۲۰ — ۳۱۱

هر نفس د سري تله دي له جهانه (۱) — چي يې هر نفس رفتن وي ښه به خوب کا
چي سبا له خپله ياره جدا کېږي — که د سلو شپو کمهن وي ښه به خوب کا
عاشقي ده خداى له اوره پېدا کړي — که په اور کې يې وطن وي ښه به خوب کا (۲)
د اوبو تږى هم خوب کولى نه شي — خوك چي تږى د ديدن وي ښه به خوب کا (۳)
د رقيب له جوره خوب د عاشق نه شي — د هغو چي د ليو (۴) دښمن وي ښه به خوب کا
د مجاز بندي خو خوب کولى نه شي — چي يې زلفې طوق رسن وي ښه به خوب کا (۵)

خوب خندا له بې غمۍ شي خوشحال (۶)
خوك چي ستا په ښار غمجن وي ښه به خوب کا

۲۱ — ۳۲۰

چي په ستر ګو کې يې خار دي ښه به خوب کا — چي په زړه يې غم د يار وي ښه به خوب کا
خوب له ياره سره هم د عاشق نه شي — چي يې يار په بل ديار وي ښه به خوب کا
په دنيا کې خوب هغه کا چي نادان وي — هغه ژوي (۷) چي هوښيار وي ښه به خوب کا
کوم طالب مطلوب نيولى (۸) دى په خوب کې — هغه خوك چي طلبګار وي ښه به خوب کا
د بېدار نه دى چا په پټو ستر ګو کړى — چي مطلب د چا د بېدار وي ښه به خوب کا
بلبلان د مرګ تر لاري ګرانه نشته — چي په خواږې هسې لار وي ښه به خوب کا
هر نګاه د دلبرانو ذوالفقار دى — هر چي غوږ په ذوالفقار وي ښه به خوب کا
دلبرم چي چلي خوب کولى نه شي — چي خوږلې تور سنامار وي ښه به خوب کا

زه خوشحال د يار بنده هم خدمتګار يم
چي بنده او خدمتګار وي ښه به خوب کا

---

(۱) دا مسره په مصوره نسخه کښې داسې ده: "هر نفس سري په تله دي له جهانه".

(۲) د "پ" دلومړي نسخې په پرته په ټولو کښې "چه" راغلى ده.

(۳) دا بيت په چاپي ديوانونو او مصوره نسخه کښې نشته، د دوهمه مسره يې د "غ" په دوهمه نسخه کښې داسې ده: "چي به تږى د ديدن وي ښه به خوب کا".

(۴) په چاپي ديوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کښې "د ليو" پر ځاى "د يار" راغلى دى.

(۶) په "پ" او "ب" "ب" چاپ کښې: "خوب خندا به بې غمې کېږي رحمانه — هر چي تاغوندي غمجن دي ښه به خوب کا".
د پېښور "ق ک" چاپ: "هر چي ما غوندي غمجن دي ښه به خوب کا". د "غ" لومړۍ نسخه: "خوك چي تاغوندي دردمن دي ښه به خوب کا".
د "غ" دوهمه نسخه: "خوك چي ستا په ښار دردمن دي ښه به خوب کا"، مصوره نسخه: "خوك چي ستا په ښار غمجن دي ښه به خوب کا".
او د "پ" دوهمه نسخه کښې داسې ده: "خوك چي تاغوندي غمجن دي ښه به خوب کا".

(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو او نورو قلمي نسخو کښې نشته د "غ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شوى چي ورکښې مسره يې په اصل نسخه کښې داسې ده: "چي يې زلفې په ګردن کړ طوق رسن دي ښه به خوب کا".

(۷) دا مسره د "ق ک" چاپ کښې داسې ده: "هغه ژوي چي دانا دي ښه به خوب کا". او په دواړو چاپي ديوانونو کښې د "ژوي" پر ځاى "زوي" راغلى دى.

(۸) د "ب" دلومړۍ نسخې په پرته په نورو ټولو کښې "مونډلى" راغلى دى. او هم نوموړى بيت د "پ" په دوهمه نسخه کښې نشته.

يادونه: لاندې بيت يوازې او يوازې د "غ" په دوهمه نسخه کښې راغلى دى، او د کاس لاندې نورو نسخو او ديوانونو کښې نشته.

دلبرم په چلې خوب کولى نه شي
چي خوږلې تور سنامار وي ښه به خوب کا

Marfat.com

هغه ژوی چې بې خدایه(۱) محبت کا — همګي واړه بې ځایه محبت کا
محبت بې خدایه واړه د زړه رنځ دی — که مدام له چنګ و نایه محبت کا
خرخاري ده چې بې بوځبله(۲) کاندي — هر خود رای چې له خود رایه محبت کا
نتیجه یې ریش کنده جامه پاره وي — آدم زاد چې له چارپایه محبت کا(۳)
هغه سرای لره به تله و ربانده ګران وي — هر سړی چې له دې سرایه محبت کا(۴)
بوالهوس به نه پتنګ نه پروانه شي — د مګس په څېر له ورایه محبت کا(۵)
چې د تورو زلفو سیوري یې ځای شي — هغه کاله له همایه محبت کا
رحمان ځکه در بسیار متابعت کړم(۶)
چې هر وله رهنمایه محبت کا

۲۲ — ۳۲۸

اورنګ زیب چې آرایش د تخت و تاج کا — تخت و تاج به یې مرګي تاخت و تاراج کا(۷)
په جهان کې به یې پاتې ښه بد نوم شي — دی که چارې د کسری که د حجاج کا
او به ستر ګوله لاړې او ور د زړه شو — څوک به څه شکل ژوندون په دا مزاج کا
جدا یې زما په زړه کا هسې چارې — لکه بازي په تارو او په دراج کا
زما اوښکې چې پیدا د زړه له یم شوې — لکه اور یې له کبابه نم اخراج کا
زه غمجن د عید په جشن خبر نه شوم — که نور خلق هوی و های ته احتیاج کا
هر ناوک چې د قضا له شسته خېژي
زمانه د رحمان زړه ورته آماج کا(۸)

۲۳ — ۳۳۵

دې درد و همدمي(۹) به دې بې درد کا — د نامرد و همدمي به دې نامرد کا
صحبت بې تاثیره نه دی دا حدیث دی — ګنګو نمي هم په څېر د ګنګو زرد کا(۱۰)

---

(۱) د "پ" چاپګړ د "بې خدایه" پرځای "بې یاره" راغلی دی.
(۲) په چاپي دیوانونو کې "بوله بله" راغلی دی، او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او د لومړي مسرې د "ریش کنده" کلمه د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ریش کندن" په شکل راغلې ده.
(۴) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته په "پ" چاپ او "ت. پ" چاپ کې یې لومړۍ مسرې داسې ده: "بلهوس به نه پتنګ و پروانه شي".
(۶) دا مسرې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "رحمان ځکه دربسیار متابعت کا"، د "خ" لومړۍ نسخه: "زه رحمان ځکه دیاره محبت کړم".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه، د "خ" په لومړۍ نسخه او "ق. ک" چاپ کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه نسخه کې "امواج" راغلی دی.
(۹) په مصوره نسخه د "خ" لومړۍ او د "پ" په دوهمه نسخه کې "همراهي" او د پېښور "ق. ک" چاپګړ "همدردی" راغلی دی.
(۱۰) دا مسرې په "پ" نسخه او هم په "خ" نسخه کې داسې ده: "ګنګو نمي د ګنګو په څېر د زرد کا".

Marfat.com

هر کالي چې خوك په څمکه باندې کېږدي — هغه څمکه يې له جنسه د خپل گرد کا

په مجلس د ويږ ژ ليوا(١) خوك ورمه شه — که صحيح و سلامت وي آه يې سرد کا

چې دوي له ميانه لرې شي رحمانه(٢)

معشوقې عاشق پخپله نازپرورد کا

٢٤ — ٣٤٠

که په گنج د شاهي فخر شهريار کا — عاشقان يې د دلبرو په رخسار کا

خرقه پوشو په خرقه کې دی موندلی — هغه حظ(٣) چې په دنيا کې دنيادار کا

پتنگانو لره ورکړ خدای په اور کې — هغه عيش چې يې بلبله په گلزار کا(٤)

نېك ساعت(٥) په بد بدل د هجا مه شه — په وصال کې غم د هجر ورد د وخار کا

نس(٦) د گورا و د مور يو دی په معنی کې — خو په چالي تور لحد په چابازار کا

د بېرې په د و بېړه چې خدای راضي شي — يگانگي د زړونو هلته کله کار کا(٧)

هغه مخ چې مادرزاد شايسته نه وي — مشقت د مشاطې واړه مردار کا

يار د نازله خوبه پاڅي پسې گرځي — چې فلك د عاشقانو بخت بېدار کا(٨)

بې له تانه مدام سوزي دا يې حال دی — لکه شمع چې خوك بله په مزار کا(٩)

د مستۍ د هوښيارۍ يون څرگند وي — په هر چا کې چې څه وي هغه رفتار کا(١٠)

د بلبلو نغمه زاغ کولی نه شي — هر سرود آواز په طور د خپل تار کا(١١)

رحمان هسې بې وقوف سوداگر نه دی

چې د دين متاع بدله په دينار کا(١٢)

٢٥ — ٣٥٢

---

(١) په قلمي نسخه کې "ويږ ژ ليو" راغلی دی.

(٢) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې د "دوي" پرځای "دوهي" او په مصوره نسخه کې "دودي" راغلی دی.

(٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خوند" راغلی دی.

(٤) د "پ" لومړۍ نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه: "هغه عيش چې بلبلې په گلزار کا".

(٥) په مصوره نسخه کې "نېك عمل" راغلی دی.

(٦) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، په قلمي نسخه کې "نس" پرځای "نفس" راغلی دی، په "ق. ک" چاپ کې د "بازار" پرځای "گلزار" راغلی دی.

(٧) دا مسرۍ په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "بيا ملاح د زړونو کله هلته کار کا"، په مصوره نسخه کې داسې ده: "يگانگي د ملاحانو کله کار کا".

(٨) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "يار د ناله خوبه پاڅي پسې گرځي چې فلك د عاشقانو محنت بېدار کا".

(٩) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، لومړۍ مسرۍ يې په "ب" او "پ ب" چاپ کې داسې ده: "شپې شپې يې ياد تر سره پورې کېني". د "ق. ک" چاپ کې د "پې" پرځای "مې" راغلی دی. په مصوره نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "شپې شپې مې تر سر و پر دې پورې کېني".

(١٠) دا بيت په "پ" نسخو او د "خ" نسخو کې داسې دی: "د مستۍ د هوښيارۍ يون څرگند وي په هر چا کې چې څه وي هسې رفتار کا". "ق. ک" کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "د مستۍ د هوښيارۍ يون سند څرگند دی" او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بيت داسې دی: "د مستۍ د هوښيارۍ يون سره څرگند دی په هر چا کې چې څه يون هسې رفتار کا".

(١١) په "پ" چاپ کې د "تار" پرځای "کار" راغلی دی.

(١٢) د "پ" په دوهمه نسخه کې "دنيا" راغلی دی.

ورځ چې بده شي عاقل و دانا خه کا — چې قضا شي ورد و شاره حکما څه کا (۱)
مور و پلار خوښ يک فرزند له خدايه غواړي — چې بد بخت شي ادې څه کا بابا څه کا (۲)
يار له ياره په لوی لاس کله بېلېږي (۳) — چې لاس نه رسي يار څه کا آشنا څه کا
په ښېرو په دعا څه شي کم و ني خدای دی — چې خدای نه کا ښېرې څه کا دعا څه کا
بخت په زور او په زر نه دی چا خپل کړی (٤) — په دا کار کې ناتوان څه کا توانا څه کا

ای ~~خوشحال~~ پتنگ ولې شه چې وسو (۵)
نور د شمع خندا څه کا ژړا څه کا

۲۶ — ۳۵۸

زما او ښکې چې د اهسې شست و شو کا — د محنت واره زما مخ په ولو کا (۶)
تل يې مخ وي ترخو يا نو لوړې وللي — عاشقي چې د چا او ښکې په شبو کا
د عاشق د سينې چاک به ورڅرگند شي — که خوک سره خپل گرېوان و ته رفو کا
د عشق اور چې شمع خود په سر قبول کړي — پروانه به څه حجت د ځان په سو کا
گل څه نه والي چې غرق په وينو ناست وي — بلبل څه لره بې ځايه گفتگو کا
زه که مرگ غواړم بې ياره گرم خو نه يم — جدايي سرې په ځان پوري پکو کا

معشوقې په محنت نه دي چا موندلي
مگر خدای يې په ~~خوشحال~~ با ندې پېرزو کا

۲۷ — ۳۶۵

خولو خله يې تاراج په جفا نه کا — يار له هيچا (۷) سره مهر و وفا نه کا
که يې سر په بوسه ورکړم زه پوهېږم — چې قبول به د غه عجز زما نه کا
چې په خپله رضا تللي ما در زاد وي — هغه هېڅ بېرې د نور و رضا نه کا
څوک يې خپله مدعا حاصله نه شي — مهرويان په خوله د خضر سودا نه کا
که يې سل ځله دعا کوم په عمر — گوش و هوش د دعا گوی په دعا نه کا
که آهو نه آشنې پسې وکا بم — لکه سرو له خزانه پروا نه کا

(۱) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۲) د "پ" په "چاپ کړ" دا مسرۍ داسې ده : "چې بخت بد شي ادې څه کا بابا څه کا".
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خپلېږي" راغلي دي.
(٤) دا مسرۍ په مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده : "بخت په زور و زاری نه دی چا خپل کړی". د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "بخت په زور و په زر نه دی چا موندلی" او د ېېنور "ق.ک" چاپ کې داسې ده : "محبت په زور چا نه دی حاصل کړی".
(۵) د "پ" او "پ پ" چاپ کې "علم شه" او د "ق.ک" چاپ کې "او شو" راغلي دي.
(۶) په چاپي ديوانونو کې "د مخ ابرو کا" راغلي دي.
(۷) په چاپي ديوانونو کې "که يار ه" راغلي دي.

**٢٨ — ٣٧٢**

که آرام غواړې په عاشقۍ کې
دغه واړه ناروا کاروانه کا

زړه مې بې له خپل نگاره (١) آرام نه کا | کامراني راڅخه غواړي ناکام نه کا
بې ناکامه زیست محال دی په دنیا کې | د کوم آس په خوله کې دخل لگام نه کا (٢)
د آسمان مانې به هم په قرار نه وي | سالک ځکه قصد د قصر و د بام نه کا (٣)
گاه یې کښېنوي په تخت کله په خاورو | زمانه رضا د هېچا مدام نه کا
بې له سروي چې آزاده خدای پیدا کړه | ترکې ځکه و هېچا ته سلام نه کا (٤)
کوه و دشت هم د خزان له غمه زېړ دي | ځکه زرکه و چمن ته خرام نه کا
چا چې سر دی په سجده و یار ته اېښی | دوباره له دې سجوده قیام نه کا (٥)
چې یې کړه ده دیار په لوري لوښتې (٦) | لکه بحر هسې دړه ومې مقام نه کا
نشستن د عاشق نشته لکه شمع | څو صورت د عشق په اور کې تمام نه کا
چې محظوظ وي په تش بوی د مهرویانو | هغه فکر د بوسې د پیغام نه کا
چې لذت یې د سرو شونډو وي موندلی | نور مینه د شرابو په جام نه کا
په هغو د لعلو لبو مې حرام دی | څو دا نور لذت په خپسر حرام نه کا

**٢٩ — ٣٨٥**

هسې و خپل یار ته بې حجت دی (٧)
لکه عذر چې صاحب ته غلام نه کا

چې امید په عمارت د دې جهان کا | لکه کړ بنه په اوبو هسې بنیان کا
دا اوبو په مخ د کړ بنې بقا نشته | په نابود باندې ناحق د بود گومان کا (٨)
نادانانو هسې دین په دنیا بایلود | لکه ووړکي دُر بدل په پارچه نان کا
د دنیا د دین نسبت (٩) و بل ته نه شي | اور او اوبو سره استوگه په څه شان کا

---

(١) په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې "یاره" راغلی دی.
(٢) د "پ" په لومړي نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې "نعام" راغلی دی.
(٣) له دې بیت نه وروسته بېتونه او کېږي دا بیت د "پ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٤) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" دویمه نسخه: "دوباره یې له سجوده قیام نه کا".
(٦) د "خ" دویمه نسخه: "چې یې ذره دې تل دیار په لوري تللی"؛ د "خ" په لومړي نسخه کې د "لوښتې" پر ځای "اېښې" راغلی دی.
(٧) د "خ" په دویمه نسخه کې "لاجواب دی" راغلی دی.
(٨) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٩) د "خ" په لومړي نسخه کې "نښته" راغلی دی.

عشق د نفس له خاصيته منزه دی　　　　کار د سترګو به څوک ځرنګ په دهان کا

لکه چشم و ګوش په کار کې وبله بېل وي(۱)　　　　هسې دين و دنيا حکم ځان په ځان کا

په پيری کې د ځوانۍ خيال دی هسې　　　　لکه څوک چې د باغ سير په خزان کا

بې درګاهه يې بل ځای د رحمان نشته
په سفر استوګه خو مسافران کا

۳۰　　　　۳۹۳

عاشقان د ناصحانو وينا نه کا　　　　مست هاتي د مهوتانو پروا نه کا

واره جور د دې دوران(۲) مي قبول دي　　　　که خدای ما له خپله ياره جدا نه کا

چې د ګلو پريشاني شوه ور څرګنده　　　　غوټۍ چې سر په زانو کېښو خندا نه کا

و سېلاب ته د ړنو وکي څه استاد(۳) وي　　　　زړه چې ژاړي سترګې ځرنګ ژړا نه کا

دنيا کل په احمقانو ده ودانه　　　　دانا ځکه وابستګي د دنيا نه کا

چې يې زړه دی په هوا لوړي ترلی　　　　د حباب عمارت ځکه بقا نه کا

بې هنر دي چې څوک دين په دنيا پلوري　　　　هنرمند سړی دا هسې سودا نه کا

که څوک والي هوښيار کوم دی وايه دا دی　　　　چې بې خدای په نوره مينه په چا نه کا

ګدايي که ور پېښېږي دا يې ځای دی　　　　هر بادشاه چې دلجويي د ګدا نه کا(۴)

چې بې دل يې په يوه نګاه رغېږي　　　　څه انصاف دی چې دلبر يې دوا نه کا

هر چې زړه يې وي په يار پاېندې بايللی　　　　نوره مينه په چا بې له آشنا نه کا(۵)

چې تر غوږ يې وي وينا د آشنا شوي　　　　هغه غوږ هرګز په نوره وينا نه کا

و به نه رسي د يار تر بلند بامه　　　　چې د زړه غولې روښن په ژړا(۶) نه کا

زه رحمان د هغه يار په جفا خوښ يم
که اغيار مي خدای له ميانه بېل نه کا(۷)

۳۱　　　　۴۰۷

که سړي د خپلې پوهې تقصير نه کا　　　　د خدای کړه به څوک په پوهه تغيير نه کا

خواه نا خواه به د تقدير شوي(۸) ور پېښ شي　　　　که څوک هيڅ يې نظر په تقدير نه کا

---

(۱) "پ" چاپ او د پېښور لوړ چاپي ديوانونه: "لکه کار د ګوش و چشم سره بېل دی."
(۲) په چاپي ديوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دهر" راغلی دی.
(۳) په چاپي ديوانونو کې "حاجت" راغلی دی.
(۴) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) دا بيت او د اسې دوه نور بيتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(۶) په "ق. ک" چاپ کې "ژړا" راغلی دی.
(۷) "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ: "چې اغيار مې خدای له ميانه جدا نه کا"، د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "که اغيار مې تر د اميانه بېل نه کا".
(۸) د پېښور په چاپي ديوانونو کې "کښلي" راغلي دي.

Marfat.com

د هغو چې بخت بېدار شو غم يې نشته ... که هېڅېرې بېداري و شبګيې نه کا
دا د خپلې کم فهمۍ مونږ خه واېو ... چې فلانی سړی تالاش و تدبير نه کا (١)
دلګيرې او خوشحالي که په خپل لاس وي ... په خپل لاس به خپل سر هېڅوک دلګير نه کا
معرفت د خدای خرګند دی په هر څه کې ... ستر ګې وخوره چې څوک هومره نظير نه کا
دا نفس په مثال برق صورت فانوس دی ... برق به هېڅوک په فانوس کې اسير نه کا
د دنيا سړي همه واره دي ماند دی ... کوم بادشاه دی چې منت د وزير نه کا
کوم واده کوم د کوژدن ده په جهان کې ... چې فلک يې و آخرته په وير نه کا
په خوله هر يو سړی اسم د پير اخلي ... باري څه په کار چې نغوته د پير نه کا
څه نښې د قيامت نه دي لور څه دي ... چې د پلار و ويل په زويو تأثير نه کا
هسې چارې له ناصحو واقع کېږي ... چې له شر مه يې هېڅ غل وکا سير نه کا
په مرده پسې تکبير وکا روان شي ... هېڅ ګومان په ځان د هسې تکبير نه کا
په دنيا پسې درست عمر زهير يږي ... ځان يو دم د خدای د پاره زهير نه کا
د عيال د پاره تېر تر سر و مال شي ... دلجوئي په لوږه تږوك د فقير نه کا

٣٢ ... ٤٢٣

## ګرم دي چې نارې د هجران اوري
## و آشنا و ته کا ته په څير څير نه کا

ترحد تېره شوه په يار پسې ژړا زما ... نه ګروهېږي په ژړا سره آشنا زما (٢)
که مې هره وينا دُر يا مرغلر شي ... لا د غوږ لايقه نه ګڼي وينا زما (٣)
په نارو به ما بېدار کړه اوده وې ... باري ولېښ راته اوده شو دلربا زما (٤)
زه مکتوب غوندې په پته خوله ګويايم ... خاموشي زما تېرې کا تر غوغا زما (٥)
کښت د عشق په توده ځمکه آسان نه دی ... سمندر بويه چې زيست کا په صحرا زما (٦)

---

(١) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.

(٢) دا بيت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "د پره شوه په يار پسې ژړا زما نه ګروهېږي په ژړا آشنا زما". او د پېښور چاپ د "خ" په دوهمه او "ب" په دوهم نسخه کې نه يوازې دا بيت بلکه دوې رديف تول هېڅوک نه دي راغلي.

(٣) دا بيت د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که مې هره وينا دُر شي مرغلرې لا لايقه د غوږ و نه ګڼي وينا زما". او د "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که مې هره وينا دُر شي يا ګوهر شي ستا د غوږ نه ده لايق وينا زما".

(٤) د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "په نارو به ما بيدا که که خوب دی وری دلې ولېښي راته اوده شه دلرباځما".

(٥) "ب" چاپ: "زه مکتوب غوندې په پته خوله ګويا يم لاندې کړله خاموشۍ غوغا زما".

(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "کښت د عشق په توده ځمکه آسان نکه سمندر بويه چې زيست کا په صحرا زما". او "ب" چاپ کې: "کښت د عشق په توده ځمکه آسان نه دی سمندر بويه په دې صحرا زما".

Marfat.com

دا یار نه دی چې هجران له مانه بېل کړ — روح زما دی چې له تنه دی جدا زما (۱)

زه رحمان بې خپله یاره هېڅ نه غواړم (۲)
که قبول وي د خدای په در دعا زما

۳۳ — ۴۳۰

سل ځله که وخوري نا حمان ځیګر زما — بېل به نه شي کله د دوستانو سر زما (۳)

صبر ستا په عشق کې د اخبره خوك اوزه — نشته د دې چارې توان یو موی قدر زما (۴)

ستا له محبته جار واته وما ته عار دي (۵) — ولې خاورې نه شي په دالا بشر زما

وار معشوقې د عاشقانو خبر اخلي — بې له تا چې نه اخلي یو دم خبر زما

هېڅ اند وه مې نشته بې د ستا له جداله — نور اند وه به خه وي تر دغه بتر زما

خوب د کور و کلې په نار و زما بر هم شو — خه چل دی (۶) چې نه شي ستا په زړه اثر زما

د رست جهان که وارهٔ ما رحمان له ره دلبر شي (۷)
چېرې دی دلبره بې تا بل دلبر زما

۳۴ — ۴۳۷

هسې یادې همېشه مدام زما — چې اوراد دې په هر صبح و شام زما

هر کلام چې بې د ستا له یاده وکړم — سل توبې دي په هغه کلام زما

زه که بې له تا له زړه آرام کړم په سل رنګه — نه شي نه شي په هېڅ رنګ آرام زما (۸)

ننګ و نام که ستا په مینه له ما درومي — زاړه شه ستا تر مینې ننګ و نام زما

چې قایم شوم په مقام د عاشقۍ — هیر شو دلته واړه بل مقام زما (۹)

خو د عشق په خم خانه مې داخل نه کړ — پخته نه شو د غه عقل خام زما (۱۰)

نن دې وخت دی که مې آه و فریاد اوري — خو چې خاورې نه دی هر اندام زما (۱۱)

---

(۱) د "خ" لومړي نسخه : "دا یاران چې دي هجران له ما بېل کړی — روح زما دی چې له تنه دی جدا زما".
"ب" چاپ : "دا یار نه دی چې هجران له ما نه بېل کړ — دغه روح له تنه شه جدا زما".

(۲) "ب" چاپ : "زه رحمان بې خپله یاره هېڅ نه غواړم — که قبول خدای ته وي دعا زما".

(۳) دا غزل د "غ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۴) په "ق" او "ق ک" چاپ کې د "موی" پر ځای "جو" راغلی دی.

(۵) چاپي دیوانونه او د "غ" لومړي نسخه : "جار واته زما درو غ دی". مصوره نسخه : "جار واته زما غلط دی".

(۶) قلمي نسخې "خه چار ده".

(۷) چاپي دیوانونه : "کل وارهٔ جهان که ما رحمان لره دلبر شي".

(۸) د "ب" نسخې : "بې له تا که ذره آرام کړم په سل رنګه — نه شي نه شي په هېڅ رنګ آرام زما"
د "غ" لومړي نسخه او مصوره نسخه : "که بې تا د ذره آرام کړم په سل رنګه — نه شي نه شي په هېڅ رنګ آرام زما"

(۹) قلمي نسخې : "هېر شو دلې وته بل مقام زما".

(۱۰) چاپي دیوانونه : "خو د عشق په خم خانه بې داخل نه کړم — پخته نه دی دغه عقل خام زما".

(۱۱) د "ب" لومړي نسخه : "خو تر خاورو نه دی لاندې هر اندام زما". د "غ" لومړي نسخه : "خو چې لاندې شي تر خاورو هر اندام زما".
د "غ" دوهمه نسخه : "بیا به خوك د ده سوی پیغام زما". مصوره نسخه : "خو لاندې تر خاورو هر اندام زما".

Marfat.com

هزار جام د صراحي دې فلك مات كړل — خو به ګرځي په دا دور جام زما

زه (رحمٰن) به دانا کام کوم تر کومه
وایه (۱) کله به حاصل کړې (۲) کام زما

۳۵ — ۴۴۶

چې هر چا لیدلی نه وي یار زما — خبر دی دا که والي بد په کار زما (۳)

هر هغه چې وي دلبر زما لیدلی (۴) — نه به کا انشاءالله انکار زما

سر زما دې درګاه د هغه یار عزیز وي — بې له دې لار نشته بل لار زما (۵)

ما بې عشقه بل څه څېز زده کړی نه دی — چې څه دی هم دادی واړه کار زما (۶)

خدای دې هیڅوک یو ځله ازار نه کا — ای دلبره مه اخله ته ازار زما (۷)

یاره ستا په جدایۍ او په دې غم کې (۸) — سینه داو ښکوده وي په خسار زما

لوی دی که هلاک دی واړه ستا خبرې کاندي — بل ګفتګوی نشته په دیار زما (۹)

زه (رحمٰن) به لاف په عشق کې څه وهم
خود به ځان ځرګند کا انتظار زما

۳۶ — ۴۵۴

سر زما سامان زما زار شه تر جانان زما — زار شه تر جانان زما سر زما سامان زما

زیان زما نقصان زما واړه د یار هجر دی — واړه د یار هجر دی زیان زما نقصان زما

ګل زما ریحان زما ستا رخسار و زلفې دي — ستا رخسار و زلفې دي ګل زما ریحان زما (۱۰)

مشک زما زعفران زما ستا د کوڅې خاوري دي — ستا د کوڅې خاوري دي مشک زما زعفران زما

فکر زما توان زما ستا په غم کې نه رسي — ستا په غم کې نه رسي فکر زما توان زما

آه زما فغان زما هیڅ په تا اثر نه کا — هیڅ په تا اثر نه کا آه زما فغان زما (۱۱)

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه: "خدایه".
(۲) "ب" چاپ، "ق" چاپ، او "ق ک" چاپ: "شي".
(۳) قلمي نسخه: "چې هر چا لیدلی نه دی یار زما — خبر دی دا که والي بد په کار زما".
د "خ" دوهمه نسخه: "چا لیدلی نه دی په جهان کې یار زما — څه شوه که بد والي په کاروبار زما".
(۴) قلمي نسخه: "هر چا چې زما دلبر لیدلی دی". د "خ" دوهمه نسخه: "هر چا چې یې لیدلی مهر و دلبري وي — نه به که انشاءالله انکار په کار زما".
(۵) چاپي دیوانونه: "سر زما درګاه د هغه یار عزیز وي — بې له دې نه نشته بله لار زما".
(۶) قلمي نسخه: "ما بې عشقه هیڅ نه دی لوړ زده کړي — هر چې دی همه دي واړه کار زما".
د "خ" لومړی نسخه: "خود به ځان ځرګند کا انتظار زما" د دوهمه نسخه: "ما په عاشقۍ کې نور څه نه زده که باور کړې — هر چې دی دغه دی واړه کار".
(۷) قلمي نسخه: "هیڅوک دې خدای یو له بله ازار نه کا — ای دلبره مه اخله هرګز ازار زما".
(۸) قلمي نسخه: "یاره ستا د جدایي په غمونو کې". او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۹) "ب" چاپ او "پ" "پ" چاپ: "لوی هلاک کړي همه واړه ستا خبرې — ګفتګوی نشته بل په دیار زما".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "لوی واړه کړي همه واړه ستا خبرې — ګفتګو نشته بل څه په دیار زما".
مصوره نسخه: "لوی هلاک واړه ستا خبرې که". د "خ" دوهمه نسخه: "لوی هلاک همه واړه ستا خبرې که دلبره". او دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۱۰) د پېښور "پ" "پ" چاپ او د "خ" قلمي نسخه: "ګل زما ریحان زما ستا د رخسار زلفې دي — ستا د رخسار زلفې دي ګل زما ریحان زما".
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

Marfat.com

۳۷ — ٤٦٤

داپیران شیخان زما ستا په غم کې نه رسي — ستا په غم کې نه رسي داپیران شیخان زما (۱)

زړه زما چشمان زما بې تا هیڅ حال نه لري — بې تا هیڅ حال نه لري زړه زما چشمان زما

باغ زما بوستان زما بې تا میوه نه نیسي — بې تا میوه نه نیسي باغ زما بوستان زما

وصل هم هجران زما ای رحمانه خیر دی

ای رحمانه خیر دی وصل هم هجران زما (۲)

۳۸ — ٤٧٢

ستا په خبر نه دي خوبان لیدلي ما — نه په غور وچیرې اوریدلي ما (۳)

هیڅ وفا له عاشقانو سره نه کا — دلبران دي واړه ازمایلي ما (٤)

چې مې ستا وښکلې مخ ته دي کتلي — بل یو مخ ته نه دي بیا کتلي ما (۵)

د زړه غولې مې نیولې ستا غمونو — نور غمونه دي له زړه ویستلي ما (۶)

چې مې کار د عاشقۍ په لاس کې واخیست — دي له بله کاره لاس وکښلي ما (۷)

نور غمونه مې له زړه نه دي وتلي — ستا غمونه دي په کې کړلي ما (۸)

که جفا کوې که جور واړه ځای لري — د ستا جور و جفا واړه دي منلي ما (۹)

زه رحمان بې یاره خوب وخندانه کړم

بې ده نه دي خوب خندا پسند لي ما (۱۰)

---

(۱) په نورو قلمي نسخو کې د ا بیت نشته او د "ب" په لومړی نسخه کې داسې دی:

"پیران شیخان زما ستا په غم را نه رسي — ستا په غم را نه رسي پیران شیخان زما":

(۲) قلمي نسخې: "وصال زما هجران زما رحمانه واړه خیر دی — رحمانه واړه خیر دی وصل هم هجران زما":

(۳) دا بیت په قلمي نسخو کې د سر مطلع دی: "نور خوبان د ستا په خبر نه دي لیدلي ما — نه لیدلي نه په غوږ و اوریدلي ما":

(٤) قلمي نسخې: "دلبران دي واړه ازمایلي ما":

(۵) د "ب" لومړی نسخه: "چې مې ستا کښلې مخ وته کتلي دي — نور کار رونه دي له لاسه غورځولي ما":

په "ب" چاپ کې: "چې مې ستا دې ښکلي مخ ته دي کتلي — بل یو مخ ته نه دي بیا کتلي ما":

د "خ" لومړی نسخه: "چې مې ستا د ښکلي مخ وته کتلي دي — نور بیا نه دي و بل مخ ونه کتلي ما":

د "ب" په دوهمه نسخه کې دا بیت نه دی راغلی او د "خ" په دوهمه نسخه کې د ا ردیف "پکښې" دی راغلی

(۶) قلمي نسخې: "د زړه غولې مې نیولې ستا غمو نو دي — نور غمونه دي له خاطره ایستلي ما":

(۷) قلمي نسخې: "چې مې کار د عاشقۍ په لاس اخیستی دی — نور کار رونه دي له لاسه اچولي ما":

(۸) قلمي نسخې: "هم په دا مې نور غمونه له زړه د واته — چې په زړه کې ستا غمونه دي کړلي ما":

(۹) دا بیت په چاپي دیوانو کې نشته.

(۱۰) قلمي نسخې: "زه رحمان بې یاره خوب وخندانه کړم

خوب خندا بې یاره کله دي پسندلي ما".

د "خ" لومړی نسخه:

"زه رحمان بې یاره خوب و خندانه کړم

خوب خندا بې یاره کاله پسندلي ما":

Marfat.com

چې واده یې کا په ډول او په سرنا[1] — بیا پرې والې زما نه دوېر وینا
که مې هر څو دلبري او دلجویي کا — زه یوه بې مرد خپل یار په استغنا[2]
په یوه ګړۍ مې یار هم مې آشنا شي[3] — بیا مې بله ګړۍ نه ګڼي آشنا
دا زه خپله تسلي کوم یار بولم[4] — څه یاري ده د ناتوان او توانا
یو زمان یو دم او بې خپله صنمه[5] — زه بهتره تر بقا ګڼم فنا
هر سړی په یوې چارې خدای مشغول کړ — زه مشغول کړم خدای د تر کو په ثنا
ما بې عشقه بل هنر نه زده ناصحه — په خندا[6] شه که نادان یې که دانا
چې مې غوږ په نارونه باسي حیران یم — پروانه لړي که وور وي که برنا[7]

بې د یار له ښه د بد نه دې خدای نه کا
د رحمان په زړه کې بله تمنا

## ۳۹ — ٤٨١

چې یې نقش په زړه خیال شي د آشنا — صدقه یې سر و مال شي د آشنا
پس له مرګه یې تیغ هسې مخ روښانه وي — چې آشنا په تیغ حلال شي د آشنا[8]
په آسمان د آشنا لره به یې مکان وي — چې زمین غوندې پایمال شي د آشنا[9]
خوشحالي زما د زړه په هغه دم وي — په هر دم چې زړه خوشحال شي د آشنا
روح هغه ساعت داخل ګڼم په تن کې — چې مې[10] دخل په وصال شي د آشنا
هم هغه یوه ګړۍ را باندې کال وي[11] — چې یوه ګړۍ محال شي د آشنا
نور د هیچا قیل و قال مې په کار نه دي — چې تر غوږ مې قیل و قال شي د آشنا
زړګونه که ندي دانه زما د عشق[12] — چې په زړه مې زړګون خال شي د آشنا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه: "چې واده وي په ډول په سرنا بیا پرې زمانه دوېر وښا". د "خ" دوهمه نسخه: "چې واده یې وي په ډول او په سرنا بیا پرې والې زمانه دوېر وښا".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که یې هر څو دلبري او دلجویي کړم زه یوه بې مرد خپل یار په استغنا".
(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "شي" پر ځای "وي" راغلی دی.
(٤) د "پ" او "پ پ" چاپ: "دا زه خپلې تسلي کوم یار یې بولم".
(۵) د "خ" لومړی نسخه "یو زمان یو دم بې خپله دلبره". او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) په نورو ټولو نسخو او دیوانونو کې د "په خندا" پر ځای "بخشنده" راغلی دی.
(۷) په چاپي دیوانونو کې دا مسری داسې راغلی دی: "پروانه لړې واړه دي که برنا". د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "پروانه لړې که زوړ وي که برنا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بیت نه دی راغلی.
(۸) مصوره نسخه: "چې زمین غوندې پایمال شي د آشنا".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۱۰) چاپي دیوانونه: "چې یې دخل په وصال شي د آشنا".
(۱۱) د "خ" لومړی نسخه: "هم یوه ګړۍ هیڅ را باندې کال دی".
(۱۲) مصوره نسخه: "عشق".

Marfat.com

نه بل څوک زما طبيب بې آشنا شته دی(۱) — نه بل څوک به په مثال شي د آشنا

د رحمان نظر په هيڅ باندې نه وي
چې نظر يې په جمال شي د آشنا

٤٠ — ٤٩١

کړه ما صنم ترستوني سنکته کړې چلوا — سبا خواست کوي له خدايه د سنوروا
په هيڅ حال کې دې قرار و صبر نه شي — لېوني کړې د بېرحرص د بېرې هوا
تامې عمر تريار تر عزيز پورې — لوې گېډې(۲) مختورن کړې هم رسوا
چې په خپله رسوايي دې پروا نه شي — نور به څه کړې په جهان د چا پروا
چې د نفس د پاره لاس وخدای ته نيسې(۳) — دا رحمت له خدايه غواړې که دوا
نفس بې شماره عالم پر پوست وکوهي ته — خدای دې نه کا نابينا د چا پيشوا(٤)
په روا په ناروا کله پوهيږي — وچارپای ته څه روا څه ناروا
چارپايان که غوږ وسترگې لري څه شو — په معنی کې نابينا دي ناشنوا

زه رحمان له هغه علمه(۵) پناه غواړم
چې له دينه له مذهبه وي سوا

٤١ — ٥٠٠

دل و دين مې هغې ترکې کړه رها(٦) — لا يې نه حسابوي د ځان بها
د ښايست صفت يې څوک و حيران يم — په هيڅ رنگ يې مونده نه شي انتها
د صورت له عيبه هسې پاکيزه دی — لکه ذات د وښبته نشته دي پېها(۷)
که يې مخ په زلفو پټ وي باك يې نشته — تل په گنج باندې پراته وي اژدها
لکه نمر هسې جلوه کا په شفق کې — چې په سر کاندې او دلې د سوها(۸)
نه پوهيږم چې په کوم لاره درومم — چپ و راست مې رقيبان دي هزارها
خدای دې هسې تنها نه کا څوک په غم کې — لکه زه يم ستا په غم کې يک تنها(۹)

---

(۱) د "خ" لومړي او دويمه او مصور نسخه : "نه بل څوک زما طبيب نه مې اشنا شته".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ : "نه بل څوک زما طبيب او اشنا شته دی".
(۲) چاپي ديوانونه : "لوې گېډې"
(۳) " " : "د حيات نيسې"
(۴) "ق" چاپ : "اشنا"
(۵) مصوره نسخه : "زه رحمان له هغه خلکه پناه غواړم".
(٦) چاپي ديوانونه : "دل و دين مې په هغه ترك كړ فدا"
(۷) دا بيت د "خ" په دويمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۸) دا بيت د "خ" " " کې نشته.
(۹) د "خ" لومړۍ نسخه : "خدای هسې رنگ تنها په غم څوک نه کا لکه زه د يار په غم کې يم تنها".

Marfat.com

٤٢ — ٥٠١

همیشه د بېلتانه په غم کې لولم
زه رحمان نعوذ بالله منها (١)

که مين يې په خپل يار باندې رښتيا — اواره کړه ا ول دين، لېسې دنيا
په وفا د دلبرانو غلط مه شه — دغه قوم دی بې وفا او کبريا
د خوبانو طايفه ده هسې شوخه — چې غور نه باسي د چاپه واويلا (٢)
د ډېر ناز او د ډېر کبر له سببه — عمل نه کا په گفتار د اوليا
ملک و دين په نيم نگاه د سترګي يوسي — نه يې وېره له چا لري نه حيا
بل به هسې سرګردان په جهان نه وي — يا عاشق دی يا آسمان دی يا آسيا
نه چې زغوري سر و مال په عاشقۍ کې — عاشقي دا هسې چېرې وي وېريا (٣)
د جنت تر حور و تېر شه که يار غواړې — خدای دې نقد د چا نه کا ندې نسيا (٤)
د ساقي له لاسه هسې باده نوش کړه — چې دې غوږ کا د زړه خېرې دريا
چې يې کسب عاشقي شي د دلبرو (٥) — نظر نه کاندې په کسب د کيميا

٤٣ — ٥١٩

يو گفتار ور له رحمانه بس کاندي
خدای په هر ساعت پوښتنه کړي بيا بيا

عاشقي مې يې په زړه وکړه گنه بيا (٦) — بېلتانه مې لمبې بلې کړې په سر بيا
که دفتر د خپل قسمت مې په خپل لاس وي — ما به ستا له غمه (٧) وران کا دا دفتر بيا
ما لا نو مړ د آشنايۍ اخستی نه و — جدايي يې رانه جمع کړه لښکر بيا (٨)
پس له مرګه به يې بيا تر يا قربان کړم (٩) — که صورت مې خدای پيدا کړه په محشر بيا
د هجران محنت مې واړه له زړه هېر شو — چې مې وليده په ستر ګو ستا بشر بيا

---

(١) د "خ" ورې واړه نسخې: "زه رحمان اعوذ بالله منها".
(٢) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د خوبانو طايفې دی هسې شوخې — چې غور نه باسي د چاپه واويلا". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "واويلا" پر ځای "انګولا" راغلی دی.
(٣) دا مسره په مصوره نسخه کې او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "عاشقي دا هسې چېرې ده وېريا".
(٤) دا مسره په "پ" نسخه کې داسې راغلې ده: "خدای دې نقد د چا ونه کاندې نسيا".
(٥) دا مسره په چاپي ديوانونو کې او هم د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يې کسب عاشقي شوه د دلبرو". او د "پ" په دوهمه او د "خ" په مصوره نسخه کې د "شوه" پر ځای "ده" راغلی دی.
(٦) د "پ" لومړۍ نسخه: "عاشقي مې يې په زړه وکړه اشر بيا". د "پ" چاپ کړې لومړۍ نسخې داسې راغلې ده: "عاشقي مې په زړه اوکړه لوګنه بيا".
(٧) د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې "له غمه" پر ځای "له لاسه" راغلی دی.
(٨) دا مسره په چاپي ديوانو کې داسې راغلې ده: "جدايي دې راته جمع کړه لښکر بيا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "بېلتانه يې راته جمع کړه لښکر بيا".
(٩) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "کړم" پر ځای "شوم" راغلی دی.

Marfat.com

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب وُ(۱) — خدای وماوته څرګند کړ هغه نمر بیا
چې رقیب راته تړلی په ځنځیر وُ — خپل حبیب راباندې پرانت هغه ور بیا(۲)
په یوه نظر یې زړه را څخه یووړ — خدای دې خیر کا چې لا وکا بل نظر بیا(۳)

په وصال یې منت بار اوسه
په صدف کې دخل نه وي د ګوهر بیا

۴۴ — ۵۲۸

هغو بیا موند سعادت په دا دنیا — چې یې وکړ قناعت په دا دنیا(۴)
نه ملکونه د سلیمان په هزار کاله — نه یوه ګړۍ طاعت په دا دنیا
یو نفس د خدای په یاد وا ولې تر دی — نه د درست جهان دولت په دا دنیا
په دنیا کې لوټ هغو عالمو وکړ(۵) — چې یې وکړ عبادت په دا دنیا
که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی — ګنه نشته بل نعمت په دا دنیا
که محنت که مشقت دی خو د دین دی — په کار نه دی بل محنت په دا دنیا
بې له خدایه هر چې دي هم فاني دي(۶) — که لذت دی که زینت په دا دنیا
که باچاه دی آخر خاورو له درومي — څه عزت دی څه قربت په دا دنیا
تر هغه به بل نادان په جهان نه وي(۷) — هر چې غواړي فراغت په دا دنیا
ته چې څو وخته فرصت په دنیا غواړې(۸) — چا موندلی دی فرصت په دا دنیا
عمارت په سر د ریګو روان کاندي(۹) — هر چې کاندي عمارت په دا دنیا
د مستانو تر لغزش څه کم نه دی — د سړي استقامت په دا دنیا
هر ژوندی چې د مړده په قبر ورشي — بس دی هومره نصیحت په دا دنیا(۱۰)
په روانو اوبو ورشه عمر ګوره — د بر دی هومره اشارت په دا دنیا

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "خپل حبیب راباندې پرانت هغه در بیا".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی، د "پ" چاپ کې یې وروستی مسره داسې راغلې ده: "خدای دې خیر کا چې لا بل وکړي نظر بیا". او د "خ" په لومړۍ نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "تر دې وګوره که لا وکا نظر بیا".
(۴) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې دا غزل نه دی راغلی.
(۵) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې: "په دنیا کې لوټ هغو زلمیو وکړ".
(۶) دا مسره د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې او هم د "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "بې له خدایه هر چې دي واړه فاني دي".
(۷) دا مسره په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له هغه به زیات نادان په جهان نه دی".
(۸) دا مسره په قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "ته چې چند ګاه فرصت په دنیا غواړې".
(۹) دا مسره په "پ" چاپ کې "عمارت په سر د ریګ روان کاندي". او په "پ" چاپ کې "عمارت په سر د ریګ په روان کاندي" راغلې ده.
(۱۰) قلمي نسخو کې "بسکه ..." راغلی دی.

دا پاخه پاخه سرایونه محلونه — خو به وران شي عاقبت په دا دنیا
وربې ستړګي د آسمان څه هسې نه دي (۱) — چې خوك پرېږدي سلامت په دا دنیا
هر چې راشي همه واړه ځني درومي — مسافر دی هر صورت په دا دنیا
ریاضت په قیامت نه شي مرد هغه دی — چې یې وکړ ریاضت په دا دنیا
هم په دا خوی وخصلت به سبا پاڅي (۲) — خدای خوك مکره بال خصلت په دا دنیا
هم هغه به یې خرمن وي پس له مرګه — هر چې کاندي زراعت په دا دنیا
که هغه جهان په دا کې لیده نه شي — زه یې وینم علامت په دا دنیا
په قیامت به بند تو بند څېله نه شي — مال بدلی دی قیامت په دا دنیا
امانت به د لحد په میان کې پروت وي — هر چې اوسي امانت په دا دنیا
نیك عمل حضور جنت دی طاعت بویه (۳) — چې حاصل کا خوك جنت په دا دنیا
نیك کردار هم نیك عمل هم نیك خویونه — هم جنت دی هم راحت په دا دنیا (۴)
ضدیت د سړي عمر په عذاب کا — په کار نه دی ضدیت په دا دنیا
لاس په سر په سینه ایښي وهر چا ته — هم دغه دی شرافت په دا دنیا
که بلند مرتبه د چا په کار وي — لوی مقام دی عدالت په دا دنیا
بل ارمان به له جهانه یووړ نه شي (۵) — مګر مهر محبت په دا دنیا
د هغه جهان سودا واړه دلې ده (۶) — که خوك کا ندي تجارت په دا دنیا
که طالع د سړي نه وي جاروتلي — هیڅ پټ نه دی حقیقت په دا دنیا
نیك له نیکو سره بویه بد له بدو — که خوك غواړي ولایت په دا دنیا
ولایت دی خدای هغه لره ورکړي — چې یې ورك کړ سکونت په دا دنیا
که تمامه دنیا واړه سره یو شي — نور به نه کا خپل قسمت په دا دنیا
که خوك (۷) مرد دی خو هغه دی په دنیا کې — هر چې نه لري حاجت په دا دنیا

---

(۱) د «ب» نسخه او د «خ» لومړی نسخه: وربې ستړګې د آسمان څه هومره نه دی.

(۲) قلمي نسخه: هم په دا خوی وخصلت به پاڅا وه شی:

(۳) قلمي نسخه کې «طالع» راغلی دی.

(۴) دا بیت د «پ» په نسخه کې راغلی. د «خ» په دوهمه قلمي نسخه کې «نیك کردار له نیك عملو سره بویه» راغلی دی.

(۵) «ب» «چاپ» «بل ارمان به له جهانه یووړ نه شی».

(۶) «پ» «چاپ» «د هغه جهان سودا واړه دلې شی».

(۷) په قلمي نسخه کې «که څه» راغلی دی.

چې رغبت یې د جمله بلاؤ سر دی | څوک به څه کاندي رغبت په دا دنیا (١)

٤٥ — ٥٦٥

په ناحق باندې داعمر هسې تېر شو

لکه تېر شوی ساعت په دا دنیا

هوښیار مه ګڼه هوښیار د دې دنیا | بې وقوف دی وقوف له د دې دنیا

روښنایي په هغو زړونو ده حرامه (٢) | چې پرې کښېني ګرد غبار د دې دنیا

پوچ ګویي ده چې یې اهل د دنیا کا (٣) | هر کلام او هر ګفتار د دې دنیا

د طفلانو په څېر واړه خاکبازي کا | هر چې کاندي کاروبار د دې دنیا

واړه ړکې خولې د پیو هلکان دي | کار دیده او پخته کار د دې دنیا

همېشه به بې وقوف او بې شعور وي | چې مخمور وي په خمار د دې دنیا

د شرابو هم لا هومره مستي نه وي | لکه مست وي خمر خوار د دې دنیا

هر بیمار لره دارو په جهان شته دی | دارو نه لري بیمار د دې دنیا

د هر سوي علاج وشي په جهان کې | مګر سوی په شرار د دې دنیا

هر چې اچوي واورته واړه سوځي | موړ به نه شي طلبګار د دې دنیا

ګرفتار یې همېشه په غم کې ډوب وي | هېڅوک مه شه ګرفتار د دې دنیا

تل به پروت وي په ظلمت او په تورتم کې | چې اسیر وي په کفار (٤) د دې دنیا

په مسلمو کې خاصه مسلم هغه دی | چې یې وشلاوه زنار د دې دنیا

څه وبت وته سجده څه و دنیا ته | بت پرست دی پرستار د دې دنیا

تن یې پاتو شي بې سره، سر یې لاړ شي | سردار کله دی سردار د دې دنیا (٥)

زوی او لونه یتیمان کا ځني دړومي (٦) | بې وفا دي مور او پلار د دې دنیا

همېشه به یې یو پنځ د غم په سر وي | چې په سر یې وي دستار د دې دنیا (٧)

واړه غم دی که یې پېرې که یې (٨) پلوري | نور څه نشته په بازار د دې دنیا

---

(١) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته.

(٢) د "خ" په دواړو نسخو کې "روښنايي ده په هغو زړونو حرامه" راغلی دی.

(٣) د "خ" په دواړو نسخو او "ب" چاپ کې "پوچ ګويي ده چې يې اهل د دنيا کاندي" راغلی دی.

(٤) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې "ګفتار" راغلی دی.

(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

(٦) په "ب" چاپ کې: "زامن لونه یتیمان که ځنې دړ دمي".

(٧) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

(٨) د "پ" په نسخه کې "یالي" راغلی دی.

Marfat.com

همګي واړه نهګان دي تهګي کاندي        فروشنده او خريدار ددې دنيا[1]
په دنيا به مينه نه کاندي هيڅوک        چې خبر وي په اضرار[2] ددې دنيا
چې نظر د چا په دين او په ايمان وي        هغه نه کا انتظار ددې دنيا[3]
چې ويرېږي له کوهي او له ګړنګه[4]        هغه نه درومي په لار ددې دنيا
آشنايان يې همه واړه مکاران دي        خه وېسا ده په مکار ددې دنيا
لوی، هلک يې، همه واړه اغيار دي        يار دی څوک چې په ديار ددې دنيا
چې پيدا شي همګي واړه فنا شي        راشه وګوره ناتار ددې دنيا
هر سړي لره چې ورشي ځني درومي        مال يې لی دی رفتار ددې دنيا
په يوه ګړي بهار وي بيا خزان شي        بقا نه لري بهار ددې دنيا
که هزار هزار پښتي ور ته ته کېږدې[5]        بې بنياده دی ديوار ددې دنيا
که د اوسپنو حصار ترې ځان چاپېر کړي        سپينه وګڼه حصار ددې دنيا[6]
لکه سيوري د آفتاب به مخ کې ګرځي        نشته هيڅ ته قرار ددې دنيا
هيڅ ګومان د بهتري ور باندې مکړه[7]        بهتري ده وار په وار ددې دنيا
بې مقراضه غوڅوي د سړي عمر        هم د ليل او هم نهار ددې دنيا
پس له مرګه به حساب له سړي غوښتني شي        په اندازه او په مقدار ددې دنيا
عاقبت خو به يو موټی شي د خاورو        ګلعذار او ګلرخسار ددې دنيا
برابر به له ګدايه سره پاخي        شهزاده او شهريار ددې دنيا[8]
پاس به داغ وي د لئيم په سينه باندې        هر درهم او هر دينار ددې دنيا[9]
د قانع تر قناعت صدقه شه        هم دنيا او هم دينار ددې دنيا[10]
پس له مرګه به همه واړه مظلوم وي        ظالمان او ستمګار ددې دنيا
تر قيامت به دغه شل او دغه لس وي[11]        يوره نه کړه هيڅ شمار ددې دنيا

---

(1) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی او د "ب" په چاپ کې داسې راغلی دی: "همه واړه يې نهګان دي تهګي کاندي".
(2) په چاپي نسخه کې "اسرار" راغلی دی.
(3) د "ب" نسخه: "هغه نه لري نظر په کار ددې دنيا". د "خ" دوهمه نسخه: "هغه نه لري هيڅ کار ددې دنيا".
(4) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې: "چې يې ويره شي له کوهه له ګړنګه".
(5) قلمي نسخه: "که هزار هزار پښتي ورته کېږدې".
(6) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې: "لې سپي وګڼه حصار ددې دنيا"، د "ب" په چاپ کې: "سپينه وګڼه ديوار ددې دنيا".
(7) قلمي نسخه: "هيڅ ګومان د بهتري پرې مه کړه".
(8) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "شهزاده او شهسوار ددې دنيا". (9) دا بيت د "خ" په نسخه کې نه دی راغلی.
(10) دا بيت په "ب ب" چاپ کې نه دی راغلی.
(11) دا مسرۍ په چاپي ديوانو کې داسې راغلې ده: "تر قيامته دغه لس او دغه شل دي".

Marfat.com

چې ایام پرې د کفن او غسل ورشي — بې پردې شي پرده دار ددې دنیا
په تخته باندې بیرون شي له حجابه — شرمناك او شرمسار ددې دنیا (۱)
تر هر چا به پیغمبر څخه وه د بېره — که څه قرب وی یا وقار ددې دنیا

٤٦

یو فساد به یې بیان په زړه نه شي (۲)
فساد ونه دي بسیار ددې دنیا

٦٠٨

سې مست یم ستا د شونډو په شراب (۳) — چې به نه وي بل دا هسې مست خراب
لاس دستا په مینه اچوم و گل ته — لکه بوټي ته لاس اچوي غرقاب
دا سرخي او سفیدي دستا د مخ ده — که زما په مخ باران دی د خوناب (٤)
څه اثر به زما او بنکي په تا کاندي — لا تازه شي اورېدا او بنکو د کباب
عاشقان دې سترگې روڼې کا په عشق کې — دا خواب نه دی دا منزل دی د سیلاب (۵)
ما چې خال دستا د ورځو په میان ولید — نه بل هسې رنگ امام شته نه محراب (٦)
ښا پیرۍ چې لباس نه شي سبب دا دی — مخ دستا له شرمه نغاړي په حجاب (۷)

(۱) دا مسرۍ د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "شرمناك و شرمدار ددې دنیا".
(۲) د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې: "یو فساد به یې بیان تر رحمان نه شي".
(۳) دا مسرۍ په ... چاپ کې داسې راغلې ده: "هسې مست یمه د شونډو ستا په شراب".
(٤) دا بیت په "ت" چاپ کې داسې راغلی دی: "دا سرخي او سفیدي ده ستا په مخ کې — که زما په مخ باران دی د سحاب".
د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "دا سرخي او سفیدي چې ستا د مخ ده — دا زما په مخ باران دی که سیلاب".
د "خ" په دوهم نسخه کې داسې راغلی دی: "دا سرخي او سفیدي خو ستا د مخ ده — که زما په مخ باران دی د خوناب".
د "ب" په دوهم قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "دا سرخي او سفیدي چې ستا د مخ ده — که زما د مخ باران دی د خوناب".
(۵) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "دا خواب نه دی منزلگاه دی د سیلاب".
(٦) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "نه بل هسې رنگ امام شته د محراب".
د "ب" په دوهم قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "نه بل هسې رنگ امام شته په محراب".
(۷) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "مخ دستا له غمه نغاړي په حجاب".

Marfat.com

چې سباشي ستا تر مخ پورې شرمېږي — ځکه زيست په توره شپه کاندي مهتاب
حجاب واخله مخ کره تور دهغو خلقو — چې تحسين کا ستا په دود د آفتاب
هسې نه چې زه دلبر وايم وتا تــه — خدای دې تا لره درکړې دا خطاب
ستا د مخ په ورق باندې خط وخال دي — د مصحف په صحيفو باندې اعراب
ستا د حسن حساب هيڅ په درحمان نه شي — هم په دا چې بې حساب دی بې حساب

۴۷

يو کتاب په سر بن کې چاوند کړ (۱)
بې رحمانه چې بې وکړ دا کتاب

۶۲۱

چې بې ولید د ستا حسن بې حساب — له دې قصه تاو پېدا شوله آفتاب (۲)
ستا له غم مې ستر علي سرې ناغې شوي — يا خپې د سياه پوش سره طناب (۳)
په ارزو دې د نرګس ستر ګې خلور شوي — غوټۍ سره د زړه په وينو شوه غرقاب (۴)
که دې زلفې په مخ پېچو تاب شوې سنالې (۵) — ورسېت څه طاقت لرې دا ورله تاب
زه چې خدای د ستا له غم سره آشنا کړم — خوشحالي مې نورنايابه شوه ناياب
ستر علي مې د فراق په ژړا سره شوه — د سرې اثرې پا ځبېده له آب (۶)
مه و خور شيد چې دې بساط پورې شرمېږي — ځکه مخ پناه کوي تر کوه قاب (۷)
زه دې پېژنم په اصل کې خاکي يې — ځان به خوځنې په ګوټي له تراب (۸)
خو دې خيال د آشنا کړې په ليمه کې — خبر زده کړه ته داو سېکوله سېلاب (۹)

۴۸

د رحمان بخت به هاله خوبه وېښ شي
که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب (۱۰)

۶۳۱

---

(۱) دا مسرې په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "بې رحمانه چې بې جوړ کړو دا کتاب"، او دې بيت لومړۍ مسرۍ د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "يو کتاب په سر بند کې چاوند کړ".

(۲) دې بيت ردیف په "ب" چاپ کې نه دی راغلی او دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "چې مې وليد د ستا حسن بې حساب له دې قصه تاو پېدا شو د آفتاب".

(۳) دا بيت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "ستا په غم مې ستر علي سرې ناغې شوي يا خپې دي سيه پوش سره طناب" خو په لومړۍ قلمي نسخه او "ب" چاپ کې دا بيت نه دی راغلی.

(۴) دا بيت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "په ارزو مې د نرګس سترګې خلور شوې غوټۍ سره د زړه په وينو شوه غرقاب".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ارزو د نرګس دوې سترګې خلور شوې غوټۍ سره د زړه په وينو شوه غرقاب".
د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ارزو دې د نرګس سترګې خلور شوې غوټۍ شوه د زړه په وينو کې غرقاب".
د "ب" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ارزو د نرګس سترګې خلور شوې غوټۍ سره د زړه په وينو کې غرقاب".

(۵) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې (قلمي نسخه کې) داسې راغلې: "که دې زلفې په مخ پېچ، پېچ دي سنالې".

(۶) دا مسرۍ د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "ستر علي مې د فراق په ژړا سپين شو". او د "ب" په دوهمه نسخه کې د "سپين" او "سره" پر ځای "تشنه" راغلی دی.

(۷) دا بيت د "خ" په دواړو قلمي نسخو او "ب" په دواړو قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(۸) دې بيت دوهمه مسرۍ د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "ځان به خوځنې په ګوټو له تراب". مګر په لومړۍ قلمي نسخه او "ب" چاپ کې نه دی راغلی.

(۹) دا بيت پرته له "ب" چاپ څخه په نورو نسخو کې نه دی راغلی.

(۱۰) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب".

Marfat.com

لاس مې وتړي د زلفو په طناب … بیا مې وېلوري د سترګو په قصاب (۱)

هسې آب یې دی د دوو سترګو په تیغ کې … چې یې سره په سر نه لري حباب

چې توسن د فلك زین کاندي له نازه … دا هلال یې په ځای راوشي د رکاب (۲)

په درګاه یې د دروېزه کاندي د حسن … کنه ولې په لاس سپوږمۍ هم آفتاب (۳)

چې را یادې یې سرې شونډې سوړې نوا کړم … تر چشمانو مې بهېږي سره شهاب (۴)

چې د مخ و آب وتاب ته یې نظر کړم … راته هېڅ شي د ګلونو آب وتاب (۵)

چې نسیم یې د زلفینو را پیدا شي … درست مې ډوب کا نارې په مشکو په ګلاب

چې د سپې آوازې واورم هسې خوښ شم … لکه څوك په نغمه خوښ وي د رباب

ماوې ګوندې مخ یې ووینم په خوب کې … باري څېرې شي یې یاره د چا خواب (۶)

په غزل کې خود وه بیته انتخاب وي (۷)

٤٩

٦٤١

د رحمان تمام غزل دی انتخاب

هر مطرب چې غوږې تاو کا د رباب … په داناو کې زما زړه کاندي خراب (۸)

چې سامع یې په نغمه په ترانه شم … دېوانه شم ګرېوان څیرې مست خراب

هم یې تار هم یې ګفتار هسې اثر کا … چې هېڅوك یې نه طاقت لري نه تاب

یو یې ساز بل یې آواز دی د لښتیو … دریم شعر یې آغاز کا انتخاب

څلورم یې یو ساقي د ځنګه ناسته وي (۹) … چې مخ یې نه آفتاب وي نه مهتاب

داڅلور واړه فتنې په څلور کنجه … او پنځم یې صراحي د میو ناب

شپږم وخت د نوبهار او وم ځواني دې … اتم شغل د کتاب هم رباب (۱۰)

چې دا هوم آفتونه سره ټول شي … تر و څوك څرنګ ځنې کاندي اجتناب

---

(۱) د دې غزل نهم بیت په مصور نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې د "وېلوري" پر ځای "وسپاري" راغلی دی.

(۲) قلمي نسخې: "دا هلال په ځای راښيي د رکاب". د "خ" دوهمه نسخه: "د هلال پر ځای یې ونښلي رکاب".

(۳) "ق.ك" چاپ او "ق" چاپ: "کنه ولې په لاس نیولی دی مهتاب". د "خ" دوهمه نسخه: "کنه ولې په لاس سپوږمۍ هم د آفتاب".

(٤) چاپي دیوانونه: "چې په یاد کې مې سرې شونډې سپین رخسار دی".

(۵) "ق" او "ق.ك" چاپ: "راته هېڅ شي د ګلونو آب وتاب".

(٦) چاپي دیوانونه: "ماوې مخ یې ګوندې ووینم په خوب کې … باري څېرې شي یې یاره خورد وخواب".

(۷) د "خ" لومړۍ نسخه: "په غزل کې یو دوه بیته انتخاب دي".

(۸) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "خراب" پر ځای "کباب" راغلی دی.

(۹) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړۍ نسخه: "څلورم یې یو ساقي تر څنګه کښیني".

(۱۰) قلمي نسخې: "شپږم وخت د نوبهار او د ځوانۍ … اوومه شغل د بیاض و د کتاب"

Marfat.com

چې د اهسې دلبران پرې اثر نه کا — یا به دیو وي یا دېوال وي یا دواب
راڅرګند به شي پرهېز د پرهېزګارو — که قادر شي په شاهد او په شراب (۱)

## ۵۰

۶۵۲

زه رحمان له ریا زهده (۲) پناه غواړم — د ریا زهد عذاب دی هم عتاب

ورقونه لټوم د هر مکتوب — یکې غواړم خال وخط د خپل مطلوب (۳)
یا تنور دی یا دکان د اهنګرو — چې په عشق کې تصور کړم خپل قلوب
په خندا خندا ځان اچوي وا ورته — خدای څوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب (۴)
زه چې غم د هر ویانو راپه زړه کړم — له دې غمه ولاړ شي زړه راڅخه ډوب
ګوره څرنګ عشق آسان کړه و عاشق ته — دا مشکل مشقتونه د ایوب (۵)
په ژړا ژړا تر هسې حده راغی — چې ځان روند کړ په یوسف پسې یعقوب
عشق دې دا چې معشوقه شوه و عاشق ته — نه د رخسار د هر و یانو په اسلوب (۶)
هغه څه پوښتي له هجره له وصاله — چې په خپله هم محب شي هم محبوب

## ۵۱

۶۶۱

چې نظر یې له صورته په معنو کړ (۷) — و رحمان ورته یکسان شو زشت و خوب

چې نظر کړم په قسمت او په نصیب — راته هېڅ شي خپل تلاش و خپل ترتیب (۸)
مګر خود په خپله خدای دې چا طبیب شي — ګنه نشته په جهان کې بل طبیب
راڅرګند دی په سود او زیان د رقیبانو — که خدای نه کاندي خپل یار د چا رقیب (۹)
چې خپل یار د چا رقیب شي دلیل دا دی — لکه څوک چې په وطن کې شي غریب (۱۰)
چې غریب شي په وطن کې فرق یې نه وي — که فرسنګ یې وي ترمیانه که جریب
ما په عشق کې هېڅ حاصل نه کړه بې غمه — هرچې والي واره (۱۱) سنه والي ادیب

---

(۱) مصور نسخه: "که قادر شي څوک په شهد و په شراب". (۲) په "ق" چاپ او د "خ" لومړي نسخه کې "پرهېز" او په "ق ک" چاپ کې "امان" راغلي دي.

(۳) دا مسری په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "یکې غواړم خال وخط د خپل محبوب". د "خ" لومړۍ نسخه: "او یکې غواړم څو خال د هر مطلوب".

(۴) دا بیت د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "په خندا خندا ځان اچوم وا ورته — خدای څوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب". خو په لومړۍ قلمي نسخه کې د "مجذوب" پر ځای "میزوب" راغلی دی. په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "په خندا خندا ځان اچوي بل او ورته — خدای چې څوک کړي په جذبه د عشق مجذوب".

(۵) چاپي دیوانونه: "ګوره عشق څرنګ اسان کړه و عاشق ته — دا مشکل مشقتونه د ایوب". د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ایوب" پر ځای "د عیوب" راغلي دي.

(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نشته، د دې بیت په لومړۍ مسرۍ کې د "شو" پر ځای په "ب" چاپ کې "شته" په "پ" چاپ کې "شوه" د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې "شي" او "ب" په دوهمه نسخه کې "واه" راغلي دي.

(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "چې نظر یې له صورته په معنو کې — و رحمان ورته یکسان شي زشت و خوب".

(۸) د دې ردیف غزل بیتونه د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دي راغلي. (۹) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې دی: "راڅرګند دي سود و زیان د رقیبانو — که خدای دې نه کاندي خپل یار د چا رقیب". په "پ" چاپ کې: "راڅرګند دي سود و زیان د رقیبانو — که خدای نه کاندي خپل یار د چا طبیب". د "خ" لومړۍ قلمي نسخه کې: "راڅرګند دي پسورا واز د رقیبانو — که خدای نه کاندي خپل یار د چا رقیب".

(۱۰) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "چې خپل یار د چا طبیب شي مثال دا دی — لکه څوک چې په وطن کې شي غریب". مګر د "خ" لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې راغلې ده: "لکه څوک چې خپل وطن کې شي غریب".

(۱۱) په "پ" چاپ کې د "واره" پر ځای "هغه" راغلي دي او دوهمه مسرۍ یې د "ب" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "هرچې والي واره بد والي ادیب".

Marfat.com

٥٢ دښمن هم د سري کله دوست شي
دوستي نه کا له رحمانه سره حبیب ٦٦٨

زه په سل رنګه راغب ته په سل رنګه غایب
دا به څرنګ شي دلبره چې زه مست یم ته تایب
که له جوره دې فریاد کړم دا هم نه دی مناسب
که څه وایم نه مې رسي زه مغلوب یم ته غالب
څه سیالي برابري ده د مطلوب او د طالب[1]
دا ستا مهر و محبت کړو خدای په ما باندې واجب
درد و غم دې هومره نه دی چې یې وکښم په کاتب
جدايي ده ډېره سخته دا ارواح او د قالب
چې مجنون په څنګ دن شو[2] زه یې پرېښودم نائب
وصیت یې راته وکړو په څو رنګه[3] عجایب
٥٣ چې روزي دې شه رحمانه
زما واړه مراتب ٦٧٩

له مې وشي له دلبره ملاقات
پس له دې مې د استوګنه خدای نصیب کا

بیا به نه غم له دې دره په حیات[4]
په دا درګې که حیات وي که ممات

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "چې مجنون له دې جهان ته".
(۳) "ق" او "ق ک" چاپ: "په سل رنګه".
(۴) دا مسری په "پ یا" چاپ کې داسې راغلی ده: "یا به نه سم له دې دره په حیات".

Marfat.com

خای لری که زه و یار وته سجده کړم(۱) — هغه یار زما قبله دی دحاجات(۲)

دخپل یار تر لعلو لبو به یې زار کړم — که شکرې وي که قند وي که نبات

دا زما دیار جلوه ده چې لیده شي — لکه لمر په صومعه د سومنات(۳)

تر ما لا په دلبرانو ډېر مین دي — چې خبرې کا د کشف او کرامات

دریاله زاهده زما توبه ده — چې یې کا ندي خوك په رسم او په عادات

په ورځ پند او نصیحت والي وبل ته — په شپه ناست وي د مغان په خرابات

دین یې دام وي د دنیا په لار کې ایښی — پرې را ړوي وحشیان د مخلوقات(٤)

د هغو په لور یې سترګې وي ختلي — چې په لاس یې سر سایه وي یا زکات

زه رحمان له هسې اهله پناه غواړم(۵) — هرچې لاف کا په خلاف دمقامات

٥٤

٦٨٨

آفرین دعاشقانو په همت — چې په عشق کې یك انداز وي یك جهت

نه یې هیڅېرې تغیر نه یې تبدیل وي — که تمام جهان پرې والي ملامت

که خوك سل نصیحتونه ورته کاندي — غوږ یې نه وي دهیچا په نصیحت

چې په یار پسې تر ځان تېر تر جهان تېر شي — خوك کولی شي داهسې مشقت

که تمام عمر یې یار په ستر ګو ناست وي(٦) — تمام عمر ورسنکار پرې یو ساعت

که یو دم شي هغه یار ورته خفه لرې — هغه دم شي ورته عمر دقیامت

که دوزخ لره دیار په مینه ورومي — دوزخ هم ورته جلوه(۷) کا دجنت

دعشق لار د توکل په پښو غوڅېږي — نه په پښو د ریاضت او دیانت(۸)

په تدبیر او په تلاش کله مونده شي — چې موقوف وي هغه کار په عنایت

---

(۱) ... دیوانونو کې د "خای لری" پرځای "ښایي دا" راغلی دی.

(۲) ... د "ح" ... لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: "هغه یار که قبول که دعاحاجات". د "غ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "هغه یار زما قبله دی هم حاجات".

(۳) ... په ... چاپ کې داسې راغلی ده: "لکه لمر په صومعه او په سومنات". په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "لکه لمر په صومعه وسومنات".

(٤) ... د "ح" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "ایښی دام وي د دنیا په لار کې ایښی — پرې را ړوي وحشیان او مخلوقات".

(۵) ... د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "زه رحمان له هسې عالمه پناه غواړم — هرچې لاف کا په خلاف دمقامات".

... د "ح" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "زه رحمان حال پناه غواړم د خدای نه — هرچې لاف کا په خلاف دمقامات".

(٦) ... د "ح" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "که تمام عمر یې یار په عبرت کې ناست وي".

(۷) ... په دوهمه قلمي نسخه کې ... راغلی ده: ...

... "هم ورته کوخه کا دجنت".

(۸) ... لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "نه په پښو د ریاضت دوابت".

٥٥

دعاشق خاطر له غیرو پاکیزه دی — د دریاب په مخ کې نه وي نجاست

خدای چې زړه د مطلوب کاڼي کړ رحمانه[1]

کاڼي پریوت د طالب په عمارت

٦٩٩

---

٥٦

وصال شپې بدله په بېلتون شوه الغیاث — د قیامت خوارې را پېښه په ژوندون شوه الغیاث

مالا الطمع د وصال نعمتونو ترې کوله — ناګهان کاسه[2] نسکوره د ګردون شوه الغیاث

هغه چارچې مې په لاس وه زه پرې نه وم پوهېدلی[3] — اوس چې پوه شوم له اختیاره مې بېرون شوه الغیاث

د وصال په طمع طوق د جدایي شو راپه غاړه — هغه طمع چې زما وه اوس طاعون شوه الغیاث[4]

په حکمت په عقل پېښې د عشق اخستې خوک نه شي[5] — په دا کار کې ما ملامته د افلاطون شوه الغیاث

رحمان ما ځکه دیار وصال په اسانه مونده لی نه دی[6]

زرد رویي مې سرخ رویي په ځګرخون شوه الغیاث

٧٠٥

یار یاري را سره نه کړه الغیاث — نه لي ترس شي نه لي کړکه الغیاث

سر و مال واړه زما و دلارام ته — نه ارزېږي په کنجکه الغیاث

په حملو حملو مې زړه وړي نه پوهېږم[7] — افریدی ده که ختکه الغیاث

بېلتانه لي پېښور راته تنور کړ د — له خېبره تر اټکه الغیاث

---

(۱) دا بیت د "خ" په قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "چې خدای زړه د مطلوب نرم کړ رحمانه کاڼي بوټي پروت طالب په عمارت".
او دوي بیت دوهمه مسری د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "کاڼي پروت وي د طالب په عمارت".

(۲) په چاپي دیوانونو کې "پیاله" راغلې ده.

(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "زه پرې هېڅ نه پوهېدلم".

(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(٥) مصوره نسخه: "په حکمت په عقل کله څوک په عشق پوهېږي".

(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "ما رحمان مثال په اساني موندلی نه دی". د "پ" چاپ کې د "اسانه" پر ځای "اشنایي" راغلي ده.

(٧) د "خ" لومړۍ نسخه: "په حملو حملو يې زړه را غځېدو ره".

خوچې راکاږي چوګان په مخ دزلفو — ګوي زما د اخراب زړه کړه الغیاث

هیڅ سبب مې لیده نه شي جفا کاندي — نه پوهیږم چې پخه کړه الغیاث

په اخلاص وپه راستي ورته ولاړ یم — یار جفا هومره په څه کړه الغیاث(۱)

سل خبري کړه له صدقه ورته وکړم — یار یوه راسره نه کړه الغیاث

چې مې وینې له رقیبه سره خاندي — په ژړا مې لیمه سره کړه الغیاث

زه رحمان مدام دیار په رضا درومم
یار په خپله رضا تله کړه(۲) الغیاث

۵۷ — ۷۱۵

چې ولې مې له تا دي دا حدیث — سرنامه دهر انشاء(۳) دي دا حدیث

چې آغازي کړه په مدحه دخوبانو(٤) — خکه ګنج بې بهادي دا حدیث

په ثنا د دل پسند و دلربا و(۵) — دل پسند او دلربا دي دا حدیث

لکه باد د صبحدم چې غوټۍ واکا — هسې رنګه دلکشا دي دا حدیث

چې اوصاف مې د سرو شونډو کړي راوړه — خوږ تر قند و تر حلوا دي دا حدیث

نه پوهیږم چې اوبه دي د حیاتو — که نفس د مسیحا دي دا حدیث

دغونډو ژبو شاعرانو خولې نه دي — خکه هسې ونګ صفا دي دا حدیث

ستا د مخ نه که خوک شمس و قمر وایي — دروغ نه دي په رښتیا دي دا حدیث

که خوک وایي چې چاکړي دا حدیث دي
رحمان وایي چې زما دي دا حدیث

۵۸ — ۷۲٤

چې برهم کا عاشقي دچا مزاج — حکیمان یې درمانده شي په علاج

په آشنا پسې تل ژاړي په دوه سترګو(٦) — داوبو په ځای خوناب کاندي اخراج

(۱) دا بیت اد وروستي دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته. "ق،ک" چاپ، " یار وفا راسره نه کا الغیاث"
(۲) د "خ" لومړۍ نسخې کې د "تله کړه" پر ځای "نه کړه" راغلي دي.
(۳) د "خ" دواړو قلمي نسخو او "ب" په دوهمه نسخه کې: " سرنامه دهر اشنا دي دا حدیث".
(٤) د "خ" دوهمه قلمي نسخه: "چې آغازه یې کړه مدح دخوبانو".
(۵) د "ب" دوهمه او د "خ" لومړۍ قلمي نسخه: " په ثنا د دل پسند و دلبرانو".
(٦) دا مسره د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: " په اشنا پسې تل له دواړو سترګو".

دواړه لاس یې وې له دواړو کونو وللي — ډوب وې تل دعاشقۍ په لوی امواج (۱)
په هغو کې چې څه بوی دعاشقۍ وي — پکې نه وي بوی د رسم او د رواج
ابراهیم ادهم څه هسې نادان نه ؤ — چې نظر یې یا په تخت ؤ یا په تاج (۲)
مجنون هسې رنګ مین په لیلی نه ؤ — چې په نورو یې موقوف وې احتیاج (۳)
لېونتوب له لېونیو تلونی نه دی — که یې راج په خونه وشي که تاراج

۵۹ — ۷۳۲

کړ یې سر لکه منصور غوندې په دار شي
دغه دار دی و رحمان وته معراج

په طلب دې مې ویانو سرګردان دی زما روح
لکه باد د ګل په بوی پسې پرېشان دی زما روح
ستا د حسن و آفتاب ته ځان سپاری په تبسم کې (۴)
لکه صبح د ژړا په ځای خندان دی زما روح
چې مې ولید د ستا د جمال عکس په خپل ځان کې
هم په داد آینې په څېر روښان دی زما روح (۵)
ستا د مخ د آینې له برکته زما جانانه
همېشه لکه توتي هسې ګویان دی زما روح

(۱) دا مسرۍ په "ب" چاپ او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "ډوب دي تل د عاشقۍ په امواج".
(۲) دا بیت د "ب" په دوهمه او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "ابراهیم ادهم هسې نادان نه دی چې نظر یې یا په تخت وي یا په تاج".
(۳) دا بیت د "ب" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "مجنون هسې رنګ مین په لیلی نه دی چې په نورو یې موقوف دی احتیاج".
د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "مجنون هسې رنګ مین په لیلی نه دی چې له نورو یې موقوف وي احتیاج".
(٤) چاپي دیوانونه: "ستا د حسن و آفتاب ته چې سپارلی ځان شبنم دی". د "خ" لومړۍ نسخه: "ستا د حسن آفتاب ته ځان سپارلی د شبنم کې".
مصوره نسخه: "ستا د حسن و آفتاب ته ځان سپارم په شبنم کې".
(۵) چاپي دیوانونه: "چې مې ستا د جمال عکس دی لیدلی په خپل ځان کې هم په داد آینې په څېر حیران دی زما روح".
د "خ" لومړۍ نسخه کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "چې یې ولید د ستا د جمال عکس مخ پله".

لکه رنګ د ميو نابو چې لېده شي په شيشه کې — هسې رنګ په ضعيف تن کې نمايان دی زما روح

منتظر دی د وصال د ګلستان يم تل تر تله — سر تر پايه د شبنم په څېر چشمان (١) دی زما روح

چې حاصله مې له حسنه روښنايي شوه په طلب کې — شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان دی زما روح (٢)

ستا په زلفو په رخسار پسې رحمان (٣) يم بې وطنه — مسافر د هندوستان خراسان دی زما روح

٧٤٠

٦٠

ستا وصال دی رابسېلی زما روح — ستا هجران دی رانبولی (٤) زما روح

ستا په مخ پسې يې مخ ونيو راهي شو (٥) — له صورته دی وتلی زما روح

چې هرګز ملك الموت پرې نه پوهېږي — هسې شان دی تا وکښلی زما روح

ځان يې هسې ستا په مينه پسې ورك کړ — چې هيچا نه دی لېدلی (٦) زما روح

که وي هم به نا څرګند وي کډې خدای کا — نه دی بلې خواته تللی زما روح

بلبل نه دی دا چې الوځي په ګلو — ستا په لور دی الوتلی زما روح

چې يې خاوري کړ صورت دستا په در کې — سر تر عرشه دی وکښلی زما روح

نه يې پېژنې چې څه دی يا څه نه دی — نور چا نه دی پېژندلی زما روح (٧)

زه رحمان له خپله ځانه خبر نه يم (٨) — چې په څه رنګ دی وکښلی زما روح

٧٤٩

٦١

---

(١) ق، ک" چاپ کی "ګرېبان" راغلی دی.

(٢) دا بيت په مصوره نسخه کی نشته.

(٣) په چاپي ديوانونو کی د "يم" پرځای "ستو" راغلی دی.

(٤) په چاپي ديوانونو او د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کی "پېڅودلی" راغلی دی.

(٥) چاپي ديوانونه: "ستا په مخ پسې مې درست وجود راهي شو". د "خ" لومړۍ نسخه: "ستا په مخ پسې مې ويني راهي شوې". د "خ" دوهمه نسخه: "ستا په مخ پسې مجنون غوندې راهي شو" او مصوره نسخه: "ستا په مخ پسې مې وينې چې راهي شو".

(٦) په چاپي ديوانونو کی "موندلی" راغلی دی.

(٧) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کی نشته.

(٨) چاپي ديوانونه: "زه رحمان له خپله ياره خبر نه يم چې يې څه شان دی کوتلی زما روح". د "خ" دوهمه نسخه: "چې په څه رنګ دی وتلی زما روح".

Marfat.com

# خ

٦٢ — ٧٥٩

اے سحر سبا لیدلی ئې د چا مخ — چې مې د رسته ورځ ونه لیده داستا مخ

داخو مخ زما و تا و ته خدایے هیڅ کړ — ګنه هر یو آشنا ګوري د آشنا مخ

ډېر مخونه د جفا دې راڅرګند کړل — لا به کله راڅرګند کړې د وفا مخ

خود مرګ په تماچه اوښتی نه دی — اوښتونی له تا نه دی دا زما مخ (١)

زه په تا پسې راغلی په دا مخ یم — که ته نه وې ما به څه کول په دا مخ

ما به څه لره په تا پسې ژړا کړه — که موندهٔ شوی بل دستا په څېر زېبا مخ

د رقیب طمع مې نه وه ستا په در کې — را دې وښود په جنت کې د بلا مخ (٢)

زه به څرنګ د رقیب و مخ ته ګورم — کله اهل سنت ګوري د ترسا مخ

د چکنا چکنی ببلتون په نیمه شپه وے — ستا زما په حال غماز شو د سبا مخ (٣)

رحمان ستا په مخ داورانه دنیا ګوري
خدای بې تا راڅرګند مه کړه د دنیا مخ (٤)

کله شو لا کله خریدار یم ستا د مخ — تېر تر سر و ماله په بازار یم ستا د مخ (٥)

بې دستاله مخه نور مې هیڅ په مخ کې نشته — هسې رنګ نتلی په ناتار (٦) یم ستا د مخ

هیڅ په ستر ګو نه ویم دا خپل صورت چې کوم دی — ډوب تر هسې حده په انوار یم ستا د مخ (٧)

درد و آه و کاږم بهانه د تماکو کړم (٨) — سوی لوغړن مدام په نار یم ستا د مخ

نور و ګړي واړه همګي د دنیا کار کا — زه همېشه غرق په انتظار یم ستا د مخ

---

(١) چاپي دیوانونو او د "خ" لومړي او دوهمه نسخه: " اوښتونی له تا مه ګڼه زما مخ ".

(٢) "ق. ک" چاپ: " په جنت کې خدای را وښود د بلا مخ ". نور چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې: " په جنت کې دې را وښود د بلا مخ ".

(٣) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(٤) چاپي دیوانونه: " خدای بې تا ورڅرګند مه کړه د دنیا مخ ".

(٥) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

(٦) په مصوره نسخه کې د " ناتار " پر ځای " انتظار " راغلی دی.

(٧) د "خ" دوهمه نسخه: " سوی لوغړن یم زه په نار دا ستا د مخ ".

(٨) قلمي نسخې: " درد و آه و کاږم په بهانه د تماکو ". او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

٦٣

شکر چې یې خلاص کړم د نور خلقو له منته — سر په سجده ایښی منت باریم ستا د مخ

هر خوا چې د روم زه رحمان د زړه په سیل (۱)
بل مطلب مې نشته طلبگار یم ستا د مخ

٧٦٦

چې پیدا شو ستا چشمان داهسې شوخ — نور به نه وي مردمان داهسې شوخ
کږې زلفې کج ابرو لکه چې ستا دي (۲) — نه لرم رشته نه ماران داهسې شوخ
د برغمونه شوخ شوخ شته په دا دنیا کې (۳) — ولې نه لکه هجران داهسې شوخ
مگر دیو وي چې یې غم وي په هجران کې — گنهم نه به وي انسان داهسې شوخ
دا فتنې او فسادونه به وو چیرې — چې پیدا نه وي آسمان داهسې شوخ
د آشنا له غمه زړه د آشنا نه چوي — آفریده کړه خدای جهان داهسې شوخ (٤)
چې یوسف یې د دنیا په مطاع ورکړ (۵) — پیدا مه شه بل کاروان داهسې شوخ

٦٤

چې بوسه له یاره غواړې بې ادبه
خدای دې نه کاندې رحمان داهسې شوخ

٧٧٤

---

---

بادشاهانو که قصرونه کړل بنیاد — ما د عشق عمارتونه کړل آباد (٦)
نوم د کوم یو بادشاه هسې یادیږي — لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد (۷)

---

(۱) "ق ک" چاپ کې د (سیل) پر ځای "مینه" راغلی ده. (۲) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "کږې زلفان کج ابروان لکه چې ستا دي". د "پ" لومړي نسخه: "لکه کږې زلف کج ابرو دستار کج دي". او د "پ" په دوهمه قلمي نسخه او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "لکه کږې زلف کج ابروي ستا دي".

(۳) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "د برغمونه شوخ شوخ شته په جهان کې". په "پ" چاپ او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "د برغمونه شوخ شوخ شته دي په جهان کې". د "ب" په دوهمه نسخه کې: "د برغمونه شوخ شوخ شته په دا جهان کې". او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "د برغمونه شوخا شوخ شته په دنیا کې".

(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "د آشنا له هجره زړه د آشنا چوي آفریده کا خدای جهان داهسې شوخ".

(۵) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "چې یوسف غوندې یې د دنیا په مطاع پلوري". د "ب" دوهمه نسخه کې: "چې یوسف د دنیا په متاع پلوري" راغلی دی.

(٦) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "ب" په دوهمه قلمي نسخه او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "بادشاهانو که قصرونه کړل آباد ما د عشق عمارتونه کړل بنیاد". او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "بادشاهانو خو قصرونه کړه آباد ما د عشق عمارتونه کړه آباد".

(۷) دا مسرۍ په "ب" چاپ او د "خ" په قلمي لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه نوم دی د مجنون او د فرهاد".

Marfat.com

عشق عاشق لره یو هسې پیر استاد دی — چې به ندوي بل داهسې پیر استاد (١)
دغه واړه کرامات د عاشقۍ دي — چې څوک قطب کا څوک غوث کا څوک اوتاد (٢)
د دنیا چارې همه واړه فاني دي — څوک په خدا کا په دا چارو اعتماد (٣)
لکه سیوری چې د لمر په مخ کې ګرځي — نه استوګنه چېرته کاندي نه استاد
هیڅ وفا یې له هیچا سره و نه کړه — که جمشید وُ که بهمن وُ که قباد
که جمشید وُ که بهمن وُ که قباد وُ — که نمرود وُ که فرعون وُ که شداد (٤)
رسولي یې ترمراده هیڅوک نه دي — همه واړه هسې پاتې شو نامراد
ندچا ختم نه دعا ورپسې وکړه — که یې آل که یې عیال وُ که اولاد (٥)

٩٥

زه رحمان د زماني له جوره د ر و مم
خپل صاحب لره په داد او په فریاد

٧٨٥

که قاصد یې د مقصود — اواره کړه زیان او (٦) سود
هر چې د رښتیا په مخ کې (٧) — واړه وګنه بهبود
هر چې وي سبوا له خدایه — واړه وګنه نابود (٨)
رضا پاسله وقضا ته (٩) — مدام خوښ اوسه خوشنود
وهستۍ وته جلوه کا (١٠) — لکه ابر هسې دود
ته و ځان وته نظر کړه — چې قبول یې که مردود
نندارچي د خپل صورت شه — چې مسلم یې که جهود

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(٢) دا بیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې یې لومړی مسری داسې راغلی ده: "دغه واړه کرامت د عاشقۍ دی".
(٣) دا مسری په چاپي دیوانونو او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلی ده: "څوک به خدا کا به دا چار د اعتماد".
(٤) دا بیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی او لومړی مسری یې په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "که جمشید وُ که بهمن که کیقباد وُ".
(٥) دا بیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(٦) پوازې په "ب ب" چاپ کې "او" راغلی دی په نورو ټولو قلمي نسخو او "ب" چاپ کې "و" راغلی دی.
(٧) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "ب" چاپ: - "هر چې د رښتیا سته په ورانديې". د "پ" لومړی نسخه: "هر چې د رښتیا به مخکښې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "هر چې د ربه شي په مخ کې".
(٨) دا بیت په "ب ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "هر چې دی بغیر له خدایه همه وشمېره نابود".
لومړی مسری یې د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: "هر چې د رښتیا له خدایه" په "ب" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې د دې مسري د "هر چې دی" پرځای "هر چې دی" راغلی دی.
(٩) دا مسری په "ب ب" چاپ کې داسې راغلی ده: "رضا وسپاره قضا ته". او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "رضا پا سوله قضات".
(١٠) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "جلوه کا" پرځای "نظر کړه" راغلی دی. او دا مسری د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی ده:
"وهستی وه جلوه کړه".

Marfat.com

اُمتی دابراهیم شه ــــ تابع مه شه د نمرود
دغفلت له خوبه پاخه ــــ خوبه اوسې خواب آلود
مُقیِد (۱) اومشغول اوسه ــــ په دعا او په درود
آسمان طوره په رکوع شه ــــ زمین طوره په سجود
هر (۲) اشیا دحق ثناکا ــــ په نغمه لکه داود
که بیدارشې خود به اورې ــــ په هر لورې داسرود (۳)
که آیازشې بندګي کې (٤) ــــ نوربه نازکړې په محمود
هر (۵) اسباب د بنود بود ــــ مُهیا دی هم موجود
که دانایي وبله بېل کړه ــــ فرموده ونا فرمود (۶)
چې سپند نه شي په اور کې (۷) ــــ نه وي خوند دبوی دعود (۸)
ځان له غشه (۹) پاک بېزه کړه ــــ لکه بحر نامعدود
هلاك ځکه شو رحمانه ــــ چې بې پاك نه شو وجود (۱۰)

۶۶ ــ بې دیار له ذکره ــ ۸۰۵
نه زده بل ګفت وشنود

زه که لاف د وفا کوم هر چند (۱۱) ــــ هغه یار مې با ورنه کا په سوګند
زه بې یاره هسې ژیست کم په جهان کې ــــ لکه ژیست وي (۱۲) په مجمر کې د سپند

---

(۱) پوازې د "پ" په لومړي نسخه کې "منتقید" راغلی دی په نورو ټولو کې "مقید" راغلی دی.
(۲) په "پ" چاپ کې د "هر" پرځای "ټول" راغلی دی.
(۳) دابیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی او لومړي مسرۍ یې په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "که بیدارشې خود به دا درې".
او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "که بیدار شې دا به اورې".
(٤) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "که ایاز شو ندې بنده شې". په "پ" لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "که ایاز شې بندګي کې".
او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې دا ټول بیت داسې راغلی دی: "له ایاز شه په بندګي کې نور به نازکړه په محمود".
(۵) په "ب" چاپ کې د "هر" پرځای "ټول" راغلی دی. او دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی.
(۶) دابیت د "خ" په لومړي او د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او لومړۍ مسرۍ یې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "هر دانایي د بله بېل کړه".
(۷) په "ب" چاپ کې د "چې" پرځای "څو" راغلی دی.
(۸) دا مسرۍ د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "نوی خوند بوی دعود". د "پ" په دوهمه نسخه کې: "نوی خوند دلوی دعود".
او په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "نه وي خوند او بوی دعود".
(۹) په "پ" چاپ، "ب" چاپ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې د "غشه" پرځای "خښته" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "غلوغشته" راغلی دی.
(۱۰) دابیت د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې نه دی راغلی په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "هلاك ځکه شې رحمانه چې پاك نه شې داوجود".
په "پ" چاپ کې دابیت داسې دی: "هلاك ځکه شه رحمانه چې پاك نه شه داوجود".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دابیت داسې راغلی دی: "هلاك ځکه شه رحمانه چې پاك نه شه داوجود".
(۱۱) مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "زه که لافې د وفا کړم هر چند". د "خ" په لومړي نسخه کې د "کړم" پرځای "کوم" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "چم" راغلی دی.
(۱۲) د "خ" په لومړي نسخه کې د "وي" پرځای "دی" راغلی دی.

Marfat.com

آبرو یې د طالبانو خپل مطلب[۱] وي
آبرو یې د غلامانو خپل خاوند

لکه یار مې سربلند دی په جهان کې
په تأثیر یې هسې زه شوم[۲] سربلند

چې مې مدحه د خوبانو کړه آغازه
هر کلام مې دل پذیر شو[۳] دل پسند

لکه خوند لري زما خوږې خبرې
په شکرو کې هم نشته هسې خوند

هغه قند چې خدای زما په خوله کې کیښود
حلوایانو څخه نشته هسې قند

لکه زه چې سخندان و هنرمند یم
بل به نه وي سخندان و هنرمند[۴]

په اشعارکې قوت ناک لکه مزری یم
ولې نه یم د مزري په خېر ګزند

هم په مدح بند پوهېږم هم په هجوه
ولې نه یم په دا چارو دېر خورسند[۵]

بې له عشقه که مې عیب که مې هنر دی
ما غوږ کړی دی له څانه بل پیوند

زه عاشق یم سروکار مې دی له درده[۶]
نه خلیل نه داود زی یم نه مهمند

چې وما ته نصیحت کا څوک په عشق کې
ګویا پلار ته نصیحت کا ندي فرزند

هر سړی چې آیینه په لاس کې خاندي
ګویا کاندي په خپل ځان پورې ریشخند

۹۷
رنګ ریزان دي او ځپلې رنګ د یار کا
بیا هاله دي ورحمان ته وایي پند[۷]
۸۲۰

---

چې مې یار ولید په سیمه د اغیار ګل
له غیرته مې لیمه شوه په خونبار ګل[۸]

د غه حق د بلبلانو په جانب دی
خدای دې نه کا مبتلا په لاله زار ګل[۹]

---

(۱) د "خ" په لومړي نسخه کې د "مطلب دی" پر ځای "مطلب دی" راغلی او د "خ" په دوهمه نسخه کې "محبوب دی" او د "پ" په دوهمه نسخه کې "مطلوب دی" راغلی دی.

(۲) په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړي نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "شوم" پر ځای "یم" راغلی دی.

(۳) په "پ" چاپ کې د "شو" پر ځای "دی" راغلی دی.

(۴) دا بیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه زه چې سخندان هنرمند یم بل به نه دی سخندان هنرمند".

(۵) دا بیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي دیوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی مسرې داسې راغلې ده: "هم په مدح هم په هجو بند پوهېږم". خو د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا مسرې داسې راغلې ده: "هم په مدح بند پوهېږم هم په پوهېږم".

(۶) دا مسرې په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه". د "خ" په دواړو او د "پ" په قلمي نسخه کې د "سروکار" پر ځای "سرېکار" راغلی دی.

(۷) دا مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "نور بیا هاله دي رحمان ته وایي پند".

(۸) مصوره نسخه: "خدای دې نه کا مبتلا په لاله زار ګل".

(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

Marfat.com

زه په وصل کې هجران هسې پېژنمه (۱) — لکه څوک چې خالي لاس وي په بازار ګډ
زړه مې بې خپله نګاره آرام نه کا — که هر څو يې کړم په نقش وپه نګار ګډ (۲)
په امېد د زلفو ونښتم په دام کې — روهيلي و مرساده دل په هندوبار ګډ
د دېدن په ګدايي کې مې ننګ نه شي — درويزه کړم د بتانو په ديار ګډ (۳)
د وفا د ګلو پاڼې پکې نشته — کاشکې مه وي د دې هم په ګلزار ګډ
که څوا تر آشنايي به بېلتون ليدې شوي — هېڅ بنده به د خدای نه وُ په دا کار ګډ
۶۸ زه رحمان يې د فردوس له غمه خلاص کړم — چې په کلي په کوڅه شوم د خپل يار ګډ ۸۲۹

پـه بزرګيه (۴) هغه پاک پروردګار — موقوف مه شه په سړي د سړي کار
په سړي چې د سړي غرض موقوف شي — نور يې آب يې حرمت شي رو زګار
احتياج هسې بلا دی په جهان کې — چې پلار زوی کا د زوی او زوی د پلار
که د پير په خپل مريد باندې غرض وي — هېڅ يې نه وي په مريد باندې وقار (۵)
زمانه هسې په محمد ده بې رويه — چې غالب کا په اسلام باندې کفار (۶)
په ساعت کې شاه ګدای کا ګدای شاه کا — دا فلک څکه بالاشي کج رفتار (۷)
چې همه عمر يې تاج وي په سر ايښی — ور په سر کاندې ګيډۍ د خس و خار (۸)

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خراب کړم" راغلي دي.
(۲) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) چاپي ديوانونه، د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "درويزه ګرېم د بوتانو په بازار ګډ".
(۴) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "په پاکيه" راغلي دي.
(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو کې نشته.
(۶) دا بيت په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "دا فلک څکه پيدا شو کج رفتار".
(۸) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

چې قادر نه په درم و په دینار وي — په هغو باندې گنجونه کا انبار

٦٩ — ۸۲۸

زماني د رحمان زړه دې کباب کړي
له احواله يې څوک نه دي خبردار

هومره اوښکې مې بهېږي په رخسار(۱) — چې غرقاب مې هم گرېوان دی هم کنار
هغه يار مې هسې ناست د زړه په سر دی — لکه اېښې چې(۲) چا گل وي په دستار
که څوک والي چې مار کله په کټ خېژي — زه خوړلی یم په کټ د زلفو مار(۳)
خو دیار بیمارې سترگې خدای خوني کړي — گنهه خون کله کولی شي بیمار(٤)
که په دار شم زه دیار له لاسه خوښ یم — سروقد دی زما یار او زما دار(۵)
بسکه(۶) دا چې زه په یار پسې غوځ غوځ یم — خدای دې نه کا لکه زه یم هسې یار
هومره جور لکه یار له ما سره کا(۷) — یادې نه دی هومره جور د اغیار
دلبران کوي چې جادوگري زړونه اخلي — هغه وایه چې بې کوړو وي دلبدار(۸)
چې د زړونو له نما نځلو بې پروا دي(۹) — تروکه زړه د سرې یوسي څه به کار

۷۰ — ۸٤۸

په گرېوان یې تل داوښکو باران اوري(۱۰)
نه ورکېږي د رحمان د زړه غبار

چې دې زړه پورې ترلی استوار — دا جهان دې د نیکه دی که د پلار(۱۱)
ته خیل پلار او نیکه وگوره چې څه شول — هسې ستا دی په هغو پسې رفتار(۱۲)

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه : "هسې سرې اوښکې مې بهېږي په رخسار".
(۲) په "ب" چاپ ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې د "چې" پرځای "د" راغلی دی.
(۳) دا مسرې د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "زه خو و خوړم په کټ د زلفو مار".
(٤) دا مسرې د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده : "گنهه خون کله کولی شي په بیمار".
(۵) دا مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : "سروقد دی زما یار زما دلدار". د "خ" په لومړی نسخه کې : "سروقد دی زما یار هم زما یار". په دوهمه نسخه کې "سروقد دی زما یار دی دغه دار". او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "سروقد دی زما یار هم زما دار".
(۶) په "پ" چاپ کې د "بسکه" پرځای "بس کړه" راغلی دی.
(۷) دا مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : "هومره جور لکه یار چې ما سره کا". په "پ پ" چاپ کې "هومره جور لکه چې یار ما سره وکړه" د "خ" په لومړی نسخه کې "هومره جور لکه یار راسره کاندې". په دوهمه نسخه کې "هومره جور لکه یار چې له ما سره کړه". او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "هومره جور لکه یار سره وکړه".
(۸) د "پ" په لومړی او د "خ" په دوهمه نسخه کې : "دلبری او دلجویي خو کوډگرکړي ده دکوډگرد هغه وایه چې دلبرشي هم دلدار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې : "دلبري خو کوډگر هم په کوډ و کا هغه والي چې دلبرشي هم دلدار".
د "خ" په لومړی نسخه کې : "دلبري خو کوډگر هم په کوډ و کا هغه والي چې دلبرشي هم دلدار".
(۹) د "پ" لومړی نسخه : "چې د زړونو له نا غلو بې پروا یې".
(۱۰) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی : "په گرېوان مې تل دا وښو باران اوري نه ورکېږي د رحمان د زړه غبار".
(۱۱) دا غزل د "خ" په مصوره نسخه کې لومړی نیمه بیتونه دي راغلي او هم نور یې غزل د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نشته.
(۱۲) دا مسرې په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده : "هسې ستا دی هم په دوی پسې رفتار".

Marfat.com

تل په مینې د دوستۍ پل دې پرې تېرېږي — کړی نه دی چا په پل باندې قرار

هسې نه چې زه تنها[1] وتا ته وایم — راغله لاره ستا په طور صد هزار

دعوه مه کړه په ناحق بدې خپل نه کړي — پردی ښهر، پردی ملك، پردی دیار (۲)

چې استوګه په پردی وطن کې کاندي — هغه نه لري د هیڅ واك واختیار (۳)

که هزار قسمه وخوري په یو کار کې — نه کا خوك په مسافر واعتبار (۴)

چې په صبح شګفته شي په شام رژي — خدا امید دی د ګلونو په ګلزار (۵)

که دې ورور که دې عزیز دی که دې یار (۶) — مه دې ورور مه دې عزیز ګڼه مه یار

۷۱ — ۸۵۸

چې پیدا شي هګې واړه فنا شي
اې رحمانه! دا جهان دی دا لې کار

خو جفا قبوله نه کړې د اغیار — وبه نه وینې په ستر ګو مخ د یار

چې اول یې خار زرغون شي په پهلو کې (۷) — غونچه هاله شګفته شي په ګلزار

جنت چا په ریاضت موندلی نه دی — ولې بو یه هر بنده لره خپل کار (۸)

که موندنه شوې خوشخوي په خوشبوئیه — پروت به نه وو په چندن باندې ښامار (۹)

آب تر لعلو د لاله ګلونو (۱۰) ډېر دی — بخت دی دا چې خوك عزیز کاندې خوك خوار

۷۲ — ۸۶۴

هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې د "تنها" پر ځای "یوازې" راغلی دی.

(۲) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" نسخې: "دعوه مه کړه په ناحق په خپل نه کړي — پردی ملك، پردی ښهر، پردی دیار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دعوی مه کړه په تحقیق بدې خپل نه کړي — پردی ښهر، پردی ملك، پردی دیار".

(۳) د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه: "هغه نه لري هیڅ واك واختیار". او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "هغه نه کړي هیڅ- واك وخپل اختیار". د "پ" په ګډه نسخه کې د دې بیت د لومړی مسرۍ د "استوګنه" پر ځای "استوزه" راغلی دی.

(۴) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" نسخې: "که هزار قسمه وخوري په معامله کې — نه کا خوك په مسافر و اعتبار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "که هزار قسمه دخوره په مالدکې — نه کا خوك په مسافر واعتبار". او دا بیت په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۵) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "چې سبا شګفته کېږي ماښام رژي — خدا امید دی په ګلونو د ګلزار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی مسرۍ داسې راغلی ده: "چې په صبح شګفته کېږي په شام رژي".

(۶) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "که دې ورور که دې عزیز وي که دې یار وي".
په "پاپ" چاپ کې داسې راغلی ده: "که دې ورور که دې عزیز او که دې یار دی".

(۷) دا مسرۍ د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده: "چې اول خار زرغون په بهار کې".

(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "جنت چا په زاهد که موندلی نه دی — ګنه بویه هر بنده لره اختیار".

(۹) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی دی: "که موندنه شوی خوشبوئي په خوشبوئیه — پروت به نه وو په چندن د یاسه مار".
په "پاپ" چاپ کې داسې راغلی دی: "که موندی شوی خوشبوئي په خوشحالۍ کې — پروت به نه وو په چندن باندې ښامار".
د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی دی: "که موندی شوی خوشخوئي له خوشبوئي — پروت به نه وو د چندن د یاسه مار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "که موندی شوی خوشخوئي له خوشبوئي — پروت به نه وو په چندن د یاسه مار".
په مصوره نسخه کې داسې راغلی دی: "که موندنه شوی خوشبوئي بې خوشبوئي — پروت به نه وو په چندن باندې ښامار".

(۱۰) د پېښور په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړی، دوهمه نسخه او د "پ" په نسخه کې د "ګلونو" پر ځای "ګلونه" راغلی دی.

Marfat.com

خوك دې راكاندې قسم په كردګار — كه درم لرم په كور كې يا دينار (۱)

نه دينار او درم نه لرم په كور كې — ولې نور عالم مې بولي د دنيا دار

هم په دا چې نه له ځايه چېرته خوځم (۲) — نه د هيڅ يوه مخلوق يم منت بار

نه مې ښكته ملك لېدلى دى نه پورته — خبر نه يم په يمين او په يسار

آب و خور لكه آسيا په ځاى را رسي — په خپل كور كې مې سكون دى هم رفتار (۳)

لكه ونه مستقيم په خپل مكان (۴) يم — كه خزان راباندې راشي كه بهار

توكل مې لاس پښې سره كړل په نكريزو — چې په ځاى كې يې كښولي يم قرار (۵)

چې زما په باب دې ښكلي دي را رسي — كه راحت دى كه زحمت دى وار په وار (۶)

چې هژده هزار قومونه يې پيدا كړل — مربي مې دى هغه پروردګار (۷)

كار همه په اراده د خداى موقوف دى — هيڅ موقوف نه دى د چا په اختيار (۸)

۷۳

غم به هېڅ چېرې ونه كا په دنيا كې
كه خدا كېږي د رحمان په اختيار (۹)

۸۷۵

دغه يار دى دا اغيار — دغه ګل دى دغه خار (۱۰)

دغه ګل دى دغه خار دى (۱۱) — دا منصور دى دغه دار (۱۲)

---

(۱) دا بيت د "ب" په دوهمه نسخه كې نه دى راغلى او لومړى مسرى يې په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلې ده: "كه خوك را كاندې قسم په كردګار".

(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه كې "د رودم" راغلى دى.

(۳) دا بيت د "ب" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې دى: "آب و خور لكه آسيا په ځاى دا رسي — په خپل كور كې هم سكون دى هم رفتار".
د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلى دى: "آب خوراك مې هم په ځاى دا رسېږي — په خپل كور كې مې سكون دى هم رفتار".

(۴) د "ب ب" په چاپي ديوانونو، د "خ" په نسخو او د "ب" په لومړۍ نسخه كې "مقام" راغلى دى.

(۵) د "ب" لومړۍ نسخه: "توكل مې لاس او پښې كړه په نكريزو — چې په ځاى كې يې ښولي يم قرار".

(۶) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى، په "ب" چاپ كې داسې راغلى دى:
"چې خدا په باب كې كښبلي دي را رسي — كه رحمت دى كه زحمت دى وار په وار".
"ب ب" چاپ: "چې زما په باب خه ښكلي دي را رسي — كه رحمت دى كه زحمت دى وار په وار".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې زما په باب كې دي هغه رسېږي — كه راحت دى كه زحمت دى وار په وار".
د "ب" دوهمه نسخه: "چې زما په باب يې ښكلي وما رسي — كه راحت وي كه زحمت وي وار په وار".

(۷) د "ب" لومړۍ نسخه: "مربي يې دى هغه پروردګار".
د "خ" لومړۍ نسخه: "مربي مې وه يې هغه پروردګار".
د "خ" دوهمه نسخه: "منزه دى هغه پاك پروردګار". لومړى بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى.

(۸) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى، د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلى دى: "كار هغه په اراده د خداى موقوف دى — هيڅ موقوف نه دى زما په انتظار".
د "ب" دوهمه نسخه: "كار كا همه په اراده يې موقوف دى — هيڅ موقوف نه دى د چا په انتظار". د "ب" په لومړۍ نسخه كې يې دوهمه مسرى داسې راغلې ده:
"هيڅ موقوف نه دى زما په اختيار". د "خ" په دوهمه نسخه كې دا مسرى داسې راغلې ده: "هيڅ موقوف نه دى زما په اختيار".

(۹) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى او د "خ" په لومړۍ نسخه كې دا بيت داسې دى: "غم يې هيچېرې ونه كه په دنيا كې — كه خه كېږي د رحمان په اختيار".
د "ب" لومړۍ، دوهمه او د "خ" دوهمه نسخه: "كه خوك كېږي د رحمان په اختيار".

(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه كې نه دى راغلى. د دې بيت دوهمه مسرى د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلې ده: "دغه ګنج دى دغه مار".

(۱۱) په چاپي ديوانونو او د "ب" په دوهمه نسخه كې د "دى" كلمه نه ده راغلې.

(۱۲) دا مسرى د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلې ده: "دغه [illegible] ــــــار".

Marfat.com

دا رقیب دی دا حبیب دی — دغه گنج دی دغه مار(۱)
دغه عشق دی دغه عقل — دغه غم دی دا غمخوار
دا هجران دی دا وصال دی — دا خزان دی دا بهار(۲)
دا طاعت دا معصیت دی — دغه نور دی دغه نار
دا عالم دی دا جاهل دی(۳) — دا خفته دی دا بیدار

۷۴ — دا رحمان دی دا جانان دی(۴)
دا طبیب دی دا بیمار — ۸۸۳

هر چي نه وي خوار و زار — په طلب د خپل دلدار(۵)
ترې پروني پې صدقه شه — د هغه عاشق دستار
هزار حیف دی هزار حیف دی — هزار ځله لا صد هزار
چي عاشق په عاشقۍ کي — نه حلال وي نه مردار
نه پتنگ د خپل چراغ وي — نه بلبل د خپل گلزار
نه مجنون غوندي رسوا وي — نه منصور غوندي په دار

۷۵ — دواړه نه کړې رحمانه
یا به یار شي یا بېزار — ۸۹۰

دا څه مخ دی منور — چي هم شمس دی هم قمر(۶)
دا څه زلفي دی مشکیني — چي هم مشک دی هم عنبر
دا څه پیوسته ابرودي(۷) — چي هم نېش دی هم نشتر
دا څه سترگي دي قاتلي — چي هم سیف دي هم خنجر
دا څه شونډي دي مې گوني — چي هم مې دی هم شکر

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کي داسي راغلی دی: "دا رقیب دی دا حبیب — دا طبیب دی دا بیمار".
او دوهم بیت لومړی مسري په "پ" چاپ کي داسي راغلې ده: "دا رقیب دی دا حبیب".
(۲) دا بیت اوله دی نه دروسته بیتونه د "پ" په دوهمه نسخه کي نه دي راغلي او دوهم بیت لومړی مسري په "پ" چاپ کي داسي راغلې ده: "دا هجران دی دا وصال".
(۳) په "پ" چاپ کي د "دی" کلمه نه ده راغلې.
(۴) په "پ" چاپ کي "دی" نه دی راغلی.
(۵) دا غزل په مصوره نسخه د "خ" په لومړی نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کي نه دی راغلی.
(۶) دا غزل د "خ" په لومړی قلمي نسخه او مصوره نسخه کي نه دی راغلی.
(۷) دا مسري په "پ" چاپ کي په دې ډول راغلې ده: "دا ئې وروځې پیوسته دي".

Marfat.com

داخه سپین سپېځلي غـــابن دي — چې هم دُر دي هم گـــوهر
داخه سېب زنخـــدان دي — چې هم سیم دي هم ثمـــر
داخه قد او خه قــامت دي — چې هم گل دي هم عــرعر
داخه ملا ده باریك وضـــع — چې هم موی دي هم کمـــر
داخه زړه دي د خوبـــانو — چې هم موم دي هم حجـــر
داخه یار دي نه پوهـــېږم — چې هم دل دي هم دلـــبر
داخه بت دي زمــاره(١) — چې هم بت دي هم بشـــر

٧٦ — ٩٠٣

داخـــه شعر د رحمـــان دي(٢)
چې هـــم گنج دي هـــم هنر

تل به نه وي شگفته گلزار د عمر — نه به جوړ وي همیشه بازار د عمر(٣)
لکه سیند دا باسیند په غورځي(٤) درومي — هسې یون دي په تلوار تلوار د عمر
لکه برق چې مخ ځرگند کاندي بیا نه وي — هسې تېز دي بې سکون رفتار د عمر(٥)
سرکشي لري تر هسې حده(٦) لېوري — چې نبوی نه شي هیڅوك(٧) مهار د عمر
چې سمند يې نه جلب لري نه واگې — خود به پرېوځي عاقبت شهسوار د عمر(٨)
په ساعت د سلو کالو یاري پرې کا — بې وفا دي هسې رنگه یار د عمر(٩)
خپل صورت به د حباب په سترگو گوري(١٠) — که څوك وکاندي په زړه کي شمار د عمر
نه له کوره چېرته ځمه نه سفر کړم(١١) — بې سفره مې غوځېږي لار د عمر
عاقبت به دا جل په مقراض غوڅ شي — پیوسته به مدام نه وي تار د عمر

٧٧ — ٩١٣

بیا لې وار په دا دنیا نشته رحمانه(١٢)
په هرچا باندي چې تېر شو وار د عمر

---

(١) د "ب" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې راغلې ده : " داخه یار دي نه پوهېږم ".
(٢) دا مسری په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : " داخه شعر دي رحمانه ".
(٣) "ق" چاپ : " تل به نه وي شگفته بهار د عمر    نه به جوړ وي همیشه گلزار د عمر ".
د "پ پ" چاپ : تل به نه وي شگفته بازار د عمر    نه به جوړ وي همیشه بهار د عمر ".
(٤) د پېښور په چاپي دیوانو کې " غورځنگ " راغلی دی.    (٥) قلمي نسخې : " هسې تېز دي په سکون رفتار د عمر ".
(٦) د "خ" لومړی نسخه : " سرکشي نه دي تر هسې حده لوري ".    (٧) په "ق، ک" چاپ کې " هرگز " راغلی دی.
(٨) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته .    (٩) چاپي دیوانونه : " بې وفا په هسې رنگ دی یار د عمر ".
(١٠) پېښور په چاپي دیوانونو کې " په خبر دگوري " راغلی دی.
(١١) د "ب" نسخه او د "خ" دوهمه او مصوره نسخه : " نه ځم چېرته له کوره نه سفر کوم ". د "خ" لومړی نسخه : " نه سفر کوم نه له کوره چېرته ځمه ".
(١٢) د "پ پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه : " بیا لې وار په دنیا نشته دی رحمانه ".

Marfat.com

زه تېر شوی یم تر سره — په طلب د خپل دلبر
خوږ ژوندی یم په دنیا کې — پرې به نه ږدم د غم در
د آشنا په طلب ګرځم — وچې شونډې لیمه تر(۱)
یو قدم مې دی په بحر — بل قدم مې دی په بر
دواړه لاس مې دي نیولي — هم په شام هم په سحر
مناجات مې دی وخدای ته — که یې ووینم بشر
همېشه له خپله بخته — ګله من یم مرور
چې په مالې پېر ژوند کړ(۲) — د خوبانو یو نظر
هم یې ونه سود وماته — بې له عشقه بل هنر
عاشقي مې خدای رسوا کړه — په جهان کې لکه نمر
نصیحت را باندې نه کا — لکه موی هومره اثر
واوره غوږ باسه ناصحه — کوتاه وایم مختصر
په مولا مې دې سوګند وي — هم په روح د پیغمبر
جاروانه مې بېرته نشته — چې عالم(۳) شو را خبر
ترمینه به یې زار کړم — که مې سیم دی که مې زر
که مې سیم دی که مې زر دي — که مې دُر دی که ګوهر(۴)

۷۸ — ۹۳۰

زه رحمان تر هر څه تېر یم
تېر به نه شم تر دلبر

پورته بدر را ښکاره شو ښکته نمر — ښکته پورته واړه څ دی د دلبر
نمر سپوږمۍ مې د پالنګ د پاسه رغړي(۵) — چې مې یار په بالښت ولګوي سر
په سرو سپینو دُر و لعلو یې غوږ ډک شي — چې مې غوږ کاندې د اوښکو په دُر دُر(۶)

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) د "ب" لومړۍ نسخه: "چې په ما پېر ژوند کړ".
(۳) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "عالم" پر ځای "جهان" راغلی دی.
(۴) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده: "که مې دُر که مې ګوهر".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "نمر سپوږمۍ مې یې پر پالنګ د پاسه رغړي".
(۶) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

چې دې وو ښم(۱) په مخ مې اوښکې د ړومې — لکه موم چې په آفتاب شي برابر
بل مذکور د سخنګو یو سترګو نه زده — بې له دې ذکره چې الله اکبر
ضد دی اور د اوبه بې دیار له شونډو — چې هم اور دی هم اوبه دي د کوثر(۲)
په شرابو کې خوند نشته د شکرو — دیار شونډو کې هم شراب دي هم شکر
کړ سل ځله پټ تر شونډو لاندې خاندي — نه پټیږي آب د لعل و د ګوهر
دا خو ما لره خدای راکړه ګنه نشته — هسې بت په بتخانه کې د آذر
پس له دې به بې په نام د ملک(۳) بولم — هم په دا چې نشته دا رنګه بشر

۷۹ — ۹٤۱

کړ رحمان صاحب نظر بالله شي سنايي
چې مدام دیار په مخ لري نظر

هسې تله کاندې وګورته یاران ژر ژر — لکه تله کا وخیل کورته کاروان ژر ژر(٤)
هسې ژر ژر مرګ په موږ شتابي کا — لکه لوډ یا خه کښېت کا دهقان ژر ژر(۵)
هسې ژر ژر دا دنیا وبله اوړي(٦) — لکه اوړي وبله ریګ روان ژر ژر(۷)
هسې ژر ژر صورتونه دي نړیږي(۸) — لکه رژي لاله زار په خزان ژر ژر.
هسې ژر ژر دا شپې د عمر تیریږي — لکه بحر چې بهیږي روان ژر ژر

۸۰ — ۹٤۷

هسې ژر ژر ځنبول د بنونه وي(۹)
لکه د رومي له جهانه رحمان ژر ژر

چې په زور ورسره نه يې برابر — د هغو تر خنګه مه کښېنه زرور(۱۰)
زور ور اوراوبه دي فهم وکړه — چې ډوب نه شې یا ونه سېځې بشر(۱۱)

---

(۱) په "ق ک" چاپ، "ق" چاپ او قلمي نسخو کې "چې بې وو ښم" راغلي دي.
(۲) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ق ک" چاپ کې نشته
(۳) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې د "ملک" پر ځای "فرښتو" راغلي دي.
(٤) دا غزل په مصوره نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته، دوهمه مسرۍ یې په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "لکه تله کاندي خپل کورته کاروان ژر ژر" په "ب" چاپ کې "لکه د رومي چې خپل کورته کاروان ژر ژر". په مختلط نسخه کې "لکه تله کاندي وکورته کاروان ژر ژر" او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه د رومي وخپل کورته کاروان ژر ژر".
(۵) دوهمه د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه لوډ چې په کښت کړي کا دهقان ژر ژر". او په "ب" چاپ کې د "یا خه" پرځای "یاسه" راغلی دی.
(٦) دوهمه د "خ" په دوهمه نسخه او د "ب" په مختلط نسخه کې داسې راغلې ده: "هسې ژر ژر دا دنیا وبله نه اوړي".
(۷) دوهمه د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه اوړي وبله ریګ د بیابان ژر ژر".
(۸) دوهمه د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "هسې ژر ژر صورتونه وبله دړیږي".
(۹) په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "د بنو ځنبل هم هسې ژر ژر نه دي". د "خ" په لومړي نسخه کې "د بنو وبله ول هم هسې ژر نه دي"
د "خ" په دوهمه نسخه کې "دا د بنو ځنبول هم هسې ژر ژر نه دي" او د "ب" په مختلط نسخه کې داسې راغلې ده: "د بنو ځنبول هم هسې ژر نه دي"
د "ب" لومړي نسخه: "د بنو ځنبول هم هسې ژر ژر نه دي".
(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۱) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "زور آور خو اور او به دي فهم وکړه چې ډوب نه شې یا ورپټ نه شې په شان".

زندګي که بې اوبو بې اوره نه شي — تل هم اېښي هېچا نه دي په تهتر (۱)

خدای ورمه وله سېلاب د چا په خونه (۲) — که په قطع (۳) هم اوبه وي د کوثر

ودې نه لګېږي اور په کور د هېچا (۴) — که رڼا يې وي د شمس او د قمر

چې يې درست صورت غلبل شي په اغزيو (۵) — وخوړمه شه د هغې ونې ثمر

د هغه دېوال په سوري خوك کېنه (۶) — چې ولاړ وي لکه زوړند چاود کمر

چې په ګېډې دې خوخېږي مخ يې ورك شه (۷) — که د سرو زرو چاړه وي يا خنجر

ودرياب ته اچاوه نه شي ځان خوږ وي (۸) — ګنه ډېر دي په درياب کې دُر ګوهر

ناګاره سودونه ډېر دي په جهان کې — سود هغه دی چې د خېر وي نه د شر (۹)

چې له آبه له حرمته سره نه وي — خدای ورمه کړه وچاهسې سيم و زر (۱۰)

زور ورکه رسوې وچاته قبض — له دې قبضه سره وکښه ضرر

په ياري د زورورو غلط مه شه — مګر دا چې تر ده ته يې زورور

په هر ګاه چې دې مغلوب وي ته غالب يې (۱۱) — تر و هاله يې قدمونه ږده په سر

يا خو دا چې که قدم يې په دړنه ږدي — د غه پسه يې ځان وګښه پدر (۱۲)

۹۶۳

چې هنر کښې ياري د زورورو
بول وکړمه رحمٰن په دا هنر (۱۳)

۸۱

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "زندګي که بې له اوره او بو نه شي تل هم نه دي هېچا اېښي پري تهتر". د "خ" په لومړي نسخه کې: "تاب هم اېښي هېچا نه دي په تهتر". او د "خ" په دوهم نسخه کې داسې راغلی دی: "تل هم اېښي هېچا نه دي پري تهتر"

(۲) دا سرې د "خ" په دوهم نسخه کې داسې راغلی دی: "خدای دې ورنه ولې سېلاب د چا په خونه".

(۳) په قلمي نسخه کې د "هم" پر ځای "يې" راغلی دی.

(۴) دا سرې په "پ" چاپ، د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "ودې نه لګېږي اور د چا په خونه". او د "پ" په لومړي نسخه کې دا سرې داسې راغلې ده: "ودې نه لګېږي اور په کور د چا".

(۵) دا سرې د "پ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "چې درست صورت غلبل کا په اغزيو" په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "چې يې ټول صورت غلبل شي په اغزيو". د "خ" په لومړي نسخه کې "چې دې درست صورت غوخېږي په اغزيو". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يې درست صورت زخمي شي په اغزيو".

(۶) د "خ" په لومړي نسخه کې: "د هغې دېوال په سوري خوك مه کښېنه" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "د هغه دېوال په سوري کېناست مه شي".

(۷) دا سرې د "پ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "چې په ګېډه دې خوخېږي مخ يې تور شه". په "پ پ" چاپ کې: "چې په ګېډه دې خنبېږي مخ يې ورك شه". د "خ" په لومړي نسخه کې "چې په ګېډه کې خوخېږي رنګ يې ورك شه". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "چې په ګېډه دې خوخېږي مخ يې ورك شه".

(۸) د "پ" لومړي نسخه: "وا دلبو ته اچاوه نه شي ځان خو خوږ دی". د "خ" په لومړي نسخه کې "وادلبو اچاوه نه شي ځان خوږ دی". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "ځان شيرين دی و درياب ته اچول نه شي".

(۹) دا سرې د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "سود هغه دی چې يې خير وي له شر".

(۱۰) "پ پ" چاپ: "خدای ورمه کړه چا ته هسې سيم و زر".

(۱۱) دا سرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "په هر وقت چې ته غالب وې دی مغلوب وي". د "خ" په لومړي نسخه کې: "په هر ګا چې دی غالب وي ته مغلوب يې" او د "خ" په دوهم نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "په هر کار چې ته غالب يې دی مغلوب وي تر و هاله يې قدمونه ږده په سر".

(۱۲) چاپي ديوانونه: "يا خو دا چې ته قدم يې په دړنه ږدې هله پسه يې ځان وګښه پدر".

(۱۳) دا سرې په چاپي ديوانو کې داسې راغلې ده: "زه رحمان کو مه بول په دا هنر". او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "بول وکړم رحمان په دا هنر".

Marfat.com

په نظر دې بصر — لکه شام هسې سحر (1)

لکه شام هسې سحر — لکه سنګ هسې ګوهر (2)

لکه سنګ هسې ګوهر — لکه خاوري هسې زر

لکه خاوري هسې زر — لکه خیر هسې شر

په نظر يې معلومېږي — هم وار ره برابر

که خوك ښه ورسره وکا — تر بدي يې وي بتر (3)

که خوك بد ورسره وکا — تر نېکۍ يې وي بهتر (4)

نه په بد ويل زهير وي — نه پرښه وي دچا زبر (5)

په ثواب او په خطا يې (6) — نه دليل وي نه نظر

نه آګاه په خپل بهبود وي — نه آګاه په خپل ضرر

نه په عيب څه پوهېږي (7) — نه پوهېږي په هنر

لکه روند او کوڼ چې ګوډ يې (8) — هسې هېڅ نه وي خبر

له طاعته له ګناهه — څه خبر وي څناور (9)

څناور و نور څه نه زده — يالي رغبت (10) وي يالي خر

دا خو وته يې زما نفسه — چې دې زه کړم کوزوکر

تمام ووتې (11) له عقله — په دنيا پسې اوتر

---

(1) دا غزل په مصور نسخه کې نه دی راغلی او هم د "ب" په دوهمه نسخه کې يې د سر بيتونه نه دي راغلي.

(2) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه سنګ هسې ګوهر — لکه شام هسې سحر".

(3) دا بيت د "پ ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که خوك ښه ورسره کاندي — تر بدکه يې دی بتر".
په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که خوك ښه ورسره کاندي — تر بدکه وي لا بتر".

(4) دا بيت په "پ ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که خوك بد ورسره کاندي — تر نېکه يې وي بهتر".
په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که خوك بد ورسره کاندي — تر نېکه وي لا بهتر".

(5) دا بيت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "نه په بد ويل زهېرېږي — نه پرښه وي د چا زبر".
په "پ ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "نه په بد ويل زهېرېږي — نه په ښو د چا زور".
د "خ" په لمړۍ نسخه کې: "نه په بد ويل زهيرېږي — نه پرښه وي د چا بر".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "نه په بد ويل زهير وي — نه پرښه يې د چا زبر".

(6) دا مسرۍ په "پ ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "په ثواب او په خطا يې سيې".

(7) دا مسرۍ په چاپي ديوانو کې داسې راغلې ده: "نه په عيب باندې پوهېږي". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "نه په عيبو څه پوهېږي".

(8) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ګوډ" پر ځای "ګوڼ" راغلی دی.

(9) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "څناور" پر ځای "ښناور" راغلی دی.

(10) په چاپي ديوانو او نورو قلمي نسخو کې، پرته د "ب" له لومړۍ نسخې څخه د "رغبت" پر ځای "خوب" راغلی دی.

(11) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ووتې" پر ځای "ووتم" راغلی دی.

Marfat.com

نه دې فرض د خدای ادا کړه — نه سنت د پيغمبر

نه دې مرګ په زړه کې یاد وي(1) — نه خواري دې د محشر

اوده پروت يې دا دې نه زده — چې په خوا لرم سفر

په هر دم د رښخنه دروي — که پوهېږې دا بشر

هغه تور وېښته دې خړ شول؟ — چې هم مشک وو هم عنبر

هغه قد دې مجنون بید شو(2) — چې چنار وُ هم(3) نښتر

تن دې درست زېر و زبر شو — زړه دې نه شو لړ و بر

ترینجاو شسته تېر شوې — ته لا ځان بولې پسر(4)

نه دې ترس شي نه دې وېره — نه په زړه باندې اثر(5)

بل بدنوې لکه تږې — هسې شوخ او ځیګرور

په غفلت دې عمر تېر کړ — نه رهرو شوې نه رهبر

عبادت دې په ریا شو — لکه ډک په لاکوزر

لکه قلب(6) ناسره هر — پټ په زړو کې حجر(7)

لکه زړې په مېوه کې — درون سنګ بېرون ثمر

لکه پټ وي په دانه کې — سل اغزیه د شجر(8)

لکه سحر چې برپای کا — سحرګر او جادوګر

لکه تش صورت بې روح(9) — چې تصویر کا مصور

لکه تش کډو بې مغزه — میان خالي وي تن پرو

---

(1) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "نه دې مرګ په زړه یاد دیږی". او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "نه دی مرګ په زړه کې یاد دی".

(2) دا مسری په "ب" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "هغه قد دې مجنون بید ستد". د "خ" په لومړي نسخه کې "هغه قد د مجنون خم شو". او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "هغه قد دې مجنون بید شی".

(3) په "پ" چاپ کې د "هم" پرځای "یا" راغلی دی.

(4) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی لومړی مسری یې په "پ پ" چاپ کې "ترینجاه وینځه تېرشوې"، په "ب" چاپ کې "ترینځوس ترینځه تېرشوی"، د "خ" په دوهمه نسخه کې: "ترینجاه ترینجاه تېرشوی". او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "ترینجه ترینجاه تېرشوی".

(5) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(6) په "پ پ" چاپ کې د "قلب" پرځای "کلپ" راغلی دی.

(7) د "پ" په دوهمه نسخه کې د "حجر" پرځای "خنجر" راغلی دی.

(8) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(9) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "لکه تش صورت په روح کی".

Marfat.com

لکه بې لاسه لستوڼي — سر تر پايه پای تر سر
لکه تېک او دغه بازوي — په مرغانو کې دګر (۱)
لکه بې تمله ناوې — چې په سر کاندي ميزر (۲)
تر ميزر لاندې چاخزه — چې دختر دې (۳) که مادر
نه يې حسن نه جمال وي — غولوي خلق په زېور
هسې له هسې فريبانو (٤) — لکه زورند چاو دکمر
نيم په مځکه کې دننه — نيم په سروي لکه نغر (۵)
په دستار کې يې مسواک وي — تر بغل لاندې خنجر
په ابرو کې پټ بڅرې — په وبنو کې پټ ژور (۶)
په شپه وينې دمظلوم خوي (۷) — سبا کښېني په ممبر
په زړه تور لکه تبې (۸) وي — په مخ سپين لکه قمر
ددنيا په طلب ګرځي — خپل ځان بولي قلندر (۹)
کليمه په ژبه وايي — په زړه نه لري باور
په مثال د منافقو (۱۰) — نه مسلم وي نه کافر
نه مسلم وي نه کافر وي — نه بڅلا نه مرزر
پرېشان ګرځي سر وهلي — کوی په کوی او در په در
هميشه رفت و آمد کا (۱۱) — د زردارو په ګذر
په کوڅه د دنيا دارو — ګو خوړکې کا لکه خر
اورنګ زېب هم يو فقير و — چې تولې يې وه په سر
وتلو وته يې شا کړه — چې قادر شو په افسر (۱۲)

---

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "دګر" پرځای "ديګر" راغلی دی. (۲) په "پاپ" چاپ کې "خادر" راغلی دی.
(۳) په "پ" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې "وی" راغلی دی. (٤) د "پ" په لومړی نسخه کې "هی ځی له هسې فريبانو"، په "پاپ" چاپ کې "هی ځی تو به له فريبانو"، او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "هی ځی تو به له هسې فريبه".
(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو کې داسې راغلی دی: "نيم په زمکه کې دننه نيم برسبره لکه ". د "خ" په لومړی نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې يې دوهمه مسری داسې راغلې ده: "نيم برسبره لکه نغر" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "نيم په سروی لکه نغر".
(۶) دا بيت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "ژور" پرځای "ژادر" راغلی دی.
(۷) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده: "په شپه مال دمظلوم دخوری". (۸) د "خ" په لومړی نسخه کې "کودی" راغلی دی.
(۹) په "پاپ" چاپ کې "بولي ځان په قلندر"، د "خ" په لومړی نسخه کې "خسرو بولي قلندر"، د "خ" په دوهمه نسخه کې "ځيل سر بولي قلندر"، او د "پ" لومړی نسخه کې "ځان بولي قلندر" راغلی دی.
(۱۰) په قلمي نسخو کې "منافقانو" راغلی دی.
(۱۱) دا مسری د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "هميشه يې رفت آمد دی". (۱۲) دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

Marfat.com

خولې هومره فقيري وه — چې خندنه وو ميسر
چې سپې فلك يې ياري وكړه — نو ړلې ملك كړ مسخر
گوره څه چارې يې وكړې — په عيال د[1] خپل پدر
وار په وارې تر تيغ تېر كړه — د خورم تمام ټبر
پسو تېر د خورم څه وُ — د بر عالم يې كړه بر
تمامي جهان يې ونغرد[2] — چې يې لاس شو باندې بر
په فريب فريب يې خپل كړه — بيجاپور او بهانگر[3]
بيجاپور او بهانگر څه وو — لاجنجي او جنجاور[4]
هم يې هند په دكه واخيست[5] — هم كابل هم[6] پېښور
بيا يې ذكر شو په ذره كې — بادشاهي د هفت كشور[7]
له حصه ورته هيڅ شوه — هم دارا هم سكندر[8]
خيال يې داوُ په خاطر كې — چې په خپل كړم بحر و بر
باري ورځ ورځمنه[9] لاړه — وخت پرې راغى مازديگر[10]
نه يې مراد د زړه حاصل شو — نه يې يخ كړ خپل تهر
همگي شوه څني پاتې — كډ يې ملك وكه لښكر
خالي لاس له دنيا ووت — لكه عين درويزگر

---

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه كې د "د" پر ځای "په" راغلی دی.
(۲) د "پ" لومړۍ، دوهمه او د "خ" لومړۍ نسخه: "تمامي جهان يې ونغره" او د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلی دی: "تمامي عالم يې ونغښت".
(۳) دا مسرۍ په "پ" چاپ كې داسې راغلې ده: "بيجاپور او بهاگ نگر".
د "خ" په لومړۍ نسخه كې: "بينجاب پور او بهاگ نگر".
د "خ" په دوهمه نسخه كې: "بيجاپور بها نه گر".
او د "پ" په دوهمه نسخه كې: "بيجاپور و بهاك نگر".
او په مصوره نسخه كې: "بيجاپوره و بهاك نگر". راغلې ده.
(۴) دا بيت په "پ" چاپ كې داسې راغلی دی: "بيجاپور بهان گر څه وو لاچينجا وچينجاور".
"پاپ" چاپ: "بيجاپور بهاگ نگر څه وو لاجنجي او جنجاور".
لومړی مسرۍ يې په مصوره نسخه كې: "بيجاپور و بهاك نگر څه ده". د "خ" لومړۍ نسخه كې دا بيت داسې راغلی دی: "بينجاب پور بهان نگر څه وو لاجنجي چنجاور".
د "خ" په دوهمه نسخه كې: "بينجاپور بهان گر څه وو لاچنجا و دچنجاور". او نوموړی بيت د "پ" په دوهمه نسخه كې نه دی راغلی.
(۵) په "پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه كې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "هم يې هند په دگه واخست"
او د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلې ده: "هسې هند په دكه واخست".
(۶) په چاپي ديوانونو كې د "هم" پر ځای "او" راغلی دی.
(۷) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلی دی: "بيا يې ذكر شو په ذره كې هم دارا هم سكندر".
(۸) دا بيت او له دې نه وروسته بيتونه په مصوره نسخه كې نه دي راغلي او هم نوموړی بيت د "خ" په لومړۍ نسخه كې نشته.
(۹) په چاپي ديوانونو كې د "ورځمنه" پر ځای "ورځني" راغلی دی. (۱۰) په قلمي نسخو كې "مازيگر" راغلی دی.

Marfat.com

له دنیایې هیڅ یونه وړه — مګر شوې یو خاد (١)

خوار حیران په ځمکه پروت — بې بالین او بې بستر (٢)

نه پوزې شو ترې دلاندې (٣) — نه ترلاندې شو ټغر

د بهی په څېر (٤) خفیف شو — چې ثقیل ؤ لکه غر

د سیلاب په مخ کې لاړ شو (٥) — لکه خس او (٦) یا وزر

حق یې پاتې په ګردن شو — د سپاهي او د چاکر

اوس یې زه په روح دعا کړم — کړې خدای کا بهرور

حق تعالی یې په نصیب کړه — شیرین حوض د کوثر (٧)

د جنت په خوشبو لیه یې (٨) — خدای دماغ کړه معطر

په درست هند باندې چې حق ؤ (٩) — هند یو شپه وه دی یو لمر (١٠)

دی لمر په روښنا یې (١١) — تمام هند ؤ منور

په رڼا یې خلقو (١٢) زیست کړ — نه څه خوف ؤ نه خطر

خو چې مخ یې په غروب کړ — نور پیدا شو شور و شر (١٣)

چې یې په نام (١٤) د اورنګ زیب ؤ — وخور پګاو هغه دفتر

اوس نوبت د شاه عالم دی — د ور طور شو دیګر (١٥)

---

(١) دا مسرۍ په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "مګرشیرې یو خادر" او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "مګر د شولو یو خادر".

(٢) په چاپي دیوانونو کې دا بیت داسې راغلی دی: "خوار حیران په ځمکه پروت بې بالینه د بې بستر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "خوار حیران په ځمکه پروت ؤ بې بالینه بې بستر".
د "خ" په دوهمه نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې راغلې ده: "بې بالینته بې بستر".

(٣) دا مسرۍ په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "نه شو ترده لا نده ئې"

(٤) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "څېر" پر ځای "بهنو" راغلی دی.

(٥) په "پ پ" چاپ کې "لاړو" راغلی دی.

(٦) په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "او" پر ځای "وي" راغلی دی.

(٧) په "پ پ" چاپ کې: "حق تعالی که یې نصیب کا سنه شیرین حوض کوثر". راغلی دی.
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "حق تعالی که یې نصیب کا څه شیرین حوض کوثر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې یې لومړۍ مسرۍ داسې راغلې ده: "حق تعالی یې پرې نصیب کړه".

(٨) دا مسرۍ په قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "د جنت په خوشبو لیه".

(٩) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ؤ" پر ځای "دی" راغلی دی.

(١٠) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "هند یو شپه وه دی ؤ نمر". د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "هند شپه وه دی لمر".

(١١) دا مسرۍ د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "د ده نمر په روښنا لیه"
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "د دې لمر تر روښنا لیه".

(١٢) په چاپي دیوانونو، د "خ" په دوهمه نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "خلق" پر ځای "خلکو" راغلی دی.

(١٣) دا بیت په "پ پ" چاپ کې نه دی راغلی.

(١٤) په چاپي دیوانونو کې "نوم" راغلی دی.

(١٥) [illegible] راغلې ده: "دور او طور یې شو دیګر"، او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "د ور نور د شه دیګر".

Marfat.com

خــــدای زده څه باندي شي پسینه | چي عاشوره شي که اختـــر (۱)
رنـــګارنګه بازي کاندي (۲) | دا آسمان دی بازیګـــر
ګهـــي تلخ شي لکه زهر | ګاه شیرین لکه شکـــر (۳)
چـــي څه شوه هغه وشوه | لا به کیږي مقـــدار (۴)
مــــا خو نو مرد او رنګ وا خست | دا احوال دی دهـــر
هـــر سړی د خپلي خوني | هم بادشاه دی هم ســـرور
هـــر چي اهل د دنیا دي | واړه هسي دي اکثـــر

دا بیـــــان دوړ و دراز ؤ (۵)
رحمان و کړ مختصـــر

۸۲ — ۱۰۵۶

که د عشق لاره اغزنه ده هر ګور | د عاشق په پښو خپلی دي دا ور (۶)
که دیدن د ګلعذار په انتظار شي (۷) | زما سترګي دی شبنم غوندي خلور
تیغ د اوسپني محتاج د نرم آب دی | قهر و حلم یو په سل دی زیات تر زور (۸)
له لولي له سرکښي زما توبه ده (۹) | خدای څوک مه کړه د آسمان په څیر نسکور
خدای زده څه سودا به پښنه په بازار شي | د بازار خبري نه شي په خپل کور (۱۰)
دا همه واړه عاشق له پیدا شوه (۱۱) | که تهمت که ملامت دی که پیغور
جفا جور ناز و کبر د خوبانو (۱۲) | ما په ځان دي قبول کړي لکه پور

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "خدای زده څه چاري شي پسینی چي عاشوره شي که اختر".
د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی: "خدای زده څه بازي پسینه چي عاشوره شي یا اختر".
او په چاپی دیوانونو کی دوهمه مسری داسی راغلی: "عاشورا شي که اختر".
(۲) دا مسری په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "رنګارنګ بازي کاندي". "پ، پ" چاپ: "رنګارنګی بازی کاندی".
د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کی او د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "رنګارنګ بازی کاندی".
(۳) دا بیت په "پ" چاپ کی داسی راغلی دی: "ګهی تلخ شي لکه زهر ګه شیرین لکه شکر".
په "پ پ" چاپ کی: "ګاهی تلخ شي لکه زهر ګاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی: "ګهی تلخ شي ګاهی زهر ګاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "ګهی تریخ شي لکه زهر ګاهی شیرین لکه شکر".
او د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "ګاه تریخ شته لکه زهر ګاه شیرین لکه شکر".
(۴) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نه دی راغلی. لومړی مسری یې په قلمي نسخو کی داسی راغلی ده: "چي وشو هغه وشوه".
(۵) د "پ" دوهمه نسخه: "دابیان دوړ و دراز ده".
(۶) دا غزل په مصور نسخه کی نه دی راغلی او د دې بیت دوهمه مسری په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "د عاشق په پښو کې دی خپلی دادا".
(۷) دا مسری په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی ده: "که دیدن دیار موندو په انتظار شي".
(۸) دا بیت د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی او د دې بیت دوهمه مسری د "پ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "قهر حلم یو په سل دي تر زور".
(۹) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "که لولي ده که سرکښي زما توبه ده". او د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "له لولي له سرکښي مي توبه ده".
(۱۰) دا بیت په قلمي نسخو کی نه دی راغلی.
(۱۱) په "پ" چاپ کی د "شوه" پر ځای "دي" راغلی دی.
(۱۲) دا مسری په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "ناز و جور و کبر د خوبانو". او په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "جفا ناز و جور و کبر د خوبانو".

Marfat.com

راحت بې زحمته نه دی چا موندلی (1) غم ښادي دي د دې دهر خوار او ورور

٨٣

رحمان هسې په خپل یار پسې غوخ غوخ یم (2)
لکه غوخ په خپل اولاد وي پلار او مور

١٠٦٥

پس له مرګه که څوک ارت غواړي خپل ګور — که حق وایم هومره ارت دې بویه ګور (3)

ترځان زیاته کمه چارڅه په کار نه ده — ځان په لوپښت کړه چې دې خودي او ن سور

چې جامه د چا کوتاهه یا اوږده شي — ورکا وه شي هنرمند لره پیغور

هر سړی چې په حساب کې تېر و بېر شي — ملامت پرې وایه کیږي اسور د اور

چې لایق د ملامت او د تهمت شي — ځای لري که بې عزت شي هم سرتور

چې عزت حرمت یې نه وي په جهان کې — هغه هسې ژوندون وسوزه په اور

بې عزت سړی به خوښ د هیچا نه وي — مګر هسې بې عزت وي ځیني نور (4)

خپل مجلس یې تر جمله مجلسه خوښ وي — په هر ځای چې سره جمع شي ځمسور (5)

هر همجنس له خپله جنسه سره خوښ وي (6) — زیب کا هره کښیده په خپل انځور

نابینا په خپله سیمه کې بینا وي — بینایان په پردي ملک شي کړ و کور

که ته نه یې بدکرداره بد عمله — کښېني منه بدکردار سړي په غور (7)

درست صورت د یوه نوک په درد دردمند شي (8) — وران شي ښهر د یوه سړي په تور

چې یو غاښ په خوله کې زوړند شي یا و ځي — درسته خوله پرې بدنمایه شي هر ګور (9)

---

(1) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "راحت نه دی بې زحمته چا موندلی".
د "ب" په دوهمه نسخه کې لومړۍ مسرۍ داسې راغلې ده: "راحت نه دی چا موندلی بې زحمته".

(2) دا مسرۍ په "ب" چاپ، د "خ" په لومړۍ نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "رحمان هسې په خپل یار پسې غوخ غوخ دی".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "زه رحمان هسې په خپل یار باندې غوخ غوخ یم".
د "ب" لومړۍ نسخه: "زه رحمان هسې په خپل یار پسې غوخ غوخ یم".

(3) د "ب" لومړۍ نسخه: "پس له مرګه که ارت څوک غواړي خپل ګور — که حق وایم هومره ارت بویه ګور".
په مصوره نسخه کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "پس له مرګه که خوارت کوي خپل ګور".

(4) "ق" چاپ: "بې غیرت سړی به خوښ د هیچا نه وي — مګر هسې بې عزت وي ځیني لوړ".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې "د ځیني لوړ" پر ځای "خم خور" راغلی دی.

(5) د "خ" لومړۍ نسخه: "په هر ځای چې سره وریښمي خلور". د "ب" لومړۍ نسخه: "په هر ځای چې وېله ورشي حمسور".

(6) دا بیت او وروستي څلور غزله په مصوره نسخه کې نشته. چاپي دیوانونو کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "هر همجنس له خپل هم جنس سره خوښ …" [cut off]
د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "هر همجنس له خپله جنسه سره جوړ وي". په نیز کې

(7) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. د "ب" په لومړۍ نسخه کې پنځه: "که ته نه یې بدکردار و بدکوډاکه کښېنې …" [cut off] "… سړي په غور". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بیت داسې دی: "که ته نه یې بدکرداره بدعمله — کېږې منه بدکردار سړي په لور".

(8) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

(9) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

Marfat.com

یوسري چې په کور ړمه کې د چا ګرم شي — واړه ګرمه کا که پنځه دي که شلور (۱)
بد کړ داړه زوی پېدا مشر له مور ه — ابتر کاندي ناموس د پلار و مور
هر څوک خپله خوشحالي له خدایه غواړي — باري (۲) نه شي دغه کار په زر و زور
خدای په خپل قدرت څوک لوی و څوک هلاک کړ — نه چې هر بنیاد په یلی شي یا لاهور
د ننګو پوروند هر څوک و بله کاندي — بخت هیچا ورکړی نه دی څبله پور
د چا تاج په سر زرین خنجر تر ملا وي — د چا پند په سر په ملا تومبلی لوړ
څوک په آس د پاسه سور وي توغ دوراندې — څوک زیر کلی ګرځاوه شي په خره سور

۸۴ — ای رحمانه د خدای نوم په چا وانخست — ۱۰۸۶
که د خدای چاري په پلار شوي یا په مور

---

تا دي خواب آلود وسترګو خواب راتخه یو وړ — لبو (۳) دي لذت د میو ناب راتخه یو وړ
نه مي اوښکي پاتي شوې نه صبر په صورت کې — د بېرې بې صبرۍ د مخ آب راتخه یو وړ (۴)
زړه مي په نغمو نغمو سوری کړ مطرب بانو — عقل ساقیا نو په شراب راتخه یو وړ (۵)
یو ساقي بل یار د ریم مطرب سره یو ځای شول — زړه یې له ګوګله په شتاب راتخه یو وړ
څه شوکه یې یو وړ خراب (۶) دل مي تري قربان شه — نور چا وړي نه دي خپل احباب راتخه یو وړ (۷)

---

(۱) چاپي دیوانونه : "یوسري چې په کور ړمه کې د چا بد شي . واړه بد شي که پنځه دي که شلور".
(۲) د "خ" د محمد نسخه کې "موندنه نه شي" راغلی دی.
(۳) په چاپي دیوانونو کې "شونډې د" راغلي دي.
(۴) "ق ک" چاپ : "د بېرې بې صبرۍ مې د زړه آب راتخه یو وړ".
"ق" چاپ : "د بېرې بې صبرۍ مې د مخ آب راتخه یو وړ".
"پ ب" چاپ : "د بېرې بې صبرۍ دې د مخ آب راتخه یو وړ".
(۵) دا بیت د "خ" په د محمد نسخه کې نشته. "پ ب" چاپ کې لومړی مسری داسې ده : "زړه مي په نغمو مره سوري کړ مطرب بانو". "ق" چاپ : "زړه مي په نغمو سوري سوري کړ مطرب بانو".
(۶) په چاپي دیوانونو کې "خسته" راغلی دی (۷) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

خط دې تور حرفو نه مخ دې پاڼې د کتاب کړې[1] شغل د کتاب دې بل کتاب راڅخه یوور[2]
هر اسباب چې ما څخه د زهد د پرهیز وُ[3] واړه تا د حسن په اسباب راڅخه یوور[4]

۸۵ کړې مار خوشحال په زړه کې نقش د محراب وُ ۱۰۹۴
ستا آبرو یو نقش د محراب راڅخه یوور

خراب زړه[5] مې د دلبر و هوا یوور د هواله وربوچا زده چې چا یوور
گوښې گوښې بنایسته مې زړه و کاڼې زه و کوم یوه ته وایم چې تا یوور[6]
چې مې زړه لره د تورو زلفو ځای غوښت[7] هغه زړه راڅخه د بریښ ژړا یوور
د سیلاب په مخ کې کله د چا خوب شي شیرین خواب راڅخه د بریښ ژړا یوور
هغه رخت چې مې د صبر د سکون وُ هیڅ رانه کړ هوښانو وبریا یوور
هغه عقل چې یې لاف د خود رایۍ کړې په یوه پیاله د میو مینا یوور[8]
که یې یوور خسته دل مې ترې قربان شه نا آشنا وُ وړی نه دی آشنا یوور[9]

۸۶ هیڅ ناحق پرې شوی نه دی که حق وایم ۱۱۰۲
معشوقې د خوشحال زړه په رضا یوور

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "دی" او د "خ" په دریې واړه نسخو کې "ستوی" راغلی دی.
(۲) "ق" چاپ او "ق ، ک" چاپ :
"شغل د کتاب دې خورد و خواب راڅخه یوور".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه : " د شرم یاد ننگ وُ "
او د "خ" په دویمه او مصوره نسخه کې د " زهد و تقوی " راغلی دی.
(٤) "ق ، ک" چاپ : " واړه ستا د حسن دې سیلاب راڅخه یوور".
(۵) په قلمي نسخو کې " دل " راغلی دی.
(۶) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په "ق ، ک" چاپ کې لومړی مسری داسې ده :
"چې مې زړه مینه په تورو زلفو کړله".
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په چاپي دیوانونو کې داسې دی :
"هغه عقل چې یې لاف د خود رایۍ کړې په یوه پیاله یې واړه له ما یوور".
د "خ" لومړۍ نسخه : "هغه عقل چې یې لافې د خودۍ کړې".
(۹) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

که کاندي په کوترو نظرباز — هسې زه يم د دلبرو نظرباز

زه و نور چا ته خبري د راز نه کړم (١) — بې هغو چې موی (٢) مژګان لري دراز

بل بادشاه لره محال دي د ملک د زړونو — مګر مخ د چا محمود شي خال اياز (٣)

ستا تر (٤) زني ترسيب پورې راښکاريږي — نورې زنې د خوبانو لکه پياز (٥)

د تصوير له ګلو طمع د بوی مه کړه — بې وفا دي واړه ترکي د مجاز (٦)

هغه يار که په چپل ناز خوښ و خرم دی (٧) — زه هم خوښ يم همېشه د يار په ناز

همېشه مې لاس نيولی دی دعا (٨) کړم — چې مدام دې د يار ناز وي زما نياز

که څوک آه و فرياد نه کړي په عشق کې (٩) — زه په عشق کې دغه کار ګڼم غماز

ښادي هر چېرې د غم په اندازه وي — هسې غم دی د ښادۍ په انداز (١٠)

نيستي واړه (١١) د هستي په دنبال ګرځي — نه پوهيږي په اوبو کې تش جهاز

دا قاعده ده لکه لوړ هومره ژور وي (١٢) — يو صورت دی هم نشيب شي هم فراز

چې يکسان ګوري هم شاه وهم ګدا ته (١٣)
هسې يار دی د رحمان غريب نواز

٨٧ — ١١١٤

---

(١) په چاپي ديوانونو کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "زه و نور چا وته د راز خبرې نه کړم". (٢) د "پ" په دويمه نسخه کې "دوی" راغلي دي.

(٣) د "خ" لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "مګر مخ د چا محمود حال دا ايان" او په دويمه مسرۍ کې د "شي" پرځای د پيښور په چاپي ديوانو، مصوره نسخه او د "پ" په دويمه نسخه کې "وي" راغلي دي.

(٤) د "پ" له لومړۍ نسخې او مصورې نسخې نه پرته په ټولو نورو کې د "تر" پرځای "د" راغلي دي.

(٥) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "ستا د زني ترسيب پورې ښکاريږي نورې ترکې او خوبانې لکه پياز".

(٦) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له منقوشو مرغونه خبرې آواز". (٧) د "پ" له لومړۍ نسخې نه پرته په ټولو نورو کې د "وی" پرځای "دی" راغلي دي.

(٨) په مصوره نسخه، د "خ" لومړۍ نسخه، د "پ" دويمه نسخه، په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې د "دعا" پرځای "خواست" او "ق، ک" چاپ کې "سوال" راغلي دي.

(٩) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "که څوک آه و فرياد نه کړي په عشق کې". (١٠) دا مسرۍ په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "هسې غم د دې دنيا وي په انداز".

(١١) د "پ" په لومړۍ نسخه کې د "واړه" پرځای "هر چېرې" راغلي دي. (١٢) دا مسرۍ د "خ" په دويمه نسخه کې داسې راغلې ده: "دا قاعده ده که لوړ هومره په ځوړ وي".

(١٣) دا مسرۍ د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يکسان ګوري وشاه وه هم ګدای ته". په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده: "چې يکسان ګوري هم شاه ته هم ګدا ته".

Marfat.com

که بې ځایه زړګي نه وښکي آواز — نه صیاد ځني خبر و نه شهباز (۱)
سکه له دې خبرې هسې معلومېږي — خپل صورت دی هر سړي لره غماز (۲)
د منصور وحال ته ګوره حال یې څه شو (۳) — خدای دې فاش د هیچا نه کاندي پټ راز
د بېغه د بېغه که ورو تي عقل پو مبي وي — د انجام خبرې نه شي په آغاز
نېک عمل د عالمانو (٤) نېک فرزند دی — خدای خوک مه کړه شراب خوار او قمارباز
چې فرزند یې شراب خوار او قمارباز شي (٥) — نور یې کاڼي شي د پلار په خونه ساز
خدای له هسې زاهو زاده امان راکړه (٦) — چې بې دین بې دیانت شي بې نماز

۸۸ — ۱۱۲۲
چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي
دا دې شعر دی د رحمان که اعجاز

بد اختر به نېک اختر نه شي هرګز — مرغ چوچه به د ګوهر نه شي هرګز (۷)
که مکان یې په آسمان دی (۸) غزا وشوه — ستاره به شمس و قمر نه شي هرګز
که یې اصل له یوې ځمکې وي څه شو — بېد به سرو صنوبر نه شي هرګز
که حمه عمر باران ور باندې ووري — خس به ګل د پېغمبر نه شي هرګز (۹)
لنا اهلو و فاطمع و مه کړه (۱۰) — ګنده نل به نیشکر نه شي هرګز
که تور غر له ځایه خوځي و بخوځي (۱۱) — ولې نور به مقدر نه شي هرګز

۸۹ — ۱۱۲۹
د رحمان په باب چې وشوه هغه وشوه
مکرر (۱۲) به دا دفتر نه شي هرګز

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "هم له دې خبرې هسې معلومېږي خپل آواز دی هر سړي لره غماز".
او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه له دې خبرې هسې معلومېږي چې خپل صورت دی هر سړي له غماز".
(۳) د "پ" چاپ کې د "څه شو" پر ځای "څه دی" راغلی دی.
(٤) په چاپي دیوانونو او د "پ" په لومړي نسخه کې د "عالمانو" پر ځای "عاملانو" راغلی دی.
(٥) په چاپي دیوانونو او "خ" په لومړي نسخه کې د "شي" پر ځای "دی" راغلی دی.
(٦) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "خدای له هسې زاو زاده امان وکړه".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی او د دې بیت د دوهمې مسرۍ "مرغ چوچه" په چاپي دیوانونو کې "مرغ بچې"، د "خ" لومړۍ نسخه کې "مرغچې" او د "خ"
دوهمه نسخه کې "مرغ بچه" او د "پ" په دوهمه نسخه کې هم "مرغ بچې" راغلی دی.
(۸) په "پ" چاپ او "ق.ک" چاپ کې د "دی" پر ځای "وی" راغلی دی.
(۹) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی، دوهمه مسرۍ یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "خس به ګل صنوبر نه شي هرګز". او لومړۍ مسرۍ
یې د "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "که حمه عمر باران ور باندې ورشي".
(۱۰) په "ونه کړي" راغلی دی.
(۱۱) دا مسرۍ د "پ" په لومړي، دوهمه او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "که تور غر له ځایه کوزي و بد کوزي".
دا اول بیت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "که تور غر له ځایه ګرځي و به ګرځي ولې تور به مقدر نه شي هرګز".
(۱۲) د "پ" په دواړو نسخو کې د "مکرر" پر ځای "مکدر" راغلی دی.

Marfat.com

## س

و ښنته سپین ستر ګي تاریکي غابښ کنډه — نه وکاږي د دنیا له چارو لاس
په هلوري[1] چې لې مومې پسې درومې — نه په چپ لوري صرفه کړې نه په راس
یو وښنته دعقیدې دي په تن نشته — سر تر پایه هسې ډوب[2] یې په وسواس
خدای رازق بولې او رزق بولې له کسبه — په داشناخت وځان ته وایې حق‌شناس
هسې رنګ په بد صفت یې موصوف شوی — چې هیڅ نه پوهېږم ناس یې که خناس[3]
په دولې کې به ورته شې تر توحیده — که پېشوا کړې مهتر خضر مهتر الیاس[4]
واره زهر وقاتل نغرې که پوهېږې — که سوال له خدایه نغرې هر انفاس
امر دادی چې له لهې لاس کوتاه کړې — او که نه وي خپسر وګنه مواس (۵)
خیر دادی چې له شره وجار وځې — په دا چارو کې هیڅ نشته کوزوپاس[6]
که زما ویل دروغ یا کوزوپاس وي — ته بخپله په خپل زړه وکړه قیاس[7]
له سره یې غرض واړه سري توب دی — نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس[8]
خه په دا به عراقي او ترکي نه شي — که په خره باندې ښخوك سور شي که په آس[9]

---

(۱) په قلمي نسخه کې "په هرطور" راغلی دی.

(۲) د "ب" په لومړي نسخه کې "ډوب یم" راغلی دی.

(۳) دا بیت په "ق. هـ. ک" چاپ، او د "خ" په لومړي نسخه کې نشته، په نورو چاپي دیوانونو کې داسې دی:

"هسې رنګ په مذهب صفت موصوف شوې — نه پوهېږم چې ناس یې که خناس".

د "ب" په لومړي نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده: "چې هیڅ نه پوهېږم ناس یې که خناس"

(٤) له دې بیت نه وروسته بیتونه په "ق. هـ. ک" چاپ کې نشته

(۵) د "خ" په لومړي نسخه کې دا بیت نشته.

(۶) د "خ" لومړي نسخه: "امر دادی چې له لهې وجار وزې — په دا چارې کې هیڅ نشته کوزوپاس".

(۷) د پېښور چاپي دیوانونو او قلمي نسخې: "ته بخپله په خپل زړه کې وکړه قیاس".

(۸) د "خ" لومړي نسخه: "له سره یې غرض واړه سري خوی دی — نه چې پټ دې زر د مسو په لباس".

د "ب" لومړي نسخه: "له سره یې غرض واړه سري هوس دی — نه چې پټ دي مس د زرو په لباس".

د "پ. پ" چاپ: "که سري یې غرض واړه سري هوش کا — نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس".

(۹) د "خ" لومړي نسخه: "که د خره په سر سري وي د آس".

د "ب" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که د خره په سر سرلیه کړي د آس".

مصوره نسخه: "که د خره په سر سري سور شي که د آس".

دتشنه خوله اوبو سره مطلب وي — نه تش اېښي بې اوبو د زر و طاس[1]
هر زاهد چې په ریا زهد نا زېږي — د خربښت گومان یې کېږي په اماس
دا زما عاجز امید دی که رب کاندي — په قیامت به مې شفیع شي خیر الناس[2]

۹۰ — ۱۱۴۵

اې رحمان که څه کار دی خو د دین دی[3]
نور کارونه بې وفا دي بې اساس

تېر شو درست عمر زما په داهوس — که مې و پوښتې چې څوك یې یا څه کس[4]
یو پرسش د هغه یار ما لره بس کا — چې څه کس وي خوبې یوه وېناوې بس[5]
هزار حیف دی چې په هر نفس تېرې تبنتم — هغه لور ته چې مې تله دي هر نفس
چې یې زه په هر نفس له خدایه غوارم — هغه کله و ینم په د بر پس[6]
که یو خس وي په محتاج لکه کرورشي[7] — خدای دې نه کا څوك محتاج د یوه خس
هر مرغه په خپله جاله کې همای دی — که کارغه که مېنگېرك دی که ققنس
که شهباز لره سینه ده د تنزرې — عنکبوت لره سینه ده د مگس[8]
خو چې خاوروله ورشي برابر شي — که چا غوندی وي اغوستی که اطلس[9]

۹۱ — ۱۱۵۴

هم هغه یې ژړوي چې خندوي یې[10]
نور څوك نشته د رحمان فریاد رس

که څوك فخر کا په ننگ او په ناموس — دا په عشق کې نه ارزېږي یو فلوس[11]
که اغوستې یې زرې جامې وي څه شو — گنه یا مرغ زرین دی یا طاؤس[12]

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : " نه تش بې اوبو د سیمو زرو طاس ".
مصوره نسخه : " نه چې تش کټوری دسیم وزرو طاس ".
(۲) دا بیت د "ق" چاپ د نقل څخه .
(۳) د "خ" په نسخه کې د "دین" پر ځای "خدای" راغلی دی.
(۴) دا غزل په "ق ،ک" چاپ کې نشته.
(۵) "پ" چاپ : " که څه کس وي خوبو ولېه ورلره بس ".
د "پ پ" چاپ : " که څه کس دي خوبو واروی ورله بس ".
"ق" چاپ : " که څه کس دي خوبو حرف ورلره بس ".
د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : " چې څه کس وي خوځم یو دې دی بس ".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې څه کس وي خوبې یو ولې وی بس ".
(۶) د "خ" لومړی نسخه : " هغه کله وو ینمه په د بر پس ".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته ، په چاپي دیوانونو کې لومړی مسری داسې ده : " که یو خس وي په محتاج لکه غر ایشي ".
(۸) د "خ" لومړی نسخه : " که شهباز لره تا به ده د تنزرې عنکبوت لره تا به ده د مگس ".
(۹) په "پ" چاپ کې "چا اطلس" ، او د "پ" په لومړی نسخه کې " یا اطلس " راغلی دی.
(۱۰) چاپي دیوانونه : " هم هغه مې خندوي چې ژړوي مې — بل څوك نشته د رحمان فریاد رس " او د "پ" په لومړی نسخه کې " نور څه نشته " راغلی دی.
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۱۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، او لومړی مسری یې د پښتو په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده : " که اغوستي یې زرین لباس وي څه شو ".

Marfat.com

کړې تاج وي په سر ابنې غزا وشوه ... په نظر زما هدهد دی یا خروس (۱)

نه یې فهم او فراست وي نه یې علم ... خالي نقش لکه عکس د معکوس (۲)

نه یې مغز نه دانه وي په خرمن کې ... عبث هسې په سر لوني واړه بوس (۳)

د مجاز له اهله طمع د خیر مه کړه ... تمامي شر او شدت دی د الوس (۴)

ودانې یې هم واړه ویراني ده ... راشه وګوره ماڼۍ د کیکاوس (۵)

که زما په ګفتګوی کې زیات و کم وي ... ښوک دې ګله کا په دا بنګړ کې جاسوس (۶)

ساقي جام او باده راوړه چې بې خود شم ... خدای ښوک مه کړه په خودۍ کې محبوس (۷)

که ښوک وغواړي تمامه دنیا واړه ... زما یار غوندې به نه وي بل عروس (۸)

۹۲ ... رحمان حسن د یار وینم په پرده کې (۹) ... ۱۱۶۵

نه پټیږي نور د شمع په فانوس

---

ص

ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص ... چې جهان واړه غلام دی د اخلاص (۱۰)

که له ځمکې و آسمان ته ختنه ګران دی (۱۱) ... د اسفر په یوه ګام دی د اخلاص

ردیف ص

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. (۲) دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې نشته. لومړی مسرۍ یې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: " نه یې فهم فراست دی نه یې عقل". او د "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "نه یې نقش او فراست دی نه یې عقل".

(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، دوهمه مسرۍ یې په "پ" چاپ کې داسې ده: "عبث هسې خالي لوني په سر بوس".

(۴) دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې نشته، د "پ پ" چاپ کې دا بیت داسې راغلی دی:

"د مجاز له یاره طمع د خیر مه کړه ... تمامي شر او شدت دی یا سالوس"

د "پ" لومړی نسخه کې: د مجاز له یاره طمع د خیر مه کړه ... تمامي شر او شدت د دله او الوس".

او د "خ" په لومړی نسخه کې یې لومړی مسرۍ داسې راغلې ده: "د مجاز له اهل دله طمع مه کړه".

(۵) په چاپي دیوانونو کې د "کیکاوس" پر ځای "قیانوس" راغلی دی، او دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې نه دی راغلی.

(۶) دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې نشته او دوهمه مسرۍ یې د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده: "ښوک دې وکه په دا بنګړ کې جاسوس".

(۷) دا بیت د "پ" په مختلط نسخه کې نه دی راغلی، دا بیت په "پ" چاپ او مصوره نسخه کې داسې راغلی دی: "ساقي جام د باده راوړه چې بېخود شم ... خدای ښوک مه کړه په خودۍ کې محبوس" په "ق.ک" چاپ کې: "ساقي جام د میو راکړه چې بېخود شم ... خدای ښوک مه کړه په خودۍ کې محبوس". په "پ پ" چاپ کې: "ساقي جام د میو راکړه چې بې خود شم، خدای دې نه کړه په خودۍ کې محبوس ښوک". د "خ" په لومړی نسخه کې لومړی مسرۍ داسې راغلې ده: "ساقي جام د باده راوړه چې په خود شم".

(۸) دا بیت د "پ" په مختلط نسخه کې نشته، د "خ" په لومړی نسخه کې د "بل عروس" پر ځای "یک عروس" راغلی دی (۹) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "رحمان حسن د یار وینې په پرده کې".

(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او په "پ" چاپ او د "پ" په لومړی نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "څه عجب بلند مقام دی د اخلاص ... چې جهان واړه امام دی د اخلاص". او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "مقام" پر ځای "مکان" راغلی دی. (۱۱) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "له دې ځمکې و آسمان ته ختنه ګران دی".

Marfat.com

چې خبر کا مخلصان له غیبه علمه(۱) — داهم واړه الهام (۲) دی د اخلاص
د رواج او رسم عمر مدام نه وي — لکه عمر(۳) چې مدام دی د اخلاص
بې اخلاصه د اسلام حلاوت نشته — که اسلام دی خو اسلام دی د اخلاص(۴)
څه عجب دی که مستان ترې چاپېر ناوي — هر ساقي څخه چې جام دی د اخلاص(۵)
څه عجب دی که همائې په دام نښلي — هر صیاد څخه چې دام دی د اخلاص
پس له مرګه به د اهم و اخلاص نه وي — که اخلاص کړې نن هنګام دی د اخلاص(۶)

۹۳ — د ح کلام په دا سبب شیرین دی — ۱۱۷۴
چې پېهم کلام کلام دی د اخلاص

که ترستوني دې شي ګوټ له جام خاص — هغه دم به شې د غم له شپېو خلاص(۷)
تل په سینه جامه تکی بد لیده شي — ته د اعامې چارې مه کړه خاص الخاص
که دوري نهنګ ځان ته، یو لقمه کړې — زر به را وړې په تحقیق سره غواص
په لباس به دې آسان په صورت ګران شي — مشکلات به دې آسان شي له اخلاص
که نغمه د محبت په غوږ و و اوري — په فلك به شي زهره غوندې رقاص
معنوي صورت پیدا کړه که مېړه یې — فایده څه ده د بوتانو له اشخاص
د بل خېر په خاصیت به هغه ګوري — چې خبر نه وي د مینې له خواص

۹۴ — چې تارچه ورځیني رخت د مینې نکه — ۱۱۸۲
هم د اړا وسه ح انه له رصاص

که ګوهر د عشق په لاس راکړي غواص — بیا هاله بې دی له ما سره اخلاص(۸)
په کاله به د رقیب څه مونه زور شي — که مې یار کاندي حساب له خاص الخاص

---

(۱) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې خبر کا مخلصان له علم غیبه"
(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "اعلام" راغلی دی.
(۳) په قلمي نسخو کې "لکه" راغلی دی.
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو کې یې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "بې اخلاصه حلاوت د اسلام نشته". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "بې اسلامه د اخلاص حلاوت نشته".
(۵) دا بیت د "ب" په دواړو نسخو او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او لومړۍ مسرۍ یې په "پ" چاپ کې داسې ده: "څه عجب دی که مستان وي ترې چاپېره". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "څه عجب دی که مستي یې دی له جوره".
(۶) دا بیت د "ق ک" چاپ او د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته خو لومړۍ مسرۍ یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "پس له مرګه چې د اهم اخلاص نه وي"
(۷) دا غزل یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی، په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته.
(۸) دا دواړه یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلي دي، په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته.

Marfat.com

په کمند د مستې مینې د خوبانو — بندي مه کړې خدایه د شره یوړې خلاص

په رحمان باندې نظر د کرم وکړې
٩٥ — ١١٨٦
ای چې یې د پاك الله په دربار خاص

ساقي راکړه ته وما ته جام د رقص — زه آرزو په زړه لرم مدام د رقص

د دوی اوس به د خوښۍ ساعت په تاشي — مغني راکړه وما پیغام د رقص

مسقي[1] علم خیل استاد را ته تعلیم کړ — راتمایې کړه هر تار مقام د رقص

سر یې پاس تر نهه فلکه خرګند یږي — چې په چاوشي ارشاد اعلام د رقص

چې جلوه پرې د محبوب له لورې کیږي — هرګز نشته په هغه اشام د رقص

لیاقت یې هر وګړي شخه نشته — په لایقو باندې وي انعام د رقص

خوږې سا په وجود شته عبدالرحمانه
٩٦ — ١١٩٣
حقیقت به هومره نه که تام د رقص

# ض

که ته نه کړې په بل چا باندې غرض — بل به هم نه کا په تا باندې غرض[2]

که ګدای د بل په غولي غرض[3] نه کړي — سپي به نه کا په ګدا باندې غرض

په ساحل کشتۍ د هیڅا نه ډوبیږي — که خوك نه کا په دریا باندې غرض

خلوتیان په خپل خلوت کې فراغت دي — د رسوا دي په رسوا باندې غرض

دادنیا په احمقانو ده ودانه — داغانه کا په دنیا باندې غرض

زه رحمان د عشق په درد کې هسې خوښ یم[4]
٩٧ — ١١٩٩
چې مې نشته په دوا باندې غرض[5]

(۱) په مل نسخو کې په "محمدي" د دل لیکل شوی ده. (۲) دا نول په مصر چاپ نسخو کې نشته. د "محمد شمري" په "ب" "تاج" او "ق" کې چاپ شي ... "بل به نه کاندي که ته تا باندې غرض".
(۳) "خ" په لومړي 3 او "ب" په د محمد نسخو کې "ګدا" دي. (٤) دا مسري د "خ" په لومړي نسخو کې داسې ده "زه رحمان به دانا کام کوم تو توبه". (٥) دا مسري د "خ"
په د محمد نسخو کې داسې ده: "چې مې نشته په بل چا باندې غرض".

Marfat.com

په دربار کوم د ښکلي دلبر عرض — په هر دم په هر ساعت مقرر عرض[1]
که قبول شي د مولا په پاک دربار کي — دا په روی د شاه نبي پیغمبر عرض
په مانند د ګړیال په پنځه وخته — په شورش د غږ له خوفه د سفر عرض
بي خاونده د کار (و) کله څه کېږي — څه که کار ته همیشه که قلندر عرض

۹۸ — دا رحمان بي نبي کله د رخښتن ته
ښوی کولی د بل کار سراسر عرض — ۱۲۰۴

که مي یار په دیدن سر غواړي عوض — ور قربان شه چي دلبر غواړي عوض
چي هستي وار نیستي کاندي واصل شي — ګند کچکول دي قلندر غواړي عوض
د دوهمه په اور به څه حاجت موقوف وي — عاشقي تري خاکستر غواړي عوض
خپل صورت ورته دافه کړه ته د مشکو — یار مجمر لره عمبر غواړي عوض
د لباس له ښکلیو طمع بوسه مه کړه — د بوسي په د درکړه زر غواړي عوض
د دي دهر له تنګي ووېره وکړه — د کمتري په ځای بهتر غواړي عوض
د عشق د رڅه په اسانه لوسته نه شي — په دا ځای کي زېر و زور غواړي عوض

۹۹ — په یو ځله به تري خلاص نه شي رحمانه
سر و مال دي مقرر غواړي عوض — ۱۲۱۲

---

مع مه کړه په دنیا کي د نشاط — بنیا به نه مومي نشاط په دا بساط[2]
لکه راغله بیا به هسي ځني درومي — دا جهان دی د رهرو یو رباط[3]
تر هر ګام لاندي کوهي دي د دي دهر — ایښی بویه هر قدم په احتیاط

---

(۱) دا دواړه غزلي د نسخ له دویمي نسخي نه نقل شوي.
(۲) دا غزل په مصوره نسخه کي نشته.
(۳) دا بیت په چاپي دیوانو او د «ب» په دوهمه نسخه کي داسي راغلی دی: «لکه راغلي بیا به هسي ځني درومي — دا جهان د رهرو لو دی رباط».

ودانا وته په دا جهان سنکار پري ي — هم جنت او هم دوزخ او هم صراط

په عاشق به هيڅ دهشت د رقيب نه وُ — که يې نه کړي له خوبانو اختلاط

له کم ذات بې ديانته بې نمازه — طمعه مه کړه دنيکۍ د يو قيراط[1]

١٠٠ غم د ترکو تر رحمان هسې چاپېر شو[2] ١٢١٩

لکه وسکني جامه په چا خياط

تن نګار و ماته راکړ د ياري خط — وې يې واخله دا مې دی د دلداري خط[3]

دغمازله دوراهه تراهي وکړه — ځای به بايای د مکار په جواري خط

څېري نه وي چې يې خبري په غفلت کړي — تل يې لوله په تميز په هوښياري خط

په مات سره به ستا انجام ته رسي — اسان کله دی د استاد د رياري خط

دغفلت له خوبه پاخه بيا يې کړه — تل وتا ته سپارلي د بيداري خط

برابر د خط په حکم قدم کښږده — که ته غواړې په عقبی د ناماله اي خط

١٠١ له مېزانه که امان غواړې رحمانه ١٢٢٦

تل خو لوله په ډېر عجز په زاري خط

---

و مه کله دی پاخه والي واعظ — هر چې والي واره سته والي واعظ[4]

چې دی ماله خپله پاره لري باسي — نور به څه ورته او مه والي واعظ[5]

جار واته زماله پاره ډېر مشکل دی — زياتي څله دوباره والي واعظ

---

(١) دا بيت د "ب" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته او لومړی مسرۍ يې د پېښور په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده:
"له کم اصله بې ديانته بې نمازه" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسرۍ داسې ده: "له کم اصلو بې ديانتو بې نمازه"

(٢) دا مسرۍ په "ق ، ک" چاپ کې داسې ده "غم د ترکو د رحمان هسې چاپېر دی". (٣) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو. (٤) دا غزل په مصوره نسخه ، د "ب" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته . (٥) دا بيت په "ب" چاپ او "ق ، ک" چاپ کې داسې راغلی دی." دی چې ماله خپله پاره لري باسي نور به څه راته او مه والي واعظ". د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "چې ته ماله خپله پاره لري باسي زه به څه درته وايم والي واعظ".

Marfat.com

په خوږو پستو خبرو يې غلط شوې* (۱) — داخواره خواره تراخه والي واعظ
خوك به څه باور ددده په نصيحت كا — چې له ياره جار دواته والي واعظ
زه يې عشقه بل يو كار كولى نه شم — د برله عشقه تښتېده والي واعظ
اعتبار يې په نرمي په گرمي مه كړه (۲) — داتا ووده تا ووده ساره والي واعظ

١٠٢ — ١٢٣٤

اوريدونكى يې رحمان د ويل نه يم (۳)
بهتر دادى چې نور نه والي واعظ

بلبلان كه له گلزاره مومي حظ — مشتاقان له خپله ياره مومي حظ (٤)
زه د عشق له تاوده اوره بهره مند يم — سمندر له سره انگاره مومي حظ
چمن غوټۍ واز سحر باد كا — عاشقان خوله رساره مومي حظ
په طلب يې نفع مند شوم له هر جانه — تل ښكاري له خپله ښكاره مومي حظ
مجنون بيامونده خوښي په بيابان كې — هر منصور له تېره داره مومي حظ
څوچې ملك د جهان زير و قدم نكا — په خپل ځاى به څوك قراره مومي حظ
شگفته چې د غوټۍ غوندې سحروي — هغه زړه به يې شماره مومي حظ
په سندل د سر مې سر د وصل بيامونده — وياري تل له وياره مومي حظ

١٠٣ — ١١٤٣

چې نو لې يې خپل ځان ذم واورته
رحمان خلك له انواره مومي حظ

ع

په تندي چې آتش بل كړ مدام شمع — خلك بيامونده له خلقو اكرام (۵) شمع (٦)
په انوار يې منور اهل ابصار شو (۷) — لا به كله شي ښكاره د انعام شمع

---

* . ددې غ د متن پايليكونه دى په (٧٨) مخ كې ولوستل شي .

پتنګان بې لوره لور ترمخ خرخېږي(۱) — خکه(۲) نه کوي په سول کې آرام شمع
وسېزه ته ځان زما په شعله باندې — کړه پتنګ ته په رموز کې کلام شمع(۳)
۱۰۴ ستا مجلس د خاصوخاصو(۴) سرفرازو
د رحمان په خبر نه مومي هر عام شمع ۱۲۴۸

طمع دې پرې کړه له وګړیو رښتیا طمع — نور بادشاهي هرګز مه کړه له چا طمع(۵)
زېړی رنګ د آشنایانه مبدل شي — پیدا مه شه د آشنا له آشنا طمع
چې له سنګلیو دې دهر وفا غواړي — د نادان په خبرې شي د کیمیا طمع
چې مراد غواړې د زړه له مهرویانو — ستا په دام کې نیوای شي د عنقا طمع
خدای د عقل جواهر ورته بخښلي — له نادانو به څه شان کا د انا طمع
څه سپی د فقیر پښې او لمن نیسي — چې د خدای له دره پرې کا ګدا الطمع
۱۰۵ له دغه رنځه بې طاعون، تبه بهتر دی
ای رحمانه خدای دې مه کړه پیدا طمع ۱۲۵۵

---

## غ

هر یو ګل د ستا د باغ روښن تر دی تر چراغ — روښن تر دی تر چراغ هر یو ګل د ستا د باغ(۶)
ستا د باغ و دېن زاغ په نظر زما همای دی — په نظر زما همای دی ستا د باغ و دېن زاغ(۷)

---

(۱) د چینور چاپي دیوانونه او د "ب" لومړی نسخه: "پتنګان دي لوره په لوره ترمخ خرخېږي". د "خ" دوهمه نسخه: "پتنګان بې لوره په لوره ترمخ تیرېږي". (۲) "ق، ک" چاپ کې "هغه نه کوي" راغلی دی. (۳) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی په عوض یې دا بیت راغلی دی: "لوره لوره جهان واړه که روښانه چې شي بله په هرځای په مقام شمع".

(۴) د "خ" په دوهمه نسخه، "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "خاصوخاصو" پر ځای "خاص الخاصو" راغلی دی.

(۵) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۶) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته (۷) دابیت په قلمي نسخو کې داسې راغلی دی: "ستا د باغ د بنوزاغ په نظر زما همای دی / په نظر زما همای دی ستا د باغ د بنوزاغ". او د "پ" چاپ کې د "همای دی" پر ځای "همای ده" راغلی ده.

د (۷۷) مخ د متن مربوط پاڼلیکونه:

(۱) دا مسرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "په خوږو پستو خبرو د خلط مه شه". (۲) دا مسرې په چاپي دیوانونو او د "ب" په لومړی نسخه کې داسې ده: "اعتبار یې د بنده والي په ګرګه مه کړه". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "اعتبار د بنده په ګرګه مه کړه". (۳) دا مسرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "او ریدلي یې رحمان د ویل نه دی".
(۴) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو. (۵) په "پ" چاپ کې "آرام" راغلی دی (۶) دا غزل په مصوره نسخه، د "ب" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۷) دا مسرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "په اقوال دې مېنې اهل ابصار شوه".

Marfat.com

د درد منو په دماغ ستا د درخاورې عنبر دې — ستا د درخاورې عنبر دې د درد منو په دماغ
دعاشق د ټټر داغ په آسمان دعشق آفتاب دی — په آسمان دعشق آفتاب دی دعاشق د ټټر داغ (۱)

۱۰۶ — در رحمان د زړه فراغ نه شي بې خوبانو (۲) — ۱۲۶۰
نه شي نه شي بې خوبانو د رحمان د زړه فراغ

ورنګ زیب او شاهجهان غوندې اشراف — صدقه شه تر منصور غوندې نداف (۳)
که دې تن په لوی لوی د بدې خه کړي (۴) — مه ګړه خدای چې کوه طور شي کوه قاف
بوالهوس دې عاشقۍ ته هوس نه کا — دا دروغ دی چې زر دوز شي بوریاباف (۵)
دمکې په بزرګۍ کې هیڅ شك نشته (۶) — ولې خر به حاجي نشي په طواف (۷)
که په سل دریابه غسل دځان وکا (۸) — ګومان مه کړه چې به سپی شي پاك وصاف
کشتۍ هم چې ډېره ډکه شي ډوبیږي — د مسرف بلا به ځان شي خپل اسراف (۹)
صابرانو صبر پرېښو د حریصان شول — نه څه عدل شته په ځان کې نه انصاف (۱۰)

---

(۱) دا بیت د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دعاشق د ټټر په اسمان باندې افتاب دی مل دعاشق د ټټر داغ".
(۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "درحمان د زړه فراغ به په نه شي بې خوبانو — په به نه شي بې خوبانو درحمان د زړه فراغ".
د "خ" دوهمه نسخه: "درحمان د زړه فراغ نه شي بې خوبانو — نه شي بې خوبانو د رحمان د زړه فراغ".
(۳) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(٤) په چاپي دیوانونو کې: "که لې تن په لوی لوی وی ته نه بې خه کړي".
په "ب" چاپ کې داسې دي: "که دې تن په لوی لوی دی ته بې خه کړي".
د "خ" لومړۍ نسخه: "که دې تن په لوی وه دی نه بې خه کړي".
د "خ" دوهمه نسخه: "که دې تن په لوی لوی وی ته نه بې خه کړي".
(٥) د "خ" لومړۍ نسخه: "بوالهوس دې عاشقۍ ته نظر نه کا — دا دروغ چې زر ورشي بوریاباف".
(٦) د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې دي: "د مکې په بزرګۍ کې شك نشته".
(٧) د "ب" لومړۍ قلمي نسخه: "ولې خر لې حاجي نشي نه طواف".
(٨) د "ب" په نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که په سل دریابه غسل دځان وکا".
(٩) د "ب" لومړۍ نسخه: په نورو قولو کې داسې دی: "د مسرف به ځان بلا شه خپل اسراف".
(۱۰) په د لومړۍ نسخه: په نورو قولو کې داسې دي: "نه څه عدل شته په ځان کې نه انصاف".

Marfat.com

داخلو رمذهب واړه سره يو دي (١) — ما اوتا پکې پيدا کړ اختلاف
دهم واړه وملکونوخښتن يو دي (٢) — که دوزخ دی که جنت دی که اعراف
شهيدان نه دي هغه خون فروشان دي (٣) — که (٤) خوني ته خون بها نه کا معاف
د کاذب ژبه په خوله کې وچه ښه ده — لکه توره د لړگيو په غلاف (٥)
د دبوال په سر به څوځغلي ترکومه — دروغژن چې په دروغ کاندي لاف (٦)
آب وتاب د ناکره هر وي څومره — څو نظر پرې شوی نه دی د صراف (٧)
د دنيا په دولت ناز مکړه رحمانه — دا يو موی دی په نظر دموی شگاف (٨)

١٠٧

مدح او هجوه د حبيب او د رقيب (٩)
ح نه زده بله هجوه بله لاف

١٢٧٥

چې پای بند شو دليلی په اشتياق — مجنون واچاوه (١٠) ونوروته طلاق
چې د ميو د مطرب په خوند خبر شو (١١) — فراموش کړه صوفي نفل د اشراق
جام د ميو دی يا رقص د خوبانو — په هر ځای چې وي بله جمع شي عشاق (١٢)
په نسيا و نظر نه کاندي بې نقد ه (١٣) — که څوک حوري ورته ستايي که براق
چې حاصله د دلبر يگانگي شي (١٤) — د دوئ خبرې نه کاندي مشتاق

(١) په چاپي ديوانونو اود "ح" په دوهم نسخه کی دامسری داسی ده: " داخلو رواړه مذهبه سره يو دي ".
(٢) دامسری د "ح" په لومړی نسخه کی داسی ده: " داهم واړه ملکونه دخښتن دی. او په دريو واړو چاپي ديوانونو کی د "يو دی" پرځای "خدای دی" راغلی دي.
(٣) د "پ" لومړی نسخه: " شهيدان نه دی هغه خود فروشان دی". د "ح" لومړی نسخه: " شهيدان نه دي هغه خود خون فروشان دي" اود "ح" دوهمه نسخه: " شهيدان نه دی هغه واړه خون فروشان دی".
(٤) د "پ" له لومړی نسخې نه پرته په نورو ټولو کی د "که" پرځای "چې" راغلی دی.
(٥) په چاپي ديوانونو کی داسی ده: " لکه توره دلرگی وی په غلاف". (٦) په "پ" چاپ کی دامسری داسی ده: " دروغژن چې په دروغو وهلی لاف".
د "ق ، ک" چاپ اود "ح" په لومړی نسخه کی دامسری داسی ده: " دروغژن به په دروغو کاندی لاف" (٧) دابيت د "ح" په دوهم نسخه کی نشته ددې
بيت لومړی مسری د "پ" په لومړی نسخه کی داسی ده: " آب وتاب د ناسره مهر وی هومره"، د "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: " آب وتاب د ناکرده مهر وی
هومره". اود "ح" په لومړی نسخه کی داسی ده " آب وتاب د ناسره مهر د خوی هومره". (د پای ليک پاتی په ٨١ مخ کې)

حرکت له ځایه نه کا لکه شمع / کړي اورد عشق(۱) بل بري په تاراق(۲)

هسې خوښ وي ځپل یار په دړه غم کې / ته به والې چې بادشاه دی د آفاق

هسې محوه وي د عشق په میوناب کې(۳) / چې خبر نه وي په وصل(۴) په فراق

لا ظاهر په صورت وي په معنی نه وي / لکه کښلی د "لا" لفظ وي په اوراق(۵)

خولې تن په کاروان(۶) زار کې فنا نه شي / نه جار باسي مخ آسونه د عراق

د عراق آسونه کار په اشارت کا / په کوتل په وهل کار کوي اولاق(۷)

چې خدای پوه کړ(۸) د بنوي ځنبل پوه شو / چې پوه نه شو نه پوهېږي په شلاق

کړي سر چې کړي مال چې خدای دي نه کا(۹) / د طالب او د مطلوب ترمیان نفاق

د قسمت پاسي(۱۰) په لاس نیولی ناست یم / نه پوهېږم چې به جفت شي که به طاق

ته چې پند والې ناصحه ورځ نه / کاشکي نور کړې هغه کښلی د میثاق (۱۱)

۱۰۸

۱۲۹۰

---

د (۸۰) مخ د پایلیک پاته :

(۸) د دې بیت لومړی مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده : "په دنیا او په دولت نازمه کړه رحمانه" په "ب" چاپ او "ق، ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې "موشګاف" راغلی دی.

(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته خو دا بیت په "ب" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې دی: { "مدح د هجو د حبیب و د رقیب کړمه / رحمان نه زده بله هجو نورا اوصاف".

د "پ پ" چاپ کې دوهمه مسری داسې ده: "د رحمان نه زده بله هجوه بل اوصاف".

د "خ" په لومړي نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "مدح خوبه د رقیب و د حبیب کړمه / رحمان نه زده بل سخن و بل اوصاف".

(۱۰) دا مسری په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "مجنون واچوه لوړ و نخو ته طلاق". د "ب" په نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې "واچول" راغلی دی.

(۱۱) نیا چاپ: "چې دمه ود طرب یه خوند خبر شه". د "خ" لومړی نسخه: "چې د میو د مطرب له خونده خبر شه".

(۱۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته د دوهمې مسری د "وبله" پر ځای په "ق، ک" چاپ کې "سره" او د "خ" په لومړي نسخه کې "خپله" راغلی دی.

(۱۳) د "خ" په دواړو نسخو کې "لقدو" راغلی دی.

(۱۴) د "ب" لومړی نسخه: "چې حاصل یې د دلبر و یګانګي شي". په "ق، ک" چاپ او "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې حاصل یې د دلبر یګانګي شي". د "خ" لومړي نسخه کې داسې ده: "چې حاصل یګانګي شي د دلبر و" او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې حاصل یې یکایکي شي د دلبر و".

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې د "عشق" پر ځای "په سر" راغلی دی.

(۲) په "ق، ک" چاپ کې "براق"، د "خ" په دوهمه نسخه کې "په تاراق"، او د "پ" په دوهمه نسخه کې "یلاق" دی.

(۳) د "خ" لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې ده: "هسې محوه دی د عشق په میوناو".

(۴) د "خ" په لومړي نسخه کې "دی" راغلی دی.

(۵) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "که ظاهر په صورت وي په معنی نه وي / که کښلی د "لا" لفظ وي په اوراق". په همدې ترتیب یې لومړی مسری په "ق، ک" چاپ او د "خ" لومړي نسخه او مصوره نسخه کې په پوره توګه راغلی ده. لومړی مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "دا ظاهر په صورت وي په معنی نه وي". او په "ق، ک" چاپ کې یې دوهمه مسری داسې راغلې ده: "لکه لیک وي د "لا" لفظ په اوراق".

(۶) د "پ" په دوهمه نسخه کې "کاروبار" راغلی دی. (۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نه دی راغلی، دوهمه مسری یې په "ب" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "په وهل په کوتل کار دی د ایلاق". په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "په وهل په ډېر مشکل کار دی د ایلاق". د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "په وهلو په کوتلو دی د الاق". او لومړی بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د عراق کار دونه کا ریه اشارت کا / په وهل په کوتل کار دی د علاق".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته. په لومړي مسری کې یې د "پوه کړه" او په چاپي دیوانونو کې "پوه کړل" راغلی دی. (۹) دا مسری د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "که یې سر ځي که یې مال دي خدای دي نه کا". په چاپي دیوانونو کې دا بیت د دوهمې مسری د "میان" پر ځای "منځ" راغلی دی. (۱۰) په "ب" چاپ او "پ پ" چاپ کې "یا نځي" او "ق، ک" چاپ کې "بازي" راغلی دی. (۱۱) دا مسری په مصوره نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "کاشکي نور کړې هغه شوی د میثاق".

Marfat.com

خدایه څه شوه هغه سنګلي خلق ‌ ‌ ‌ په ظاهر په باطن سپین سپېڅلي خلق

هیڅ خندا مي له دې خلقه سره نه شي ‌ ‌ ‌ ژړوي مي هغه تللي تللي خلق

خبر نه یم چې وکوم خواته لاړ شوه ‌ ‌ ‌ لېده نه شي هغه مالېدلي خلق

لکه ځنګ چې داوبو په مخکې دروم‌ي[1] ‌ ‌ ‌ هسې دروي په جهان راغلي خلق

دریغه یو ځله خو بیا په جهان راغلي ‌ ‌ ‌ له جهانه په ارمان وتلي خلق

هزار حیف دي چې په خاورو کې لاړه شي[2] ‌ ‌ ‌ په چووا په چندن لړلي خلق

109

رحمان هسې ګوښه خوند له خلقه بیامومند
چې هرګز نه دی داخوند مومندلي خلق

1297

چې په زړه مي تور لحد شي ځیل ځاك ‌ ‌ ‌ بې مزې شي هم مي خوب هم مي خوراك

چې دخوب اودخوراك مزه شي ورکه ‌ ‌ ‌ نور له مرګه برابر شي هغه ژواك

غلط والي چې خوك عمر ورته وايي ‌ ‌ ‌ هغه عمر چې تېرېږي په بخساك

تن سپېره په خاورو که خو لحد کې یم ‌ ‌ ‌ چې آخر مي داخوراك دی داپوشاك

ځای لري که ځان ژوندی په مځکه خښوکړم ‌ ‌ ‌ چې مي پس له مرګه ځای دی یو مغاك

ګویا شوي دي هغه چې شدني دي ‌ ‌ ‌ زه په خوا تر هلاکت یمه هلاك

زړه چې روغ وي ګریوان کله خیراوه شي ‌ ‌ ‌ له ګریوانه معلومېږي دزړه چاك

تن وځای وجامه پاك هله په کار دي[3] ‌ ‌ ‌ چې ړومبی شي دچا زړه له غیرو پاك

سړی بویه چې درون بېرون یې یو وي ‌ ‌ ‌ نه هغه چې بیرون زروي درون لاك

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه، د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "لکه نغر چې داوبو په زمله درومي". او د "خ" دوهمه نسخه: "لکه نغر چې داوبو په مځکې درومي".
(۲) د "ق" "چاپ کړ" "ګنده" راغلی دی.
(۳) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "تن وځای وجامه کله په کار بېږي". د "خ" لومړی نسخه: "تن دځای جامه هاله دچا په کار وي".

لە سریە غرض وارە سر نیتوب (١) دی — کە پە سر کې لې طرە وي یا مسواك
ددنیا چارې همە وارە فاني دي — خوك یو دوە ورځې خوشحال وي خوك غمناك
پە ساعت کې خوك خوشحال کا خوك ملال کا — دا خویونە لرغوني دي د افلاك (٢)

چې خە کاندي وارە خداى دى نور خوك نشتە
رحمان خە دى خەلي واك د خە ادراك (٣)

۱۱۰ — ۱۳۱۰

ماتوي مې خولە پە سولك — خراشي مې زړە پە نولك (٤)
كە ناري وهم كە ژاړم — پروا نە لري (٥) يوچولك
راشئ گورئ منصفانو — د دلبرو دا سلوك
لكە گل پە لاس د طفل — زما زړە كا شوك پە شوك (٦)
دچشمانو پە غمزە سیب — ژوبل ژوبل یم تموك توك
پە توسن د فلك سور شي — دستار كبر دي پە سر هولك
هيڅ اثر ورباندې نە كا — د دردمنو درد و دوك (٧)

اى رحمانە چې عاشق شي
ځان دې ژاړي كوك پە كوك

۱۱۱ — ۱۳۱۸

زړە مې تراشي دبنو پە تېرە نولك (٨) — ماتە وي مې دودبرش غابس وارە پە سوك
پە غمزو د توروسترگو يم وژلى (٩) — ژوبل ژوبل پروكي پرېكي يم توك توك (١٠)
كە ناري وهم كە خاوري پە سر لوم (١١) — نا روا شە كە پروا لري يوچولك (١٢)
لكە گل چې خوك د طفل پە لاس وركا — هسې رنگ دې زما زړە كړ شوك پە شوك (١٣)

---

(١) پە "ب" چاپ او قلمي نسخو كې "سري هو" راغلى دى.
(٢) دا بيت د "خ" پە لومړي نسخە كې نشتە. پە چاپي ديوانونو كې داسې دى: "پە ساعت كې خوك خوشال كا خوك غمناك كا — دا خويونە هميشە دي د افلاك".
(٣) د "خ" دوهمە نسخە: "چې خە كاندي دا رحمان اى كاندي رحمانە — سري خە دى خەلي واك خەلي ادراك".
(٤) دا غزل د "خ" پە لومړي نسخە او مصورە نسخە كې نشتە.
(٥) د "خ" پە دوهمە نسخە كې "لوم" راغلى دى.
(٦) "ق" چاپ او "ق، ك" چاپ: "زما زړە لې كړو شوك پە شوك".
(٧) د "خ" پە دوهمە نسخە كې "د زړە دوك" راغلى دى.
(٨) دا غزل د "ب" پە دوهمە نسخە كې نشتە، او د پښور "ق، ك" چاپ كې د "نولك" پر ځاى "څوك" راغلى دى.
(٩) د "ب" لومړي نسخە كې: "پە غمزو د توروسترگو مې ورژلى". او د "خ" پە لومړي نسخە كې پە دې شكل دە: "پە غمزو د توروزلفو مې وژلى".
(١٠) دا مسرى پە "پ" چاپ كې داسې دە: "ژوبل ژوبل وكي پريم توك توك".
(١١) د "ب، پ" چاپ او "ق، ك" چاپ كې "نولم" راغلى دى.
(١٢) پە "پ" نسخو او د "خ" پە لومړي او مصورە نسخە كې "خوك" راغلى دى.
(١٣) د "پ" لومړي نسخە: "هسې رنگە زما زړە كا شوك پە شوك". "ق، ك" چاپ: "هسې رنگە دى زما زړە كړە شوك شوك". د "ق" چاپ: "هسې رنگە دې كړ زړە زما شوك شوك". او د "خ" دوهمە نسخە: "هسې رنگ لې زما زړە كړ شوك پە شوك".

Marfat.com

که له ډېره درد وغمه مې زړه وچوي — ورنه هېڅ دي زما دردو زما دوك (۱)
درست جهان يې په غم ډوب کړ سرتر پايه (۲) — که ګدای دی ددې دهر که ملوك
د آسمان په نيلي سور لکه آفتاب شي — د زرېفتو دستار کېږدي په سرهوك
که انصاف لري په زړه کې منصفانو (۳) — راشئ ګورئ د دلبرو د اسلوك
زه به ولې د خپل يار ثنا نه وايم — چې سحر سحر ناري وهي تل غوك (٤)

چې عاشق د دلبرانو په جمال شي (۵)
ای رحمانه خان دې ژاړي کوك په کوك

۱۱۲ — ۱۳۲۸

چې علاج کولی نه شي د قسمت څوك — تروبه څه والي وچاته نصيحت څوك (٦)
هغه چارې چې موقوفې په تقدير دي (۷) — کړی يې نه شي په محنت په مشقت څوك
که نظر کا وقضا وهم رضا ته (۸) — په هيچا باندې دې نه کا ملامت څوك (۹)
د مطلوب جفا وفا واړه هنر دي — چې پوهېږي د حکماؤ د حکمت څوك (۱۰)
غم په خان د چا پېرزو دی باري څه کا (۱۱) — چې د خدای په کړو کې نه لري قدرت څوك (۱۲)
د ابليس و رياضت ته دې نظر کا — څه غرور کا په طاعت په رياضت څوك (۱۳)
علت لا رشي عادت نه ځي له سري نه — خدای دې نه کاندې په بد عادت څوك (۱٤)

زه رحمان د بېلتانه سيلاب يم وړی
که لاس راکاندې د خدای په محبت څوك

۱۱۳ — ۱۳۳٦

---

(۱) دا بيت د "ځ" په لومړي نسخه کې نشته. د "ځ" په دوهمه نسخه کې يې لومړی مسری داسې دی: "که له ډېره درده وغمه مې زړه چوي". په مصوره نسخه کې داسې دی: "که له ډېره غمه مې زړه چوي".

(۲) دا مسری د "ځ" په لومړي نسخه کې داسې دی: "درست جهان يې سره ډوب کړ سرتر پايه". او د "ځ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "درست جهان په غم کې ډوب دی سرتر پايه".

(۳) دا مسری په "ق" چاپ کې داسې دی: "که انصاف لرئ په زړه د منصفانو".

(٤) دا بيت د "ب" په لومړي نسخه او د "ځ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. په "ق.ک" چاپ کې يې دوهمه مسری داسې دی: "چې سحر سحر ناري وهي هم غوك".

(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو کې داسې راغلی دی: "چې مين د دلبرانو په جمال شوې ای رحمانه خان وژاړه کوك په کوك". او هم يې وروستۍ مسری د "ځ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "ای رحمانه خان وژاړه کوك په کوك".

(٦) دا غزل د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته او دوهمه مسری يې په "ق.ک" چاپ کې داسې راغلی ده: "تروبه څه والي وما ته نصيحت څوك".

(۷) دا مسری په "ق.ک" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده: "هغه چاره چې موقوفه په تقدير دي".

(۸) د "ب" لومړي نسخه: "که نظر کا د قضا و رضا ته". "ق.ک" چاپ او "ق" چاپ: "که نظر کا هم قضا او هم رضا ته".

(۹) مصوره نسخه او د "ځ" دواړه نسخې، "ق.ک" او "ق" چاپ: "په هيچا باندې به نه کا ملامت څوك".

(۱۰) په ټولو چاپي ديوانونو، مصوره نسخه او د "ځ" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې ده: "څه پوهېږي د حکماؤ په حکمت څوك".

(۱۱) دا مسری په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "غم د چا په خان پېرزو دی باري څه کړ". په مصوره نسخه او د "ځ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "غم د چا په خان پېرزو دی ولې څه کړ" او د "ځ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "غم پر خان د چا پېرزو نه دی باري څه کړ".

(۱۲) د "ب" چاپ او "ق.ک" چاپ کې د "قدرت" پر ځای "طاقت" راغلی دی.

(پاتې په (۸۵) مخ کې)

Marfat.com

په ښایست زما د یار نه دی خبر څوک
که خبر شي پرې به نه بدي دغه در څوک (۱)

د دنیا چارې همه واړه فاني دي
نر ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوک (۲)

چې قبول شي په درګاه د ههرویانو (۳)
د هغه (۴) په خبر به نه وي بختور څوک

که زما د یار په مخ د چا نظر شي
وبه نه کا و بل مخ وته نظر څوک (۵)

که هر څو دلبران ډېر دي (۶) په جهان کې
بل به نه وي زما یار غوندې دلبر څوک

د دیدن طاقت یې هېچا څخه نشته
و آفتاب ته کتی نه شي برابر څوک

عاشقي یوه پایه ده هجا یې به
دغه کار کولی نه شي هم هر هر څوک (۷)

له هجرانه بله سخته بلا نشته
خدای دې نه کاندې زخمي په دا نښتر څوک (۸)

مخ به بل خواته هرګز ونه جاړ باسي
چې شي ستا په خمار وسترګو ابتر څوک

وبه نه رسېږي تا ته په آسانه
ستا په غم چې خاورې نه کاندي په سر څوک

ارمانونه به کوي زار زار به ژاړي (۹)
چې حاصله ګونته نه کا په ششدر څوک

هومره نوم د عاشقۍ ورباندې مه بده
چې د یار په غم کې نه شي قلندر څوک

هغه نه کاندي نظر وسیم و زر ته
چې په لور د خپل آشنا کاندي نظر څوک

په ګلونو د ګلزار به میل نه کا ناري (۱۰)
چې خوبونه کا د یار په خاکستر څوک

---

د (۸۴) مخ پاته :

(۱۳) په "ب" چاپ، "پ اب" چاپ، "ق" چاپ، مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې دسرۍ داسې ده: "چې غرور کا به عبادت طاعت په ریا څوک"
په "ق اک" چاپ کې د "چې" پرځای "که" راغلی دی او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ریا" پرځای "عبادت" راغلی دی.

(۱٤) د "ب" لومړۍ نسخه: "علت لاړ شي عادت نه ځي له سره په خدای دې نه کا په بده چاره عادت څوک".
"ق" چاپ: "خدای دې نه کاندي په بدچاره عادت څوک".
په مصوره نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده: "خدای دې نه کاندي په بده چاره عادت څوک".
د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړی بیت داسې دی: "علت لاړ شي له سرې نه عادت نه ځي ـ خدای دې نه کاندي په بده چاره عادت څوک".

---

(۱) دا غزل د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۲) د "ب" لومړۍ نسخه: "نر ناحق خاورې خدلوني په سر څوک".
په "ق اک" چاپ کې داسې ده: "نه ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوک".
په "ق" چاپ کې: "د دنیا چارې فاني واړه فاني دي نر ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوک".
مصوره نسخه: "پر ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوک"
د "خ" دوهمه نسخه: "تر د ناحقه خاورې لوني پر سر څوک".

(۳) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "چې قبول شي په درګاه د خوبرویانو".

(۴) د "خ" په دواړو نسخو او مصوره نسخه کې د "هغه" پرځای "هغوی" راغلی دی.

(۵) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "وبه نه کاندي بل خوا وته نظر څوک".

(۶) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "دي" پرځای "شي" راغلی دی.

(۷) په قلمي نسخو کې د "هر هر څوک" پرځای "هر څوک هر څوک" راغلی دی.

(۸) دا بیت او په دې بیت پسې شپږ نور بیتونه په موجوده قلمي نسخو کې نشته.

(۹) دا مسرۍ په "ق" چاپ کې داسې ده: "ارمانونه به کوي په زار زار ژاړي".

(۱۰) دا بیت په "ق اک" چاپ کې داسې دی: "په ګلونو د ګلزار یې میینه نه وي"

Marfat.com

بې رهبره يون د عشق په لارې ګران دی — دلته بويه چې پيدا کاندې رهبر خوک (١)

١١٤ — ١٣٥٢

چې بېلتون په سترګو وينې آشنايي کا (٢)

د هجران په خبر به نه وي بې هنر خوک

چې مشغول نه وي د ترکو په جمال خوک — نور به څه کا په جهان کې اشتغال خوک (٣)

د بل خط په عبارت به څه نظر کا — چې نظر کاندي دستا په خط و خال خوک (٤)

نور خوبان دستا تر مخ پورې دي هسې (٥) — لکه بل کا د آفتاب په مخ مثال خوک (٦)

چې عنقا شو اهل دل په دا دنيا کې — ترو به څه وايي وچا وته احوال خوک (٧)

که عاشق په عشق کې ژاړي هيڅ ګرم نه دی — په داهسې درد کې نه لري مجال خوک (٨)

چې بې قيل وقال له ياره سره وشي (٩) — له نور چا سره به څه (١٠) کا قيل وقال خوک

چې په اصل کې خدای نه دي پيدا کړي — ترو به څه غواړي دستا د مخ مثال خوک (١١)

سرخرويي د هر سړي په ځيګر خون ده — نه هغه چې په سرا چوي سورشال خوک (١٢)

مخ روښې دی د عاشق (١٣) په خپلو اوښو — په دانه شي چې لې مړ بې په رومال خوک

---

(١) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "بې رهبره يون د عشق په لار کې ګران دی — دلته بويه چې پيدا کاندې رهبر خوک".
لومړی مسری يې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "بې رهبره يون په لار د هر چا ګران دی". خو مصوره نسخه کې د (ی) پر ځای "کښې" راغلی، او هم دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "بې رهبره سپيده وبيا نه ګران دی".

(٢) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "چې بېلتون وينې په سترګو آشنايي کا — د هجران په خبر بل نه دی رهبر خوک".
لومړی مسری يې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې رقيب په سترګو وينې آشنايي کا".

(٣) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(٤) دا بيت په "پ" چاپ، "ب، پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې راغلی دی: "د بل خط په عبارت به نظر نه کا — چې نظر وکاندي ستا په خط و خال خوک".
او لومړی مسری يې په "ق" چاپ کې داسې ده: "بيا بل خط وعبارت ته نظر نه کا" او دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده:
"د بل خط په عبارت به نظر نه کا".

(٥) دا مسری په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "نور خوبان دي ستا تر مخه پورې هسې".
د "خ" لومړۍ نسخه: "نور خوبان دستا تر مخه پورې هيڅ دي".

(٦) دا مسری په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "لکه بل کا د آفتاب مخ کې مثال خوک".

(٧) دا مسری په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "نور به څه وايي وچا ته د زړه حال خوک".
په "ق" چاپ کې داسې ده: "ترو به څه وايي وچا ته د زړه حال خوک". خو په لومړۍ مسری کې د "چې" پر ځای "که" راغلی دی،
او د "خ" په دوهمه نسخه کې په لومړۍ مسری کې د "عنقا شو" پر ځای "عنقا شي" راغلی دی.

(٨) ددې بيت لومړی مسری په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "چې په اصل کې ژاړي هيڅ ګرم نه دی".
لومړی مسری يې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی: "که عاشق په عاشقۍ کې ژړا کاندي هيڅ ګرم نه دی".
په مصوره نسخه کې يې، په دوهمه مسری کې د "په داهسې" پر ځای "بيا داهسې" راغلی دی.

(٩) په چاپي ديوانونو کې "نه دی" راغلی دی.

(١٠) په مصوره نسخه کې د "څه" پر ځای "نه" راغلی دی.

(١١) دا بيت په "ق، ک" چاپ او مصوره نسخه کې نشته.

(١٢) دا مسری د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "پيدا نه شي چې په سر کاندي سورشال خوک".
د "پ" لومړۍ نسخه "نه هغه چې په سر کاندي سورشال خوک".
په "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "کاندي" پر ځای "واچوي" راغلی دی.

(١٣) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "عاشق" پر ځای "د هر چا" راغلی دی.

د دنیا چارې فاني دي مرد هغه دی(1) — چې نظر کا په حرام او په حلال څوک
هر چې کر کا د وربشو غنم غواړي — له خاطره دې بېرون کا دغه(2) خیال څوک
سړی بویه چې په نېک عمل نازېږي(3) — نه چې ناز کا د دنیا په ملک و مال څوک

١١٥ — که يې شعر د رحمان مومند ترغونې شي(4) — ١٣٦٥
غونې به نه باسي په شعر د خوشحال څوک

که په بخت کم بختان نه وې آخسته دل څوک — په حضور به له تا ولې بېلېدل څوک(5)
و دیدن وته دې هر چا رضا کېږي — ولې حکم بې له تا نه لري بل څوک
که يې لاس د خدای په چارو رسېدلی — بې مقصوده به یو دم نه سهېدل څوک
دا یو سر دی ما د استا شکرانه کړی — بې ناحق مې وېروي په سر ودل څوک
دا همه شومیت زما دی چې را رسي — ګنهه ته او د چا زړه ونه بدول څوک
که په مینه دلیلي مبتلا نه وای — خوار مجنون په دې بېدیا غرونه ځنګل څوک

١١٦ — مین هره بلا کاندي که باور کړي — ١٣٧٢
ګنهه زه عبدالرحمن هومره ویل څوک

---

غره واغونډه ملا وتړه په جنګ — دغه پسه(6) معـ  رکه لوړه د  نګ
وبې ننګ وته د ننګ خبرې مه کړه(7) — یا ځان وګڼه په خپلو وینو رنګ

---

(1) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "د دنیا چارې همه واړه فاني دي".
(2) په مصوره نسخه کې د "دغه" پرځای "هغه" راغلی دی.
(3) په "ق.ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "نازېږي" پرځای "یادېږي" راغلی دی.
(4) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "که يې شعر د محمند رحمان ترغونې شي". په "ق.ک" چاپ کې د "تر" پرځای "په" راغلی دی.
(5) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې څخه نقل شو.
(6) د "خ" په لومړي نسخه کې "معرکې" راغلی ده او "خ" په دوهمه نسخه کې "موکې" راغلی دی.
(7) دا مسری په مصوره نسخه کې داسې ده: "وبې ننګ وته د ننګ خبره مه کړه".

Marfat.com

تنګیالي چې یوځل مخ کا په یو لوري (۱) نور هیڅ نه ویني کوهي وي که ګړنګ (۲)

هیڅ له ځانه له جهانه خبر نه وي چې چراغ په نظر کښېوځي د پتنګ (۳)

د بلبلو وچمن وته پرواز وي داور پښتي وآتش وته غورزنګ (۴)

که جهان ولې هنر وته فراخ وي (۵) یو لحد دی هنرمند ولره تنګ

هغه ښهر جوهري لره زندان دی (۶) چې یکسان وي پکې لعل و مردار سنګ

آسمان ځمکه د واره ژامي (۷) د نهنګ دي څه (۸) به زیست کا څوک په خوله کې د نهنګ

په ښادۍ یې هیڅ ښاد مه شه که دانا یې غم ښادي دي (۹) ددې هم خنګ په خنګ

۱۱۱

که رحمان د هغو تللیو وصال غواړي (۱۰)
ته به نه کا په داد ورکې یو درنګ

۱۳۸۲

پښتي مې په سر دی ستا د مخ د میني ګل بیا مې تور لېمه دي ستا د زلفو تور سنبل (۱۱)

ته چې آینه په لاس کې واخلي حیرانېږي (۱۲) زه له کومه راوړم صبوري او تحمل (۱۳)

---

(۱) دا مسری په قلمي نسخه کې داسې ده: "تنګیالي چې یوځل مخ په هغه لور کا".

(۲) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "نور یې هیڅ نه دي که کوهي دي که ګړنګ".

(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۴) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "سمندر کا مدام اور وته آهنګ". د "خ" په دوهم نسخه کې داسې ده: "داور پرستو وآتش وته غورځنګ". او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په "پ" چاپ کې د "وته" پر ځای "ورته" راغلی دی.

(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. د "پ" په لومړي نسخه کې: "که جهان ولې هنر وته فراخ دی". په "ق، ک" چاپ کې د "که" پر ځای "دا" راغلی دی او دا مسری د "خ" په دوهم نسخه کې داسې ده: "که جهان مې لې هنر وته فراخ دی".

(۶) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړي نسخه کې "دي" راغلی دی. (۷) په "ق" چاپ کې "حامنې" او د "خ" په لومړي نسخه کې "چامې" راغلی دی.

(۸) د "خ" په دوهم نسخه کې د "څه" پر ځای "څو" راغلی ده. (۹) د "خ" په لومړي او دوهم نسخه کې "ده" راغلی ده.

(۱۰) دا مسری په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "که رحمان د هغې ښکلو وصال غواړي". په "ق" چاپ کې هم د "هغو" پر ځای "هغې" راغلی دی.

(۱۱) دا غزل د "پ" په دوهم نسخه کې نشته، د "پ" په لومړي نسخه کې د "لېمه دي" پر ځای "لېمه مې" او په مصوره نسخه کې "لېمه شو" راغلی دی.

(۱۲) دا مسری په مصوره نسخه کې داسې ده: "ته چې آئینه واخلې وړخ ته حیرانېږي". او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "ته چې آئینې وخلې لمان ګوري حیرانېږي". 

(۱۳) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې داسې دی: "ته چې آئینه په لاس کې واخلې حیرانېږم زه له کومه راپیدا کړم صبوري او تحمل". او دوهم مسری یې په "ق" چاپ کې داسې ده: "زه له کومه ځای نه راوړم صبوري او تحمل".

گرځې په چمن کې منګل ډکه په ګلونو[۱] — خدای زده چې ګلونه وړې یار ته وې په منګل

هم مې مشک لیدلی هم عنبر دی په جهان کې — شاباش شاباش شاباش ستا د زلفو په کاکل[۲]

نه به ستا د مخ په څېر ګلشن وچا لیدلی — نه به وي زما په څېر آهونه د بلبل[۳]

١١٨ — هسې تغافل کا ستا په جور و په جفا کې
خلق[٤] حیران یې د رحمان په تغافل — ١٣٨٨

هیڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل — هسې پاتې شوم مردود و ناقابل[۵]

مالا بوی هم د وصال مونده لی نه دی[٦] — تش په توره مې[٧] خدای نوم کړ د واصل

هسې ډوب یم د ګناه په ګرداب نو[۸] — چې په ستر ګو مې ونه لیده ساحل

له وطنه مې په هر زمان[۹] وباسي — رقیبان یې راپسې کړل محاصل[۱۰]

که بلا ده که جفا ده که وفا ده — داهمه واړه په ما کړه خدای نازل[۱۱]

د دنیا په پلیتۍ مې ځان پلیت کړ[۱۲] — حیف دی دا چې نه عالم شوم نه عامل[۱۳]

١١٩ — توره ډېره مې شوه سپینه زه حیران یم
چې رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل[۱٤] — ١٣٩٥

---

(۱) دا مسرۍ په "پ" چاپ، "ب ب" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "ګرځې په چمن کې منګل ډکه وړې د ګلو".
په "ق" چاپ کې داسې ده: "ګرځې په چمن کې منګل ډکې وړې د ګلو".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "ګرځې په چمن کې منګل ډکه د ګلونو".
په مصوره نسخه کې د "د ګلونو" پر ځای "له ګلونو" راغلی دی او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "منګل" پر ځای "لمن" راغلې ده.

(۲) دا بیت په "پ" نسخه کې داسې دی: "هم مې مشک لیدلی هم عنبر په جهان کې — شاباش شاباش ستا په زلفو په کاکل".
په "ق، ک" چاپ کې "په دا زلفو په کاکل" راغلی دی او لومړۍ مسرۍ یې په "ق" چاپ کې داسې ده:
"هم مشک دی لیدلی شي هم عنبر دی په جهان کې".

(۳) دا بیت په "ق" چاپ کې داسې دی: "نه به ستا د مخ په څېر بل ګلشن وي چا لیدلی — نه به وي څما په څېر هم آهونه د بلبل".
په "ق، ک" چاپ کې دوهمه مسرۍ داسې ده: "نه څما په څېر نه وي آهونه د بلبل".
په "پ پ" چاپ کې د "آهونه" پر ځای "لاهونه" راغلی دی.

(٤) په "پ" نسخه، "ق، ک" چاپ، د "خ" دوهمه نسخه او ... نسخه کې "چېچې" ترمخه ده.

(۵) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه ... کې نشته.

(٦) دا مسرۍ په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "مالا بوی ستا د وصال مونده لی نه دی". په "ق" چاپ کې داسې ده: "مالا بوی د وصال مونده لی نه وه".

(٧) په مصوره نسخه کې د "مې" پر ځای "یې" راغلی ده.

(۸) دا مسرۍ په ټولو چاپي دیوانونو او مصوره نسخه کې داسې ده: "هسې ډوب یم د ګناه په دریاب نو".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "هسې ډوب د ګناهونو په ګرداب یم".

(۹) په "ق، ک" او "ق" چاپ کې د "زمان" پر ځای "ساعت" راغلی دی.

(۱۰) دا مسرۍ د "پ" په نسخه او د "خ" په لومړۍ، دوهمه، او دریمه نسخه کې داسې ده: "راپسې کړه حاکمانو مواصل". او په مصوره نسخه کې هم د "مواصل" پر ځای "محاصل" راغلی دی.

(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې داسې دی: "که بلا ده که جفا ده که فنا ده — دا همه کړه خدای په ما باندې نازل".
په "ق، ک" چاپ کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده "دا همه کړه خدای په ما باندې نازل".

(۱۲) د "پ" لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "د دنیا په پلیتۍ ځان مې پلیت کړ".

(۱۳) په چاپي دیوانونو کې د "عامل" پر ځای "جاهل" راغلی دی.

(۱٤) د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "چې زه رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل".

مه غوږ باسه د ناأهلو(۱) قیل وقال    په ښـ رنه دی قیل وقال د بدسګال

یا به فخر په خپل اهل وپه نسب کا    یا به فخر کا په آل او په عیال(۲)

یا به ذکر د لذت ود زینت کا    یا به فکر کا د مال ود منال(۳)

یا به هسې پوچ ګویې کاندي آغازه    چې مضمون یې نه مردار وي نه حلال

د دانا او د نادان صحبت دی هسې    لکه ګډ شي وبله لعل وکوتي لال

لکه لعل وکوتي لال چې وبله(۴) ګډ شي    یا صحبت(۵) شي د عیسی او د دجال

هغه(۶) عمر چې تېرېږي بې هم جنسه    ترو به څه وي د هغه عمر احوال

د دنیا چارې(۷) فاني دي مرد هغه دی    چې خبر شي په ثواب او په وبال(۸)

آبا سینده(۹) لا څه مجال لري په تاله کې    د دنیا د چارو هیڅ نه وي(۱۰) مجال

د دنیا چارې په مثل خواب(۱۱) وخیال دي    څوك به څه کا اعتماد په خواب خیال

لکه ملك ومال په خوب کې ورڅرګند شي    څو چې ویښ شي نه یې ملك وي نه یې مال(۱۲)

لکه خاك چې داوبو په سرلېده شي    که یې واخلي هیڅ ورنه شي په چنګال(۱۳)

لکه دود چې غروبه غرونه څرګندېږي    تار په تار شي په یوه (۱٤) نري شمال

لکه یخ چې د سرو په زور شي جمع(۱۵)    هیڅ یې نه وي د آفتاب په مخ مجال

په یوه ساعت باران بیا شین آسمان شي    لکه ابر د پسرلي د پشه کال(۱۶)

په یوه ساعت یې ساز بیا یې ویران(۱۷) کا    خاورې خټې(۱۸) دي په لاس کې د کلال

---

(۱) دا غزل د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته، په مصوره نسخه، "ب پ" چاپ، او "ق" چاپ کې "ناأهل" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، د دوهم مسرۍ یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "یا به فکر کا د مال ود منال".
(۳) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، د "ب" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "لذت" پر ځای "ولایت" او مصوره نسخه کې "دولت" راغلی دی.
(٤) د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې" نه دی راغلی او "ق" چاپ کې د "وبله" پر ځای "سره" راغلی دی.
(۵) په قلمي نسخو کې "قریب" راغلی دی.
(۶) په "ق" چاپ کې د "هغه" پر ځای "هسې" راغلی دی.
(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "د دنیا چارې همه فاني دي مرد هغه دی" راغلی دی.
(۸) په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې خبر شي په حرام وپه حلال" راغلی دی.
(۹) په چاپي نسخو او د "خ" لومړۍ نسخه کې "آب د سیند" راغلی دی. (۱۰) د "خ" په دواړو نسخو، مصوره نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نشته" راغلی دی.
(۱۱) د "خ" لومړۍ نسخه کې "خوب" راغلی دی. (۱۲) دا مسرۍ په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "که یې اخلي هیڅ ورنه شي په چنګال".
(۱۳) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته او په مصوره نسخه کې د "سر" پر ځای "مخ" راغلی دی.
(۱٤) په "ق" او "ق، ک" چاپ کې "نري باد" راغلی دی.
(۱۵) "ق، ک" چاپ: "لکه یخ چې د ساړه په زور دی جمع". "ق" چاپ: "لکه یخ چې د ساړه په نادر شي جمع". د "خ" لومړۍ نسخه: "لکه یخ چې د سړه په زور شي جمع". او د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "لکه یخ چې د سرو د اوبو شي جمع".
(۱۶) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، لومړۍ مسرۍ یې د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "په یوه ساعت باران بیا یې شین دی". او دوهمه مسرۍ یې د "پ" په نسخه کې داسې ده: "لکه ابر د پسرلي د پیشه کال".
(۱۷) د "پ" په نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "وران" راغلی دی.
(۱۸) په "ق، ک"، "ق" چاپ، او د "خ" لومړۍ نسخه کې "خښتې" راغلی دی.

Marfat.com

مجاز په معشوقو[1] کې وفا نشته ۔۔۔ ماهزار ځله وسنکلی دی دا فال
عتماد يې په سبا دی او په غم مه کړه ۔۔۔ نه يې هجر په قرار دی[2] نه وصال
گاهې تورکودی په مخ باندې راکښ شي ۔۔۔ گاهې راکښ شي په مخ باندې رومال[3]
لکه ماګگه چې خولک کېږدي په اوبو کې ۔۔۔ زه هم هسې سرزده يم په مثال[4]
چې د مرگ وتاخت وباخت وته نظر کړم ۔۔۔ صورت وينم دمېږي په خبرپايمال
خراب دل مې هې غواړي بلا دا شوه ۔۔۔ چې کهې رامعلومېږي په هر کال[5]

۱۲۰ ۔۔۔ ۱٤۱۸

که وصال مې د يار بيا موند هالهسيال يم[6]
گنه نه يم زه رحمان دهيچا سيال[7]

بېلتانه دې هسې خوار کړ زما دل ۔۔۔ چې له ځانه يې وبېزار کړ زما دل
لاس ونيسې دخلقو نسې دعا غواړي ۔۔۔ مينې هسې منت بار کړ زما دل
عاشقي هومره داغونه دي پرې ايښي ۔۔۔ چې تمام يې لاله زار کړ زما دل
بې سببه چا آزار موندلی نه دی[8] ۔۔۔ تا په څه سبب آزار کړ زما دل
چې د زلفو په کمند سره دې راکښ ۔۔۔ په بلا دې گرفتار کړ زما دل
ستا چشمانو پکې هسې مقام ونيو ۔۔۔ چې له غېر ولې[9] وبېزار کړ زما دل

۱۲۱ ۔۔۔ ۱٤۲۵

زه رحمان خو منت بار دعاشقي يم
چې مين يې په دلدار کړ زما دل

چې له نازه پوشيده لري چشمان خپل ۔۔۔ خدبه وينې مقتولان او مظلومان خپل[10]
چې کنځل راته په قهر قهر کاندي ۔۔۔ دالا وگڼي په ما باندې احسان خپل

(۱) د "پ پ" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخې کې د "معشوقو" پر ځای "معشوقه" راغلی ده.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخې کې "وی" راغلی دی.
(۳) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "گاهې تورکودی په مخ باندې راکاږی گاهې راکاږی په مخ باندې رومال". په "ق" چاپ کې د "راکښ شي" پر ځای "راښکېږي" راغلی دی.
(٤) دا بيت په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه غونډ دماگگو کېږدی په اوبو کې زه هم هسې سرزده شوم په مثال". او دوهمه مسرۍ يې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "زه هم هسې سره نه دود شم په مثال".
(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو کې نه دی راغلی. لومړۍ مسرۍ يې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "خراب زړه .... غواړې بلا دا شوه". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "خراب زړه مې زهېرېږي بلا دا شوه".
(۶) دا مسرۍ د "پ" په نسخه کې داسې ده: "که وصال د يار بيا مومم هاله سيال يم". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "که وصال زه ديلد مومم هاله سيال يم".
(۷) دا مسرۍ په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "گنه اوس خو رحمان نه يم دچا سيال".
(۸) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې د مسرۍ داسې ده: "بې سببه آزار اخسته شته نه دی".
(۹) د "پ" په نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دی" راغلی دی.
(۱۰) دا غزل د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

گفتگو په اشارت کاندي له نازه | کله اسم د چا اخلي په زبان خپل
په گريبان باندې چې تڼۍ وهي غوټه | عاشق کېباسي لاسونه په گريوان خپل
حيران لې له حيرته بې شعور شي | چې د حسن رخت څرگند کا په دکان خپل
چې خپل مخ په آيينه کې ورڅرگند شي | خود په خپله سرفرو کاندي په ځان خپل
چې هر څوك يې عاشقۍ وته هوس کا | گويا لوټې کا په دين او په ايمان خپل
هيڅ صرفه د چا په سر و په مال نه کا | ماليدلي دي په خپله مطلوبان(۱) خپل
مجنون ملك د عاشقۍ هاله خپل کړو(۲) | چې په اور باندې يې وسوځاوه مان خپل
دا مقام دى د هغو رنگه عالمو | چې هيڅ نه ويني په سترگو سود و زيان خپل(۳)
آفرين د عاشقانو په همت شه | چې ورته برتر سر و مال ويني جانان خپل(۴)

١٢٢

هيڅ د سترگو غړولو خوند يې نه وي
چې رحمان په سترگو نه ويني جانان خپل

١٤٣٧

تور ليمه مې د فراق په ژړا سپين شول | دوباره د زړه په وينو کې رنگين شول
ماوې زه به لا ديدن کړم د يارانو | خبر نه يم چې ياران په کوچ تعين شول
چا پتنگ غوندې ځان واچوه اور ته | څوك ژوندي لکه بلبل په آتشين شول
ومړه وته د مرگ خوارۍ شوې پېښې | او ژوندي په زندگۍ کې اندوهگين شول
د قضا سپاهيانو هسې لاس په تاخت کړ | چې پايمال هزار خسرو هزار شيرين شول
چې قدم يې په آسمان اېښود له نازه | هغه هسې نازپرور زير زمين شول
چې مدام يې په سنجاب د پاسه خوب کړ | اوس په خمکه يې بستره بې بالين شول

١٢٣

د رحمان خاطر به ولې پرېشان نه وي
چې پرېشان ورځنې جمع همنشين شول

١٤٤٥

---

١) په "ق ،ک" چاپ او د "خ" لومړي نسخه کې "مظلومان" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "مقتولان" راغلي دي.
٢) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "بيا مومند" راغلي دي.
٣، ٤) دا دوه بيتونه په چاپي ديوانونو کې نشته.

Marfat.com

په لېمه کې مې مدام | ګرځي عکس دګلفام (۱)
تور دسترګو مې ګلګون شوه | په ارزو دګل اندام (۲)
بې دسترګو له خونابه | نه باده لرم نه جام
په طلب د دلارام کې | ما ونه لید ارام
زنخدان یې خداکو هې کړ | ور پرېوځم په هر ګام (۳)
که یې خال غلام دمخ دی | زه غلام یم دغلام
که په عشق کې ناکام پر دی | دانا کام دی زما کام
خوش یم زه په عاشقۍ کې | که نیک نام یم که بدنام
په یارۍ کې مې قبول دی | ملامت دخاص وعام (۴)
دد عا په عوض غواړم | دخپل یار دخولې دشنام
ترې کنځلو به یې زار کړم | دغه خپل دعا سلام
تلخ ګفتار یې راته خوږ دی | تر کشمشو تر بادام
هم هغه مې مسجد دی | چې یې راکاندې پېغام (۵)

مخ دیار ماه تمام دی
رحمان ولېده تمام

۱۲۴ — ۱۴۵۹

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ګل اندام" راغلی دی.
(۲) "ق" چاپ: "تورې سترګې مې ګلګون شوې په ازار د ګل اندام" "ق، ک" چاپ: "تورې سترګې مې ګلګون شوې په فراق د ګل اندام".
(۳) په چاپي دیوانونو کې "ښوییږم" راغلی دی.
(۴) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) په چاپي دیوانونو کې "سلام" راغلی دی.

که مې ونمانځي ساقي په يوه جام — تر دا هورته به نور څه وي احترا[م]
بس دی ما لره(٢) دا فيض د شرابو — چې پرې پرېوځم دا دلق ازرق فا[م]
مېخواري که په عالم کې بدنامي ده — ما ترېښو دی لاندې کړی ننګ ونا[م]
په ميزان يو سر لعل وي بل سر کاڼي — مساوي ده عاشقي په خاص وعا[م]
عاشقان(٣) د سپين رخسار د تورو زلفو — څه پروا لري د کفر د اسلا[م]
په مجنون باندې قلمّ(٤) راغلی نه دی — که حلال لې په مخ ورشي که حرا[م](٥)
حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی(٦) — په حلالو کې مدام وي احترام

١٢٥ — ١٤٦٦

و محمود و ته نظر کوه مدام(٧) — چې غلام کړو خپلې مينې د غلا[م]
د نېکانو مدعا خو نېک عمل دی — ساعت نه ګوري که صبح وي که شا[م]
چې د زړه حضور لې نه وي په نمانځه کې — په کار نه دی مقتدي وي که اما[م](٨)
چې مجنون غونډې په مينه کې صادق وي — رحمان وايي په هغه باندې سلا[م](٩)
هم نغمې کاندې هم رقص کا هم خاندي — د رحمان په شعر ترکې د باکرام

١٢٦ — ١٤٧١

د هجران له دېره غمه ولې نه مرم — له دې هسې زنګ ماتمه ولې نه مر[م]
چې يو يار له بله ياره جدا کړي — د دې دور له(١٠) ستمه ولې نه مر[م]
چې هر سحر زما په ژړا خاندي — له دې هسې صبحدمه ولې نه مر[م](١١)
يار چې يار په سترګو نه ويني خو مرګ دی — تر روزه بې خپله صنمه ولې نه مر[م]
چې په لږه ګرمي شا کاندي وګل ته — له دې بې وفا شبنمه ولې نه مر[م](١٢)

---

(١) دا مسری د "ب" په لومړي نسخه کې داسې ده: "تر دا پورته به نور څه وي احترام".
(٢) په ټولو چاپي ديوانونو کې "بنده دی ما لره" راغلی دی.
(٣) په مصوره نسخه کې "عاشقې" راغلی ده.
(٤) د "خ" په دويمې قلمي نسخې کې "کلنګ" راغلی دی.
(٥) په ټولو قلمي نسخو کې دا مسری داسې ده: "که حلال په مخ کې ورشي که حرام".
(٦) دا بيت په مصوره نسخه او د "خ" په دواړو نسخو کې نشته لومړی مسری يې په نورو قلمي نسخو کې داسې راغلی ده: "حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی".
(٧) دا مسری په قلمي نسخو کې داسې ده: "د محمود د سلطنت و ته نظر کړه" او دا غزل د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٨) دا مسری د "ب" په نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "په کار نه دی که مقتدي دی که امام".
(٩) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته او د "ب" چاپ او د پلومړي نسخه کې داسې ده: "رحمان وائم په هغو باندې سلام".
(١٠) په ټولو چاپي ديوانونو کې د "دور" پر ځای "دهر" راغلی دی او د دويم بيت لومړی مسری په مصوره نسخه کې داسې ده: "چې يو يار له بله ياره لرې باسي".
(١١) دا بيت په "ق. ک" چاپ کې نشته، او لومړی مسری يې په نورو چاپي ديوانونو کې داسې ده: "چې په هر سحر زما په ژړا خاندي".
(١٢) په مصوره نسخه او د "خ" لومړي نسخه کې دا مسری داسې ده: "له دې هسې بې وفا شبنم ولې نه مرم".

Marfat.com

١٤٧٧ — ١٢٧

چې د مرګ خواري په خوالري رحمانه(1)
لا پخوا تر دغه دمه ولې نه مرم

که په سر د هغه یار له لاسه سنګ خورم — خدای دې نه کا چې به بلې خواته ځنګ خورم
عاشقي او نام وننګ دي و بله لري — ځو به عمر واره غم د نام وننګ خورم
خدای وما وته شیرین ترنیشکر کړه(2) — که د یار له لاسه غشي د خدنګ خورم
د آشنا د بیلتانه په کاروبار(3) کې — همېشه په تندي توره د فرنګ خورم
نوکري د معشوقو کوم په عشق کې — هیڅ مې نه د بهلول نه د اورنګ خورم(4)
شین لوګي مې په سر چتر د وهمه تخت دی — ګرد غبار د خپل دولت لکه ملنګ خورم
هم په دا چې له خودی شمه بې خوده — د هجران په غم کې لپې لپې بنګ خورم
لکه ځوک چې نعمتونه د دنیا خوري — زه د یار د جفا زهر په دا رنګ خورم(5)
واره زهر شي زما ترستوني درومي — بې له یاره که همه لا چې لونګ خورم

زه رحمان به خوږ ژوندی په جهان ګرځم(6)
چې په بله لمبه څرخ لکه پتنګ خورم

١٤٨٧ — ١٢٨

سر مې په کار نه دی چې بې ستا ترسر قربان کړم — زر راځه نشته چې بې ستا په پښو د پرا کړم(7)
کار د عاشقۍ اول د پېر راته آسان و — اوس هسې حیران یم چې دا کار به په څه شان کړم
د پېر و خلقو لاني ستا د مینې دي وهلي — هیڅوک هسې مه شه لکه زه چې بې په ځان کړم(8)
نه لري مرهم د عاشق(9) زخم بې تسلیمه — داغه هسې درد نه دی چې بې دفع په درمان کړم
نه کا هیڅ دښمن په دښمنانو هسې چارې — ستا په عاشقۍ کې لکه زه چې بې حیران کړم(10)
ولې کافر نه وي مسلمان به شي که خدای کا — هرچا ته چې حسن و لطافت د ستا بیان کړم(11)

---

(1) په "ق ک" چاپ کې دا مسری داسې ده: "چې د مرګ خواري په سرلري رحمانه"
(2) دا بیت د "خ" په دویمې نسخې کې نشته. په چاپي دیوانونو کې دا مسری داسې ده: "خدای وما وته شیرین کړه ترشکره".
(3) په قلمي نسخو کې "کاروزار" راغلی دی.
(4) دا بیت د "خ" په دویمه نسخه کې نشته. په "ب" چاپ کې دا مسری داسې ده: "هیڅ مې نه د بهلول نه د اورنګ خورم".
(5) چاپي دیوانونه: "زه د یار د کوڅې خاورې په دا رنګ خورم".
(6) په چاپي دیوانونو کې "ښایم" راغلی دی.
(7) دا غزل په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه، مصوره نسخه او د "ب" په دویمه نسخه کې نشته.
(8) دا بیت د "خ" په دویمه نسخه کې داسې دی: "د پېر و خلکو لاني ستا د مینې دي وهلي هیڅوک حیران مه شه لکه زه چې بې حیران کړم".
(9) د "خ" په دویمه نسخه کې "د عاشقانو" راغلی دی.
(10) دا مسری د "خ" په دویمه نسخه کې داسې ده: "ستا په عشق کې لکه زه چې بې په ځان کړم".
(11) دا بیت د "خ" په دویمه نسخه کې داسې دی: "ولې کافر نه دي مسلمان شي که بې خدای که وهرچا وته چې حسن لطافت د ستا بیان کړم".

Marfat.com

129 — 1494

ورانديٰ وي كه ورستو آخر هسي معلومېږي
ستا له بېرحمۍ[1] به زه رحمان لاس په گرېوان كړم

زه داهسي ديوانه او مجنون چاكړم — له رواجه له رسومه بېرون چاكړم[2]
نه پوهېږم چي دلچاري په ما خوك كا[3] — لېونى د خپل نگاه په افسون چاكړم
كومي سترگي كوم يانه كو مه غمزه ده[4] — د وب شهيد غوندي په خاك و په خون چاكړم
توان توفيق خو د فتنو راغځه نه وُ[5] — په فتنو د تورو سترگو مفتون چاكړم

130 — 1499

رحمان هيڅ له خپله ځانه خبر نه يم[6]
چي داهسي رنگ زبون و محزون چاكړم

صبح و شام مي لاس نيولى دى دعا كړم — خواست[7] له خدايه ستا د هر دو فا كړم
هيڅ دروغ رښتيا مي نه زده كه باور كړې — ستا د پاره هم دروغ كړم هم رښتيا كړم
واره ته يي خندول كه ژړول كړې — زه بخپله نه خندا كړم نه ژړا كړم[8]
كه ته نه يي راته وايه باري خوك دى — زه داهسي رنگ سر تور پښي يبل چاكړم[9]
خوب خندا د بېلتانه په حمله نشته — خه آرام[10] به په داد شت كربلا كړم
هره ورځ چي مي تېرېږي ستا په غم كي — زه په هره ورځ پوهېږم چي غزا كړم
يو و پښته مي د صورت كوي شوي نه دي — هسي رنگ دي پټ پنځم په زړه ادا كړم[11]
زړه كه يو دى ما خو تا له دركړى[12] — مگر نور و له نور زړونه پيدا كړم

131 — 1508

چي مي واغوست سروپاى د عاشقۍ
زه رحمان دي سروپاى بې سروپا كړم

---

(1) د "خ" په دوهمه نسخه كي "بحرامى" راغلى دى.
(2) داغزل په مصوره نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه كي نشته.
(3) په "ق ـ ك" چاپ او "ق" چاپ كي دا مسره داسي ده: "نه پوهېږم چي داهسي چاري خوك كا".
(4) دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه كي داسي ده: "كه مي سترگي كه بانو كه مي غمزي دي".
(5) دا مسره د "ب" په نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه كي داسي ده: "توان توفيق د فتنو هيڅ راغځه نشته". په "ق" چاپ كي داسي ده:- "توان توفيق چي د فتنو راغځه نه وو". او د "خ" په دوهمه نسخه كي داسي ده: "توان توفيق د فتنو هيڅ راغځه نه وو".
(6) د "خ" لومړۍ نسخه: "زه رحمان له خپله ځانه خبر نه يم چي داهسي رنگ محزون و زبون چاكړم". په "ق ـ ك" چاپ كي د "ځانه" پرځاى "يامه" راغلى دى. او د "ب" په لومړۍ نسخه كي دوهمه مسره داسي ده: "چي داهسي زبون و محزون چاكړم".
(7) په "ق ـ ك" چاپ كي "سوال" راغلى دى.
(8) دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه كي نشته او لومړۍ مسره يې د "خ" په لومړۍ نسخه كي نشته.
(9) چاپي ديوانونه: "زه داهسي لېونى او مجنون چاكړم".
(10) د "خ" په لومړۍ نسخه كي "خه بلا" راغلى دى.
(11) د "خ" په لومړۍ نسخه او نيمگړې نسخه كي "تاراج كړم" راغلى دى.
(12) د "ب" نسخي او د "خ" دوهمه نسخه: "زړه كه يو دى خو و تا دى ما وركړى".

Marfat.com

دستا درد به په هزار درمان ورنه کړم
دانسته به دغه سود په زیان ورنه کړم

که ځوک راکاندي دنیا وعقبی دواړه
عاشقي به دې په این و آن ورنه کړم

ځو مې تیغ په پهلو نه دی بلوسبدلی[1]
ستا پهلو به ورقیب آسان ورنه کړم

که یو ځله مې ستا زلفې په لاس کښېوځي
یو ویښته به دې په درست جهان ورنه کړم[2]

که مې چېرې لاس دستا په بوسه برشو
دا نعمت به د جنت په خوان ورنه کړم[3]

ځو وونه وینم ستا سترګې کړې خدای کا
عزرائیل لره به هومره ځان ورنه کړم

معشوقي د عاشقانو دین ایمان دی
زه به چا لره خپل دین ایمان ورنه کړم

ستا تر زلفو پورې نورې زلفې خه دي[4]
په خاشاک به د چمن ریحان ورنه کړم

132

پېر رحمان د ستا دلبو مې حرام دی
ځو د خپلو وینو جام تاوان ورنه کړم

1517

دا یو ځرنګه ژوندون دی نه پوهېږم[5]
خوب دی خیال دی که افسون دی نه پوهېږم

جام د لبو[6] چې ځان په وینو موم
تر و زلال که جګر خون دی نه پوهېږم

د پتنګ او د بلبل تر میان حیران یم
مخ دې اور دی که ګلګون دی نه پوهېږم

په شانه سره د تار د زلفو ببل شو
که غوځ شوی مې ناروڼ دی نه پوهېږم[7]

عشق په هسې رنګ مقام باندې قایم کړم
که وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم

د خپل زړه و علامت و ته حیران یم
چې موسی دی که قارون دی نه پوهېږم

133

د رحمان خبرې لې زېړه تر کنګو کړه[8]
خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم

1524

بیا دې نوي شراب خښلي دي پوهېږم
په رخسار دې ګل کړلي دي پوهېږم

که هزار ځله لاس سره کړې په نکریزو
تا زما په وینو وللي دي پوهېږم

---

(۱) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې "لګېدلی" راغلی دی.
(۲) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په نسخه کې نشته.
(٤) "ق، ک" چاپ: "ستا تر زلفو د خوبانو زلفې خه دي."
"ق" چاپ: "ستا تر زلفو پورې زلفې د جهان خه دي."
(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "دا یو ځه د غم ژوندون دی نه پوهېږم".
(۶) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې د "لبو" پر ځای "میو" راغلی دی.
(۷) دا بیت او دریم بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "کنګو" پر ځای "زعفران" راغلی دی.

Marfat.com

معرکه زما د مرګ نه ده نو څه ده — رقیبان چې تا بللي دي پوهېږم
چې رقیب وتا غوږ نه و بله وروړه — ماهغه ساعت ژړلي دي پوهېږم(۱)
څه حاجت دی چې دی خط په ملا لولم — چې زما په باب دې کښلي دي پوهېږم
ته خپل جور و جفا څه وايې وما ته — ماهم واړه لیدلي دي پوهېږم(۲)

رقیبان ځکه تېرې په رماح کاندي(۳)
تا په خوا پورې نیولي دي پوهېږم

١٣٤ — ١٥٣١

چې له مرګه بې پروايي په هر دم — دغه هسې غم دې هېر دی په کوم غم(۴)
نور همه واړه غمونه به دې هېر شي — که یو ځل درباندې راشي(۵) دا ماتم
چې زخمي يې سبا نه مومې په بيع — مفت مونده شي نن ساعت هغه مرهم
د مرهمو تياري ورلره بويه — چې لا نه يې د اجل په تيغ کرم
چې دې تن له سرايه د رومي توښه واخله — تر دا سرای په هو رته سرای نشته محکم(۶)
د دې لارې تله څه هسې آسان نه دي — مشکلات دي په هر دم په هر قدم
که دې وېره شي له ظلمه له ستمه — ته هم مه کړه په هېچا باندې ستم
که امېد لرې له رحمه له کرمه — ستا هم بويه په هرچا باندې کرم
له هرچا سره چې کړې هغه به مومې(۷) — د هېڅ تخم مېوه نه د رومي برهم
اجر واړه د عمل په اندازه وي — دغه د واړه سره يو دي هم درهم(۸)
اوس د ستا رضا نېکي کړې که بدي کړې — نېک و بد دې واړه کښلي شي په قلم
خدای د رزق په ازېرمه مهر و لګک شه — ترسرې د سرې رزق دی مقدم
که ګڼې چې په حرص سره څه زيات شي — زيات به نه شي د يوې ستنې ترسیم
که هزار رنګه تالاش او تر د کړې(۹) — د قسمت شوي به نه کړې زيات و کم

---

(۱) دا بيت د "خ" لومړۍ او مصوره نسخه کې نشته.
(۲) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "رقيبان به څه تېرې په رحمان کاندي".
(۴) دا غزل د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) په قلمي نسخه کې "درشي" راغلی دی.
(۶) په قلمي نسخه کې "دوهم" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "په هرچا باندې چې کړې هغه به مومې".
(۸) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۹) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "که هزار ځله تالاش او تدبير وکړې".

Marfat.com

د بر هوا وحرص مه کوه خدای یاد کړه — دی کافي دی د عرب او د عجم
په تا فرض عبادت د خپل خښتن دی — نه لښکري خزانې ملك وحشم
توك روټۍ یوه شړۍ د د لره بس ده — نور همه واړه اسراف دی مسلم
له خوراکه غرض قوت او لا یموت دی — نه چې غوښې غوړي وريژې یا غنم
له پوشاکه غرض خپسر پټول دي — نه اطلس وسقلات تاج وعَلَم
د لحد د تاریکۍ علاج به څه کړې — چې ته دلته کې وېرېږې په تورتم
که حرص دربانديې زور شي مرګ را یاد کړه — دا علاج دی د غه رنځ لره محکم[1]
غفلت هیڅ مناسب نه دی د سپین ږیرو — خوب روا نه دی په وخت د صبحدم
مار چې سوړې لره ورشي ګوره سم شي — ته د ګور په غاړه را غلې نه شوې سم[2]
خم قامت د دنیا کار کړې عمر واړه — او په دوه رکعته نفلو نه شوې خم
ځان پخوا ترهغه وژاړه که مرد یې — چې په تا باندې ژړا کا نور عالم
نور عالم چې په تا ژاړي انصاف وکړه — بې انصافه ته په خدې خوښ خرم
که زه نه وایم ته خود ستر ګې رڼې کړه[3] — کور دې خور شه ته چارپای یې که آدم

ای رحمانه لکه ته چې په خدای ګرم یې
بل به نه وي په جهان کې هسې ګرم

۱۳۵ — ۱۵۵۹

خوبصبې پیجفاد یار کبوم — خوبه موم دلمروغ ترګن زوم
عاشقي او صبوري سره دروغ دي[4] — زه دا لاف په دروغ څرنګه وهم
ته وما ته نصیحت مه کړه ناصحه — زه دا خپل تخم خپل ځان لره کرم
ما خو زده چې مینه او ردی خدای مین کړم — دانسته خپسر وا ورته اچوم
سررشته مې خدای همه د یار په لاس کړه[5] — په هر لور چې مې راکاږي پسې ځم
د آشنا د میني لاس زما ګریوان دی — زه په دا کار لې هیڅ عذر نه لرم[6]
عاشقانو[7] باندې حق د معشوقو دی — حق به ولې په با طلو بد لوم

---

(۱) دا بیت د "پ پ" چاپ کې نشته.
(۲) قلمي نسخې : " ته د ګور په غاړه ګرزې نه شوې سم".
(۳) قلمي نسخې : " که زه نه وایم ته خپله ستر ګې وکړه".
(٤) د "خ" لومړی نسخه : "عاشقي او صبوری ده سره لرې".
(٥) چاپي دیوانونه : " سوررشته مې خدای د یار په لاس کې ورکړه".
(۶) قلمي نسخې : " زه په دا معامله کې عذر نه لرم"
(۷) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "په عاشقانو" او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "په عاشقو" راغلی دی.

۱۳۶ — ۱۵۶۸

ما چې مینه د یار غرضه په خپل ځان کړه — تر ولې فرض و غاړه ځرنګ غروم
داخه ژوند(۱) دی چې یار نه وینم په سترګو — زه رحمان په جهان سترګې غړوم

په یوه غمزه د سترګو یې فنا شوم — سر تر پایه بې بنیاده بې بقا شوم
ما د یار له غمه دم وهلی نه دی — که مې دم وهلی نه دی هم رسوا شوم(۲)
بنه چې تن مې توی تومند شو په عشق کې — هاله څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم(۳)
زه د یار مخ ته ګورم یار و ما ته — چې داخل په تماشا شوم تماشا شوم
په هجران کې یې ګدا وم کند په غاړه — په وصال کې یې پادشاه دامرا شوم(۴)
په خپل کلي په خپل کور کې مې غربت دی — په صدف کې یتیم دُر غوندې یکتا شوم(۵)
مستوري چې راځه یو وړه مستو سترګو — رحمان ځکه په وګړي کې رسوا شوم(۶)

۱۳۷ — ۱۵۷۶

بادشاهي د ګدایانو په دعا شي(۷)
زه رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم

ترهغه حده په هورته بد سری شوم(۸) — چې د درست جهان په سترګو کې اغزی شوم
دنیا واړه ځبله زیست او روزګار کاندي — خو یو زه په دغه بار کې کوډ لړګی شوم(۹)
تمامي جهان لمسن راځه نغاړي — سپین زړی مې اغوستی تور کوډی شوم
هیڅ حاجت د هنر نشته و نصیب ته — غزا وشوه که مومند که داؤدزی شوم

---

(۱) په قلمي نسخو کې " داخه ژوند ون دی " راغلی دی.
(۲) دا بیت د " خ " په لومړي نسخو کې نشته.
(۳) دا بیت د " خ " په لومړي نسخو کې داسې دی: " بنه چې تن مې د ړی وړی شه په عشق کې — هاله څاڅکی د شبنم وه اوس دریا شوم ".
د " خ " دوهمه نسخه: " بنه چې تن مې د تو تومند شو په عشق کې — هاله څاڅکی د شبنم وم اوس ګیاه شوم ".
او په " ق مک " چاپ کې یې دوهمه مسره داسې ده: " اول څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم ".
(٤) قلمي نسخې : " په وصال کې بیاخان وامراد شوم ".
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته؛ او دوهمه مسره یې د " خ " په لومړي نسخو کې داسې ده: " په صدف کې پنهم دُر غوندې یکتا شوم ".
(۶) دا بیت په چاپي دیوانونو او د " خ " په دوهمه نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت د " خ " په لومړي نسخو کې نشته او ټول نوموړی غزل په مصوره نسخه او د " ب " په دوهمه نسخه کې نشته.
(۸) دا غزل په مصوره نسخه او د " ب " په دوهمه نسخه کې نشته. لومړی مسره یې د " خ " په لومړي نسخو کې داسې ده: " ترهغه حده بیکاره بد سري شوم ". او د " خ " په دوهمه نسخه کې دا مسره داسې ده: " ترهغه حده یوري بد سري شوم ".
(۹) دا بیت د " خ " په لومړي نسخه کې نشته لومړی مسره یې د " ب " په نسخو کې داسې ده: " دا دنیا واړه وبله زیست و روزګار کاندي ".
د بېنور په دوو نورو چاپي دیوانونو کې داسې ده: " دنیا واړه سره زیست و روزګار کاندي ".
د " خ " په دوهمه نسخه کې داسې ده:
" عالم واړه سره زیست دروزګار کاندي ".

Marfat.com

دنوح زوی هم دېونېك نېكه نسي وُ[1] — گنه زه هم دېونېك نېكه نسي شوم
كل وسواس له احتياطه پېدا كېږي — زه له ډېرې هوښيارۍ نه لېوني شوم[2]

۱۳۸ — ۱۵۸۳

اوس عطا د آدميت را باندې وشوه
چې رحمان د هغه يار د كوڅې سپی شوم[3]

په ښه خوی له بدخواهانو بې پروا يم — په نرمۍ لكه اوبه داور سزا يم
وهرڅا ته په خپل شكل څرګندېږم — آيينه غونډې بې رويه بې ريا يم
درازعمر مې حاصل شوله راستي — لكه سرو مدام سبزه تازه پايم[4]
هم په دا سپينو جامو چې معلومېږم — لكه ابر هم ګوهر يم هم دريا يم
قناعت مې ترخرقې لاندې اطلس دی — پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا يم
دغونچې په څېر په سل ژبو خاموش يم — لكه بوی هسې په پټه خوله ګويا يم
په ژړا مې دخپل يار ديدن حاصل كړ — دشبنم په څېر له ګل سره يكتا يم

۱۳۹ — ۱۵۹۱

كه چالار دعاشقۍ وی[5] وركه كړې
زه رحمان د ګمراهانو رهنما يم

زه له دې جهانه[6] تلونې په شتاب يم — لكه پانه دخزان پسنه[7] په ركاب يم
كه هزار آباداني كړم په جهان كې — غرض دا چې نهايت خانه خراب يم[8]

---

(۱) دا مسرۍ په چاپي ديوانونو او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه كې داسې ده: "دنوح زوی هم دنېك نېكه نسي وُ".
(۲) قلمي نسخې: "زه له ډېرې هوښيارۍ لېوني شوم".
(۳) "ق، ك" چاپ: "زه رحمان دهغې يار دكوڅې سپی شوم". د "خ" دوهمه نسخه: "چې زه رحمان".
(٤) دا دوه بيتونه د "خ" په لومړۍ نسخه كې نشته.
(۵) په "ب" چاپ او "پ اپ" چاپ كې د "وي" پرځای "ده" راغلی دی.
(۶) په چاپي ديوانونو كې د "جهان" پرځای "دنيا" راغلی دی.
(۷) "ق" چاپ: "پا".
(۸) ددې بيت لومړۍ مسرۍ په "ب" چاپ او "ق" چاپ كې داسې ده: "كه هزار آبادي كړمه په جهان كې".
د "پ اب" چاپ: "كه هزاري ابادي كړم په جهان كې".
"ق، ك" چاپ: "كه هزار آبادۍ وكړم په جهان كې".
دوهمه مسرۍ يې د "ق، ك" چاپ او "ق" چاپ كې داسې دی: "غرض دا چې عاقبت خانه خراب يم".

Marfat.com

که مې اصل د حیا تو له او بودی — بیا خو دا چې د اوبو په سر حباب یم

دا جهان قصاب خانه کړ خدای و ما ته[1] — پای بسته ولاړ یم په غولي د قصاب یم

چې د خدای له معرفته خبر نه شوم[2] — معلومېږم چې یا دیو یم یا دواب یم

که صورت مې د سړي دی زه یې څه کړم[3] — په معنی کې د چارپایو په حساب یم

لکه بت چې په رنګو سترګو او ده وي — هسې زه په بېدارۍ کې ورې خواب یم[4]

په طاعت په عبادت مې زړه یخ نه کړې — همېشه د معصیت په اور کباب یم

سر د خدای و عبادت ته ایښنوی[5] نه شم — مدام ډوب د ګناهونو په ګرداب[6] یم

چې و خپلو ګناهونو ته نظر کړم — سزاوار د هر عذاب[7] و هر عتاب یم

لکه څوک چې په خړ شو و وي مخ بې توروي — زه هم هسې په خپل خدای پورې بې آب یم[8]

۱۴۰

غزا وشوه که ګفتار لرم[9] په ژبه
زه رحمان چې کردار نه لرم کذاب یم

۱۶۰۳

---

(۱) مصوره نسخه : "دا جهان خدای قصاب خانه کړو ما ته".

(۲) ق، ک" چاپ: "چې خبر نه شوم د خدای له معرفته".
په دوهمه مسرۍ کې په مصوري نسخې کې د "یاد دیم" پر ځای "یو دد" راغلی دی.

(۳) د "پ" په نسخه کې دا مسره داسې ده: "که صورت یې د سړي دی به یې څه کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که صورت مې د سړي دی په دا څه شو".

(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۵) د "پ" نسخې : "وبنکی نه شم".
د "خ" لومړۍ نسخه : "ایښبې نه شم".
دوهمه نسخه : "نیوای نه شم".

(٦) په چاپي دیوانونو کې "دریاب" راغلی دی.

(۷) د "ب پ" چاپ : "د هر سزا".

(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. په "پ" چاپ، "پ، پ" چاپ او "ق" چاپ کې دا مسره داسې ده:
"زه هم هسې تر څښتن پورې بې آب یم".
"ق، ک" چاپ : "تر مولا پورې بې آب یم".
د "پ" لومړۍ نسخه : "زه هم هسې تر خپل یاره پورې بې آب یم".
دوهمه نسخه کې : "زه هم هسې تر الله پورې بې آب یم".

(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه کې "کوم" راغلی دی.

Marfat.com

که هزار ځله نژدې د زړه په یاد یم
زه چې یار په سترګو نه وینم ناښاد یم(۱)

که یار سل ځله وعدې د وصال وکا
زه له ډېرې تلوسې بې اعتقاد یم

په جفا و په وفا یې لا له غم نه شي
پر ځنې د ناز پرور په کړې داد یم(۲)

د بې نیازو په نیاز څه امید د کړو دی
(۳) زه پېرون سلطان خسرو و نه فرهاد یم

که د یار له لاسه اور را باندې بل وي
لکه شمع مستقیم په خپل استاد یم

بې مینه قرارې را باندې زوګک دی
شپه او ورځ په حرکت کې لکه باد یم

که همه عمر مې یار په غېږ کې ناست وي
زه له غمه د هجر په فریاد یم

یو زمان مې د زړه مراد موندلی نه دی
پیدا کړی خدای په اصل کې نامراد یم

د وصال په یوه کال مګر بریا ای شم
د هفتې په هجر هسې بې بنیاد یم

چې بې نوره نتیجه نشته بې غمه
حق حیران د عاشقۍ په داد یم(۴)

په وصال کې مې د هجر طمعه نه وه
اوس حیران متحیر په دا فساد یم

بې له عشقه چې مې پرې شو د پوزې(۵)
ګنه نور له جملګي قیده آزاد یم

که مې پیرې که مې پلورې چاره نشته
١٤١ زه مریی د بنایسته و خانه زاد یم ١٦١٦

که مې خوک پر فقیرۍ شمېرې(۶) فقیر یم
که مې خوک پر امیرۍ شمېرې امیر یم

د دلبر وصدقې لره یې غوارم
هسې نه چې په دنیا پسې زهیر یم

د خرقې خدمت(۷) مشکل دی او که نه وي
زه هر دم و دخې چارې ته خبر یم

---

(۱) دا غزل د "ب" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "قرارداد" راغلی دی.
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه: "زه همه عمر له هجره په فریاد یم".
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) په "ق" چاپ کې "د غاړې" راغلی دی.
(۶) په مصوره نسخه کې "بولي" راغلی دی او دا غزل د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۷) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې "حرمت" راغلی دی.

Marfat.com

هم پند اخلم هم پند وایم وهر چا ته — زه د ښو مرید د ښو پیر یم[١]
په هجران کې د یار خیال راسره مل دی[٢] — په زندان کې له یوسف سره اسیر یم
په خندا کې مې ژړا ده لکه شمع — له عالمه پټ پنهم[٣] د ځان په ویر یم
آزادي تر دا په هورته نوره څه ده[٤] — چې بندي[٥] د یار د زلفو په ځنځیر یم
خوشحالي تر دا په هورته بله کومه — چې مدام په خپل اشنا پسې زهیر یم[٦]
چې همېش په غوږ ناري د هجران اورم — رحمان ځکه د خپل یار وخ ته حیر یم[٧]

خوشحال الا او دولتا مې غلامان دي[٨]

١٤٢ — ١٩٢٦

زه ماځ (ان) په پښتو ژبه[٩] عالمګیر یم

زه د یار په درد وغم کې غرقاب خوښ یم — په دا درد کې بې طاقت او بې تاب خوښ یم
که وبریږم په اوبه یا په اور سوځم — د سروشوند وپه آتش وپه آب خوښ یم
چې د یار د خال و خط نښې پکې وي — زور زند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
تر دا پوچه ګفتګویه چې یې اورم[١٠] — په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم
دریا ترنا قبوله عبا د ته — د ساقي په میو مست وخراب خوښ یم

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی:
"هم پند اخلم هم پند واخلم وهرچا ته — د ښو مرید د ښو مرشد د ښو پیر یم".
دوهمه مسري یې د "پ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "د ښو مرید د ښو پیر یم".

(٢) دا مسره په "ق" چاپ کې داسې ده: "په هجران کې د وصال خیال راسره وي". او په نورو چاپي دیوانونو کې داسې ده:
"په هجران کې خیال د یار راسره مل وي".

(٣) په "ق، ک" چاپ کې "پنهان" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "تنها" راغلی دی.
لومړی بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(٤) په چاپي دیوانونو کې "بله نشته" او د "خ" په لومړي نسخه کې "نوره څه دی" راغلی دی. او هم دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(٥) د "خ" په لومړي نسخه کې "بنده". راغلی دی.

(٦) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړي نسخه کې نشته، لومړۍ مسري یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده "خوشالي تر دا په هورته د، نوره کومه".
او په مصوره نسخه کې دا بیت داسې دی: "خوشالي تردا په هورته نوره څه ده — چې مدام په خپل اشنا پسې دلګیر یم".

(٧) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته لومړۍ مسري یې په "ق" چاپ کې داسې ده "همېشه په غوږ ناري د هجران اورم"

(٨) دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "یو خوشال سل ختک نور مې غلامان دي".

(٩) د "پ" په لومړي نسخه او د مصوره نسخه کې "سخن" راغلی دی. (١٠) د "خ" دوهمه نسخه "تر دا نور د ګفتګو چې یې اورم". نو موړی بیت او ورپسې بیت د "خ" په نیمګړي نسخه کې نشته.

چې نه علم نه تسبیح نه تلاوت وي — لا دې هسې بېدارۍ نه په خواب خوښ یم

خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده — زه له یاره سره په سوال وځواب خوښ یم[1]

د طوطي د ونې سیوري مې خوښ نه دي — ستا د مخ په لمبو سوی کباب خوښ یم

۱۴۳ — د یار ډېرې غم خوارۍ یم عاجز کړی — ۱۶۳۵

رحمان ځکه په خوړدن د شراب خوښ یم

زه د یار په درد وغم کې شادمان یم — لکه ګل د پرېشانۍ په وخت خندان یم

ته زما و بېکسۍ ته نظر مه کړه — خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم

لکه ونه د ځنګل په مېوه پوره — په وېرانه وېرانۍ کې آبادان یم

یو و پښته مې د صورت بې عشقه نه دی — خوګیدار په هر نفس د خېل کاروان یم[2]

د وصال مرغه[3] د اوښکو دانو راکړ — لکه در و لعل په غاره د خوبان یم

د کاملې عقیدې له برکته — د دولت په غاره ناست شاه جهان یم

روښنايي مې په طلب کې شوه حاصله — شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم

د آشنا داو دو زلفو صفت څو کړم — پلې نسر په لویه لار د هندوستان یم[4]

بې مېنه مې هیڅ حال د صورت نشته[5] — لکه بې مال و متاع تش دوکان یم

د هوس بلبل و بساه را باندې نه کا — د افلاس په کبل کې د خزان یم

و یارانو ته خاک ترتلو لاندې — د دې نور جهان په سر لکه آسمان یم[6]

چې د یار په مېنه سر و مال ښندمه — خلقه واورئ هغه زه عبدالرحمان یم[7]

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

(۲) د "خ" لومړي نسخه کې "د خپل کروان یم" او مصوره نسخه کې "د خپل ځان یم" راغلي دي.

(۳) د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې داسې ده: "د وصال مزې د اوښو دانې راکړم".

(۴) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسرۍ یې د "پ پ" چاپ کې داسې ده: "چې صفت د تور دو زلفو د آشنا کړم".

(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړی مسرۍ داسې ده: "بې له مېنې مې هېڅ حال د صورت نشته".

(۶) دا بیت او ورپسې بیت د "خ" په لومړۍ نسخه او نیمګړې نسخه کې نشته، په مصوره نسخه کې لومړی مسرۍ داسې ده: "د مارانو تر تلیو لاندې خاک یم".

(۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

Marfat.com

١٤٤ — ١٩٤٨

په هر دم کې نوې نوې تماشې کړم
زه حیران د خدای وکړه وته حیران یم

چې هر دم له خپله ځانه ګریزان یم — هم په دا لګه د دریاب د درو کان یم [1]
مرګي تریخ دی چې ژوندون د چا شیرین شي — زه خورسند د یار تر وصل په هجران یم
نادانۍ مې دانایي شوه لکه طفل — په ناپاکو ګوهر کې پاک دامان یم
چې د نفس د حرص ملک مې مسخر کړ — په هوا د پاسه تخت د سلیمان یم
تن مې خه کړې چې زړه یار را تخه یوړ — بېهوده د خالي خونې نګهبان یم
لکه ګل چې په نارمات کړې او بزاند وي — زه هم هسې د ژوندون د مرګ و ترمیان یم
کله ځان راته ولي کله عاصي شي — نه خبر په خپل کمال نه په نقصان یم

١٤٥ — ١٦٥٦

خپل جانان مې هسې نقش دی په زړه کې
نه پوهېږم چې ګمان یم که جانان یم

ژوبل ژوبل د ترکانو په نګاه یم — تردالا په داغوښېږم چې پناه یم [2]
چې یوسف غوندې هزار یکښې پراته دي — بندیوان د ځغه سیب [3] ذقن په چاه یم
چې لې قد و قامت نه وینم په سترګو — عندلیب په سر د سروي د خپل آه یم [4]
د سپین مخ د تور و خښو له رغبته [5] — منت بار د هر سفید او هر سیاه یم [6]

---

(١) دا غزل د "خ" له یوې قلمي نسخې نه نقل شو.

(٢) دا غزل د "خ" په دویمه نسخه کې نشته او دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "ژوبل ژوبل د خوبانو په نګاه یم — لا تر دانه زیات هوښیږم چې پناه یم".
په مصوره نسخه کې داسې دی: "ژوبل ژوبل د خوبانو په نګاه یم — تر دالا په دا عاجزیم چې پناه یم".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "ژوبل ژوبل د خوبانو په نګاه یم — لا پر دا زهیرېږم چې لسترګو لې پناه یم".
د "خ" په دویمه نسخه کې داسې دی: "ژوبلې ژوبلې د خوبانو په نګاه یم — تر دخولا په دا هوښېږم چې پناه یم".

(٣) په ټولو نسخو کې د "سیب" پر ځای "سیم" راغلی دی او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "سیم په ذقن چاه یم" راغلی دی.

(٤) دا بیت په چاپي دیوانو کې داسې دی: "چې لې قد و قامت وونیم په سترګو — عندلیب په سهي سرو د خپل آه یم".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې او دویمه مصرع داسې ده: "عندلیب د سهي سرو د خپل آه یم".
د "خ" په دویمه نسخه کې: "عندلیب غوندې په سروې د خپل آه یم".
او مصوره نسخه کې داسې: "عندلیب هسې سرو د خپل آه یم" (پاته په ١٠٧ مخ کې)

لکه غوټۍ چې پخره سوړوي مخ يې توروي | زه هم هسې تر خپل خدای پورې روسیاه يم[1]
د رقيب خبرې[2] وړم د يار د پاره | دعاګوی هم د نېك خواه هم د بدخواه يم[3]
بې له عشقه که مې عيب که مې هنر دی[4] | نه[5] خبر په عبادت نه په ګناه يم
ښاخ د زلفو يې په خپله خدای راټيټ کړ | ګنه زه د يار تر قده پورې کوتاه يم[6]
ځان هرګوره ناکاره را ښکاره څرګندېږي | له هغې ورځې راهيسې چې آګاه يم[7]
بې صبري د يار په وصل کې مهجور کړم | د پسرلي په مرغزار کې وچ ګياه يم
له اوله تېر ووهم بيا آه کړم | په نارو نارو[8] خروس د صبحګاه يم
په جذبو جذبو يې راښکم زه وځان ته | هغه يار مې کاه ربا دی زه يې کاه يم[9]
لکه بار دوني پوخ شي ځنې رژي | زه هم هسې بار تر لې سر براه يم
اوس مې ځای په دا جهان کې پاتې نه شو | خو ځنډ لی تر[10] چمل وتر پنجاه يم

---

د (١٠٦) مخ د پاڼليکونو پاتې: (٥) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "رخښته" پرځای "زينت" راغلی دی.
(٦) دا مسرۍ په "ب" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده: "منت بار د هر سفيد د هر سياه يم".
په "ب پ" او "ق ک" چاپ کې داسې ده: "منت بار د هر سفيد او د سياه يم".
او "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "منت بار د هر سفيد و د هر سياه يم".

---

(١) دا بيت په چاپي ديوانونو، مصور نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې يې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "لکه غوټۍ چې په خره سوړشي مخ يې تور شي".
(٢) د "ب" په نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې "خبرې" راغلي دي او دا مسرۍ په مصوره نسخه کې داسې ده: "د رقيب خبره اوړم د يار د پاره".
(٣) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "دوعاګوی هم د نېکخواه هو د بدخواه يم".
(٤) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "بې له عشقه که مې عشق که مې هنر دی".
(٥) په "ق" چاپ کې د "نه" پرځای "زه" راغلی دی.
(٦) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "ښاخ د زلفو خپل خدای را ته ټيټ کړ ګنه زه د يار تر قد پورې کوتاه يم".
(٧) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "ځان ښکاره را ته هرګوره څرګندېږي له هغه ورځې راهيسې چې آګاه يم".
په چاپي ديوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "ځان هرګوره ناګاه را څرګندېږي". د "خ" په دوهمه نسخه کې يې دوهمه مسرۍ داسې ده: "له هغې ورځې را هيسې چې آګاه يم". او په "ق ک" او "ق" چاپ کې داسې ده: "له هغې ورځې راهيسې چې آګاه يم".
(٨) د "خ" په دوهمه نسخه کې "نارو سورو" راغلي دي.
(٩) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په "ب" چاپ، "ب پ" چاپ او مصوره نسخه کې يې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "په جذبو جذبو يې راکښوم وځان ته".
د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "په جذبو جذبو يې را ځکولم وځان ته".
په "ق ک" چاپ کې داسې ده: "په جذبو يې راښکه خپل ځان ته".
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بيت داسې دی: "په جذبه جذبه يې راکښوم وځان ته هغه يار مې کاه ربا دی زه ګياه يم".
(١٠) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "تر" پرځای "له" راغلی دی.

Marfat.com

۱۴۶

د رقیب علاج آسان دی بلا داشوه (۱)

۱۶۷۱

زه ځکه (ځان) له خپله یاره نا وېساه یم

زه یو دم د ستا له غمه بې غم نه یم
بې غم ستا له ذکره فکره یو دم نه یم (۲)

هر زیارت له چې د روم (۳) مراد مې تېږي
زه زایر (۴) د بت خانې د حرم نه یم

ستا د در په تورو خاورو پاندې خوښ یم
بې تا خوښ په تماشا د ارم (۵) نه یم

چې د (۶) ستا په تماشا یم خبر شوی
نور خبر په تماشا د عالم نه یم

بې د ستا له زیبا مخه وبل مخ ته
منتظر د یوې ستنې قرسوم (۷) نه یم

که د ستا د ښکلي مخ عاشقان ډېر دي
زه په وار وکې اول یم دویم نه یم

که له غمه دې ونه مرم حال ته (۸) وایه
چې یا دیو یم یا دواب (۹) یم آدم نه یم

سم قامت لکه الف یم په راستۍ کې
لکه غشی ځه (۱۰) فساد له ره سم نه یم

زره مې ستا په غمزه غوڅ دی غزا وشوه
که په لاسو په پښو روغ یم گرم نه یم (۱۱)

خم د زلفو (۱۲) محراب د کږو وروځو
ځه (۱۳) د مار و دلړم په ښېرخم نه یم

---

(۱) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: "د رقیب علاج آسان دی که لې خدای کړ".
(۲) دا غزل په مصورې نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړي نسخه کې "خمه" راغلی دی.
(۴) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "زاهد" راغلی دی.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "حرم" راغلی دی.
(۶) په چاپي دیوانونو او "خ" په دوهمه نسخه کې "دا" او د "خ" په لومړي نسخه کې "نه" راغلی دی.
(۷) په چاپي دیوانونو کې "سم"، په "پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې "سیم" راغلی دی.
(۸) د "خ" په لومړي نسخه کې "راته" راغلی دی.
(۹) د "خ" په لومړي نسخه کې "دیوال" راغلی دی.
(۱۰) په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "زه" او د "ق" چاپ کې "د" راغلی دی.
(۱۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې دی: "زړه مې ستا په غمزه غوڅ دی بلا داشوه، که په لاس په پښو روغ یم گرم نه یم".
د "خ" په دوهمه نسخه کې دوهمه مسری داسې ده: "که په لاسو په پښو روغ یم گرم نه یم".
په "ق، ک" چاپ او د "ق" چاپ کې داسې ده: "که په لاسو په پښو روغ خو گرم نه یم".
(۱۲) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه کې "لې" راغلی دی.
(۱۳) په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "زه" راغلی دی او په "ق" چاپ کې دا مسری داسې ده: "پېچ وخم په ښېر د مار ولړم نه یم".

Marfat.com

که مې کم وبېش له لاسه واقع کېږي[1] یم سړی شکم لړم بې شکم نه یم[2]

١٤١

زه رحمان د بېلتانه له لاسه[3] ژاړم
واقعه ده ډېره ګرانه هېڅ ګرم نه یم[4]

هسې تېز د روې دوران ګویا برق دی درخشان[5]
د آسیا په څېر[6] ګردش کا په زمین باندې آسمان
کړکرې دې د سړیو چې وریږي تر دا میان
پیدا کېږي فنا کېږي نه یې سر.شته نه سامان[7]
نه یې سرشته نه سامان شته نه یې حد شته نه پایان[8]

---

(1) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "کم وبېش که مې له لاسه واقع کېږي".

(2) دا مسری د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "هم سړی یم نس لړم بې شکم نه یم".

(3) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "له غمه" راغلې دي.

(4) د "پ" نسخه: "دا واقع ده ډېره ګرانه هېڅ ګرم نه یم
د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه کې داسې ده: "دا واقعه ده ډېره ګرانه هېڅ ګرم نه یم".

(5) د "پ" نسخه: "هسې تېز د روې دوان ګویا برق دی د آسمان".
د "خ" دوهمه نسخه: هسې تېز د روې دوران ګویا برق دی د جهان".
مصوره نسخه: "هسې تېز د روې دوان ګویا برق دی د جهان".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هسې تېز د روې روان ګویا برق دی د اسمان".

(6) د "ق.ک" او "پ.پ" چاپ کې "سېر" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دود" راغلي دي. (7) قلمي نسخې: "نه یې سرشته نه سامان". (8) "ق.ک" او "ق.چاپ"
نه یې حد شته نه پایان شته نه یې سرشته نه سامان". "پ" چاپ: نه حد نه ونه پایان شته نه یې سرشته نه سامان".
"پ.پ" چاپ: "نه یې حد نه یې پایان شته نه یې سرشته نه سامان".

Marfat.com

ځینې د ډول وهي ښادي کا ځینې ویر کا د خپل ځان
ځینې شمع غوندې ژاړي ځینې ګل غوندې خندان
که یې ګورې یو ګلزار دی که یې ګورې یو بیابان [۱]
که یې ګورې یو ګلشن دی که یې ګورې یو زندان [۲]
یوه هسې تماشا ده چې یې هیڅ نه شي بیان [۳]
کیفیت یې مونده نه شي په دلیل او په برهان
چې یې کومه خوا رفتن دی [٤] یا یې چېرته دی مکان
١٤٨ خدای خبر دی په دا علم [٥]
هیڅ خبر نه دی انسان ١٩٩٦

د ډېر یاران وو د ګل خان او جمال خان په کار نه شو یو په وخت د زارستان [٦]
د همه وار و یارانو مخ دې تور شي [۷] که به خوښ و بله [۸] یاري کا په دا شان
چې یو یار په سوري پروت [۹] وي بل په اور کې و هغو ته به څوک څه وایي یاران
هیڅ تعریف یې په دا ژبه وایه نه شي صد رحمت شه په یاري هم د ګل خان [۱۰]

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه "زندان". د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "که یې ګورې یو بازار دی که یې ګورې یو بیابان".
(۲) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۳) چاپي دیوانونه: "چې یې هیڅ نشته بیان". د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "چې یې هیڅ نه شي بیان". مصوره نسخه: "ځنې نه شي هیڅ بیان".
(٤) "ق، ک" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "چې یې کوم خوا ته رفتن دی".
(٥) قلمي نسخې: "خدای عالم دی په دا علم".
(٦) دا غزل د "پ" په نسخو او مصوره نسخه کې نشته. دوهمه مسرۍ یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده:
"یو هم نشته ده کار په ځان راستان"
دوهمه نسخه: "یو یې هم په کار نه شو په ځای د راستان".
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "د همه وار و یارانو مخ یې ورک شه".
(۸) "ق" چاپ: "سره".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "ناست دي".
(۱۰) "پ" چاپ: "هیڅ تعریف مې په دا ژبه وایه نه شي صد رحمت شه په یاري د ګل خان".
د "خ" لومړی نسخه: "هیڅ تعریف یې نور په ژبه داوړی نه شي صد رحمت شه په یاري د ګل خان".
د "خ" دوهمه نسخه: "هیڅ تعریف به یې په ژبه راوړه نه شي صد رحمت شه په یاري د ګل خان".

Marfat.com

په داهورته[۱] د يارۍ شرطونه ښه وي — چې په اورکې د وا ره وسوځي يکسان
چې له آل له اولاد ه سره و سول — خدای دې نه کا ښوك داهسې مظلومان
چې په اورکې يو د بل د پاره سوځي — ما لېدلي نه و وهسې مخلصان
ښه رنګ شوخ و و هغه اورلو هغه خلق — چې لې مر نه کړ و داوښکو په باران[۲]
الغياث دی الغياث دی الغياث دی — چې انسان کا هسې ظلم په انسان
د نمرود چارې مې وليدې په سترګو — چې لې اچول وا وروته نبيان[۳]
هم دې ځمکې دې آسمان ته تعجب کړم[۴] — چې نه ځمکه په نا روشوه نه آسمان
هم دې لويو لويو غرونو ته حيران يم[۵] — چې ونه لوښته له ويخه سرغلتان
له دې خپله سپيه نفسه مې زړه بد شو[۶] — چې اوبه ښبې يا خواړه خوړې په جهان
عالمَ والي چې قيامت به په جمعه وي — وليدما په يکشنبه په دا دوران
هزار حيف دی چې داهسې رنګه چارې — واقع کېږی د دنيا په سود و زيان
سربند نه و ګويا د ښت کربلا و — چې سېلاب شو د سر و وينو پرې روان[۷]
په عيسیٰ او په دجال کې ګناه نشته[۸] — دا مکرونه دي د نفس و د شيطان

---

(۱) د "خ" دوا ړو قلمي نسخو، "پ" چاپ، "ق،ک" چاپ او "ق" چاپ کې "تر دا هورته" راغلی دی.

(۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "چې مړ نه که هم داوښکو په باران".
د وهمه نسخه: "چې لې اور مړ نه کړ داوښکو په باران".

(۳) "ق،ک" چاپ: "چې به لې اچول وا ورو ته نبيان".
"پ" چاپ: "چې لې اچول ؤاور ته نبيان".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې لې اچول وا ورته مرسلان".
د وهمه نسخه: "چې لې اچول په اور کې مرسلان".

(٤) "پ" چاپ: "هم دې ځمکې هم اسمان ته تعجب کړم".
د "خ" لومړۍ نسخه: "ودې ځمکې و اسمان ته تعجب يم".
د وهمه نسخه: "ودې ځمکې و اسمان و ته حيران يم".

(۵) د "خ" لومړۍ او د وهمه نسخه: "ودې لويو لويو غرونو ته حيران يم".

(٦) د "خ" د وهمه نسخه: "له دې خپله کم بخت نفسه مې زړه بد شو".

(۷) دا بيت د "خ" له لومړۍ او د وهمې نسخې نه نقل شو، په چاپي ديوانونو او نورو نسخو کې نشته.

(۸) د "خ" لومړۍ او د وهمه نسخه: "ګناه نه ده".

Marfat.com

عزیزان یې ځبله(۱) ووژل پخپله — داهمه واره تقدیر دی د سبحان(۲)
هسې نه چې د اې وکړه نور به نه کړي — چې یې زړه شي هغه کاندي بادشاهان(۳)
شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخا کړ — په خونونو واره ملك د هندوستان(۴)
و دارا او اورنګ زیب و ته حیران یم(۵) — چې یې څه چارې واقع شولې ترمیان(۶)
د حسن حسین غزا دې څوك په زړه کا — چې همه واره په تیغ شول شهیدان(۷)
د دوی غوښې او سکوینو رغړولې — بې حسابه هسې خلق شو توفان(۸)
هرچې اهل د دنیا دي حال یې دا دی(۹) — که سړی دی که پېری دی که حیوان
آدم زاد په ځمکه یو بل سره وژني(۱۰) — په دریاب کې وبله غوښې خوري ماهیان
لکه غوښې چې ماهیان خوري په دریاب کې — په هوا کې هم دغه کاندي مارغان
خزنده او پرنده دي د دې دهر(۱۱) — همه واره یو تر بل مشت وګریوان(۱۲)
مرداري د دې دنیا خو هم دغه ده — ځکه بېرته ځني ګرځي درویشان

---

(۱) د "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "سره ووژل".
لومړی مسری د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې داسې ده: "عزیزانو به په څه وبله وژلو".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "داهمه واره تقدیر د پاك سبحان".

(۳) د "خ" لومړی نسخه: "چې یې زړه شي هغه کاندي په داشان".

(۴) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخا کړه — په خونونو واره ملك د هندوستان".
د "خ" لومړی نسخه: "شاه عالم و اعظم ګوره چې یې فساد کړ — په خونونو سره ملك د هندوستان".
د "خ" دوهمه نسخه: "شاه عالم اعظم وګوره چې یې خسا کړ — په خونونو واره ملك د هندوستان".

(۵) "ق، ک" چاپ: "بیا دارا او اورنګ زیب و ته حیران یم".
د "خ" لومړی نسخه: "و دارا و اورنګ زیب و ته که ګورې".
د "خ" دوهمه نسخه: "و دارا و اورنګ زیب ته دې څوك ګوري".

(۶) "ق" چاپ: "چې یې څه چارې واقع شوې پېښان".
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "چې یې څه چارې واقع شوې تردامیان".

(۷) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "چې حمه په توره ومړه شهیدان".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته او دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د دوه غاښې او بس یې په وینو رغړولو — هسې بې حساب خلقه شوله توپان".

(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "هرچې آل د دې دنیا دی حال یې دا دی".

(۱۰) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "آدم زاد په مخ د ځمکې وبله وژني".

(۱۱) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "خزنده که پرنده دی د دې دهر".

(۱۲) د "خ" لومړی نسخه: "همګې دي وبله مشت وګریبان".
د "خ" دوهمه نسخه: "همګې دي واره مشت و په ګریوان".

Marfat.com

۱۴۹ مکاري د زماني څه هومره نه ده
چې رحمان يې چا ته وکاندي بيان (۱) ۱۷۲۵

دنيا دار د دنيا کار کا زه د دين — خوانين زما په ملك دي خوشه چين (۲)
هيڅ کم نه دی تر سپين مخيو دلبرانو — بلکه سنه دی زما شعر نمکين (۳)
مراد له تور و سپينو واړه د لبري ده — موقوف نه دی د غه (۴) کار په تور و سپين
چې رنگين رنگين مضمون پرې کښلی نه وي — څه په کار دی د بياض ورق رنگين (۵)
مرتبه د سليمان چې چا له ورشي (۶) — هيڅ پوره نيمگړی نه دی په نگين
خوند په خوله دی نه په څښه نه په خواره دی (۷) — آب وخور که د چا تلخ وي که شيرين
غرض خوب دی که په څس وي يا په خاروي (۸) — څه حاجت دی په بستر و په بالين (۹)
مصري توره هم په بد غلاف کې زنګ شي — خدای خوك مه کړه د بدانو هم نشين

۱۵۰ څه عجب که په ورځ مهر په شپه ماشي
د رحمان آشنا چنان دی يا چنين (۱۰) ۱۷۳۴

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "چې يې زه رحمان کريم وچا ته بيان".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې رحمان يې که و چا و ته بيان".
(۲) دا غزل په مصوره نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "ب" لومړی نسخه "بلکه به دی دا زما شعر نمکين".
د "خ" لومړی نسخه : "بلکه به دی زما سبز نمکين".
(۴) د "خ" لومړی نسخه : "دلسته".
(۵) د "ب" لومړی نسخه "کاررنگين".
(۶) د "ب" لومړی نسخه : "چې خدای چالره مرتبه د سليمان ورکا".
د "خ" لومړی نسخه : "که خدای چالره پخه د سليمان ورکه".
د "خ" دوهمه نسخه : "که خدای چالره نتيجه د سليمان ورکه".
(۷) د "ب" لومړی نسخه : "خوند په خوله دی نه په خوله نه په خواره دی".
چاپي ديوانو نه "خوند په خوله دی نه په څکه نه په خواره دی".
د "خ" دوهمه نسخه : "خوند په خوله په ژبه په خواره دی".
(۸) "ب" چاپ ، د "ب ب" چاپ او "ق ک" چاپ : "خاورې".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه : "څه حاجت دی د بستر و د بالين".
(۱۰) چاپي ديوانونه ، او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "د رحمان اشنا چنان دی هم چنين".

Marfat.com

که ترې ولوښته شاهان او سلطانان        هیڅ نیمګړی په چا نه شو دا جهان (۱)
که هزار هزار فنا شي په یو دم کې        بیا پیدا شي په یو دم کې هزاران
در رفتن و آمدن حساب یې نشته        لکه بحر چې لهېږي بې پایان
یو دبل په غم نه نرم وي نه ګرم        هم دهغه زده چې ورېږي شي په ځان
پېغمبر غوندې صاحب تر دنیا تېر شو (۲)        دا دنیا یې ورانه نه شوه په هجران
چې دا هسې عالم لاندې شو تر خاورو        د چا یاد وي ما و تا غوندې سګان
که غلبیل کړم د تمامې دنیا خاورې        بیا به نه مومم دارا او شاه جهان (۳)
بوی د نام و د نښان یې پاتې نه شو        چې دعوی یې کړه د نام او د نښان
که دروغ وایم ته ورشه نظر وکړه        د خپل پلار او د نیکه په ګورستان
چې یې ته په دوارو سترګو سنکولې        ګوره څه شوې هغه خولې هغه لبان
چې مدام یې په قربان قربان بللې        اوس دې غبرګ ږد بانندې وکا چې قربان

د رحمان وسوزان شعر ته حیران یم (۴)

۱۵۱        ۱۷۴۶

چې یې اور بل شوی نه دی په دیوان

ته چې هسې ګاه یې ترش ګاه یې خندان        له عاشق سره کینه کړې که احسان
له احواله دې چا نه زده چې به څه کړې        کله جور کله لطف کړې عیان (۵)
رنځ راحت د عاشقانو وار ته یې        دا دروغ دي که وصال دی یا هجران
هغه شونډې چې خوږې دي تر شکرو        له کنځلو یې عار نه کا عاشقان
رجوعات د ښایسته ؤ چا ته نه وي        هرګز نه وي سرکوزي د سروي شان

---

(۱) داغزل د "پ" په نسخو او د "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته. د "خ" په نورو قلمي نسخو کې، د "ولوښته" پر ځای "ولښل" راغلی دی.
(۲) "ق، ک" چاپ: "محمد علیه السلام تر دنیا تېر شو".
(۳) قلمي نسخې: "که غلبیل کړې د تمامې دنیا خاورې    بیا به نه مومې دارا او شاه جهان".
(۴) "ق، ک" چاپ: "د رحمان دې سوزان شعر ته حیران یم".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه او نیمګړې نسخه: "کله جور کله غوږې کړې عیان". او دا غزل د "پ" په نسخو کې نشته.

Marfat.com

دغه هسې رنګ ښایست لکه چې ستا دی    نشته دا رنګه ښایست د هېڅ انسان[1]
قصد تر هسې حده ولې کړی ګل رخه    چې له ډېره نازه وژنې عاشقان
د مرلي صورت څه روغ له کاڼي نه وي    نشته کاڼي څخه ستا د جفا توان[2]
وهرچا وته[3] چې ستا قوت رسېږي    هلته نه رسي قوت د درست جهان[4]
ستا له جوره زهره[5] نه لري چې آه کا    که کشور د عاشقانو شي وېران
خوار حیران لکه عاشق دی ستا له درده    خدای دې هېڅوک هسې نه کا خوار حیران[6]
لکه ډېر وایي د وصل راحتونه    دغه هسې د فرقت دی سخت زندان
د رخسار نښې دې واړه د خورشید دي    چې یې درست جهان له نوره دی روښان
له هوسه دې هر ګل کړه خندا شوه    چې یې ولید ستا د حسن ګلستان
کله وي چې نصیحت کاندي عاشق ته    که له حسنه دې آګاه شي زاهدان[7]
رنګ د روی دې لري رنګ د سرو ګلونو    توري څڼې دې ښا خونه د ریحان
سیاهي د نوي خط دې هسې زیب کا    لکه ښکلي واړه توري د قرآن
وکوهي ته چې لغزش کا کل خطر وي    کل خیریت[8] دی کوهي ستا د زنخدان
که د دروتجلی ده ډېره ډېره    د رتا ریک شي چې ظاهر شي ستا دندان
ته سلطان د ښایسته وُیې دلبره[9]    دا نور واړه ښایسته دې نوکران

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته، د "خ" په قلمي نسخه کې د "مرلي" پر ځای "سړي" راغلی دی.
(۳) په قلمي نسخه کې "وهر کارونه" راغلی دی.
(٤) د "خ" په لومړي نسخه کې "شاه جهان" راغلی دی.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "چاره نه لري" راغلی دی.
(۶) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت او ورپسې دوه بیته د "خ" په مصوره نسخه کې نشته.
(۸) "ق، ک" چاپ کې "خطر" راغلی دی.
(۹) د "خ" دوهمه نسخه کې "دادوره" راغلی دی.

Marfat.com

که دا نور بنایسته ستوري ویل کېږي — نه خورشید خوندې صورت لري عیان (۱)

له هر چا چې اوربده شي دغه وایي — چې بنایست دې ذره نه لري نقصان

د رو لعل شو ویل د رحمان خکه (۲)

۱۵۲ — ۱۷۶۹

چې دې ستا د لعلو وشونډو وشوګویان

چېرته د یار شونډې چېرته غم د دل وجان — چېرته کټې لال او چېرته لعل د بدخشان

پاك و منزه دی عشق د نفس له خاصیته — چېرته چاه د ګیډې چېرته چاه زنخدان

لر تفاوت نه دی د رندی د زاهدی — چېرته خلي جونه چېرته کونډې یتیمان

واره بې وقوف دي که خوك دین په دنیا پلوري — چېرته پنځه ورځې چېرته عمر جاودان

زار شه د هوا و حرص خیال تر قناعته — چېرته ملك د مصر چېرته ده د غلامان

نه شي د ملنګو د خانانو سره کلی (۳)

۱۵۳ — ۱۷۷۵

چېرته عزیز خان چېرته ملنګ عبدالرحمن

فراموش مې دی دستا په مینه خان — خان لا څه دی بلکه عمر جاودان (۴)

لکه زه چې ستا د در په خاورو خوښ یم — هومره عیش و طرب نه لري شاهان

لکه زه چې ستا د غم پېټی وړنه اخلم — هومره پېټی اخستی نه شي پهلوان (۵)

هسې بې سر و سامان یم ستا په عشق کې — چې آګاه نه یم په سر او په سامان

هسې بې شرابو مست یم ستا په مینه — چې خبر نه یم په ځمکه په آسمان

دا به څرنګ شي چې ته د کال وعده کړې — په ما نه تېرېږي بې تا یو زمان

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ ، ق، چاپ ، "ق ،ک" چاپ ، د "خ" د دوهمې نسخه او نیمګړې نسخه کې " روښان " او مصور نسخه کې "تابان" راغلی دی.

(۲) قلمي نسخې : " ترو دیل د رحمان د رو لعل شو، څکه"

(۳) چاپي دیوانونه : " نه شي د خانانو د ملنګو سره کلي". د "خ" په لومړي نسخه کې "وبله کلي" راغلی دی.

(۴) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې " عیش جاودان " راغلی دی.

(۵) دا بیت د "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته ، په "ق ،ک" چاپ کې " د سر پېټی وړنه " راغلی دی.

Marfat.com

تمامي عمر د ستا په طلب ورك يم     لټوم دې په هر ښهر په بيا بان
كه له دره يې شړې كړې پرېږدې نه (۱)

۱۵۴   ۱۷۸۳

د برمين دى ستا پر مخ عبدالرحمان

خوبه شم برم زه غمونه د هجران     هومره د بردي لكه ريگ د بيا بان (۲)
د سرې د د ښمنۍ توان مې نه ؤ     خداى را پېښه د ښمنې كړه د آسمان
لكه خوك چې داوښ بار په مېږي كېږدي     هسې زه يم په خپل غم (۳) پورې ناتوان
لكه اور د بېلتانه چې په ما اوري (۴)     چالبدلې گنه اوردى په داشان
د يار غم به مې هغه سرې په شمار كړي (۵)     چې شمېرلي يې وېښته وي د خپل ځان
كه خوك والي حال دى څه دى په هجران كې     په خاطر دې تصور كا د وزخيان
ناقرار زړه (۶) مې د يار په هوا والووت     تش صورت مې په ځاى پاتې شو پرېشان (۷)
د يار ياد مې زړه (۸) په غتو سترگو يو ورې     لكه بت په دېوال كښلى يم حيران
ما وې زړه د مومن عرش دى خبر نه وم     چې به عشق زما دا عرش (۹) كاندې وېران
عاشقۍ تر هغه حده بې هوش كړم     چې نه هوښ لرم نه صبر نه سامان
لوړ د لوړه د تهمت په غونډو ويشت شم     ملامت را باندې والي درست جهان
چې دا حال ور باندې نه وي ورغلى
په ويل به څه گوهر پېږي د رحمان

۱۵۵   ۱۷۹۵

---

(۱) قلمي نسخې : "چې له دره يې شړې گناه يې كوم دى   د بر دستا په مخ مين دى يو رحمان". (۲) قلمي نسخې : "خوبه شم برم - درد غمونه د هجران   هومره د بر دي لكه شگې د بيا بان ". داغزل د "خ" په دوهمه نسخه كې نشته.

(۳) "ق ، ك" چاپ : "په خپل يار پورې ناتوان " راغلى دى. (٤) د "خ" په قلمي نسخه كې راغلي دي: " لكه غم د بېلتانه چې په ما اوري". د "ب" لومړۍ نسخه : " لكه ستا د بېلتانه كاڼي په ما اوري". (۵) قلمي نسخې : " زما غم به د هغه سړي په شمار دى".

(۶) په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ كې " روح " راغلى دى.

(۷) په چاپي ديوانونو ، د "خ" لومړۍ نسخه او نيمگړې نسخه كې "حيران" راغلى دى.

(۸) په "ب" چاپ ، "ب ب" چاپ كې " دم " ، "ق ، ك" چاپ كې "غم" راغلى دى او دا بيت د "خ" په نسخو كې نشته . دوهم مسرى يې په چاپي ديوانونو كې داده:
"لكه بت چې په دېوال كې وي حيران".

(۹) د "ب" په لومړۍ نسخه كې "زړه" راغلى دى.

Marfat.com

ورکه عاشقي شه هم يې نوم هم يې نښان | زه يې هسې خوار کړم لکه شګې(۱) د بيابان

زه د عشق په کار کې تېر تر سره هم تر مال يم(۲) | کښلې که په سر مې دا مشکل کا خدای آسان

کښېوتم د عشق په آدم خور ګرداب نو | نه په وړاندې تلی شم نه په بېرته ګرېزان

رنځ د عاشقۍ چې زه ظاهر کړم و طبيب ته | هېڅ ويلی نه شي طبيبان او حکيمان

شهرياران د دنيا واړه ګدايان دي | زه د عشق په اور کې سوی سرګردان(۳)

نه مې حال وچا ته ووېې چې دا څه دی | عالم واړه په فکرت تللي حيران

د عشق او د را بانديې بل شو خدای خبر دی | اوس رسول شوم په عالم کې چاک ګرېوان

۱۵۶

راشه عاشقي مه کړه رحمانه او که نه وي
تل به په اور ناست يې که بادشاهي د جهان

۱۸۰۳

خان سلطان د دې جهان | آخر د رومي خوار حيران

د قضا په حبل تړلی | په مثال د بنديوان

شېرين خان ورځنه د رومي | نه يې زور رسي نه توان

که ښندي مال و ملک واړه | هېڅ رنګ نه مومي امان

نه يې مل نه يې حامي وي | درد يې ورشي په خپل ځان

درمانده ورته ولاړ وي | وزيران او وکيلان(۴)

هېڅ دارو يې کړلی نه شي | کوز کوز ګوري حکيمان

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خاک" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "لوټه" راغلې دی.

(۲) د "ب" لومړۍ نسخه: "زه د عشق په کار کې تېر تر سره و مال يم".
د "خ" لومړۍ نسخه: "زه د عشق په کار و بار کې تر سره تېر يم".
د "خ" دوهمه نسخه: "زه د عشق په کار کې تر سره و تر مال تېر يم".
مصوره نسخه: "زه د عشق په کار و زار کې تر سره تېر يم".
نيمګړې نسخه: "زه د عشق په کار کې تر سره تېر يم بارې څه کړم".

(۳) دا بيت او ور پسې دوه بيتونه د "خ" له دې قلمي نسخې نه نقل شول. او په وزن کې له اصل غزل سره برابر نه برېښي.

(۴) د "خ" په نيمګړې نسخه کې "اميران" راغلی دی.

Marfat.com

بادشاهي يې پاتې کېږي  زره يې چوي په ارمان

چې يې روح له تنه بېل شي  نورپرې ژاړي فرزندان

يوساعت وربانديې ژاړي  آخرصبرکا خواران

بيايې غسل لره واخلي  په تخته باندې عريان

په جاموېې هوسېږي[1]  مرده شوى اوغسالان

چې له قبره يې بازگشت شي[2]  مال يې يوسي ميراثيان

په مسند يې دعوى کاندې  هم دوستان هم دښمنان

سهيلۍ به يې تالاکا[3]  هغه خپل مصاحبان

نام نښان يې هسې ورک شي  لکه عين يې نښان

نه يې نقش پاتې کېږي  نه يې اسم په جهان[4]

دادنيا آب روان ده  نه شي نقش په آب روان

که هزار رنگ ابادي کا[5]  نهايت خانه ويران

لکه بادهسې به تېرشي  کاروبار ددې دوران[6]

۱۵۷ دابيان دوړ ود راز وُ
کوتاه قطع کړ رحمان ۱۸۲٤

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خوشالېږي" راغلى دى.

(۲) په قلمي نسخو کې "بازگشت کا" راغلى دى.

(۳) چاپي ديوانونه : "سهيلۍ يې تالا کاندې".
د "خ" دويمه نسخه : "سهيلۍ دده تالاکه".
مصوره نسخه : "سهيلۍ يې هم تالاکه".

(٤) په قلمي نسخو کې "زمان" راغلى دى.

(۵) د "ب" لومړۍ نسخه : "که ابادي کړه هزاررنګه".
د "خ" دوهمه نسخه او نيمګړې نسخه : "که هزار آبادانې که".

(۶) چاپي ديوانونه : "هغه دورهغه دوران".
د "خ" په قلمي نسخو کې : "هغه دور ددوران".

که پخوا تر آشنایۍ وی بېلتون[1] — ما به نه وُ له چاکرۍ پیوستون

چې مې یار په ستر ګو ولید ما ګومان کړ — چې هم دا ساعت مې بیا مونده ژوندون

په نیمګړي داد خبر د فلك نه وم[2] — چې به بیا شي په ستنه راغځه ستون

نن ساعت چې له دې حاله خبردار شوم — سکه ترنن ورځې بهتره وه پرون

هر زحمت چې پر ما راشي شکرانه کړم[3] — عاشقۍ تر هسې حده کړم زبون

اوس که لاس یې بله مړم هیڅ سود نه کا — هغه چار چې مې له لاسه شوه بیرون

لکه لمر په څلورم آسمان ځلېږي — محبت یې له حجابه کړم ببرون[4]

چا چې رخه له سینه مځه را کوله — اوس دې سوځي په نیلي ګرځي د ګردون

په داهسې حال کې څرنګ صبوری شي — چې دښمن دې کامراني کا ته محزون

که په صبر سره تور کا مې لعل کړیې — لعل یې مه کړې په داهسې شوا خون[5]

د دنیا هوس په ما باندې حرام شو — د هوسۍ هسې کړم شپه په مېړتون[6]

دریغه یو ځله هغه زما په حال شوی — چې وما وته لولوي صبر و سکون

و رحمان ته ځان هغه ګړی آسمان شي
چې د ستا په غم کې[7] ناست وي سرنګون

۱۵۸ — ۱۸۳۷

---

(۱) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، د پېښور په چاپي دیوانونو کې لومړی مسری داسې ده : " که پخوا له آشنایۍ نه دوی بېلتون".

(۲) د "پ" لومړی نسخه : " په نیمګړي داد فلك د خبر نه یم".

(۳) دا بیت د "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې " شکرانه " راغلی دی.

(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۵) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې " ځیګرخون " راغلی دی.

(٦) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۷) د " خ " په لومړی نسخه ، نیمګړې نسخه او مصوره نسخه کې " چې دیار په غم کې " راغلی دی.

هېڅوك مه شه گرفتار د تورو زلفو    مه اسیر شه[۱] په کفار د تورو زلفو

هم په شان د تورو زلفو به پرېشان وي    هر چې کاندي انتظار د تورو زلفو

د محشر په عالم کله قراري وي[۲]    څوك به څه غواړي قرار د تورو زلفو

څو يې صبح[۳] د قيامت دميده نه شي    ورځ به نه شي شب تار د تورو زلفو

مگر شمع[۴] د سپين مخ شي باندې بله    گڼه نشته بل انوار د تورو زلفو

تار په تار کا د عاشق د خاطر خونه    چې حلقې شي تار په تار د تورو زلفو[۵]

چې تمام جهان يې نښتی دی په دام کې    څوك به څه کاندي انکار د تورو زلفو[۶]

زه له کومه، يوه کمنده سر وکا ن م    کمند ونه دي هزار[۷] د تورو زلفو

هومره زړونه يې پېيلي په هر تار دي[۸]    چې تسبيح کړه خدای زنار د تورو زلفو

په تندي د محتسب کا دره ماته    چې پرې راشي دره دار د تورو زلفو[۹]

---

(۱) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "اسير مه شه".
(۲) چاپي ديوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "د محشر عالم به کله په قرار وي". خو "پ" چاپ کی د "کله" پر ځای "څرنگ" راغلی دی.
(۳) د "پ" نسخی او د "خ" دوهمه نسخه : "ولی صبح".
(٤) مصوره نسخه : "کله".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "چې حلقه شي خلقه مار د تورو زلفو". او چاپي ديوانونه، مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه کی "چې حلقه شي" راغلی دی.
(۶) "ق.ک" چاپ او "ق" چاپ : "څه به کاندي څوك انکار د دې وېښتانو".
(۷) د "پ" چاپ : "بسيار".
(۸) د "خ" لومړی نسخه : "هومره زړونه يې پيلي هر تار دي".
(۹) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.

Marfat.com

ملك د هند او د حبش یې واړه زېر کړ(۱) — چې پیدا شو شهریار د تورو زلفو
سامارا نو غوندې گرځي په گنجونو(۲) — نه شي هیڅ په زړه کې ډار د تورو زلفو
که بل مار چیچل په لاسو یا پر پښو کا(۳) — په زړه خوله لگوي مار د تورو زلفو
د رحمان تر قلم مشك و عنبر وورېږي
چې آغاز یې کړ اشعار د تورو زلفو

۱۵۶

۱۸۵۱

اوښکې نه لري حساب زما د سترگو — بې حسابه شو سیلاب زما د سترگو
سیاهي مې همه واړه سفیدي شوه — هسې پر بولې شو کتاب زما د سترگو
که مې سره دي که سپین دي که مې تور دي(۴) — اوښکو یو وړې هر اسباب زما د سترگو
چې رخسار د هغه یار راڅخه پټ شو — حیطه شو آب و تاب زما د سترگو(۵)
چې گوزار مې په دا گرمو اوښکو نه شو(۶) — مگر کاڼي دي حباب زما د سترگو(۷)
که نور خلق د آفتاب په رڼا زیست کا(۸) — مخ د ترکو دی له افتاب زما د سترگو
مایې خیال لره ابلق د سترگو زین کړ — قدم نه دي په رکاب زما د سترگو

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "ملك د هند د حبش واړه زېر زبر کړ".
(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "ملکونو" راغلی دی.
(۳) "ق ک" چاپ ، "ق" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه : "که بل مار چیچل په لاسو په پښو کاندی".
مصوره نسخه : "د بل مار چیچل پر لاس و یا په پښو وي".
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته لومړی مسره یې د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : "که مې سره دي که مې تور که مې سپین دي".
د "خ" لومړۍ نسخه : "که مې سره دي که یې سپین دي که یې تور دي".
د "خ" دوهمه نسخه : که مې سره دو که مې تور دو که مې سپین دو".
(٥) "ب" چاپ او د "ب ب" چاپ : "چې رخسار د هغه یار راڅخه پټ شي حیطه شي آب و تاب زما د سترگو".
"ق ک" چاپ : "یاتې نه شو آب و تاب زما د سترگو".
"ق" چاپ : "حیف چې یاتې شي آب و تاب زما د سترگو".
د "خ" دوهمه نسخه : "آلوتر شو آب و تاب زما د سترگو".
(٦) چاپي دیوانونه ، مصوره نسخه ، او د "خ" لومړۍ نسخه : چې گوزار یې په دا گرمو اوښکو نه شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې گذران مې په دا گرمو اوښکو نه شي".
(٧) مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه : "مگر کاڼي شه حباب زما د سترگو".
(٨) د "خ" دوهمه نسخه : "که نور خلك د افتاب په مخ کې گرځي".

Marfat.com

چې مې[1] نقش په زړه سرې شونډې دیار شوې — کان د لعلو شو گرداب زما د سترگو
لکه تښتي وحشیان له مردمانو[2] — هسې وتښتېده خواب زما د سترگو

۱۶۰ ما رحمان چې سترگې روړنې په خپل یار کړې[3] ۱۸۶۱
اوس محال شو[4] اجتناب زما د سترگو

هر ساعت زما د غوږ په تا وولو — د فلک لاسونه شنه شوه تر ځنگلو
هومره غم د بېلتانه را باندې را غی[5] — چې حساب یې نه په خوله شي نه په کښلو
هغه سترگې چې نرگس وي هم بادام وي — تېرې تورې شوې زما په قتلولو
هغه شونډې چې شیریني وي تر قندو — ما هېڅ فیض ترې بیا نه موند بې ښکنځلو[6]
دا کاڼه کاڼه بانه او کسې ور ورځي — نور لږ څه نه کا بې کږ وکږ و وهلو[7]
په شپه نوکې د عاشق په وینو سرې کا — سبا پورې کا نکریزي په منگلو
دا زما د قاتل لاس دی نه پوهېږم — که تر باغ وتلی خاښ دی د سرو گلو
دریغه مرگ یې په دنیا کې نیمه خوا شوی — شایسته غوټې یې پرې یښتې د گلو[8]

۱۶۱ هسې بند شو په کمند د تورو زلفو ۱۸۷۰
چې حیران یم د رحمان په خلاصولو[9]

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته، مصوره نسخه: "چې یې نقش".
(۲) د "پ پ" چاپ: "لکه وتښتي وحشیان له مردمانو".
"ق ک" چاپ: "لکه تښتي چې وحشیان له مردمانو".
مصوره نسخه: "لکه تیښتنه وحشیان که له مردمانو".
(۳) د "خ" لومړي نسخه: "ما رحمان چې په سترگو روڼې په خپل یار کړم".
(۴) چاپي دیوانونه، مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه کې "محال دی" راغلی دی.
(۵) په مصوره نسخه کې "اوري" راغلی دی.
(۶) د "خ" لومړي نسخه او مصوره نسخه: "لږ څه نه کړي لې کږ وږ د ویلو".
(۷) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۸) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "حو حیران یم زه رحمان په خلاصولو"

Marfat.com

تاچې رنګ د مېو وړکړ ولبانو ‏ ‏ ‏ او دې پوډې کړ په کور د مېخوارانو

چې دې جوړه کړه لېنده د کږو وروځو ‏ ‏ ‏ خوب به ښکار کړې په حرم د غزالانو[1]

چې دې اسم د خنځير په زلفو کښېښود ‏ ‏ ‏ معطر دې کړ دماغ د دېوانګانو

په رخسار چې دې د خط غبار څرګند[2] شو ‏ ‏ ‏ سربلنده شوه خرقه د خاکسارانو

کانه غشي واړه بېرته ځي له نښې ‏ ‏ ‏ زه آزار کړم ستا کږو وږو[3] مژګانو

چې زما د یار تر منځه جدايي کا ‏ ‏ ‏ کاني پرېوځي په خونه د بدانو[4]

که مې چېرې خواست د خدای په در قبلېږي ‏ ‏ ‏ سوال به زه د عمر کړم د مهوشانو

سور پېزوان دې په سر و شونډو هسې زېب کا ‏ ‏ ‏ لکه جيم په قلم ښکلې کاتبانو

د سر و تېك دې شهزاده په جبين پروت دی ‏ ‏ ‏ شينکی خال دې محاصل په بنديوانو

دواړه لېچې دې وکښلې مصري توري ‏ ‏ ‏ د رپوهېږم سر به پرې کړې د خوارانو

١٦٢ ‏ ‏ ‏ ستا له غمه په ځان زړه د رحمان سوځي ‏ ‏ ‏ ١٨٨١
لکه شمع په زيارت د شهيدانو

چې کوتلې وي په تېغ ستا د چشمانو ‏ ‏ ‏ سرحلقه دی د جمله و شهيدانو

ستا وصال د سر پرېکړيو دی دلبره ‏ ‏ ‏ ژوندي نه مومي جنت بې مړګانو

د پېرې سورې عاقل لره ضرور دی ‏ ‏ ‏ دا مقام دی د سرتور و ديوانګانو

په سرپوښ محل[5] کې نور د آفتاب نه وي ‏ ‏ ‏ دا دولت دی نازل شوی په ړګيانو

هم په دا زماله سترګو وينې څاځي ‏ ‏ ‏ چې دې نقش پکې رنګ دی دلبانو

---

(۱) قلمي نسخې: "خوب دې زوړ کړې د حرم په غزالانو".

(۲) د "خ" په دوهمه نسخه کې "پيدا شو" راغلی دی.

(۳) د "خ" لومړۍ نسخه: "زه ادا کړم ستا کږو وږو مژګانو".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "زه ادا کړم ستا کږو وږو مژګانو".
او د "پ" لومړۍ نسخه: "زه ادا کړم ستا کږو وږو خومش ګانو".

(٤) دا بيت او ورپسې څلور بيتونه په قلمي نسخو کې نشته.

(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بازار" راغلی دی.

Marfat.com

مشکین خال دې په سرو لبو هسې زیب کا — لکه مُهر په مخزن د درمرجانو

١٦٣ ماسوالله یاره هرچي دي [illegible] ١٨٨٨

واړه کفر دی په دین د عاشقانو

که نظر کا څوک په کار د درویشانو — خود به ووینی وقار د درویشانو

په دغه لاره به ورشي خدای رسول ته[1] — که څوک یون کاندي په لار د درویشانو

هر گفتار به يې د خدای په در قبول وي[2] — چي قبول يې[3] وي گفتار د درویشانو

په یوه قدم تر عرشه پورې رسي — مالبدلی دی رفتار د درویشانو

هسې گرم بازار بل په جهان نشته — لکه گرم دی بازار د درویشانو

هومره خلق يې زیارت[4] کا پس له مرگه — چي بازار وي په مزار د درویشانو

بادشاهان د دنیا واړه پرې پراته دي[5] — لکه خاورې په دربار د درویشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دی — خزان نه لري بهار د درویشانو

د جنت د باغ گلونه به يې هیر شي[6] — که څوک ووینی گلزار د درویشانو

چي دنیا يې کړه د خدای د پاره ترکه — صد رحمت شه په روزگار د درویشانو

د قارون وحال ته گوره حال يې څه شو — راشه مه کوه انکار د درویشانو

په هر چا چي د غضب لینده کا سنخه[7] — خطا نه درومي گوزار د درویشانو

---

(١) دا بیت په مصور نسخه کې نشته. د "ب" په نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "په دغې لارې به ورشي وخدای ته".
(٢) "ق.ک" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخه او مصور نسخه کې "قبول شي" راغلی دی.
(٣) "ب" چاپ، "ق.ک" چاپ، "ق" چاپ کې "چي قبول يې کړه" راغلی دی.
(٤) قلمي نسخه: "طواف".
(٥) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړۍ نسخه: "بادشاهان د دې دنیا واړه پراته دي".
د "خ" دوهمه نسخه: "بادشاهان د دنیا ورته پراته دي".
مصور نسخه: "بادشاهان د دنیا واړه پراته دي".
(٦) "ق.ک" چاپ: "به دي هیر شي". د "خ" لومړۍ نسخه: "به يې هیر دي".
(٧) په قلمي نسخو او "ق.ک" چاپ کې "غرکه"، د "ب" چاپ او "ق" چاپ کې "کشته" راغلي دي.

Marfat.com

۱۶۴ — ۱۹۰۱

درست دیوان د ناصح (ابدالي) زار تر دا غزل شه (۱)
چې بیان يې کړ کردار د درویشانو

د پېښور وان غمي دي ز ېب کا پر لبانو — تورې زلفې دې څڅېږي د عاشقانو (۲)

دا سور ټيک دې شهزاده پر اورنگ پروت دی — شينکی خال دې معاني د بنديوانو

د وارېره لب دې بنایسته تر سرو یاقوتو — شرمولې ده زلې ستا د ندانو

دوه رخساره دې دوه سيب د سمرقند دي — پر سينه دې دوه نارنج در نخو را نو

د وارېه لیچې دې کړې کنبلې مصرې تورې — در پوهېږم سر به غوڅ کړې د خوارانو (*)

تورې ورځې دې کړې پر جبین (ز ېبا کا) (۳) — لکه جيم پر کاغذ کښلی کاتبانو

د پیریخه سیوری عاقل لره ضرور دی — دا مقام دی د سر تو ر و ملنګانو (*)

ستا وصال د سر پر بیکړیو دی دلبره — ژوندي نه مومي جنت بې مردګانو (*)

د لیلی د کوڅې سپی پر مجنون پېښ شو — په بار بار يې ښکلاوه پر دوو عینانو

۱۶۵ — ۱۹۱۱

ماسوا له یاره هر چې وي ناصح نه (*)
واړه کفر دي په دین د عاشقانو

کله څو په صحرا سر شوم هم په کليو — بيا مې نه موند هيڅ خبر د هغو تلليو

خدای زده کو مې خواته لا اړل حال يې څه دی — خبر نه یم د ګرنګ له پريوتليو (٤)

له دې غمه مې زړه چوي که څوك خبر وي (۵) — لږ په ما هم خبر وکړي خدای ساتليو

پس له دې به چېرته دړه ومې ځای موکوم دی (۶) — راته والېځ د دنيا په سرای راغليو

(۱) مصوره نسخه: "تر یو غزل شه".
(۲) دا غزل د "خ" له درېمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۳) په قلمي نسخو کې "پر جبین پروت" راغلی دی. (*) دا شلمه بېتونه په ځينو غزلو کې تکرار راغلي دي.
(٤) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" د درېمه نسخه کې "که څوك څه راشي" او په مصوره نسخه کې "که څوك خبر ېږي" راغلی دی.
(۶) د پ نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه: "پس له دې به چېرته دړه دمو ځای موکوم دی". مصوره نسخه: "پس له دې به چېرته دړه دم ځای مې کوم دی".
د "خ" لومړۍ نسخه: "پس له دې به چېرته دړه دې ځای دی کوم دی".

Marfat.com

گوندې ستاسو په مخ زه هم ښبنده شم(1) لاس د خدای و در ته نيسي ، پسند ليو
هيڅ خبر يې په هيڅ لوري مونده نه شي کډې غواړي شپه او ورځ په سپړو پليو
له دنيا يو هم خلکه نه کېږي پوښتنه زه و تاسې و ته وايم پوهېد ليو(2)

خبر نه يم چې په باب مې کښلي څه دي؟
زه رحمان په اندېښنه يم له دې ښکليو

١٩٦ 1919

# ه

د دلبرو په درگاه نه حرمت(3) لرم نه جاه
غوښوي مې د زړه ولې(4) د چشمانو په نگاه
هومره قدر مې پرې نشته(5) لکه قدر د گياه
يو نظر(6) را باندې نه کا از براى عند الله
هيڅ له ځانه خبر نه يم چې يې څه لرم گناه(7)
کله غم يې سرپټ کړم بل سر نه لرم پناه(8)

د رحمان په خبر و مه شه(9)
حال احوال د چا تباه

١٩٧ 1926

(1) چاپي ديوانونو او "خ" قلمي نسخې: "گوندې ستاسو په مخ زه هم پسند بده شم".
(2) دا دوه بيته د "خ" له قلمي نسخې نه نقل شول او دوهم بيت د "دوران" په مجموعه کې هم نشته.
(3) د "خ" دوهمه نسخه: "عزت"
(4) د "خ" دوهمه نسخه: "د زړه ديني"
(5) چاپي ديوانونه: "هم نشته"
(6) د "خ" لومړۍ نسخه: "ترو نظر را باندې نه کا".
(7) د "پ پ" چاپ او "خ" دوهمه نسخه: "چې زه څه لرم گناه". "ق ک" چاپ: "چې يې زه لرم گناه".
(8) دا بيت په مصره نسخه کې نشته.
(9) چاپي ديوانونه او خوږي قلمي نسخې: "د رحمان په خير دې نه شي".

Marfat.com

ورځ دې تېره په شومې کړه شپه لا خوب
خدای به کله یاد وې خانه خرابه

په شتاب شتاب دې تلل دي که پوهېږې
غافل مه شه د دې عمر له شتابه

دلته دم او قدم دواړه په حساب دي
پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه

راستولی خدای حساب دی په کتاب کې
خبر زده کړه له حسابه له کتابه(۱)

ته وخپلو نېکو بدو ته نظر کړه
چې بدي دې خوښېږي کړې له ثوابه(۲)

په هغه جهان به خړنګ ځواب وکړې(۳)
چې په دا جهان عاجز یې له جوابه

عاقبت به تور وخاورو لره درومې
ځان به خوښنې په ګوته له ترابه(۴)

زه دې پېژنم په اصل کې تراب یې
ته چې ځان خنډې په ګوتو له ترابه(۵)

خوب په دا جهان او به له تندې نه شي
په قیامت به دې سینه نه شي سیرابه

چې آفتاب یوه نېزه شي بیا به څه کړې(۶)
چې نن(۷) سیورې له تښتې له آفتابه

د کاغذ په کشتۍ سیر کوې رحمانه
دا کشتۍ به دې مرګه کاندي غرقابه(۸)

## ۱۶۸

په ازار د چا راضي مه شه کاځ نه کا
که خلاصي په قیامت غواړې له عذابه

## ۱۹۳۸

په ورځ ناست یې بې طلبه(۹)
په شپه خوب کړې بې ادبه

لاس دې وخاته له دواړو
هم له روژه هم له شبه

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) قلمي نسخې: "ته دا خپل نېک و بد و تله تخمینه چې ثواب دې خوښېږي کاله عذابه".
(۳) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "په هغه جهان به څرنګه ځواب کړې". د "خ" دوهمه نسخه: "په هغه جهان به څرنګ ته ځواب کړې".
(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(٥) دا بیت او وروسته بیت له قلمي نسخې نه نقل شو.
(٦) قلمي نسخې: "تو و به څه کړې".
(۷) چاپي دیوانونه: "او س چې".
(۸) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته. لومړی مسری یې په چاپي دیوانو کې داسې ده: "د کاغذ په کشتۍ سیل به کړې تو کومه".
(۹) په چاپي دیوانو او د "خ" لومړی نسخه کې "بې مطلبه" راغلی دی.

Marfat.com

نه دلي شوې نه هوري شوې ترمنځ[1] ورك[2] شوې مذبذبه
عبادت دې په ریا شو په مذهب کې بد مذهبه[3]

مدام بندي په سبب کې بې خبر له مسببه
واره تشې شړومبې شاړنې خبر نه شوې له مطلبه

ته اوده وربانديې سور[4] يې آس دې يون کا بې جلبه
تن دې تش په توره وسو آس دې داغ کړ بې منصبه[5]

دراکب چې والك پردی شي سودې څه وي له مرکبه
له ژوندیو سره ناسته[6] له مړده وې مرکبه

هلاك لوی شوې په اوبو کې اوبه نه پېژنې کبه
لکه کاڼی یا کودری په دریاب کې تشنه لبه

ناآګاه ځان آګاه بولې[7] دا خبره ده عجبه[8]
مرا دله زهده معرفت دی نه تش ځان وژل اقربه

۱۶۹ — د ملاح شراب له عشقه
نه له کورو له عنبه[9] — ۱۹۵۳

ته شهلا[10] يې شکر لبه ګل رخساره سيم غبغبه

---

(۱) د "خ" دري واړه نسخې : "ترمیان".
(۲) چاپي دیوانونه : "بدوب شوې".
(۳) دا کلمه د "پ" په لومړي او د "خ" په لومړي نسخه کې "بې مذهبه" راغلې دی.
(٤) قلمي نسخې : "وربانديې ناست لې".
(٥) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٦) په "پ" چاپ، "ق" چاپ، "ق ،ک" چاپ او د "خ" لومړي او دوهمه نسخه کې "ناست لې" او د "پ پ" چاپ کې "ناستا وی" راغلې دی.
(٧) قلمي نسخې : "ناګاه خپسرا ګاه بولې".
(٨) "ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ : "دا خبره عجایبه".
(٩) چاپي دیوانونه : "نه انګور نه له عنبه".
(١٠) د "پ پ" چاپ کې "شهلا" راغلې دی.

په نادرو کې نادره — په عجبو کې عجبه
په جمله ؤ معشوقو کې — بوالعجب یې منتخبه
بې زبوره ښایسته یې[1] — بې ترتیبه مرتبه
دغه داد د الهي دی[2] — بې تالاشه بې طلبه
آب حیات چې حیات بیا مومند — ستا د شونډو له سببه[3]
مخ دې سپین تر سپین سبا دی — زلفې تورې تر تور شبه
ستا د مخ عرق دانه وو — زینت راڼیو له کوکبه[4]
د ښایست مخې دې نښته — تر مشرقه تر مغربه[5]
د وصال مونده دې ګران دي — مګر فضل شي له ربه[6]
چې د رب فضل پرې وشي — هغه خلاص شي له غضبه[7]
دا دولت د خدای په داد دی — مونده نه شي له نسبه[8]
عشق څه هسې علم نه دی — چې حاصل[9] شي له مکتبه
مکتب حال د مذهب وایي — عشق سیوا دی له مذهبه
د عاشق مذهب هم دا دی — چې دم نه وې بې مطلبه[10]

ستا د حسن په تعریف کې
تمام ګونګ دي[11] له ادبه

۱۷۰ — ۱۹۶۹

---

(۱) قلمي نسخه: "بې زبوره دل فریبه".
(۲) د "خ" قلمي نسخه: "دالیو داد الهي دی".
(۳) د "خ" لومړی او دویمه نسخه او د "پ" لومړۍ نسخه: "آب حیات و حیات بیا مومند ستا د لبو له سببه".
(۴) په مشهور چاپي دیوانونو: "ستا د مخ عرق دانه ده زینت دار له کوکبه".
(۵) دا مسری په مصوره نسخه کې داسې لوستل کېدای شي: "مګر مهرو شي له ربه".
(۶) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې دا مسری داسې ده: "مګر مهر شي له ربه".
(۷) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) د "خ" لومړۍ نسخه کې "منصب" راغلی دی.
(۹) په قلمي نسخو کې "حاصلېږي" راغلی دی.
(۱۰) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په لومړۍ او دویمه نسخه کې: "یو دم نه وي بې مطلبه". په "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ کې د "نه وي" پر ځای "نه وهي" راغلی دی.
(۱۱) په چاپي دیوانونو کې "شو" او د "خ" په دویمه نسخه کې "یم" راغلی دی.

په هر زره چې د یار مینه شي غالبه — بله مینه یې هېڅ نه وي مناسبه

نورې واړه مرتبې به ورته هېڅ شي — که خبر شي څوک له دې مراتبه

لیاقت یې هر وګړي ته نشته — عاشقي یوه پایه ده عجایبه

د طلب له کوتاهۍ وېره وکړه(1) — که هر څو دې لاره کوتاه ده طالبه

عشق څرګند دی خزانه ده خوار هغه شو — چې څرګنده خزانه شوه ترې غایبه

غوره(2) خط د مخ رویانو تر خط نشته — که هزار رنګ کتابونه کړي کاتبه

هېڅ یې مه پوښته له فرضو له واجبو — په هغو چې عاشقي کړي خدای واجبه(3)

عاشقان تر سر و ماله یار ته تېر دي — خدای دې دا طائفه نه کاندي کاذبه(4)

۱۷۱ — زه کامګار د خپل صاحب په رضا زیست کړم — ۱۹۷۸

خه په کار دی بنده بې خپله صاحبه(5)

تا چې په دا تور و سترګو وکاته وماته — زړه دې زما تور کړله دې نوره مخلوقاته(6)

ما خو چې ته ولیدې هغه ساعت مې ووې — نوره به مې مینه د زړه نه شي له تا ماته

شېخانو او زاهدانو چې نصیحت وماته وایې(7) — نه دي خبر شوي ستا د مخ له محسناته

څه وشو که زه انګشت نما شوم ستا په مینه — لا ترما نه خوښ یې وقاضي وهم ملاته(8)

مرم په دا چې ماله تا جار باسي هغه خلق — بیا دې په دیدن ترما رسي څغلي وخواته(9)

---

(1) د "خ" لومړی نسخه: "د مطلب له کوتاهۍ وېره ومه کړه".

(2) د "ب" په لومړي نسخه کې "دور" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "بهتر" راغلی دی او هم دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته..

(3) د "خ" لومړی نسخه: "په هغو چې د یار مینه شوه واجبه".

(4) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په لوړو قلمي نسخو کې دوهم مسرئ داسې ده: "خدای به دا طایفه نه کاندي کاذبه".

(5) چاپي دیوانونه: "خه په کار دی دا بنده بې خپل صاحبه".

(6) د دې ردیف قول جیتونه د "ب" په دوهم او د "خ" په لومړي قلمي نسخو کې نه دي راغلي.

(7) دا مسرۍ په "ب" چاپ او د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "شیخ و زاهدان چې نصیحت ولې وماته".

(8) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "لا ترما نه خوښ یې وقاضي نه هم ملاته".
په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "لا ترما نه خوښ یې وقاضي وهم ملاته".
د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "لا ترما خو مینه کړه و قاضي او و ملاته".

(9) د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "بیا دې په دیدن ترما ورنۍ زغلي وخواته".

Marfat.com

۱۷۲ — ۱۹۸۴

زه رحمان چې دې وينم يار وايم خدايه خير کړې
ګنه بنا پېرې ده د بني آدم له ذاته (۱)

که د عقل خداى ترلسې وسر ته — لاس به سر مرشد هر ګېډې ودر ته
په نظر د هغو خاورې سره زر کېږي — هر چې نه لري نظر[۲] وسيم وزر ته
بې منته جام د زهرو ښخلي ښه دي — نه هغه چې منت بار[۳] وي وکوثر ته
د يوسف له حاله زده کړه د غړ پسه — وا يه حال د زمانې وبرادر ته
دې فلك وچا ته هيڅ بسنلي نه دي — چې يې نه دي راپېرودي څنې بېر ته
د خرواردعوى يې وګنه ممسکنه — که يې پوه وي ديوې جوداني[۴] در ته
که له خدايه دې وخلق وته مخ شي — له فردوسه به دې مخ شي وسقر ته
همېشه به در په درګر څې رتلي — داستوګنې ځاى به بيا نه مومي چېر ته[۵]

۱۷۳ — ۱۹۹۳

ددې سست بدن منت په رحمان باندې
چې له خپله دره تلى نه شي بل در ته

چې نظر کړم د خوبانو ورخسار ته — حق حيران د خداى په کړه شم ودې کار ته[۶]
له دهشته يې د يار پوښتنه نه شم[۷] — خداى زده څه به يې ويلي وې يار ته
خلوتيان لکه برده پکې خرڅېږي — غږ يې نه خېږي د حسن وبازار ته

---

(۱) دا بيت په "ب" چاپ کې داسې راغلى دى: "زه رحمان چې يار ووينم وايم خدايه خير کړې — ګنه بنا پېرې ده د بني آدم له ذاته".
په "پ پ" چاپ کې دا بيت داسې راغلى دى: "زه رحمان چې ووينم يار وايم خدايه خير کړې — ګنه بنا پېرې ده د بني آدم له ذاته".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا بيت داسې راغلى دى: "زه رحمان چې يار ووينم خدايه خير کړې — ګنه بنا پېرې ده د بني آدم له ذاته".
(۲) په مصوره نسخه کې "حاجت" راغلى دى.
(۳) په چاپي ديوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې "منت بار شي" راغلى دى.
(۴) چاپي ديوانونه: "که رتيه يا جوداند به يې وي در ته".
(۵) قلمي نسخې: "داستوګنې ځاى به نه مومې هيچېر ته".
(۶) چاپي ديوانونه: "آئينې غوندې حيران شم ودې کار ته".
(۷) د "ب" لومړۍ نسخه: "له دهشته يې د يار نه کتاى نه شم".

Marfat.com

ته چې ما پوښتې د یار له حقیقته — خوک د یار خبرې کاندي واغیارته

درد و غم د عاشقۍ څه هومره نه دي — چې یې عقل د چا رسي و مقدارته

زه و یار چې سره خپل غمونه شمار کړو — یار و ما ته حیران یې زه و یار ته

د دنیا چارې همه واړه په وار شي — ما د یار غمونه نه پرېښي و وار ته (۱)

۱۷۴ — ۲۰۰۱

لاکن ناصح هسې وزګار چېرې دی له عشقه (۲)

چې غوږ ونیسي ناصح غونډې وزګار ته

ما د دهر غم وهلی دی په لته — د پیالې د صراحۍ له برکته

که اوبه دي د حیاتو په ظلمت کې (۳) — ساده ن و یو و ماراکړې بې ظلمته (٤)

هغه یار چې و ما جام د میو راکړ — د دښمنو وینې مې وڅښې بې شدته (۵)

بې خودۍ د دنیا له غمه خلاص کړم (٦) — لا مې بیا مونده بیرون له شش جهته

د دښمن په دښمنۍ مې خندا کېږي (۷) — لکه شمع د مقراض له خصومته

بې خیرې مې کل په خپل بانډې شمېرلې — د زمرې په خوله کې ناست یم فراغته

مې بهاتې دی تر هغه چې خوک بې پت شي (۸) — په یارۍ کې دې خدای نه کا خوک بې پته

داستې چې په اور سوځې مرادې دادی — چې په اور کې سوی نه یم نه بې پته (۹)

خدای هاله د سرې یاد شي چې دردمند شي — کمه نه ده دردمندي تر عبادته

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته او "پ" په لومړۍ نسخه کې د "وار" پرځای "یار" راغلی دی.

(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۳) "ب" چاپ او د "پ پ" چاپ کې "په تورتم کې" راغلی دی.

(٤) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "بې منته" راغلی دی.

(۵) د "پ پ" چاپ او "ق ک" چاپ کې د "بې شدته" پرځای "بې شربته" راغلی دی.

(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "بې خودۍ زه د دنیا له غمه خلاص کړم".

(۷) د "پ" نسخې او "خ" لومړۍ نسخه: "خنداشي" او "خ" دوهمه نسخه "خنداراشي".

(۸) مصورې نسخې کې "بې ننګ شي" راغلی دی.

(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "داستې چې شیرین خان سیزي په اور کې مرادې دادی چې په اور کې سوی نه یم نه بې پته". په چاپي دیوانونو کې د دوهمې مسرۍ د "ئې" پرځای "زه" راغلی دی.

په تدبیر و په تلاش کله مونده شي — چې موقوف وي هغه کار په عنایته (۱)

که څوک سل نصیحتونه ورته وکا — غوږ یې نه وي د هیچا په نصیحته

۱۷۵ — ۲۰۱۳

زه رحمان په سل حلقو د زلفو بند یم
لا د پاسه یو پیزوان شو بله نته (۲)

ستا په مخ کې څه (۳) حساب د جمال نشته — ځکه ما څخه د صبر مجال نشته

ته د سرو د مال ویره په ما مه کړه — ویره ما څخه د سرو د مال نشته

زه په دا سبب له ویرې سره زېړ دم — چې ستا ویره کې ثواب دی وبال نشته (٤)

که وعده د بوې چارې یو ساعت کړې — د هغې چارې امید مې په کال نشته

د شهید وحال ته ګوره حال یې څه دی — بې تا هسې حال زما دی بل حال نشته

روښنایي مې د چشمانو ستا دیدن دی — په دا کور کې بل چراغ او مثال نشته

په جویبار زما د سترګو سرو ته یې — په دا نهر باندې بل څه نهال نشته (۵)

مخ دې بې خطه بې خاله هسې زیب کا — چې یې هیڅ حاجت په خط و په خال نشته

محتاج که راته وګورې دلبره — په کاته کې دې ثواب دی وبال نشته (٦)

د آفتاب په مخ کې هره ورځ زوال وي — ستا د حسن په آفتاب کې زوال نشته

په جذبه د محبت مې ځان ته راښکه — نور حاجت مې په ریبار او دلال نشته (۷)

۱۷٦ — ۲۰۲۵

ستا په یاد د رحمان هسې زړګی مشغول دی
چې په زړه کې یې هیڅ غم د وصال نشته

---

(۱) دا بیت او ورپسې بیت له قلمي نسخې نه نقل شول.
(۲) چاپي دیوانونه: "لا د پاسه سو پیزوان شو بله نته".
(۳) په چاپي دیوانونو کې د "څه" پر ځای "چې" او په مصور نسخه کې "هیڅ" راغلی دی.
(٤) قلمي نسخه: "چې ستا ویره د ثواب دی وبال نشته".
(۵) قلمي نسخه: "په دا نهر باندې خیر نهال نشته".
(٦) دا بیت په قلمي نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت د "ق.ک" له چاپي دیوان نه نقل شو او په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته.

Marfat.com

مخ تہ کہ دې لمر وایم دلمر زلفې تارتار نشته … سرو کہ ستا قد بولم دسروې یون رفتار نشته (۱)

هر خوك چې دې ستا و آتشین رخسار تہ گل وایي … پوچ وایي داور پہ مخ کې وقر دگلزار نشته (۲)

زلفې دې ناحقہ خوك سنبل بولي دلبرہ (۳) … ولې چې لہ مشکو سرہ هیخ دکیاہ کار نشته

ماچې غږ پہ غوږ وستا در دسپیو واوریدہ … هسې رنگ بلبلہ پہ چمن کې پہ گفتار نشته (٤)

ستا دبدن هغہ کاچې بې سر پہ تن نہ وي … ولې چې دسر دخښتن حورو تہ لار نشته (۵)

١٧٧ … یار بہ د رقیب پہ لوري خداى ندکا کاځ نہ ښم (۶) … ٢٠٣١

ولې چې دسپیو فرښتو سرہ څہ کار نشته

کہ خوك لا سرلہ سودہ وکاندي زیان نشته (۷) … پہ ملنگ باندې قلنگ او تاوان نشته

دوفا خریداران دې بازخوا د ر و مي (۸) … دامتاع د زمانې پہ دوکان نشته

جدایي لہ اشنایہ نہ پیدا کیږي … نا آشنا لرہ هیخ غم د هجران نشته

مگرحان وخداى تہ وسپارې امان شي (۹) … کنہ بلہ خوا د هیچا امان نشته

---

(۱) د "ب" نسخې : "قد کہ دې سرو بولم دسروې یون رفتار نشته".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "سرو کہ ستا قد بولم دسرو خوش رفتار نشته".
د "خ" لومړۍ، دویمہ او مصورہ نسخہ : "قد تہ کہ دې سرو وایم دسروې یون رفتار نشته".

(۲) د "خ" لومړۍ نسخہ : "پوچ وایي داور پہ مخ کې بل هسې گلزار نشته".
د "خ" دویمہ نسخہ : "پوچ وایي داور پہ مخ کې قدر د گلزار نشته".

(۳) حبالي دیوانونہ : "زلفې دې ناحقہ خلك بولي د سنبل صنم".

(٤) د "ب" لومړۍ نسخہ : "ماچې واوریدہ غږ دستا د سپیو … هسې رنگ بلبل هیخ پہ چمن کې خوش گفتار نشته".
د "خ" دویمہ او مصورہ نسخہ : "ماچې غږ پہ غوږ و واوریدہ ستا دسپیو … هسې رنگ بلبلہ پہ هیخ چمن کې خوش گفتار نشته".

(۵) دابیت د "خ" پہ دویمہ نسخہ او مصورہ نسخہ کې نشته، پہ نورو نسخو کې دابیت داسې دى : "ستا دبدن هغہ کہ چې بې سر پہ تنہ ندوي
ولې سر دخښتن حورو تہ لار نشته".

(۶) د "ب" لومړۍ نسخہ : "یار بہ د رقیب پہ لورې خداى نہ کا رحمانہ … ولې چې فرښتو سرہ دسپیو هیخ کار نشته".
د "خ" مصورہ نسخہ کې بې د دویمہ مسرې داسې دہ : "حق دى چې د سپیو فرښتو سرہ کار نشته".
د "خ" لومړۍ نسخہ : "حق دى چې نرسپیو فرښتو سرہ روزگار نشته".
د "خ" دویمہ نسخہ : "حق دى چې د سپیو و فرښتو وتہ لار نشته".

(۷) د "خ" دویمہ نسخہ : "کہ خوك لا سرلہ سودہ واخلي زیان بې نشته".

(۸) "ب" چاپ او "پ پ" چاپ : "دوفا خریداران بلخواتہ دې دروي".
د "ب" لومړۍ نسخہ : "دوفا خریداد وبلہ خواتہ دروي".

(۹) د "پ" او "پ پ" چاپ : "مگرحان دخداى تہ پاسلې پہ امان شي".
"ق" چاپ : "مگرحان وسپارې خداى تہ پہ امان شي".

Marfat.com

هغه یار به زه و کومې خوا ته غواړم ـ — چې بې هيچېرې منزل و مکان نشته
دلبران که هر څو ډېر شي په جهان کې — زما یار غوندې دلبر په جهان نشته
چې هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې — د غه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته [1]
عشق عاشق له بو هسې ګلستان دی — چې و باغ و ته يې[2] لاره د خزان نشته [3]
عاشقان په عشق کې واړه سلطانان دي — په دا ښهر کې نېستګار او ناتوان نشته
که مجنون غوندې په عشق کې څوک صادق شي[4] — دليلى په دروازه کې دربان نشته

۱۷۸

دانایان به د رحمان به قال پوهېږي[5]
دلته کار د هر نااهل و نادان نشته

٢٠٤٢

په دنیا کې مخ د یار دی نور څه نشته — هر چې دی د پار دیدار دی نور څه نشته [6]
چې وچس و وصال ته يې نظر کړم — يو دوزخ دی بل ګلزار دی نور څه نشته
کارخانې چې ددې دهر ليدې کړې يي — همګي د عشق سرکار دی نور څه نشته
هر مژګان يې په ماهسې چارې کاندي — والله عين ذوالفقار دی نور څه نشته [7]
بو يه مرد چې يې له مخه زلفې واخلي — د غه ګنج دی د غه مار دی نور څه نشته
د محسن د حسنات صفت به څو کړم — کوتاه والله چې بې شمار دی نور څه نشته
وهلو ته چې د زړه په غوږ و څېر شم — جوړ د محبت بازار دی نور څه نشته
چې سپين مخ او توري زلفې يې ليدې شي — د غه ګنج دی د غه مار دی نور څه نشته [8]
هر طبيب ته چې ځان و نيم دا والي — چې له عشقه دې آزار دی نور څه نشته

۱۷۹

خوار رحمان که بې تامينه په بل چا که
عين د قتل سزاوار دی نور څه نشته

٢٠٥٢

---

(۱) دا بيت په "ب" چاپ ، "ق ، ک" چاپ ، د "خ" لومړی او دوهم نسخه او مصوره نسخه کې "جهان" او په "ب پ" چاپ کې "دوران" راغلی دی.
(۲) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته. (۳) د "خ" لومړی نسخه: "چې هې باغ و ته لار د خزان نشته". (٤) "ق" چاپ او د "خ" دوهم نسخه کې "صادق وي" راغلی دی.
(٥) د "ب" لومړی نسخه ، "دانایان د رحمان په قال پوهېږي دلته کار د هر نااهل و ناداں نشته". (٦) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې او د زلمي هيوادمل د شخصي کتابتون له قلمي نسخې نه نقل شو په نورو قلمي نسخو او چاپي ديوانونو کې نشته. (۷) دا بيت او ورپسې درې بيتونه د "خ" په نسخه کې نشته. (۸) دا بيت د زلمي هيوادمل د شخصي کتابتون په نسخه کې نشته.

تاخو زده زما د زړه له احتیاجه | نور(۱) مې څه پوښتې چې څه غواړې محتاجه
د طالب و مطلوب راز به ما دړ وښود | که ته نه وای خبردار له دې رواجه(۲)
یار ته یار که حال په خوله نه وایي څه شو | حکیم ته پټ څرګند وي له مزاجه(۳)
که زما له حاله ما پوښتې حال دادی | چې بې تا مې ورځ تیاره ده تر شب داجه
اشنایي به ما په کوم قوت کوله | که خبر وی ستا د هجر له تاراجه
که له سلوبه یو خواست د چا قبلېږي(٤) | خدای دې هېڅوک نه ځوروي کا بې علاجه

په رماح بلا پسې که زهیرېږي
ته مشغول اوسه له خپله تخت و تاجه

١٨٠ | ٢٠٥٩

چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه | لکه مرغ ملاقي شوم له ارواحه
زه چې زلفې د یار وو ینم په خوب کې | په شپه مشک را باندې ووري تر صباحه
سبا زېری د وصال په مهجور کاندې | د هیواد خبر مونده شي له سیاحه(۵)
که روا کا خون خوړن د عاشقانو | څوک وتې شي د خوبانو له صلاحه
هر ساقي چې جام د عشق لري په لاس کې | دا پیاله بې په مستانو ده مباحه
مخ بې مینې که څوک ستایي نه شي | د ممدوح له قدره چا زده بې مداحه(۶)

---

(۱) د "ب" نسخه: "بیاې څه پوښتې". او د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کی "ترومې څه پوښتې" راغلی دی.

(۲) د "ب" نسخه: "د طالب و د مطلوب روش به ما در وښو    که ته نه لې خبردار لـه دې رواجه".
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "د طالب مطلوب روش به ما در وښود    که ته نه وای خبردار له دې رواجه".
مصوره نسخه: "د طالب د مطلوب دود به ما در وښود    که ته نه وای خبردار له دې رواجه".

(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "و طبیب ته خود معلوم دي له مزاجه".

(٤) چاپي دیوانونه: "که په سلوکی یو خواست د چا قبلېږي".

(۵) دا مسری په "ب ب" چاپ کی داسی راغلی ده: "د مهجور خبر مونده شی صباح".
هم دا مسری د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی داسی ده: "د هواخبر مونده شي له صباح".
د "ب" په دوهمه قلمی نسخه کی هم د "خ" د دوهمی نسخی غوندې راغلی ده.

(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی نه دی راغلی.

Marfat.com

۱۸۱ — ۲۰۶۶

د دنیا ناوې په عقل کې دین غواړي
ای رحمانه خان یې ژغوره له نکاحه (۱)

ولې تللې یې له ما مدام په خه — ترهېدلی یې هر صبح وشام په خه (۲)
زه هر صبح وشام وتا وته دعا کړم — ته وما وته کوې دشنام په خه
همېشه لکه وحشي په وحشت ګرځې — یو ساعت راسره نه یې رام په خه
دایماً راتخه درومې مخ په وړاندې — لکه عمر بېرته نه دې ګام په خه (۳)
راته وایه زه به هم هغه کومه — رقیبانو (٤) ته بښې انعام په خه
لمن پرهېز کړه له رقیبه دخدای روی دی (۵) — ګډ وې سره حلال حرام په خه
رحمان ستا په مخ یې خنو (۶) مین دی
بې هوده دې ورته کېښود دام په خه

۱۸۲ — ۲۰۷۳

ولې نه ګورې وما ته سم په خه — زیاته وې دغم زده وُ غم په خه
ستا په غم کې چې ماوینې عالم ژاړي — ژړوې راسره نور عالم په خه
په مطلب دې دسرو شونډو نه پوهېږم — چې مې وینې د زړه څښې هردم په خه
ودې خپلو مستو (۷) سترګو ته دې وایه — چې وداړنې (۸) مې قلم قلم په خه
ستمګار چې ستم کا خه بهانه کا — ته په ما بانده کوې ستم په خه

---

(۱) دا مسره په "ب پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "اې رحمانه خان ترې ژغوره له نکاح".
د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "اې رحمانه خان ژغوره لـه نکاح".
(۲) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه: "لکه عمر به سرعت نه دې ګام په خه".
(٤) په چاپي دیوانونو کې "غمازانو" راغلي دي.
(۵) چاپي دیوانونو او "خ" لومړۍ نسخه: "لمن پرهېز کړه له رقیبه خدای دپاره".
(۶) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "خنو" پرځای "زلفو" راغلي دي.
(۷) چاپي دیوانونو او "خ" لومړي نسخه کې "بوندو سترګو" راغلي دي.
(۸) د "ب پ" چاپ او "ق ک" چاپ کې د "وداړنې" پرځای "داوژنې" راغلي دي.

Marfat.com

مدکره خدای چې څوک بې یا خوښ خرم وي — زه به اوسم بې تا خوښ خرم په څه
زه رحمان پخپله ګرم یم چې مین شوم — دغه نور عالم مې بولي ګرم په څه (۱)

لر بي وپوښته چې حال یې دزړه څه دی
د رحمان له سترګو څاڅي نم په څه

۱۸۳ — ۲۰۸۱

که څه وایم له هجرانه وایم څه — له دې درد بې درمانه وایم څه
توان ددم وهلو نه لرم ویاره — چې توان نه لرم بې توانه وایم څه (۲)
چې یې وویښم له ځانه خبر نه یم — چې خبر نه یم له ځانه وایم څه
دخپل زړه له حاله هیڅ راویل نه شي — له بې نامه بې نښانه وایم څه (۳)
دعشق راز چې هیچا نه دی بیان کړی — ترو به زه له دې بیانه وایم څه
دخپل یار له غمه درست په اوښکو ډوب — له دې هسې رنګ توفانه وایم څه
زه چې پروت یم دهجران په تناره کې — دوصال له ګلستانه وایم څه
سروما ل دسرې لوټ کا زړه یې یوسي — له دې هسې دلستانه وایم څه
زاغان بولي بلبلان شړي له باغه — ددې دهر له باغبانه وایم څه

هر چې وایم تر همه واړه بهتر دی
زه رحمان به له جانانه وایم څه

۱۸۴ — ۲۰۹۱

څه شو که خاموش یم ستا دعشق له آه سره — ستا زما له میني خلق واړه خبر ده
هیڅوک دې په خوله دعاشقۍ لاف ونه کا — کله هم پټیږي وچې شونډې ګونه زرده
اهل ددنیا واړه نامرد دي رنګ یې ورک شه — خدای دې ملاقات له هیچا نه کا له نامرده

---

(۱) دابیت د "خ" په قلمي نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "رحمان خود پخپله ګرم یم چې مین شوم — ولې نور عالم مې بولي ګرم په څه".
(۲) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته
(۳) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی مسرې داسې ده: "دخپل زړه له حاله هیڅ ویلای نه شم".

کله بې درد انولره زړه دې چا ورکړی (۱) زه به صدقه کړم سل بې درده اهل درده
بې د استاد عشق د شهید نوله خاکدانه کله زدغونې بې سره لا له هره گرده (۲)

۱۸۵ — ۲۰۹۷

یو خوشحال او یو کم سل ختک نور په طبیعت کې
زاړ شه د خان سړي نې له یوه فرده

که زما مینه په تا ده خطا نه ده که بې تا ده ناروا ده روا نه ده (۳)
خوک چې بې د استاد مخه بل ته گوري (٤) آیینه بې ناصفا ده صفا نه ده
هر عاشق چې په خپل یار پسې ژړېکا داڅرا واره خندا ده ژړا نه ده
د دنیا په تماشا چې خوک نازېږي خو هم نن بې تماشا ده سبا نه ده
که ته سل ځله له ما سره جفا کړې ستا جفا واړه وفا ده جفا نه ده
هغه تېر شو چې مې مینه په غلا غلا کړه اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه ده (٥)

۱۸۶ — ۲۱۰٤

معشوقه که د خپل سر په بها مومي
و خان وته ویرپا ده بها نه ده

له اغیارو سره خندا خه په کار نه ده له اغیارو سره سودا خه په کار نه ده
سل یارۍ د یوه یار د پاره کړی شي آشنایي د هر آشنا خه په کار نه ده
بد له بد و سره بویه نېک له نېکو دجفا په ځای وفا خه په کار نه ده (۶)
هر بلبل به دې ثنا کا که ته گل شې په خپل ځان خپله ثنا خه په کار نه ده

---

(۱) چاپي دیوانونه او د "خ" دري واړه قلمي نسخې: "کله بې درد انولره زړه دچا ورکوومي".
(۲) دا بیت د "خ" په دري واړه نسخو کې نشته.
(۳) "ق، ک" چاپ: "بې له تا که په بل چا ده روا نه ده".
(٤) د "ب" لومړی نسخه: "خوک چې بې د استاد مخه گوري و بل مخ ته".
د "خ" لومړی نسخه: "خوک چې بې د استاد مخ د بل سره گوري".
د "خ" دویمه نسخه: "هر خوک چې بې د استاد مخه بل مخ گوري".
د "خ" مصوره نسخه: "خوک چې بې د استاد مخه بل خوا ته گوري".
(٥) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې: "هغه تیر شو چې مو مینه په غلا غلا کره اوس په درست جهان رسوا شوه په غلا نه ده".
(۶) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

Marfat.com

عشق د بوی[1] په خبر په پټه خوله خر گندوي — په داچار وکې غوغا خه په کار نه ده

دعشق درد واړه عاشق لره راحت وي[2] — ددې هسې درد دوا خه په کار نه ده

عاشقان وحرص هوا دې سره لري[3] — د بیمار په ځان هوا خه په کار نه ده[4]

عاشقي نادره چار ده په جهان کې — ولې بې خدایه سودا خه په کار نه ده[5]

که بې کړم هم هیڅ بې نه ګڼم سوګند دی[6] — وابستګي ددې دنیا خه په کار نه ده

ددنیا مینه بې کاره او ربړه شي — چې مې ولیده ربنتیا خه په کار نه ده[7]

که رحمان په جهان د بې پایه دلبره
زندګي زما بې تا خه په کار نه ده

١٨٨ — ٢١١٥

کوره بیابه خوله ادا[8] کا په زړه غونډه — چې داهسې مسته دروي مخ بې بنده

ته چې ګل د آشنایۍ له باغه غواړې — خبر زده کړه دهجران له خار و خنده

طالبان که مس و ردي هم بخلا دي — بې مطلوبه دجانان رسي داهنده

مارستم ددهر ولیده په ستر ګو — دخپل یار له جوره ژاړي لکه کونده

دعاشق دلاغرۍ[9] سبب دادی — چې فرقه د معشوقو شوه په زړه تنده

زه به حورې دجنت بې یاره څه کړم — خدای دې سره دجانان کاندي ارهنده

سخت ساعت دبیلتانه به مې هیر نه شي — که رابرکه شي د تور لحد ګورهنده

زه رحمان د هغه حسن دعاګوی[10] یم
چې جرګه د عاشقانو وي پرې پناه

١٨٩ — ٢١٢٣

---

(١) په "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ کې "ګل" او په مصوره نسخه کې "دبوه" راغلی دی.

(٢) "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ: "عشق و درد واړه عاشق لره راحت دي". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "عشق و رنځ" راغلی دی.

(٣) چاپي دیوانونه: "عاشقي، حرص وهوادي سره لري".

(٤) د "خ" لومړۍ نسخه: "دبیمار په ځای خندا خه په کار نه ده".

(٥) دابیت په "ق.ک" چاپ کې نشته. د "خ" په دوهمه نسخه کې د "سودا" پرځای "سیوا" راغلی دی.

(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "که بې کړمه که بې نه کړمه سوګند جم دادی".

(٧) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(٨) د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې د "ادا" پرځای "اندام" راغلی دی.

(٩) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لاغرۍ" پرځای "دل آزارۍ" راغلی دی.

(١٠) په چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې د "دعاګوی" پرځای "ثناخوان" راغلی دی.

ماچې جور و جفا بیا مونده له یاره — دوفا طمع به څه کړم له اغیاره (۱)

له دښمنه بد دښنادې طمع څوک څه کا (۲) — چې د دوست له لاسه غم شي ورد و ځانه

دل آزار که دل آزار شي مانه نه شي — حیف خو دادې چې دل دا ر شي دل آزاره (۳)

داګل هم (٤) د بره د بره له هغو شي — هر چې طمع ترې د ښو کړې بسیاره

اوس د استا رضا جفا کړې که وفا کړې — د واړه لاس مې اوس ختلي له اختیاره (٥)

طالبان خو تر مطلوبه پورې پړه دي (٦) — خدای دې تا لې وفا نه کا وفاداره (۷)

۲۱۳۰

چې له د بړې حیا نه ګوره وچا ته (۸)
څه خو مخ کړه د رحمٰن دزړه د پاره

۱۸۶

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۲) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "له دښمنو به د ښنادې امید څوک څه کا".
په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "له دښمنو به د ښنادې طمع څوک څه کا".
په "پ ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "له دښمن به د ښنادې طمع څوک څه کا".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "له دښمنه د ښنادې طمع څوک څه کا".

(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی. په "پ ب" چاپ کې دا بیت داسې دی: "دل آزار که دل آزار کړه مانه نه شي.
حیف خو دادې چې دلدار شي دل آزار".

د "ب" لومړۍ نسخه: "دل آزار که دل آزار کې مانه ترېنه شي
حیف خو دادې چې دلسوز شي دل آزار".

د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دل آزار که دل آزار مانه ترې نه شي
حیف خو دادې چې دلسوز شي دل آزار".

د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دل آزار که دل آزار که مانه نه شي.
حیف خو دادې چې دلسوز شي دل آزار"

(٤) په "پ ب" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "هم" پر ځای "مې" راغلی دی.

(٥) دا بیت یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې راغلی دی او نورو کې نشته.

(٦) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې د "پړه دي" پر ځای "پوره دي" راغلی دی.

(۷) دا مسرۍ په "پ ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "خدای دې څوک لې وفا نه کا وفاداره".

(۸) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که له د بړې حیا نه ګوري وچا ته
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د پاره".

په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که له د بړې حیا نه ګوري وچا ته
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د پاره".

د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "که له د بړې حیا نه شي کتې چا ته
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د پاره".

دوهمه مسرۍ یې د "خ" په دوهمه نسخه او د "ب" په دریمه نسخه کې په پوره شکل راغلې ده.

Marfat.com

وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره — در بغه در بغه چې بې یاره تېر څي بهاره (۱)

اوږد خون ولاړ و نو چې د غره په سر لګېږي (۲) — شني لوخړې خېژي له نسترو له چناره

داغ د عاجزي دی چې زه کښېم په کاغذ باندې — راشه ووینه د عاشق له آزاره (۳)

داغ د اوښکي نه دي چې ښکاري له چشمانو — وینې دي ښکارېږي د زړه ګوټي له پرهاره (۴)

رنځ مې هسې سخت دی هر زمان په ما زیاتېږي — راشه ای طبیبه ګوندې مرهم در به د یاره (۵)

غر ونه دي نه پرېږي چې په حال زما خبر شي — سینه د اوښکو د رومي چې راغلي له کهساره

نور څه نه دي واړه دانا په د بېلتانه دي — راشه کړي اوري د رباب له هره تاره

۱۹۰

زه یو خوار و زار یم مماح په عاشقۍ کې

خپل دي که پردي دي راته نه ګوري له غاره

۲۱۳۸

ستا په عشق کې د روغ زړه یم سر تر سره — چې له غمه دې ژوندی ګرزم دلبره (۶)

زه په ستا له غمه کاله شو لامبر وم — باری دم د خدای په لاس دی نازپرورې

جدايي به مې یو دم قبوله نه کړه — که چا مرګ او بېلتون راسنې وې په غوره (۷)

شام سحر مې دغه ستا زلفې رخسار دي — نور مې مه پوښته له شامه له سحره (۸)

---

(۱) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته. د "ب" چاپ او "ق" چاپ کې یې دوهم مسری داسې دی:
"دریغه دریغه چې بې یاره شي بهاره".

(۲) د "ب" چاپ او "ق" چاپ کې "بلبرې" راغلی دی.

(۳) قلمي نسخې او نور چاپي دیوانونه: "راشه ووینه د عاشق له دل آزاره".
"ق" چاپ: "راشه ووینه د عاجز و دل آزاره".

(٤) د "خ" دوهمه نسخه: "داغ د اوښکي نه دي چې پر مخ زما ښکارېږي
دا مې د زړه وینې چې ښکارېږي له رخساره".

(٥) د "خ" دوهمه نسخه: "درد مې نه کمېږي په زمان زمان زیاتېږي
راشه طبیبه ګنه مرهم د خدای د یاره".

(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "چې له غمه دې لا مړ نه یم دلبره".

(۷) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ک" چاپ کې نشته.

(۸) د "ب" قلمي نسخې: "شام سحر یاره ستا زلفې و رخسار دی
هیڅ مې مه پوښته له شامه له سحره".
د "خ" په نورو درې واړو نسخو کې یې لومړی مسری داسې دی: "شام سحر زما دا ستا زلفې رخسار دی".

Marfat.com

چې خبر دې[1] په وصال و په هجران شوم — خبر نه یم له فردوسه له سقره

بې دستاله مخه ورځ راباندې شپه ده — روښنايي د ورځې څېرې وي بې نمره[2]

هسې بې سر و سامان دې په هيڅوك نه شي[3] — لكه زه چې بې سامانه يم بې سره

يو هنر مې منظور ستا په نظر نه دى[4] — كه زه وكړم ستا په عشق كې سل هنره

هيڅ اثر د رحمان اوښكې په يار نه كا

خداى دې اوښكې د چا نه كا بې اثره

۱۹۱

۲۱۴۷

زه عار نه لرم په عشق كې له پيغوره — بې پروا يم د ستي په خبر له اوره[5]

ندي په خوله د سمندره هس د مومو[6] — څوك چې ما منع كوي د عشق له شوره

بې هجرانه زما بله خواري نشته — ولې نشته تو دا بله خواري نوره

لكه ته چې خداى هر گوره ښايسته كړې — زه يې هسې د پر بې صبره كړم هر گوره[7]

چې په تور او سپين مې ابروي داخوك دى — كه ته نه يې په مخ سپينه په زړه توره

د رقيب له بدخويه به څه وايم — چې لا يار ورسره مل شي هلته گوره[8]

---

(۱) په چاپي ديوانونو او مصوره نسخه كې "چې خبر بې" راغلى دى.

(۲) دا بيت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ك" چاپ كې نشته. لومړى مسرى يې د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې ده:
"بې دستاله مخه ورځ راباندې شپه شوه".

(۳) د "ب ا" چاپ كې "نشته" راغلى دى.

(۴) په چاپي ديوانونو كې "نه شو" راغلى دى.

(۵) دا غزل په مصوره نسخه كې نشته.

(۶) د "ب ا" په لومړۍ نسخې كې "موم" راغلى دى.

(۷) دا مسرى په دواړو چاپي ديوانونو كې، او د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلى ده:
"زه يې هم هسې بې صبره كړم هرگوره".
د "خ" په لومړۍ او د "ب" دوهمه نسخه: "زه هم هسې بې صبرى كوم هر گوره".

(۸) دا بيت په "ب" چاپ كې داسې راغلى دى: "د رقيب له بده خويه به څه وايم — لا چې يار ورسره مل شي هالد گوره".
په "ب ا" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه كې: "د رقيب له بده خويه به څه وايم — چې لا يار ورسره مل شي هلته گوره".
د "ب" په دوهمه نسخه كې: "د رقيب له بدخويه به څوك وايم — لا چې يار ورسره مل شي هلته گوره".
د "خ" لومړۍ نسخه: "د رقيب له بدخويه به څه وايم — لا چې ياد ورسره بل شي هلته گوره".

Marfat.com

چې يې پوړ د مرګ تر پوره لا بدتر وي[1] ... هې توبه د بېلتانه له بده پوره

دا مې خپل نصيب طالع دی را رسېږي ... ګنه غم کله رسېږي له غم خوره[2]

قاف تر قافه بادشاهي به يې روزي شي ... چې په چاوشي د استاد زلفو سيوره

۱۹۲

۲۱۵۷

عاشقي سړی مجنون کاندي رحمانه

ګنه څوک په هوښيارۍ وځي له کوره

نه رسېږي ستا وحسن وته حوره ... څه به رسي وماړمن وته مزدوره[3]

ستا تر قده تر قامته نه رسېږي ... که نښتر که سپاري وي که کجوره[4]

تر قامت پورې دې سروه ده سرکوزې ... تر رخسار[5] پورې دې شمعه ده بې نوره

هر سړی چې دې وحسن ته نظر کا ... ستا پېرۍ يې په نظر وي نا منظوره

چې تا مې د خپلو شونډو ورته خوله کړه ... طايفه دې د صوفيانو کړه مخموره

اوس ته وايه چې په څرنګ دې وستايم[6] ... زه خوستا په مينه لاړم له شعوره

دا جذبه د عاشقۍ نده نو څه ده ... ګنه کله څوک وتې شي له دستوره

اوس به زه د شب خېزۍ څه منت وکړم[7] ... چې څمره دې کړه په خوب کې را حضوره

چې په ننګ وپه ناموس تر لوره کم وي[8] ... صدقه شه نا قابله زوی له لوره

---

(۱) دا مسری په چاپي ديوانونو کې داسې راغلی ده : "چې يې پوړ د مرګ تر پوره پورې هيڅ دی".
د "ب" په دويمه نسخه کې : "چې يې پوړ د مرګ تر پوره هم بهتر دي".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې : "چې يې پوړ د مرګ تر پوره بهتر دی".
د "خ" په دويمه نسخه کې داسې راغلی ده : "چې يې پوړ د مرګ تر پوره لا بهتر دی".

(۲) دا بيت او دريمې بيتا په چاپي ديوانونو کې نشته.

(۳) دا غزل د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۴) د "خ" دويمه نسخه : "که نښتر که صنوبر دي که کجوره".

(۵) د "خ" په دې دواړو قلمي نسخو کې "تر صورت پورې" راغلی دی.

(۶) "ق" "ک" چاپ : "اوس ته وايه چې په څرنګ به دې دوست کړم".

(۷) "ق" چاپ : "اوس به څه د شب خېزۍ منت باری کړم".

(۸) "ق" چاپ او "ق" "ک" چاپ : "چې په ننګ وبه ناموس تر لوره کم دي".
په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ او دويمه نسخه کې دا بيت داسې دی : "چې په ننګ وبه ناموس تر لوره کم دي خدای دې مور کاندي په هسې زوی پېروره".

کۀ سل ځله زويه غوره وي ترلوره | خدای دې مورکا په داهسې زويه بوره[1]
که سل ځله زوی رويداره وي ترلونو | صدقه شه ناقابله زوی ترلوره[2]
ننګيالي ترېر ونه ښه دي اوکه نه وي | ننګيالې ترله هم ښه ده له تربوره
خوبروېي بې دلبرۍ څه په کار نه ده | لکه ونې بې مېوې په پانو کوره[3]
که د غلوزی لباس وکا غزاوشوه | شهد نه دي چا موندلي بې زنبوره[4]

١٩٣

په مخ د ښايسته قدر دېر دی
د طبيب له قدره چا زده بې رنځوره

٢١٧٢

چې په وخت د خنګدن وکا بې زيره | ترونن ولې هسې نلست[5] يې بې تدبيره
هر سړی چې ګانده[6] غم په مخ کې وينې | له هغه غمه لا نن ګرځي دلګيره
چې سبا ارمان وې پند د پيرانو | ولې نن د پير طلب نه کړې بې پيره
د يار ياد به دې ځای څرنګ په زړه نيسي | ياد د غير چې لرې نه کړې له ضميره[7]
چې د توک په طلب ګرځي خدای دې هېر دی | فقيري[8] داهسې چاېرې وي فقيره
دغم غم دې خدای بدل کړه په ښادي | زهير مه شې په آشنا پسې زهيره
که هر څو ښايسته دېر دي په جهان کې | وهر چا ته خپل آشنا دی بې نظيره
هر سړی د هغه مخ په رڼا ګرځي | چې يې خونه د خالص وې پرې منيره
همېشه پراته په اور و په اوبو وي[9] | عاشقان د لعلو لبو له تاثيره

---

(1) دا بيت په "ب" چاپ، "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې داسې دی: "که سل ځله زوی د ديدار وي ترلونو — صدقه شه ناقابله زوی ترلوره".
(2) دا بيت په چاپي ديوانونو کې نشته.
(3) په "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "خ" په دوهمه او مصوره نسخه کې د "کوره" پر ځای "پوره" راغلی دی.
(4) په "ب" چاپ، د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "له زنبوره" راغلی دی.
(5) په چاپي ديوانونو کې د "ناست" پر ځای "رانګ" راغلی دی.
(6) په "ب" چاپ کې "کان"، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "ورانده" راغلي دي.
(7) دا بيت په "ق، ک" چاپ کې نشته.
(8) په قلمي نسخو کې "فقيري" راغلی دی.
(9) قلمي نسخې: "تمامي عمر په اور د په اوبه دي".

۱۹۴ — ۲۱۸۲

زه ملنګ د آزادۍ په تالاش(۱) ګرځم
باري نه د تور و زلفو له ځنځیره

ستا په عشق کې هسې خلاص(۲) یم له شعوره — چې یو ه خبره نه لرم منظوره

طبیبان وایي چې صبر یې دارو دی — خدای فرقه زمونږ(۳) پیدا کړه ناصبوره

توري هر چېرې ترلې په دښمن شي — یاره ستا سترګې دوستان وژني په توره(۴)

معشوقې د زمانې شوې سره تولې — د زړه خونه مې یې ولوټله چوره(۵)

زه تنها په ضرور نه یم ستا له غمه — پیدا شوې عاشقي ده له ضروره(۶)

هرې شپې له ورځ شته ده په دنیا کې — زما عمر جدایي کړ بې له نوره(۷)

هرویان وفا له هیڅ سره نه کا — دا خبره په عالم کې ده مشهوره(۸)

چې خبر شي واره ګوتې په غاښ نیسي — په هجران کې خبر مه شې له مهجوره(۹)

د رقیب له بد وسترګو نه ځان ژغوري — هر عاشق چې لږه منده وي له حضوره(۱۰)

هومره توان او توفیق نه ګڼم په بخت کې — چې تائب کا ما له فسق او له فجوره

په نظر د مدعیانو تور کودي وي(۱۱) — که یې کښېنوم د کټ د پاسه حوره

د ملنګ له(۱۲) سترګو نه م به هاله(۱۳) وچ شي
که وچ شوي د چا نم وي له ناسوره

۱۹۵ — ۲۱۹۴

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "طلب" راغلی دی.

(۲) د "ب" په دوهم او د "خ" په لومړي نسخه کې د "خلاص" پر ځای "لاړ" راغلی دی.

(۳) دا بیت د "ب" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي دیوانو کې یې دوهمه مسرې داسې راغلې ده: "خدای زمونږ فرقه پیدا کړه ناصبوره" د "خ" په لومړي نسخه کې د "زمونږ" پر ځای "زما" راغلی دی.

(۴) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی په پېښور چاپي دیوانونو د "په توره" پر ځای "بې توره" راغلی دی

(۵) د "خ" په لومړي نسخه کې "یې چوره"، په دوهمه نسخه کې "یې خپوره"، د "ب" په لومړي نسخه کې "یې محبوره" او په "ب ب" چاپ کې دغه مسرې داسې ده: "د زړه خونې یې او لوټلې یې چپوره".

(۶) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(۷) دا بیت په "ب" نسخو کې داسې دی: "هرې شپې له ورځ شته په دنیا کې زما عمر جدایي کړ بې نوره". په "ب ب" چاپ کې د "کړ بې له نوره" پر ځای "کړ لو بې نوره" راغلی دی. د "خ" په لومړي نسخه کې یې دوهمه مسرې داسې راغلې ده: "زما عمر جدایي کړ بې لو نوره"، په دوهمه نسخه کې "جدایي زما عمر کړ بې نوره" راغلی ده.

(۸) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی. (۹) دا بیت په "ب ب" چاپ کې داسې دی: "له حیرته واړه ګوتې په غاښ نیسي په هجران کې چې خبر شي له مهجوره".

(۱۰) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی په "ب ب" چاپ کې: "د رقیب له بد و سترګو دې ځان ژغوري هر عاشق چې لږه منده شي له شعوره". (۱۱) د "خ" په لومړي او د "ب" په دوهمه نسخه کې د "وي" پر ځای "دي" راغلی دی. (۱۲) په "ب ب" چاپ کې د "له" پر ځای "د" راغلی دی. (۱۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "هاله" پر ځای "کله" راغلی دی.

Marfat.com

زړه مدام راته ویل چې ژاړه ژاړه — په ژړا سره دا تللی اشنا غواړه (۱)

مسلې د بې ننګۍ ورپسې لنګ کړه — بې چاو مځه دننګ کښېږده وه بې نغاړه

که دیار په سر لوټۍ دا ستا رضا وي — په خندا خندا راځه په لکه غاړه

دافلاک چې دآسیا په دود ګردش که — په دنیا کې به پرې نن دي دانه لواړه

په دنیا کې ګوره هرچې زنده سر دی — داجل په تیغ به پرې که د دوی غاړه

۱۹۶

دمکې خنځیر حاجیان په لاس کې نیسي
(ح) و نیوه چې* دیار زلفینې دواړه

۲۲۰۰

ګاه په غاړه (۲) سوځي کله رېږدي په ساړه — کله مرې له لوږې کله مرې په ډېر خوړه

واړه په غوغا دي چې راغلي په دنیا دي — نه بې هغه وږي په قرار دي نه ماړه

کله لاس په سر خپله کېږدي تواضع کا — کله وبله کېږدي لاس په توره په چاړه

خاوري دآدم چې خمیر کړې فرښتګانو — درست یې په غمونو په دردونو ولاړه

خدا شو که خولک نن ساعت وهل که یا ترل که — پېښ به په هغه شي چې واهه شي هم تاړه (۳)

خوبه وې تند رسته دازموږه بنا شسته — زه یې درمانده یم په پښتې په اخاړه (۴)

ښایي چې خولک پسله مرګه خاندي په لحد کې — هرچاچې په داژوندون کي خپسر وژاړه (۵)

---

(۱) داغزل یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې په همدې شکل راغلی دی او په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته. (*) اصل: نیولي دي.

(۲) په چاپي دیوانونو کې "نمو" راغلی دی.

(۳) د "پ" لومړۍ نسخه "خدا شو که خولک نن ساعت واهه ویا تاړه شي — پېښ به شي هغه چې واهه شي هم تاړه".
د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "خدا شو که خولک نن ساعت واهه شي یا تاړه شي — پېښ به شي هغه چې هم واهه شي هم تاړه".

(۴) دا بیت په "پ" چاپ، او "ب پ" چاپ، د "خ" په لومړۍ نسخه او مصره نسخه کې نشته. "ق ک" چاپ: "خو به وي تند رسته دازموږه —
— ودانه خونه دېر یې درمانده شو په پښتې په اخاړه". "ق" چاپ: "خولي دتند رسته دازموږه بنا یسته — زه یې درمانده یم په پښتې په اخاړه".

(۵) د "ب پ" چاپ: "هرچاچې ژوندون کې خپل پښتې سر وژاړه". "پ" لومړۍ نسخه: "هرچاچې په داژوندون خپسر وژاړه".
"ق" چاپ: "هرچاچې په ژوندون کې خپسر وژاړه". "ق ک" چاپ: "هرچاچې په ژوندون کې ګوره خپل ځان وژاړه".
"خ" لومړۍ نسخه: "هرچاچې په داژوندون خپل ځپل سر وژاړه".
د "خ" دوهمه نسخه او مصره نسخه: "هرچاچې په ژوندون خپل سر وژاړه".

Marfat.com

وینم واړه تلوني هېڅوك نه دي پاتي شوي — یون دی په دالارې هم دځوان هم د زاړه

زلفې د دلدار[۱] دي چې هرڅوك يې طلبګار دي — لوی دي که هلك دي که ځوان[۲] دي که واړه

سخ د هغه چا دی چې په درګې یې قبول شي — زار د هغه چا چې يې له دره وشاړه[۳]

۱۹۷ — ما عبد الرحمان غوندې جواب کړو ورته سلو[۴]
خدای خبر چې کوم یو هغه ترکي وېلاړه[۵] — ۲۲۱۱

خوبه وران شي د دنیا با زاره ناره — هر نفس د بېلتانه په تاخت لتاړه[۶]

لا غونچې په باغ ستړګې سپړدې نه وي — باد خزان يې د زړه مېنه کړه وېجاړه[۷]

هسې باد پرې د فنا له لورې ووت — د لاله خوله[۸] يې پرېښته لتاړه[۹]

څه بزرګي به يې د بازو د همای وي — زباني ذکر که سل رنګ کا خاړه[۱۰]

که زر سل کاله يې تېر شي په اوبو کې[۱۱] — په نرمۍ به نرم نه شي وچه تاړه

---

(۱) "ق، ک" چاپ: "زلفې مې دیار دي" راغلی دی.

(۲) د "خ" په لومړي نسخه کې "پیران" راغلی دی.

(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې یې دوهم مسرۍ داسې ده: "زار د هغه چا دی چې له دره یې شاړه".

(۴) "ق، ک" چاپ: "ما رحمان غوندې به سلو چې سلام ورته کولو".
په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ، "ق" چاپ او مصوره نسخه کې د "جواب" پرځای "سلام" او د "خ" په دوهم نسخه کې "لبیک" راغلی دی. او د "خ" په لومړي نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "ما غوندې رحمان غوندې زاري وکړه ورته سلو".

(۵) په مقابله شوو کتابونو او قلمي نسخو کې "ولاړه" راغلی دی، خو "د عزم" د په نظر کې نیولو او نیت" په معنی د "ویلاړه" تکل سم دی چې د همون دستاني "دوست" په قول يې راغی.

(۶) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. د دې بیت لومړي مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې ده: "خود به وران شي د دنیا بازاره تاړه".
په دوهم مسرۍ کې په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "نفس" پرځای "ساعت" راغلی دی. لومړي مسرۍ يې په قلمي نسخو کې داسې ده: "خوبه وران شي د دنیا بازار لتاړه".
او د "پ" په دوهم او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلي ده: "خوبه وران شي د دنیا بازار تاړه".

(۷) دا بیت د "پ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "هغې غنچې لا په باغ ستړګې سپړدې نه دي — بد خزان يې د زړه مېنه کړه وېجاړه".
"ق، ک" چاپ: "لا غنچو په باغ کې ستړګې سپړدې نه دي — چې خزان يې د زړه مېنه کړه وېجاړه".
د "خ" په لومړي او د "پ" په دوهم نسخه کې داسې راغلی دی: "هغو غنچو لا په باغ ستړګې سپړې نه دي — بد خزان يې د زړه مېنه کړه وېجاړه".

(۸) په "پ" چاپ کې "قوله" راغلی دی.

(۹) د "پ" له دوهمې نسخې نه پرته په نورو نسخو کې "له تاړه" راغلی دی.

(۱۰) دا بیت په قلمي نسخو کې داسې راغلی دی: "څه بزرګي به یې د باز و همای نه شي — سر زباني ذکر که سل رنګه خاړه".
د "ق، ک" چاپ کې داسې راغلی دی: "څه بزرګي به يې د باز او همای دي — سر زباني ذکر که سل رنګ کړه خاړه".

(۱۱) "پ" چاپ: "که سل زر کاله پرې تېر شي په اوبو کې" او د "خ" لومړي نسخه کې "که يې سل کاله ونه تېر شي په اوبو کې".

Marfat.com

ترداهسي څمره نه څمر بهتر دی　　هرچي حال يي زنګدن شي څمر واره[1]

ترخلاصي څني بندي سنه يي رحمانه[2]
۱۹۸　　۲۲۱۸
که دشها[3] د زلفو ځيل دې شي په غاره

چې غرقاب شي ترومژګان په یم د زره　　نورخراب شي خانمان په نم د زره[4]

عبث وايي غم د زره و بوالهوس ته　　څه پوهېږي هلکان په غم د زره

په بل مخ باندې سبوا د يار له مخه　　ماتړلي دي چشمان محکم د زره

چې يي عرش او کرسي لاندې ترقدم دي　　بالاتر دی هسې شان قدم د زره[5]

د خليل ترکعبې دا کعبه ده لسويه[6]　　که آباد کا خوك ويران حرم د زره

که نور خلق قدمونه دي په ځمکه　　ما دی ايښی په آسمان قدم د زره

دامکان چې د آسمان ځمکې ترمیان دی　　يو خلوت دی دامکان سلم[7] د زره

زه ملهم د زره له چا غوارم بې خدايه[8]　　چې کړی نه شي طبيبان ملهم د زره

صورتي همدمان ډېر دي په جهان کې
۱۹۹　　۲۲۲۷
ولې نه مومي رحمانه همدم[9] د زره

ساقي پور نه شه د ميو جام تيار کړه　　څمر هيڅ معطلي نه لري تلوار کړه[10]

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "ترودهسي څمر نه څمر بهتر دی　هرچي حال په تنګدستی شي څمر واره".

(۲) دا مسری په قلمي او د چاپي ديوانونو کې داسې راغلی ده: "ترولدخلاصه بندی سنه يي ای رحمانه" ؛ خو په "ب پ" چاپ کې د "اي" په ځای "نه" راغلی دی. د "خ" په لومړی نسخه کې "ترخلاصی نه بندي سنه يي ای رحمانه".

(۳) په چاپي ديوانونو کې "يار" راغلی دی.

(٤) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی په "ب" چاپ کې دا بيت داسې راغلی دی : "چې غرقاب شي تور مژګان په یم د زره　نورخراب شي خان ومان په نم د زره".
د پېښور په چاپي ديوانونو او "خ" په دوهم نسخه کې داسې راغلی دی : "چې غرقاب شي تورمژګان په نم د زره　نورخراب شي خان ومان په نم د زره".
د "خ" په لومړی نسخه کې : "چې غرقاب شي ترمژګانو نم د زره　نورخراب شي خان ومان په یم د زره" راغلی دی.

(٥) دا بيت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته او د "ب" په دوهم نسخه کې داسې راغلی دی : "چې يي عرش او کرسی لاندې ترسیوری　بالا دی هسې شان حرم د زره".

(٦) د "خ" په لومړی نسخه کې د "لسويه" پرځای "بويه" راغلی دی.

(۷) د "خ" په دوهم نسخه کې د "سلم" پرځای "مسلم" راغلی دی.

(۸) په چاپي ديوانونو کې "بې ربه" راغلی دی.

(۹) د "پ" په لومړی نسخه کې "ملهم" راغلی دی.

(۱۰) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی . ددې بيت په دوهم مسری کې د "نه لري" پرځای په "پ" چاپ کې "نه کاندي" او په "ب پ" چاپ کې "نه کوي" راغلی دی.

Marfat.com

هر دم تیغ د استا زما په گلو گرځي[1] — هر نفس د خپل نفس له تېغه دار کړه
ترخوږه چهوړه بله بلا نشته — خادمي د بېخودانو په دربار کړه
دا پنځه ورځې ژوندون چې غنیمت دی — شکرانه په دا نعمت د کردګار کړه[2]
که غم خوار غوارې په غم او په اندوه کې — سېبسبه د که د شرابو اختیار کړه[3]
ځو دې دوه سترګې غریبې په جهان کې — ننداره په هر ساعت د خپل نګار کړه
هغه ښوك دی چې تهمت پرې وايه نشي — غوږ په هېڅ با ندې مه باسه خپل کار کړه
بې وفايي د دې دهر یاران وار ه — چې دې پس له مرګه یار شي هغه یار کړه
مدعي چې په زړه ورشي هغه وايي[4] — ګوش او هوش د محبانو په ګفتار کړه

رحمان وايي د دنيا چارې فاني دي
البته په دا خبره اعتبار کړه

٢٠٠ — ٢٢٣٧

چې مې مینه خدای په تا باندې پیدا کړه — ترکه ما په هغه ورځ[5] خپله رضا کړه
اوس د ستا رضا جفا کړې که وفا کړې — ما د ستا جفا قبوله په وفا کړه
ګل په لعلو په ګوهر کله ښوك پېرې — بې له ما چې تا خندا کړه ما ژړا کړه
بې له ما چې د استا غم په هوس پېرم — کوم وګړي په هوس د غم سودا کړه[6]
دوه یاران به د ارنګ نه وي چالیدلي — چې یوه ورته سنګځل کړه بل دعا کړه
ما ودرست جهان ته شا وتا ته مخ کړ — تا ودرست جهان ته مخ او ما ته شا کړه[7]

---

(۱) دا مسری په "ب" او "ق، ک" چاپ کې داسې راغلی ده: "هردم تیغ دستنا زما په گلو گرځي".
په قلمي نسخو کې داسې راغلی ده: "زما ستا په گلو گرځي هردم تیغ دي"
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۳) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.
(٤) "ب" چاپ او د "پ-ب" چاپ: "مدعي چې په خوله ورشي هغه وايي".
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "په هغه دم" راغلی دی.
(٦) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

د پر هند کي په جهان گرزي د چا ياد دي ‌‌ — عشق عالي پايه د هيرا و د رانجا کړه
هم په دا يي تر همه وو[1] نام بلند شو — چي قبول عندليب د گل جفا کړه
نا آشنا د بېلتانه له غمه خه زده — خدای دغه خواري په بخره د آشنا کړه
عاشقان د يار تر سپيو هم زاريږي — گمنه ما د رقيبانو خه پروا کړه

۲۰۱ — ۲۲۴۸

زه رحمان[2] چي ستا د حسن ثنا خوان شوم
ستا له رويه درست جهان زما ثنا کړه

باړه و تره هاله کښت و زراعت کړه[3] — تقوی د ارشه هله طمع د جنت کړه
عاقلان په وړاندي چي په وروستو گوري — په دنيا کي سرانجام د آخرت کړه
سم د لاسه کار هر گوره د پر مشکل دی[4] — ځو لا نه يي غريب زير مه د غربت کړه
چي نور خلق ملامت در باندي وايي — لا پخوا تر خلقو خپل ځان ملامت کړه
چي عقبی ته د دنيا په اجر موي — خو هم دا عمارت هلته عمارت کړه
خو به گوري د قيامت ورځ او شيوته — خو هم دا جهان په ځان باندي قيامت کړه[5]
چي نيکي بدي په تله کي تلل شي[6] — خود په خپله تله واخله عدالت کړه
که لښکر د حرص هوا درباندي زور شي[7] — سر د ننه په قلعه د قناعت کړه
دا به نه شي چي ستا څپ او د حق ځغ وي — که حق غواړي ته هم ځغ په حقيقت کړه

---

(۱) په قلمي نسخو کي "تر همايي" راغلي دي.
(۲) په چاپي ديوانونو کي "سيم" راغلي دي.
(۳) د "خ" لومړي نسخه او مصوره نسخه: "باړه تر و چاړ باسه هلته زراعت کړه".
د "خ" دوهمه نسخه: "باړه وچاړ باسه هله کال د زراعت کړه".
د "ب" لومړي نسخه: "باړه تر وچاړ باسه هاله زراعت کړه".
(۴) مصوره نسخه: "سم له لاسه چاري نه شي مرد هاله يي".
(۵) دا بيت په مصوره نسخه کي نشته.
(۶) د "ب" لومړي نسخه، د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "چي دي نيك و بد به تله کي تلل شي".
(۷) قلمي نسخي: "که لښکري د حرص و ر باندي زور شي".

هغه زړه چې عرش الله دی ګوره کوم دی
څوک دې توان شي د جمله زړونو خدمت کړه

ورانېدنې هم واړه ستا په خبر سرې وو
ته هم پاخه د هغو په خبر همت کړه (۱)

د دنیا چارې هم واړه فاني دي
بارې پوره ته شه بیا بل رنګه حکمت کړه (۲)

په طبیب (۳) د عاشقانو دارو نه شي
درومه بل خواته دارو د خپل جمعیت کړه

څوک دې حق مونده لی نه دی مه جاروه (٤)
په دامرسته دا (۵) جهان واړه لت پت کړه

اې رحمانه اول ته نصیحت واخله
د غه پسه بیا و بل ته نصیحت کړه

۲۰۲ — ۲۲۶۳

هسې یم یاره ستا په غم تازه (٦)
لکه وي هر ګیاه په نم تازه

سترګې وخوړم کړې کرم له نمه وچې
کړې مې کېږې په ژړا صنم تازه

زه به څه کړم د چاچارې بې له یاره
هر سړی په خپل ساه په دم تازه

دیار نوي نوي غم زړه وي وصل
رغوي سوي پرهر ملهم تازه (۷)

که دې زړه له غمه وچوي د ګلګي مشه
کاتبان کا په څول قلم تازه

شایسته یاران ګلونه دي رحمانه
بلبلتانه کړه اکثر مړاوي کم تازه

۲۰۳ — ۲۲٦۹

نه یم خوښ د سرو ګلونو په سایا زه
خوښ یم ستا د مخ په اوربانه جلیا زه (۸)

په اور سوي زړه ورته دي څه حکمت دي
سوی ستا د مخ په اورمه بسیا زه

---

(۱) د "پ" چاپي دیوان کې د "همت" پر ځای "خدمت" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) په "پ" چاپ کې "طبیعت" او مصوره نسخه کې "طلب" راغلی دی.
(٤) د "خ" لومړي نسخه کې "مه ناږه" او د "پ" لومړي نسخه او مصوره نسخه کې "بې غم مه شه" راغلی دی.
(۵) "ق" چاپ او "ق. ر. ک" چاپ کې "په دامرسته"، د "پ" په لومړي نسخه کې "په دارېږمه" او د "خ" دوهمه نسخه کې "مورداند مشه" راغلی دی.
(٦) دا غزل د "خ" په قلمي نسخه کې نشته او لومړی سری یې په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "هسې زه یم یاره ستا په غم تازه".
(۷) قلمي نسخې: "راستوي یو نوي غم زړې د وصل رغوي د زړه پرهر ملهم تازه".
(۸) د "پ" نسخه او د "خ" دوهمه نسخه: "خوښ یم ستا د مخ و نمر وته جلیا زه". د "خ" په لومړي نسخه کې "و مخ د تور و" راغلی دی.

Marfat.com

خپلوم به دي په هر رنگ چې خپل يې — که دې موږ په دروغ که په رښتيا زه
نن راغلي په جهان يو که ديدن کړې — نه به ته په جهان راشې نه به بيا زه
دا اوبدې وعدې چې ته کوې صنمه[١] — کاشکي بيا موږ فرصت په دا دنيا زه
چې له ډېرې حيانه گورې وچا ته — غوځ کړم غوځ کړمه دې ستا ډېرې حيا زه[٢]
چې له غمه لاندو هدې مړنه يم — سنگ آهن يم آدم نه يمه گويا زه[٣]
که جوړه تلې خوك وقبر ته دړېغه[٤] — زارم دا چې يا به ته نه چې او يا زه
همېشه دخپلو وښکولو سېلابه — سرگردان يم تر فلکه تر آسيا زه
که خوك قياس زما د ډېرو وښکو کا — هسې گرځم لکه خس پاس په دريا زه[٥]

٢٠٤

زه رحمان د يار ثنا کولی نه شم
کاشکي دا چې په جهان نوي گويا زه[٦]

٢٢٨٠

---

(١) د "پ" نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه: "دا اوږدې وعدې چې ته کوې منم يې".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "دا اوږدې اوږدې وعدې چې کړې صنمه".

(٢) د "پ" لومړۍ نسخه: "چې له ډېرې حيا نه گورې وما ته — غوځ کړم غوځ ستا دې ډېرې حيا زه".
د "خ" لومړۍ نسخه: "غوځ کړم وگوره دا ستا ډېرې حيا زه".
د "خ" دوهمه نسخه: "غوځ کړم غوځ کړم دغه ستا ډېرې حيا زه".

(٣) دا بيت په "ق، ک" چاپ کې نشته. لومړۍ مسرۍ يې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "چې له غمه لاندو هدې ونه مړم".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې له غمه دې مړ نه يم ژوندی يا يم".

(٤) دا بيت په "ق" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. د "پ پ" چاپ کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "که جوړه خوك تللی وقبر ته دريغه".
"پ" چاپ: "که جوړه تللی خوك وقبر وته دريغه".
"ق، ک" چاپ: "که خوك قبر ته جوړه ورتللی دريغه".
د "خ" دوهمه نسخه: "که جوړه تللای خوك وقبر وته دريغه".
مصوره نسخه: "که جوړه تلی خوك وقبر وته دريغه".

(٥) په قلمي نسخو کې "په دريا زه" راغلی دی.
د "خ" دوهمه نسخه: "په لوی دريا زه".

(٦) "ب" چاپ او د "پ پ" چاپ: "کاشکي نه وای په جهان کې خه گويا زه".
"ق" چاپ: "کاشکي په دا جهان نه وای گويا زه".
د "پ" لومړۍ نسخه: "کاشکي مه وی په جهان کې خه گويا زه".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې رحمان د يار ثنا گولای نه شم — کشکي مه وای په دنيا کې لوړ گويا زه".
د "خ" دوهمه نسخه: "کشکي نه وای په جهان کې خو پيدا زه".

Marfat.com

اې زما د زړه آرامه راشه راشه — سرو قده ګل اندامه راشه راشه
چې همه واړه خوبان دې مقتدیان دي (۱) — د همه وارو امامه راشه راشه
بې تا نشته هیڅ حرمت (۲) د عاشقانو — د مشتاقو احترامه راشه راشه
خدای زده بیا به هسې وخت وي که به نه وي — زه وېرېږم له ایامه راشه راشه (۳)
نن (٤) هنګام دی که جفا کړې که وفا کړې — چارې نه شي بې هنګامه راشه راشه
دا جهان د مسافرو یو رباط دی — تله دي تله دي له دې ګرامه راشه راشه
پري رویه، سنبل مویه، ملک خویه — عنبر بویه لاله فامه راشه راشه (۵)

۲۰۵ — ۲۲۸۸

شپه لا پرېږده بې تا ورځ را باندې شپه شوه (۶)
د رحمان ماه تمامه راشه راشه

په دوران مې (۷) هسې رنګ دلبر پیدا شه — ګویا بل د لمر د پاسه لمر پیدا شه
یا طالع د زمانې یا بخت زما دی — چې دا هسې رنګ شیرین بشر پیدا شه
چې قاصد د ورک یوسف زیری پرې وکا (۸) — د یعقوب د سترګو بیا نظر پیدا شه
عشق دې داکه یو فساد دی نه پوهېږم — په جهان کې چې دا شور و شر پیدا شه
دریغه نخل د عشق مه وی زرغون شوی (۹) — چې له شاخه یې د غم ثمر پیدا شه

---

(۱) د "ب" لوړي نسخه : "چې همه خوبان دې واړه مقتدیان دي"
نوري قلمي نسخې : "چې دا نور خوبان دې واړه مقتدیان دي."
(۲) د "خ" په لوړي نسخه کې د "حرمت" پر ځای "حاجت" راغلی دی
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او د "خ" په لوړي نسخه کې د "نن" پر ځای "دا" راغلی دی.
(۵) قلمي نسخې : "پري رویه، فرښته خویه عنبر مویه سنبل مویه لاله فامه راشه راشه."
(۶) دا مسرۍ په "ب" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده : "شپه لا پرېږده روښانه ورځ را باندې شپه شوه."
د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې د "شوه" پر ځای "ده" راغلی دی.
(۷) په "ق، ک" چاپ کې د "مې" پر ځای "کښې" راغلی دی.
(۸) د "ب" له لوړي نسخې نه پرته په نورو ټولو کې د "وکا" پر ځای "وکړ" راغلی دی.
(۹) په مصوره نسخه کې د "زرغون شوی" پر ځای "پیدا شوی" راغلی دی.

Marfat.com

ملائیک دعشق له غمه خبر دي (۱) — خوهم مالره داسخت سفر پیدا شه

یو دترکوني نیازي بل عاشقي شوه (۲) — په پرهر باندې مې بل پرهر پیدا شه

دنااهل زوی پلار به خه بنادي کا — چې له پشته یې لئیم (۳) پسر پیدا شه

بیا به روغ دعاشقۍ له رنځه نه شي — په هر تن کې چې دغم (۴) اثر پیدا شه

چې هنر عیب کوي . عیب هنر کا (۵)

٢٠٦ — ٢٢٩٨

د ناکس په دور دا هنر پیدا شه

چې نصیب یې (۶) سینه چاکه زړه افګار شه — جرس څکه په فریاد او په چغار شه

چې نه دعاشقۍ په عاشق وشوه — دغفلت له خوبه پاڅېده بېدار شه

عبادت دریاکارځه په کار نه دی (۷) — لکه غوك هسې (۸) په بحر کې مردار شه

دجاهل زهد په زهد حساب نه دی (۹) — لکه مال په غمر خرڅ دغمرخوار شه (۱۰)

مشقت دنادانانو واړه پوچ دی — لکه بې بارانه ابر تش غبار شه

علمیت دبې عملو عالمانو — لکه ګنج (۱۱) دکتابونو په (۱۲) خره بار شه

چې یې کاندي وناهل وناقابل ته — نصیحت دناصحانو کوم (۱۳) په کار شه

---

(۱) دا مسرۍ په "ق. ک." چاپ کې داسې راغلې ده : "ملائیك دعشق له زخمه خبر نه دی".

(۲) دا مسرۍ د "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : "یودترکو عاشقي بل بې نیازي شوه" او د "ق. ک." چاپ کې د "شوه" پر ځای "ده" راغلی دی.

(۳) دا بیت د "پ" په دویمه نسخه کې نه دی راغلی او د "خ" په دویمه نسخه کې یې لومړۍ مسرۍ داسې راغلې ده : "دنااهلو مور و پلار به خه بنادي که".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې د دوهمې مسرۍ د "پسر" پر ځای "بشر" راغلی دی.

(۴) د "پ" په لومړۍ نسخه کې په نورو ټولو کې "دغه" راغلی دی.

(۵) په "ق. ک." چاپ کې دا مسرۍ داسې ده : "چې هنر په عیب کوي عیب په هنر کا".

(۶) د "پ" په لومړۍ نسخه کې د "یې" پر ځای "مې" راغلی دی.

(۷) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې ده : "عبادت دریاکار هیڅ په کار نه دی". د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې، د "پ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې داسې ده : "عبادت دریاکارو په کار نه دی".

(۸) په "ق. ک." چاپ کې "غوندې" راغلی دی.

(۹) په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې ده : "دزاهد زهد په زهد حساب نه دی".

(۱۰) د "خ" په دویمه نسخه کې دا مسرۍ داسې ده : "لکه مال چې په خره خرڅ دغمرخوار شي".

(۱۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "پېټی" راغلی دی.

(۱۲) په قلمي نسخو کې د "په" پر ځای "د" راغلی دی.

(۱۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی، په "پ" چاپ، "ق. ک." چاپ، مصوره نسخه، د "پ" دویمه نسخه او د "خ" په دویمه نسخه کې د "کوم" پر ځای "څه" راغلی دی.

Marfat.com

۲۰۷ ۲۲۰۶

د رحمان کلام په غوږ د بې هنرو
لکه دُر[1] په لاس د طفل هسې خوار شه

په دنیا کې له دنیا گوښه کنار شه — سمندر غوندې په اور کې گلعذار شه
پس له مرگه که ژوند غواړې سرگیا کړه[2] — په پرېکړي سر بیا نوی مرغزار شه
دا ترخې اوبه به څه کوې د بحر — خود په خپله د گوهر په څېر آبدار شه
بې له خدایه نور د هیچا منت مه کړه[3] — په وچ کاڼي باندې ونه د کوهسار شه
که دونې په څېر گل و میوه غواړې — ځان په نمر کړه سایه بان د هر خاکسار شه[4]
دست په دست که د خپل کار په دستول یې — لا ترخان ور و مبې ولاړ د بل په کار شه[5]
که دې وېره شي له خپلې درماندگۍ — د درماند و دستگیري کړه خبردار شه
که هوا دې د جنت په خاطر گرځي — خاک نشین په آستانه د هغه یار شه
که په توره تاریکۍ کې رڼا غواړې — ننداره چې د یار د زلفو د رخسار شه
که په کار دې سروشونه و شیریني وي — د خپل ځان په وینو سور لکه انار شه
که راضي یې چې دې باغ شي د زړه سبز[6] — په ژړا لکه باران د نوبهار شه[7]

۲۰۸ ۲۳۱۸

د رحمان په عاشقۍ کې سترگې وشوې[8]
چې څوک والي عاشق روند دی هغه خوار شه

---

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "گل" راغلی دی.
(۲) د "خ" په دویمه نسخه کې "ته سرپرې کړه" راغلی دی.
(۳) د "پ" چاپ: "بې له خدایه د هیچا منت بار مه شه".
(٤) د "خ" دویمه نسخه: "ځان کړه ځمکه سایه بان د هر خاکسار شه".
(٥) چاپي دیوانونه: "لا یخوا ترخان ړومبې د بل په کار شه".
د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "لا ترخان ړومبې روان د بل په کار شه".
(٦) د "پ" چاپ: "که دې زړه دی چې دې باغ د زړه سبز شي".
(۷) د "پ" په نسخه کې: "کوهسار" راغلی دی.
(۸) د "خ" دویمه قلمي نسخه کې "واشوې" راغلی دی.

Marfat.com

بیا مې زړه د تورو زلفو مسخر شه — چې وراس مې د حبشو تور لښکر شه

هر طرف مې د دعا غشي ګوزار کړه — ولې یو هم هسې نه و چې کارګر شه

وهر لوري چې غوږ باسمه غوغا ده — یا ناري د بېلتانه دي یا محشر شه

واعظان خو وعظ کاندي بار یخه کا — چې د عشق په لیونیو چې ګذر شه (۱)

چې پدر غوندې یې ماته نصیحت کړ (۲) — په دېدن د ستا هغه زما پسر شه

ستا په در کې چې پراته دي نېکبختان دي — چې د ستا له دره ووت در په در شه (۳)

د عشق زخم به خوك خه ګڼې رحمانه (۴)

چې ګنهون یې په پرهار باندې پرهر شه

۲۰۹ — ۲۳۲۵

هیڅ مې نه زده نه پوهېږم داخبر شه — چې دلدار مې د اغیار په شکل وخېر شه

زمانه مې د رقیب له لاسه وژني — چې مې سپي ګانه هغه را باندې شېر شه (۵)

د هجران غمونو هسې په عذاب کړم — هغه ځمه (۶) چې مې لن ګانه اوس ډېر شه

چې په تیغ مې لوې کړې سزا مې داده — سنه چې غوښ مې زړه د تر کوپه شمشېر شه

تېر ساعت به د هیچا په لاس کښې نه ورځي — اوس به خه وایم وچا ته چې تېر شه (۷)

چې مې نوش د هجران پیاله کړه تلخه — د وصال لذت مې تول زهر ګنهېر شه (۸)

---

(۱) دا مسري په پېښور چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "چې د عشق په لیونو باندې ګذر شه".

(۲) دا مسري په پېښور چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "چې پدر غوندې وما ته نصیحت کا".

(۳) دا بیت په ټولو قلمي نسخو کې نه دی راغلی او په دې وار د چاپي دیوانونو کې راغلی دی.

(٤) دا مسري د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "د عشق زخم به دې خوك خه کړی رحمانه".
په "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "د عشق زخم به خوك وګڼهي رحمانه".

(٥) دا مسري د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې مې نه ګانه هغه را باندې تېر شه".
په مصور نسخه کې داسې ده: "چې مې سپي ګانه راته شېر شه".

(٦) په "پ" چاپ کې د "ځمه" پر ځای "عیب" راغلی دی او په "ق، ک" چاپ کې دا مسري داسې ده: "هغه عیب چې به مالن ګانه اوس ډېر شه".

(۷) دا مسري د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "اوس به حال وچا ته خه وایم چې تېر شه".

(۸) دا بیت د "پ" په لومړي او دوهمه نسخه کې، او هم د "خ" په لومړي نسخه او مصور نسخه کې نشته. د "خ" په دوهمه نسخه کې یې د دوهمې مسري داسې ده:
"د وصال لذت مې هسې زنګ ګنهېر شه". په "پ" چاپ کې دا مسري داسې ده: "د وصال د دولت مې کل زهر وګنهېر شه".
په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "د وصال لذت مې کل وار ګنهېر شه".

Marfat.com

٢١٠ — ٢٣٣٢

چې یې نه په وفا یاد نه په جفا وي
سکه رحمان دغه یار له دله هېر شه (١)

پاخه نو څله سېراب د عشق په جام شه — په ساغر د ماه و مهر مې آشام شه
له اوله بندګي بیا ازادي ده — که مقصود د آزادۍ لرې غلام شه
د صیاد له وحشتونو خپل سر خلاص کړه (٢) — لکه مرغ خانګي پخپله رام شه
ژوندی ځان په ځمکه خښ کړه لکه تخم — که لوړی غواړې د خاورو په مقام شه
د رست جهان د کمینۍ په خوی وخوره — لکه ځمکه هسې لاندې تر اقدام شه
په نیستۍ کې د هستۍ مرتبه ګوره — نندارچي په ویرانۍ کې د خپل بام شه
و دښمن وته پخپله عیب مه وایه (٣) — ځان پخوا تر مرګه وو ژنه مدام شه
په مستانو کې د عقل خښتن غل دی — که په نورو خلقو خاص یې دلته عام شه

اې رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه (٤)
دغه پسه په صفت د ګل اندام شه

٢١١ — ٢٣٤١

د دنیا د سود د پاره غمګین مه شه — غم د دین و د ایمان کړه بې دین مه شه
هر ګره ګره کشای لري کم بخته — نا امید له خدایه غوټه جبین مه شه
د بې خفته دي د ارنده چې دانه چین شي — خوري آب و دانه شته دانه چین مه شه

---

(١) د "پ" چاپ : "جو له رحمان دغې یار له دله هېر شه".
د پېښور "ق ، ک" چاپ : "رحمان څکه دغه یار له دله هېر شه".
د "خ" لومړۍ نسخه : "سکه رحمان دغه یار له دره هېر شه".
د "پ" دوهمه نسخه : "سکه د رحمان دغه یاد له دله هېر شه".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې یې نه په جفا یاد نه په وفا وي سکه رحمان دغه یار له دله هېر شه".
(٢) "ق ، ک" چاپ : "له اوله د صیاد که ځان خلاص غواړې".
مصور نسخه : "د وصال له وحشتونو خپل سر خلاص کړه".
(٣) چاپي دیوانونه : "و دښمن وته خپل حال پخپله وایه". د "پ" نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه : "او دښمن ته عیب خپل پخپله والې".
(٤) قلمي نسخې : "اې رحمانه د بلبلو لفظ زده کړه".
د "خ" لومړۍ نسخه : "اې رحمانه د بلبل لفظ زده کړه ګوره".

Marfat.com

هر مرغه چې د بل غوښې خوري مردار دي ... ځان حلال کړه لکه زاغي شاهين مه شه

ددې په څېر آفتاب په طلب خپل کړه (۱) ... لکه تين هسې پروت په زمين مه شه

کار په تش لستوڼي نه کېږي بې لاسه ... لاس په ن يره کړه بې لاسه آستين مه شه (۲)

عاشقي او خودبيني دي سره لرې ... که مطلب دې عاشقي ده خودبين مه شه

په خپل کور کې دې سفر دی که پوهېږې ... مسافر د هندوستان او د چين مه شه

خپل تابوت درته ولاړ زين کړی آس دی ... ته په زېر مه د بل آس و د زين مه شه

۲۱۲

چې تقوی دیانت نه لري ځانته

ددې هسې همنشين همنشين مه شه (۳)

۲۳۵۱

په اميد د ګاڼه و د ځ زړه و د مه شه (۴) ... نقد نسيه ځبله بېل کړه او تر مه شه

په اميد اميدي خلق نااميد کړل ... د فلك له رهزنۍ بې خبر مه شه

د دنيا بادشاهان خواست کړي له فقيره (۵) ... ته بادشاه د هسې ملك شه خواستګر مه شه

د هماى په څېر طمعه کړه و هډوکي ... لکه مچ طالب د شهد و شکر مه شه

ځان صدف غوندې وخاوروته کړه څرمه ... لکه ځنګ هسې د بحر په سر مه شه

په بر عزيزي موم د لان ترسنګ لا تو ... ته يوځا ځلی شه (۶) داو سکو ګوهر مه شه

حيوانات هم په تسبيح د خدای مشغول دي ... ته انسان بې تر حيوانه بتر مه شه

نفس شيطان سره وکړ ته و باسي ... رحم فهم په ځان وکړه کافر مه شه (۷)

---

(۱) "ق" چاپ او مصور نسخه کې د "خپل کړه" پر ځای "ګرزې" راغلی دی.

(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "لاس په توره کړه بې لاسه آستين مه شه".
مصور نسخه: "لاس پکښې کړه بې لاسونو آستين مه شه".

(۳) چاپي ديوانونه او مصور نسخه: "ددې هسې هم نشينو نشين مه شه".

(٤) چاپي ديوانونه: "په اميد د آينده و زړه و د مه شه".

(۵) قلمي نسخې: "د دنيا بادشاهان خواست کا له فقراو ته بادشاه د هسې ملك بې خواستګر مه شه".
او "خ" خطي نسخې د "فقراو" پر ځای "قصرونو" راغلی دی.

(٦) قلمي نسخې: "يوځو تلی شه" او د "خ" د خطي نسخې "يوځو ځلی شه" راغلی دی.

(۷) دا بيت په قلمي نسخو کې نشته.

تپ ړانده وي عاشقان د یار په عیب — ته تپ ړوند د هغه یار په هنر مه شه

دغه ځای د بېدلانو دی ملاح نه شه

٢١٣ — ٢٣٦١

د دلبر و په کوڅه د لاور مه شه

چې له سترګو مې خوناب د زړه عیان شه (۱) — له نظره مې هر سنګ در و مرجان شه

خراب زړه چې مې ژړل د یار له غمه — بیا په اجر د هغې ژړا خندان شه (۲)

کمینې له جمله آفتو خلاص کړم (۳) — لکه خاوري د دښمنو په چشمان شه

د غصې زهر یې شهد شول په صبر (٤) — د خلیل په خبر آتش یې ګلستان شه

عشق یو داد دی په عاشق له خیله خدایه — هسې نه چې و هر چا وته عیان شه (۵)

چې د یار زلفې رخسار مې په زړه نقش شو — خیل خلوت مې خراسان و هندوستان شه

د رنځور علاج تارخه تارخه دارو دي — دغه درد دی چې هم درد و هم درمان شه

چې د استا د خولو بوی وریاندې راغی — د عطار په مخ داوسکو رود روان شه

علامت د استغنا به یې خرګند وي — هغه خوک چې تېر تر ځان و تر جهان شه

د ګریبان په چاک کول یې خه لار غږوي (۶) — چې ځګر یې ړوبې چاک تر ګریبان شه

عشق د یار په رانبه وچولي ولجه دی — خو چې وچولي یې غوټه کړه تاوان شه (۷)

نادانان به د دنیا غمونه کاندي — مرد هغه دی چې په زړه مړ د خپل ځان شه

---

(۱) په "ق" چاپ کې "روان شه" راغلی دی.

(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۳) "ق، ک" چاپ کې لومړی مصرۍ داسې ده: "کمینې نه له جمله آفتو خلاص کړم".

(٤) "ق" چاپ: "د غصې زهر یې شو بدل په صلح".

د "خ" دوهمه نسخه: "د عیسی زهر یې شهد شو په صبر".

(۵) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

په "ق، ک" چاپ او "پ" په لومړی نسخه کې د "لار غږ" پر ځای "پر وا" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "خ" له لومړی نسخې او مصوري نسخې نه نقل شو.

Marfat.com

نشانه د نادانۍ به نوره څه وي　　چې سړی په خپل ګوزار(1) باندې پښېمان شه

آدمیت څه په دولت نه دی رحمانه

بیا که جوړ شه د سرو زرو نه انسان شه

۲۱۴　　۲۳۷۵

که په عقل پسې لاړم په کار نه شه　　که له بخته مې یاري غوښته یار نه شه

غرونه غرونه خوب په ښاخلي اوبو نښتي(2)　　یار په سیند زما د اوښکو بېدار نه شه

معلومېږي زه کم بخت د درست جهان یم　　چې د درست جهان دلدار مې دلدار نه شه

ما غندي او رقیب ستایي طالع ګوره　　چې سړی ورته د سپي په مقدار نه شه(3)

که یې سل ځله اقرار راسره وکړ(4)　　دا زما نا اقرار زړه په قرار نه شه

ډېر غمونه دي چې یې وخوړم پخپله(5)　　په دنیا کې مې بل هېڅوک غمخوار نه شه

که مې سل نصیحتونه ورته وکړل(6)　　هغه خدای بې لارې کړی په لار نه شه

سهل کار دی که رحمان په زړه آزار شوم

چې خاطر د هغې مستې آزار نه شه

۲۱۵　　۲۳۸۳

هر ساعت که څه ګوزران دی بې مخلصه　　هزار بار ارمان ارمان دی بې مخلصه(7)

که څوک وایي چې له ځانه شیرین نشته　　ولې ما ته ځان تاوان دی بې مخلصه

لکه شمع په ورځ مرم د شپې سوځم　　تمام عمر مې نقصان دی بې مخلصه

په بلبل ګله بهار که له خزان وي　　په ما ګل واره خزان دی بې مخلصه

---

(۱) په "ب" چاپ، "ق" چاپ، "پ" لومړی نسخه او "خ" په نسخو کې "کردار" او په "ق" کت چاپ کې "عمل" راغلی دی.

(۲) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "غرونه غرونه خو په یو ښاخلي اوبه شي".

(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۴) د "خ" دوهمه نسخه: "که سل ځله نه اقرار راسره وکړي".

(۵) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې لومړی مسره داسې ده: "بې غمونه چې یې وخواړه خپله". د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "بې غمونه چې یې وخواړ یو د بله".

(۶) قلمي نسخې: "که مې سل نصیحتونه ورته وکړه".

(۷) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.

که شبنم همېش د نور دابانده وړي — په ماکاني د آسمان دی بې مخلصه
په غمونو د هجران دابانده تېر دي — اوس يو دم دابانده ګران دی بې مخلصه
د آشنا د مينې اور وما ته ګل دی — ګل داور په دود سوزان دی بې مخلصه
په وصال کې مې نه مرګ لېده نه تبه — اوس مې مرګ په هر زمان دی بې مخلصه
زه حيران د هغو خلقو په روزګار يم — چې ژوندون ورته آسان دی بې مخلصه

د [illegible] د زړه دمه په هېڅا نه شي
مسافر غونډې حيران دی بې مخلصه

٢١٦ — ٢٣٩٣

چې ښکاره شو راته راز د يار له پطه (١)(٢) — پرېشان شوم په زړه حيران له دی لمطه (٣)
خولګ به خه د وفا طمع کاله سنکليو — چې د طمع لفظ خالي دی له نقطه
په کشتۍ د عاشقۍ به پل کښېنږدم — که شم داخله خارج د غم له شطه
پرې کړه سر چې شي منصور وهر اشيا ته — تېره والي د قلم راځي له قطه
بيابه خوزږونه محبوبه په منګل وړې — هسې راخله لکه تکه سپينه بطه
د يار غم به دې هاله په زړه مېشته شي — که دې غير غمونه شي له دله حطه
نن کاغذ راته زيبار د يار راوړی — ګوره څه به شي معلوم له د غه خطه

چې مې قد د يار دراز او نه کوتاه دی
[illegible] واخسته په لاس ځکه اوسطه

٢١٧ — ٢٤٠١

د هغو چې په هجران شي سينه داغ — نور يې خه دی له ارامه له فراغه (٤)
د غه ځای دی د بلبلو د توتيا نو — د چمن له ګاو ببرته اوسه زاغه

---

(١) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو.
(٢) د يار له پطه = د يار له بيته، د قافيې د سمون په غرض يې "بيت" په "بط" ليکلی دی.
(٣) لمط = لمت = دالي هم د قافيې د سمون په غرض په "ط" ليکلی دی.
(٤) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

Marfat.com

په شمام يې سرتن پايه معطر شوم — نن د يان د زلفو بوی راغی له باغ

تر قيامته به مخمور يې خوده او سم — که يو گوټ راکا ساقي له دې اياغ

زه به ستا په درگې عمر واړه تير کړم — د مجنون مې تل روزگار کيږه له راغه

ستا په نور به زه (اضح) صورت ستي کړم
که يې وونيم يوځل جبين چراغه

218 — 2407

ما به ولې کړ و فرياد او فغان دريغه — که آشنا وی راسره جا ودان دريغ[1]

له فراقه مخ دزړه په وينو ونغم — کاشکي نه وی مرگ بېلتون پښتان دريغه

فرزانه بلبل په وخت د بهار ژاړي — چې آخر به بانديې راشي خزان دريغه

زه حيران ودرته ولاړ په سترگو وينم — چې دايم راځنی دروی ياران دريغه

يو ذره مې په طاعت کې تيره نه کړه — گران بها عمر مې لاړ رايگان دريغه

سرکښی کې تير تر حده بېچاره يم
که قوت د طاعت راکړو جهان دريغه

219 — 2413

که يو ځل مې هغه يار ولېدی دريغه — سرفرازمې سرگردان ولېدی دريغه[2]

چې تمام جهان په عقل غلبل کړمه — ريزمريزه مې پيکان ولېدی دريغه

د وجود گلزار يې درست سره اغزي شو — خارستان مې باغستان ولېدی دريغه

روغ صورت لکه بادشاه صحت يې تخت دی — ناست په تخت مې شاه جهان ولېدی دريغه

د تن ښهر يې خرابه خرابي شوه — بيا مې دا خراب ودان ولېدی دريغه

لکه زه چې له مخلوقه گريزان يم — سگ مې هسې گريزان ولېدی دريغه

د اسبق راته تعليم شکستگي کړه — چې روغ کار مې شکستگان ولېدی دريغه

---

(۱) دا غزل پوازی او يوازی د "پ ب" چاپي ديوان کی راغلی دی په نورو چاپي ديوانونو او ټولو قلمي نسخو کی نشته.
(۲) دا غزل د "پ ب" چاپي ديوان نه نقل شو.

Marfat.com

سخت ساعت څمکه آسمان راته یکسان کړه
فرق د څمکې د آسمان ولیدی دریغه

و دې خپلې حیرانئ و ته حیران یم
چې حیران صورت شادان ولیدی دریغه

د قرآن او د حدیث په کتو خوښ شوی
بیا په لاس حدیث قرآن ولیدی دریغه

چې زمانه ځمت پیغور گڼي و ما ته
ماهغه د ځان په شان ولیدی دریغه

خپل یاران مې له زحمته په ژړا دي
ما د غه یاران خندان ولیدی دریغه

د آشنا زلفې مې ولیدی په لاس کې
بند په لار د هندوستان ولیدی دریغه

صبح و شام مې گدایي د یار د در کړې
په دا کار مې ځان مهمان ولیدی دریغه

د رحمان او آدم خان په ارمان لاړل
لرې ماله زړه ارمان ولیدی دریغه

مخامخ مې گفتگوی له یار سره کړې
د یار ما د غه احسان ولیدی دریغه

چې خطا دې وار ه عفوه کړې رحمانه
یار مې هسې مهربان ولیدی دریغه

۲۲۰ (۲۴۳۰

ته ناحق په ما کینه کړې کینه نا که
په کینه به آیینه نه کړې ته پاکه[1]

ځواک بې و ځمې چاته توره تیره اخلې؟[2]
خپل عمل دی چې د نیا یې کړه هلاکه

چې خندایې د بلبل په آه سرد کړه
خدای د گل گریبان پاره کړ سینه چاکه

ځکه سپینې شوې اول د حباب سترگې
چې له بغضه په دریاب جوړې تنها که[3]

که تن ځمکه کړې زړه تخم باران او نبلې
لکه نخل سر به و کاږې له خاکه

---

(۱) د "ب" نسخې: "په کینه به آئینه نه کړې خپاکه".
د "خ" لومړی نسخه: "په کینه به آئینه نه کړې خپل پاکه".
په مصور نسخه او د "پ" په دوهم نسخه کې داسې ده: "په کینه به آئینه نه کړې خه پاکه".
د "خ" په دوهم نسخه کې داسې ده: "په کینه به آئینه خه کړې پاکه".
(۲) د "پ" په لومړی نسخه کې دا مسری داسې ده: "ځواک بې وځمې چاته توری توبری اخلې".
د "خ" په دوهم نسخه کې "توری تیری" راغلي دي او د "ب" په دوهم او د "خ" په لومړی نسخه کې د "بې وځمې" پر ځای "ناحق" راغلي دي.
(۳) دا مسری په قولو چاپي دیوانو نو کې په لاندې بدل راغلې ده: "چې له بغضه په دریاب کې جوړی تنها که".

Marfat.com

بالا دست به شي هاله په نوډ ونو(1) — که تعلیم د زبردستي واخلي له تاکه(2)

بیا به نه مومي د ترکو واك وحکم — څو نه وځي د جهان له جمله(3) واکه

د هغه جهان څوندونه به هغه(4) مومي — چې لاس وکاږي د دې جهان له څواکه(5)

ته چې څغوړې سر ومال په عاشقۍ کې — عاشقي داهسې چېرې وي کا واکه(6)

چې داهسې بزرګ مېلمه وکور ته بیایې — اول غولې پاکیزه کړه له خاشاکه(7)

په دوی کې به ورنه شي تر توحیده — څو ضمیر دې خالي نه شي له اشراکه(8)

داهمه واړه حجاب دي چې لیده شي — نور دې حسن بالاتر دی تر افلاکه(9)

په ظاهر لباس غلط د سړي مرشد — مېنځ یې ګوره له چغزي او له متاکه(10)

اولیاء په جهان خکه څرګند نه دي — چې پاك څوك وي خپسر نغاړي له ناپاکه(11)

۲۲۱

هیڅ وفایې له هیچا سره ونه کړه
ترو ماځ به څه ماته(12) کا له افلاکه

۲٤٤٥

---

(1) د "ب" په دوهمه نسخه کې "خلق" راغلی دی.

(2) د "ب" په لومړۍ نسخه ——— کې "اخلي" راغلی دی.

(3) په چاپي دیوانونو کې د "درست جهان له واکه" راغلي دي او د "ب" په لومړۍ نسخه کې "له جمله څواکه" راغلي دي.

(4) په چاپي دیوانونو کې "هاله" راغلی دی.

(5) د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "چې ځان وباسي د دې جهان له شراکه".

(6) په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې داسې ده: "عاشقي داهسې چېرې ده کا واکه".
او په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "عاشقي داهسې کله ده کا واکه".
مګر په مصوره نسخه کې داسې ده: "اول غولې پاکیزه کړه له خاشاکه".

(7) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې نشته.
لومړۍ مسرۍ یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "چې داهسې لوی مېلمه ته کور ته بیایې".

(8) دا مسرۍ په مصوره نسخه کې داسې ده: "څو د خپل سره خالي نه شي له اشراکه".

(9) په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه، د "خ" لومړۍ نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې "له ادراکه" راغلي دي.

(10) قلمي نسخې: "په ظاهر لباس غلط د دنیا مرشد — میان یې ګوره چې چغزي دي که متاکه".
د "ب" په دوهمه نسخه کې یې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "په ظاهر صورت غلط د دنیا مرشد".

(11) په مصوره نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه کې "خپل سر"، او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "خپل ځان" راغلي دي.
دوهمه مسرۍ یې په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "چې پاك روی ځ سر نغاړي له ناپاکه".
په "ب ب" چاپ کې داسې ده: "چې پاك سړی پښه وسر نغاړي له ناپاکه".

(12) په "ب" چاپ کې "ماښه" راغلی دی.

هسې نه چې زما يار واړه جفا کا — صد چندان لکه جفا هومره وفا کا (۱)

لکه نا چې په خپل يار باندې مين يم — لو په سله هومره مينه يار په ما کا

نه يې (۲) ورکړي په احسان د مې نه په جور — مجنون ځکه په ليلى پسې ژړا کا

درست جهان د خوبرويانو نازبردار (۳) دى — نه يوازې د غم ناز (۴) په ما او تا کا

۲۲۲ — ۲۴۵۰

خشکل نه ګوري رحمان و هغه مخ ته (۵)
چې فرښتې يې هم د حسن تماشا کا (۶)

چې څپه يې (۷) د سېلاب په مخ شوه لکه — د حباب تماشا ګوره تر د مکه

هيڅ وېسا نه ده په کار د يار په سوري — که تر يې لاندې وي داوسېنو کوډ يکه (۸)

دا د لاندې په همه واړه چيت پيت شي — مګر سروي چا وکښلي تر فلکه

چې په اصل خداى نسکور وي پيدا کړي — خولک (۹) به څه خوري د دې دهر له سانکه

چې دښمن يې وي له دوسته اړ ولي (۱۰) — د هغو احتياط بويه له کومکه

راشه واچوه د نفس وخولې ته خاورې — خوږ يې نه ده خوله د ګور په خاورو ډکه

هر چې په کې يې د ګور په خاورو خوله شي — په هغو باندې حرام ده نوره څکه

---

(۱) دا غزل د "ب" په دهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "ب" په نسخو کې د "يې" پر ځاى "مې" راغلى دى.
(۳) په مصوره نسخه او د "خ" د هممه نسخه کې "ناز پرور" راغلى دى.
(۴) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "يار" راغلى دى.
(۵) دا مسرۍ په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې داسې ده: "نه به ګوري رحمان خشکل هغه مخ ته".
د پېښور په لوړ دوو چاپي ديوانونو کې داسې ده: "نه به ګوري رحمان خړنګ هغه مخ ته".
د "خ" په دهممه نسخه کې داسې ده: "خشکله به نه ګوري رحمان د هغه مخ ته".
(۶) دا مسرۍ په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "فرښتې چې يې د حسن تماشا کا".
په مصوره نسخه کې داسې ده: "چې فرښته يې هم د حسن تماشا کا".
(۷) په قلمي نسخو کې "چې يې خوند د سېلاب په مخ شوه لکه" راغلى دى.
(۸) چاپي ديوانونه: "لاتر يې لاندې وي د خولګو کوډ لکه".
د "خ" دهمه نسخه: "که تر لاندې خولک داوسېنو کړ يکه".
(۹) قلمي نسخې: "خولک به څه خوري د سپېږ له سانکه".
په "ق" چاپ کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "چې په اصل خداى نسکور دي پيدا کړي".
(۱۰) قلمي نسخې: "چې دښمن يې د دوست نماى وي اړ ولي".

۲۲۳ — ۲۴۵۸

که نور خوك مبارکي کا وبله نوري
و رحمان ته دې د خپل یار وي مبارکه

ګېډه وتړه په پړي سره کلکه(۱)
د روټۍ طمع ومه کړه له فلکه

هر سایل چې سوال د نان کا له آسمانه
ګویا غواړي په کچکول کې اوبه مکه(۲)

له آسمانه چې خوك طمع د وفا کا
دغه طمع یې طاعون ګڼه(۳) بې شکه

له باران سره یې هسې ښلې ووري
چې هر زخم یې بدتر وي(۴) تر تبوکه

که په چا یې شفقت او مرحمت شي
ظلم جور یې بدتر وي(۵) تر . . .

مومه به نه شي هیڅ سړی بې قناعته
که یې خونه وي په سیم وزر ډکه

بیا به نه مومې کمال بې کیمیته
که خیمه یې وي(۶) په عرش د پاسه لکه

که جهان په نور عالم باندې فراخ دی
په تنګ چشم باندې تنګ وشي تر څپکه(۷)

د دې دهر په یارانو کې آب نشته
که یې غواړې تر سما وتر سمکه

ترخې(۸) اوښکې د عاشق آب و نمك دي
خدای دې نه کا څوك بې آب و بې نمکه

۲۲۴ — ۲۴۶۹

دا درازې اندېښنې مه کړه رحمانه
د دنیا چارې په تله دي تر د مکه

که په هجر کې څوك ما پوښتي لحاله
حال خو دا دی چې ناتوان یم بې مجاله

زه د یار په دیدن ځکه شتابي کړم
چې د عمر بقا نه وینم تر کاله

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ: "ګویا خیر غواړي کچکول کې له اوږ مکه".
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "ګڼم" راغلي دي.
(۴) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه کې "ستېره دي" راغلي دي.
(۵) دا بیت په "ق.ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته. په نورو چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "بتر دی" پر ځای "بتر وی" راغلي دي.
(۶) په چاپي دیوانونو کې "دې دي" راغلي دي.
(۷) په چاپي دیوانونو کې "تر چشمکه" راغلي دي.
(۸) په "ق" چاپ، "ق.ک" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخه کې "تر شې" راغلي دي او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دېري" راغلي دي.

Marfat.com

چې تر حسن تر جمال دې زار نه شوم — شرمنده یم د خوبانو تر جماله
ته وما ته نصیحت مه کړه ناصحه — عشق بې نیاز دی له ثوابه له وباله
بې د خپل آشنا د حسن له تعریفه — هیڅ مې مه پوښته له نوره قیل وقاله
ما د عشق په درس کې نور څه لوستي نه دي — بې له زلفو بې له خطه بې له خاله
په دنیا په آخرت مې دې خدایه نه کا — بې نصیب د مهرویانو له وصاله

۲۲۵ — ۲۴۷۷
که یار سر په دیدن غواړي مه جاروځه
دغه حکم رحمان کړی دی د الله

څو تر میانه ورانه نه کړې د تن پوله — وبه نه رسې تر خدایه تر رسوله
خدای وتا ته دین دنیا په غوړه کېښوه — تا دنیا کړه په داد وار و کې قبوله
تر حرص پوهر ته بله بلا نشته — دا بلا د ستا په خونه شوه نزوله
یو ساعت د خدای په ذکر مشغول نه شوې — تمام عمر د خپل ځان په غم مشغوله
چې باقي زندګاني په فاني پلورې — ځان په کوم دانش دانا بولې مجهوله
له خالقه روګردان شوې و مخلوق ته — بیا وځان ته عاقل وایې نامعقوله
نصیحت لکه هلک د ربانډې تریخ شو — د دنیا په شیرینه پسې ملوله

۲۲۶ — ۲۴۸۵
چې رحمان غوندې خورسند نه شي په نوک
خلاص به نه شي په هیڅ رنګ د زړه له زوله

خبر نه یم چې یې راوستم له کومه — بیا مې کومې خواته استوي چې درومه
لکه روند چې لاس د بل په اوږه کېږدي — هیڅ ژوره لوړه نه وي ور معلومه
خدایه راپېښه نړۍ لا کړه نالیدلې — لکه ورانه ماشوره چې وي(۱) سرګومه

---

(۱) په قلمي نسخو کې د "چه وي" پر ځای "هسې" راغلی دی.

Marfat.com

خراب زړه مې تورو زلفو ته هوس کړي — باڼې کبوت د مارغه په څېر په لومه (۱)

هسې کوډې عاشقي را باندې وکړې — چې سنګين خاطر مې نرم شو تر مومه

چې بې هېڅ له خدايه ترس او ويره نه شي — الغياث د دلبرانو له رسومه (۲)

کله راکاندې شراب د لعلو لبو — کله جام د زهرو راکاندې چې شومه (۳)

۲۲۷ — ۲۴۹۳

د مطلوب له طالبانو چې ځان شمېرې (٤)

اې رحمانه اول سيال شه بيا يې مومه

اعتماد (۵) به په دنيا کوې ترکومه — دار فتار به پسې شا کوې ترکومه

خوب به پټ له مرګه ګرزې سپين زيره — په روښانه ورځ به غلا کوې ترکومه

چې د دهر له يارانو وفا غواړې — صيادي به د عنقا کوې ترکومه

د پيرۍ علاج په ډانګ په لوړ نه شي (٦) — دغه کار به په عصا کوې ترکومه

په غفلت به د خدا اميد د مرحمت کړې — د ناسور د رنځ دوا کوې ترکومه (۷)

۲۲۸ — ۲۵۹۹

ته چې پند وايې ناصح و رحمان ته

شکايت به د قضا کوې ترکومه

شمع د دلبر سترګې عاشق پرې پروانه — ځان پرې خپل جليا کاشي لې خونه ويرانه (۸)

مطرب په معنې کې د دلبر د مينې بحر — شو صدف د سترګو واره پرې په دردانه (۹)

---

(۱) دا بيت د "پ" په نسخه کې داسې دی: "خراب زړه مې تورو زلفو ته هوس کړ — ولې کبسوتم د مرغه په څېر په لومه".
د "خ" په درې دارو نسخو کې يې دوهمه مسره داسې ده: "ولې کبوت د مرغه په څېر په لومه".

(۲) قلمي نسخې: "الغياث دی د دلبر وله رسومه".

(۳) په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسره داسې ده: "کله جام د زهرو راکړ چې يې شومه".

(٤) قلمي نسخې: "ته چې ځان طالب شمېرې د مطلوبانو — اې رحمانه تر وکه سيال يې بيا يې مومه".
د "خ" په دوهمه نسخه کې يې لومړۍ مسره داسې ده: "چې يې ځان طالب شمېرې له مطلوبانو".

(۵) په ټولو قلمي نسخو کې "اعتبار" راغلی دی.

(٦) دا مسره په قلمي نسخو کې داسې ده: "د پيرۍ علاج په ډانګ وېه لوړ نه شي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "د پيرۍ علاج په ډانګ وېه د دل نه شي".

(۷) دا بيت يوازې او يوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی په نورو ټولو قلمي نسخو او چاپي ديوانونو کې نشته.

(۸) دا غزل يوازې او يوازې د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی. د دې بيت دوهمه مسره د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "ځان په خپل جليا کله مرشه يې خونه ويرانه".

(۹) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

غم مې د زړه وینې تر چشمانو رابهر کړې — اوښکې نه دي وینې وې شوې دانه[۱]

زه به د اله سترګو سپند د اوښکو بیا یم — یې چې ماهي د وصال وې په آب خانه[۲]

شوه چشمه دسترګو ستا د غم په وینو صافه — ځکه مې همېش اوښکې بهېږي روانه[۳]

خیر د بدن و خوارو عاشق ته ارزاني کړه — ته دلبر غني یې دخپل مخ په خزانه

اوښکو د فراق دې باند بې زور وکړه رحمانه — هېڅ پروایې نه شي بې پروا هم مستانه[٤]

عقل د رحمان دې په جفا سره مسلوب کړه
مکړه مکړه مکړه هسې بده یارا نه[٥]

۲۲۹ — ۲۵۰۷

د بر عمر مې تېر کړ بېهوده په زمانه — نور دې زما سر وي او د ترکو آستانه

هېڅ مې حاصل نه کړه په شېخۍ او په تقوی کې — پس له دې مې وار دی هر چې شي په مېخانه

شیخ و شېخي ورد و وظیفه او ذکر فکر — زه او ساقي جام و باده چنګ و ترانه

زه و زاهدانو ته حیران یم دوی وما ته — دیوانه به ده خند د وده به دیوانه[٦]

ګنج د درود ازه شه د عاشق تر خالي اوښکو — نه خوار د عقل نه د عشق یوه دانه[۷]

تیغ د یار له لاسه په مرګ د عاشقانو — هسې لذت کاندې چو له د میو پیمانه[۸]

خدای له ره به ورشم په سودا د یار له مخه — بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه

زه له د بره مېنې په تش بوی د یار شیدا شوم[۹] — تل د لمد و ختو لبن او به دي بهانه

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "غم مې د زړه وینې له چشمانو راجهېږي — ولې چې بهېږي د وصال دی آب خانه".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "شوې چشمې دسترګو ستا د غم په اوښکو صافي — ځکه همېش اوښکې ترې بهېږي روانه".
(٤) د "خ" دوهمه نسخه: "هېڅ پروایې نه شي بې پروا یار دی مستانه".
(٥) د "خ" دوهمه نسخه: "عقل د رحمان دنیا سره مسلوب کړ — مکړه یاره مکړه هسې نه ده یارانه".
(٦) قلمي نسخې: "دیوانه به ده مېخند د وده به دیوانه".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) چاپي دیوانونه: "هسې لذت کا لکه د میو پیمانه".
(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کې "شیدا یم" راغلی دی.

Marfat.com

"که زاهد زهد کا د یو جنت د پاره — سربلند لې نه شي په اوربل د جانانه (۱)
ګوره د منصور هسې په دار نه شي رحمانه — مکړه دا د عشق خبرې مستې رندانه (۲)

بله نښانه د عاشقۍ نشته نامځانه (۳)
۲۳۰ — ۲۵۱۸
بې نام و نښان شه کړې غواړې نښانه

تل ژړا فریاد کړم د دلبر پر آستانه — کله به وماته مخ ښکاره که مستانه (۴)
زه لکه مجنون ولاړ په طمع ذلیلا یم — اوس به لیلا راشي پر سپین مخ زلفې شانه
راغلم ستا زیارت له کړې زړه یقین نو نه شي — تمیک پېښ وانې دواړه پیره ستا دي شکرانه
تیغ د معشوقو دي په ګردن د عاشقانو بې — هسې رنګه زیب که لکه مې په پیمانه

چیرې د منصور په دود سنګسار نه شي رحمانه
۲۳۱ — ۲۵۲۳
مه کوه د عشق خبرې د برې رندانه

که له مخ یوه خوا کا حجابونه (۵) — خدای به ورکا و خوبانو ثوابونه
کله وې چې یو په رنګ د هغه یار شي — که هزار شي په آسمان کې آفتابونه (۶)
په ګرداب د نه غلان یې هسې غرق یم — هیڅوک مه شه غرق په هسې ګردابونه (۷)
لکه زه چې یم له غمه په عذاب یم — خدای دې نه دي په چا هسې عذابونه
ګفتګوی مې هیڅ اثر و ربانده نه کا — که له غمه یې تصنیف کړم کتابونه
په یو ځواب مې رد کا هزار سواله — هسې کاندي د سوالونو ځوابونه

---

(۱) دا دوه بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "مه وایه رښتیا خبرې د برې رندانه".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۴) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۵) د "خ" نیمګړې نسخه: "سکه یوه خوا کاله مخه حجابونه".
(۶) د "خ" نیمګړې نسخه: "که هزار شي افتابونه مهتابونه".
(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

هیڅ پایاب(۱) د فن فریب یې مونده نه شي
څوک به څه غواړي د بحر پایاب بونه

کړلن سترګې وبله کړې دم راته والي
په یارۍ کې عالم نه کاندي خوبونه(۲)

مال و ملک یې همه واړه او به یوسي
د هغو سترګو چې دي وړي سیلابونه

د کږو وروځو محراب ته دي حیران(۳) یم
څه نسبت لري بتان و محرابونه

ما هاله د پارسالي و ولاس وکښلي(۴)
چې په لاس کړل مطربانو ربابونه

۲۳۲ — ۲۵۳۵

ارغواني جامې یې واغوستې نن رحمانه
بیا یې جوړ کړل ستا د قتل اسبابونه

راکوي د سپېدو(۵) پېغورونه
بلوي مې په تندي باندې اورونه

نور څه نشته واړه خوبي دي د زړونو
چې ورزلي(۶) شي د ترکو په تېغونه(۷)

هر نګاه یې په وکښو د زړونو ښېر دي
همېشه را باندې آزمایي زورونه

خدای دې تور د تورو سترګو چا ته نه کا
عالمونه یې وکړېږي(۸) په تورونه

یو د حسن اور یې بل کړی په جهان کې
په دا اور باندې(۹) یې وسوځېږي کورونه

زه د یار په مینه غل کړم رقیبانو
ګنهګار یې کوم راپورې ورپورونه

۲۳۳ — ۲۵۴۲

د رحمان د عاشقۍ هسې غږ وشو(۱۰)
چې برپا شوه په هر ښهر کې شورونه

---

(۱) په "ق" چاپ او د "خ" نیمګړې نسخه کې "پایان" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته.
(۳) د پېښور چاپي دیوانونه او قلمي نسخې: "دا برولو د محراب ته یې حیران یم".
(۴) په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "وللي" راغلی دی.
(۵) "ق، ک" چاپ کې "راکاوه شي د سپېدو پېغورونه". په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "بې ننګو" راغلی دی.
(۶) د پېښور چاپي دیوانونو کې "وژلي" راغلی دی.
(۷) په قلمي نسخه کې "پېغورونه" راغلی دی.
(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۹) په چاپي دیوانونو کې په دواړو مصرعو کې د "یې" پر ځای "دې" راغلی دی.
(۱۰) په "ق" چاپ کې "زوږ شو" راغلی دی.

Marfat.com

په خاطر مې غلبه شول ستا غمونه — لږ د خدای د پاره کښېږده قدمونه

څه خو قیاس زما د پرهرو ونکوره — چې مې چېرې وو په تن کې دا زخمونه(١)

هر چې ستا په دم ژوندي وي نه غېږي(٢) — که بې تا په ځان پوکې هزار دمونه

که هزار هزار دمونه په ځان پوکا — نور به نه کا په دمونو قسمتونه(٢)

له قسمته خلاصېږه د هېچا نشته — که داخل شي د مکې په حرمونه

سپي کله په کوښښ ترځایه رسي — څو د خدای له لاسه نه وي(٤) کرمونه

چې توانګر د قناعت په خزانه شي — نور به څه کاندي دینار و درمونه(٥)

قسم وخوري له خوبانو بیالې مات کا

٢٣٤ — خه باور دی د رحمان په قسمونه — ٢٥٥٠

ژوندي کاندي د دنیا کاروبارونه(٦) — په مړو پر بواته د خاورو انبارونه

خولګ سرتور پېښې پېلخا ورله دروي — چاکانه دي په سر ایښي دستارونه

سنه استوګنه د ووړونو سره نه شي(٧) — بلکه یو ځبله اخلي ازارونه

دیوې ونې(٨) له یوه خه پیدا کېږي — په چمن کې هم ګلونه هم خارونه

هومره خلق هره ورځ له دنیا درومي — چې یې نه په چا حساب شي نه شمارونه

یو یو وار دی په هر چا باندې تېرشوی — همېشه په هېچا نه وي دا وارونه

د پرتو د وکي بازارګي مې ترسر تېر دي — خولګ دې نه کا په ما قنج و بازارونه

---

(١) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "زړودونه" راغلي دي.

(٢) د "ب" په چاپ: "ستا د حسن مار چې یې وخوري نه زغېږي".

(٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې "قلمونه" راغلي دي.

(٤) دا بیت په "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ کې نشته.

(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(٦) د "ب" په نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "کاروروزګارونه" راغلي دي.

(٧) په قلمي نسخو کې "سنه توسنه" راغلي دي.

(٨) د "ب" په نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دیوې دانې" راغلي دي.

Marfat.com

۲۳۵ جدایي د آشنا یا نوهر دم کا ندي ۲۵۵۸
په خوشحال باندي د توره و گوزار و نه

پټ پناه مي په خاطر لگي اوړونه — چي را یاد شي د مینو بشر ونه[1]

تل جرس د رته واهه د کوچ د لیال شي — پر د بساتو زلمو و تړي بار و نه

راشه ور شه حال یې وگوره چي څه دی — پر مینو باندي پر پواته قبر ونه

تا چي دا شیرین بشر خاوري بیابان کړه — تر شیرین بشر یې وخاته خار ونه

هامین چي تالیده اوس لیده نه شي — دي بند شوي د لحد په حصار ونه

۲۳۶ یوه ذره د محبت ورکړه خوشحال ته ۲۵۶۴
چي یې تا لي په زړه نور نه شي فکرونه

دریغه ولیدی یو ځل هغه مخونه[2] — چي دراز لري مژگان دراز قدونه

دراز قد دراز مژگان درازي زلفي — وړي شوندي وړه خوله واړه غاښونه

د آسمان شمس و قمر به تري قربان کړم — هم د ځمکي په سر واړه سره گلونه

چي یې ووینم په مخ مي اوښکي درومي — د سپرلي د لمر وري بارانونه

که یو ځل یې مخ ووینم په ستر گو — ما په زړه کي قبول کړي دي نذرونه

د هجران په شپه سو رکت را ته سوړ او ړ شي — یو زمان مي باندي نه لگي ارخونه[3]

چي په سپینو انگو دي زلفي زانگي[4] — ښا ماران دي د چند نو په ښاخونه

۲۳۷ که خدای غم د جدایي ور ته آسان کا ۲۵۷۲
و خوشحال ور ته اسان دي نور غمونه

---

(۱) دا غزل د "خ" دوهمي قلمي نسخي نه نقل شو.
(۲) د "پ پ" چاپ: "دریغه دي لیدی یو ځل هغه مخونه".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "دریغه ووینم یو ځل هغه مخونه".
(۳) دا او دریمي بیت په قلمي نسخو کي نشته.
(٤) "پ" چاپ: "لوړي زلفي دي په سپینو لیچو زانگي".

Marfat.com

که ستا خپله سیاه رویي نه وي د ښمنه — آیینه زما د زړه نه ده ځخنه(1)

ته چي ما ته په نظر د عیب ګورې — داغ د عیب وار ستا دی عیب جنه

خپل صورت په آیینه کي هر څوک ویني — که خبره د چا صفا وي که رمینه(2)

چوهاړي د حلال خور په نامه بولي — له بنو خلقو بدګویي نه ده ممکنه

ته چي بد له بله وایې زه وېرېږم — چېرې بې خپله بدي نه کړې معینه

تر هغه به رومبی عیب ستا څرګند شي — و هر چا وته چي کړې د چا غندنه(3)

هر رنګ تخم چي کرې هغه به اخلې(4) — خپله خپله میوه نیسي هره ونه

١٣٨

که له خپله عیبه خان زغورې ساتنه (مانه)

د هیچا له عیبه مه کوه پوښتنه

٢٥٨٠

ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې مینه — مینه د خوبانو وچوي د صورت وینه(5)

خدای زما په برخه عاشقي کړه له ازله — خوښ یم په دا برخه که تن خړه که شینه (سینه)

ځکه هغه سوځي هر چي اور ورباندې بل وي (شي) — روغه خلقه شوه د بخو رو تماش بینه

ښه تو ښه مي نه شي په تښ دا د کورو (کلي) — مرد بویه چي واخلي د غم پیټی له غمګینه

نور عالم به څه کړم زه مرید د هغه کس یم — هر چي و ما له کا یو پیغام له نازنینه

خوب به سوك په سترګو غروم له هسې غمه(6) — خوب مي تل ویني د زړه خالي له آستینه

سر د رحمان در وي د هجران په تېره توره(7) — ته یې نګاهبان شي یا الٰه العلمینه

---

(1) دا غزل د "خ" په دوهم نسخه کي نشته.

(2) د "خ" په لومړي نسخه کي "ږمنه" راغلی دی.

(3) چاپي دیوانونه: "چي هر چا وته دې کړېږي د خندنه".
د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کي "د چا" پر ځای "دخان" راغلی دی.

(4) په چاپي دیوانو کي "یوسي" او د "خ" په دوهمه نسخه او په لومړي نسخه کي "موجي" راغلی دی.

(5) قلمي نسخي: "ما به نه کړه نه کرم په ښنا او باندې مینه کتلکي که مي خوك ګنبای توره وراته کاله جینه".

(6) دا بیت د "خ" په نسخه کي نشته او په چاپي دیوانو کي لومړی مسری داسي ده: "خوب د وار سترګي غروم له هسي غمه".

(7) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کي نشته. ق چاپ کي لومړی مسری داسي ده: "سر د رحمان در دي د رحمان په تېره توره".

Marfat.com

۲۳۹ اور د جدائۍ په زړه ماتح دی لګېدلی[1] ١٥٨٨
وخت دی که مدد کړې یا میران محي الدینه

یادوې په خوله مکه او مدینه … نسکور پروت یې د غوړتې په سینه
زړه دې سرکه غونچه مراقبه کړې … بیت دې نقش د زړه رخت د رنګینه[2]
د اطلس قبا[3] اغوستې نه یې موږ مې … لړ ناکام دې[4] خرقه کړه پشمینه
عبادت دې ښوتري تر معصیت کا[5] … خه خو نیسه وځانته آیینه
کینه به ده بې شکه جنګ حرام دی … نه له نفس له شیطان سره کینه[6]
تر ناپاکو نارینه وو، وې[7] بهتره … پاک دامنه پرهېزګاره ارتینه
د مړدانو کار له نفس سره جنګ وي … نه زنان خوندې له نقش و نګینه[8]
د دیندار ارتینې تر یوې کوښې … صدقه شه سل بې دینه نارینه[9]
نېکوکار سړی بهتر دی که خورد سال وي … تر سپین ږیرې، بدکاره د بیرینه

۲۴۰ بدکردار، که صد ساله شي[10] و ماتح نه ٢٥٩٨
څرګندېږي لکه طفل شبینه[11]

بیا دې مخ دی جاروتلی خه بلا شوه … دا بلا له کومه لوریه راپیدا شوه

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته. د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې راغلی دی: "اور د جدائۍ په زړه ماتح دی لګېدلی ... ته دې نګهبان شې یا اله العلمینه".
(۲) د "خ" په لومړي نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "بیت دې نفس د زړه رخت دې رنګینه".
د "خ" دوهمه نسخه: "اندر ون دی لکه نقش رنګینه".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه: "جامه".
(٤) "ق، ک" چاپ: "یې".
(٥) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، لومړی مسرۍ یې په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "معصیت به دې خپل تېر تر عبادت کړي".
(٦) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۷) چاپي دیوانونه: "ده"، مصوره نسخه: "دی". د "خ" دوهمه نسخه: "ن".
(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، "پ" چاپ: "نه ښځو خوندې له نقش نګینه".
د "خ" لومړۍ نسخه: "نه زنانو خوندې نقش نګینه".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "کوښې" پرځای "ښوکه" راغلی دی.
(۱۰) چاپي دیوانونه او نورې قلمي نسخې: "وي".
(۱۱) "ق، ک" چاپ: "بدکردار که صد ساله دي خو ځوان ته ... هسې ښکاري لکه طفل شبینه".

جمیل احمد شرقپوری نقشبندی ... لاہور پاکستان
ذخیرہ



ورځ چې واوري دغه هسې نه وي خړوے ‌ ‌ ‌ لکه نن چې دخپل یار وماتدشا شوه (۱)
دا زما په یار کې مهر و وفا نشته ‌ ‌ ‌ که دنیا واړه بې مهره بې وفا شوه
چې یې هیڅ له خدایه ترس او ویره نه شي ‌ ‌ ‌ په نصیب مې یوه هسې دلربا شوه
چې وحسن ته یې ګورم حیرانیږم ‌ ‌ ‌ راڅرګنده یوه هسې تماشا شوه
څه د حد و د حساب خبره نه ده ‌ ‌ ‌ بې صبري مې تر حسابه زیاته لا شوه (۲)
قراري مې په طلب کې شوه حرامه (۳) ‌ ‌ ‌ بې غمي مې په مذهب کې ناروا شوه
چې زلفکې مې پرې غشې د دعا و ‌ ‌ ‌ هغه نښه مې ونه ویشته خطا شوه
لکه پوچ بادام بې مغزه بې حاصله ‌ ‌ ‌ هسې پوچه بې حاصله مې دعا شوه
عاشقي چې مې له خلقو په غلا کړه ‌ ‌ ‌ هغه غلا مې په تمام جهان رسوا شوه
څو هم بدله نسیا معاملو هم ‌ ‌ ‌ چې مې نغده په وږغوي کې نسیا شوه
در د بېرته جار و توشو راته پورې ‌ ‌ ‌ په نصیب مې بله نه وه داوه دا شوه (۴)
یوه بخره هر سړي له خدای ورکړه ‌ ‌ ‌ زما بخره آشنایي دخپل آشنا شوه (۵)
د تدبیر په دام به څه شکار کښېوزي ‌ ‌ ‌ معشوقه چې مې په مثل د عنقا شوه
ورځ چې واوري دغه هسې نه وي خړوي ‌ ‌ ‌ لکه نن چې دخپل یار وماتدشا شوه (۶)
چې یې زړګې زېړ رخسار زما د خاورو ‌ ‌ ‌ عاشقي نه وه په باب زما کیمیا شوه
څه حکمت د یار په مینه کې خدای کښېنود ‌ ‌ ‌ چې عاشق له هم درد شوه هم دوا شوه

۲۴۱ ‌ ‌ ‌ دا باران نه دی چې ووري له آسمانه
د مرغانو په ټکح باندې ژړا شوه ‌ ‌ ‌ ۲۹۱۶

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۲) قلمي نسخي: "په هغه خوا شوه" راغلی دی.
(۳) چاپي دیوانونه: "قراري مې په طلب کې یې حرام شه".
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې "هر اشنا" راغلی دی.
(۶) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.

Marfat.com

چې په نور خپلوړي زړه تورې بې خدایه ... خه پوهېږې چې په ځای کړې که نې ځایه (۱)

داخو نشته چې به تل ترتله پاتې ... که بیا پاتې خو تر سلو کالو پایه

که دې سل کاله شي عمر خو به تېر شي ... دغه پسه بیا به څه کړې راته وایه (۲)

سم له لاسه چارې نه شي (۳) مرد هغه دی ... چې بیدار وي وغلیم وته لره ورایه

ته په اصل کې سرې یې خاروې نه یې (٤) ... د چارپایو چارې مه کوه دوپایه (۵)

مرتبه به دې د هیچ او د مېږي شي ... زړه په غوړو غوښو مه تره همایه (۶)

موړ به نه شې ته په حرص بې قناعته ... اې په تخت داورنګ زیب ناسته ګدایه (۷)

٢٤٢

ورانه دې سرای لره توښه تړه (۸) رځه

خوښه دې کړې نه دې (۹) لره سرایه

٢٦٢٤

په حالت د عاشقانو نظر بویه ... په زیارت د شهیدانو ګذر بویه

بې مرشده خبر ځوک د مرید اخلي ... خوځ په غم د فرزندانو پدر بویه

بې زیاره رسیده ویار تر ګران دی ... په کوځه د هر ویانو رهبر بویه

بې هنره چا دولت موندلی نه دی ... په خدمت د صاحبانو هنر بویه

ستاله سترګو مې هر ګور ملاحظه شي ... له دې هسې سیاه دلانو (۱۰) حذر بویه

---

(۱) د "ق . ک" چاپ : "راته وایه دا یه ځای کړې که بې ځایه".
د "خ" لومړی نسخه : "څه دې زده چې خدای یه ځای کړې که بې ځایه".
د "خ" دویمه نسخه : "څه دی زده دی چې په ځای کړې که بې ځایه".
د "ب" لومړی نسخه : "څه دې زده چې دا بې ځایه کړې کا بې ځایه".

(۲) د "خ" دویمه نسخه : "دغه پسه به لور څه کړې راته وایه".

(۳) د "خ" لومړی نسخه : "هم له لاسه".

(٤) د "خ" لومړی نسخه : "چارپای نه یې". مصوره نسخه : "خاروی هم شه".

(۵) "ق . ک" چاپ : "خودرایه". "ق" چاپ : "مدشره چارپایه".

(۶) قلمي نسخي : "زړه په غوښو په غوړو مه تره همایه".

(۷) د "ب" نسخه : "موړ به نه شې په حرص بې قناعته که بې په تخت داورنګ ناسته ګدایه".

(۸) د "خ" لومړی او مصوره نسخه : "واخله".

(۹) د "خ" لومړی نسخه : "نه وی".

(۱۰) د "خ" په لومړی نسخه کې د "سیاه دلانو" پر ځای "سیاه مارانو" راغلی دی.

سنه چې ستر ګې خدای ملالې کړې ترکوي ... لن په زړه د ظالمانو اوش بویه
ستا په داغ[1] به هر یو زړه مشرف نه شي ... دغه تاج د بزرګانو په سر بویه

۲۴۳

چې خبر د تاج (ان) نه اخلي یار بد کا
بادشاهان له ګدایانو خبر بویه

۲۶۳۲

---

زړه مې ورکړو خود رای ... هر چې شي تکیه په خدای
په سودا د عاشقۍ کې ... یا به شاه شم یا ګدای
یا به کېنم و د وهڅته ... یا په سیوري د هُمای

---

(۱) "پ پ" چاپ کی د "داغ" پر ځای "یار" او د "خ" په لومړی نسخه کی "تاج" راغلی دی.

چې خدای کاهغه به وشي — نه بل خدای لرم نه ځای

بې دلبره به ورنه کړم — بل هیڅ‌ا ته د زړه رای [(۱)]

پای بوسي به یې پرې نږدم — خومې ږدي د ست و پای

یا خندا ده به جهان کې — یا ژړا ده به وای وای [(۲)]

ترد ا دو وچارو پسې ورته — نورخه نشته په دا سرای

عاشق بویه چې صادق وي — نه خودکام ونه خود رای

خالې دې نه کا څوك په عشق کې — جوفروش گندم نمای

٢٤٤ — زه رنځ په کال پوهېږم — ٢٦٤٣

که مې مل شي [(۳)] کار فرمای

کشلې زه خاوري ایرې دستا دره وایې — چې قدم دې همېشه زما په سروایې

خویو ځله زما ستا وبله مخ شوی — نور مې موخه ستا د غشیو په ته‌ر وایې [(۴)]

تمام تن مې د نجو په خیراوره شوی [(۵)] — خو په ما د تور وسترگو یو نظر وایې

په زیړ رنگ په سپینو اوښکو به ما بیا مومنده؛ — که د ترکو ملاقات په سیم وزر وایې

ملامت به په ما خلك وایه شو — که دستا د دلبرۍ نه څوك خبر وایې [(۶)]

مرتبه که ستا دعشق شي ورڅرگنده — ملایك به وایه والي چې بشر وایې [(۷)]

تماشا به زما هله دربنداره شوه — که ته ما غونډې بېدل وای زه دلبر وایې

---

(۱) قلمي نسخې : "نور وهیڅا د زړه رای".

(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۳) د "ب" په نسخو او د "خ" دوهم او مصوره نسخه کې د "مل شي" پر ځای "مل وي" راغلی دی.

(٤) قلمي نسخې : "نور مې موخه ستا وغشیو ته بهر وایې".

(۵) د "خ" قلمي نسخې : "تمام تن مې د نجو په خبر ووړ ووړ وایې".

(۶) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۷) په قلمي نسخو کې "که بشر وای" راغلی دی.

Marfat.com

په خوبانو به زما ستړګو غوندې نه وي — که په مخ مې د تېرو تورو وېرو واې

ستا په درد کې طبیب والې وه ګمان ته
لا به بنه وي که دې حال تر دا بتر واې

۲۴۵ — ۲۶۵۲

یو یو داغ په تن تر اینبی ده څو چادی — که باداشاه د ولایت[1] دی که ګدا دی
سراب کې په سرچشمه د دنیا نشته — تشنه لب یې ګوښې ګوښې په غوغا دی
لو راحت په د بر زحمت باندې موندې شي — ددې دهر خس حرام شه[2] که وریا دی
د دنیا بنا دې بېغمه موندې نه شي — لو خیرات د شوم له کوره په بلا دی
فراغت پرې باندې ولې حرام نه وي — چې داخل په سراچه ددې دنیا دی
د مجنون د حال پوښتنه به څوک څه کا — جهان وار کور او کور مجنون لیلا دی
عشق یو هسې رنګ افسون په عالم پوکې — چې عاشق په تور وسترګو نابینا دی
دهر چا یې بخره ورکړه ګوښې ګوښې — خپل قسمت ده هر سړي جلا جلا دی
ورکړه راکړه همګي د بل په لاس دي — دلته دخل نه زما دی نه دستا دی[3]
په هر څه چې د صاحب د زړه[4] رضا شي — په بنده که ناروا دی هم روا دی
خوا ناخوا که یې رضا وي که یې نه وي — د قسمت رسد[5] رضا او نارضا دی
خان جهان سپارلی بویه وه هغه ته[6] — چې یې حکم جاري شوی په هر چا دی

---

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ولایت" پر ځای "زماني" راغلی دی.
(۲) په چاپي دیوانونو کې "حرام دی" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په "ب" چاپ کې دا بیت داسې دی:
"ورکړه راپېر ووده تول د بل په لاس دی — هلته دخل نه دستا دی نه زما دی".
"ق" "ک" چاپ: "ورکول او اخستل د بل په لاس دی".
"پ" "ب" چاپ او "ق" چاپ: "ورکول راپېر ودل د بل په لاس دی".
د "پ" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه: "ورکړه راپېر ووده هم د بل په لاس دی".
(۴) د "خ" په دوهمه نسخه او نیمګړې نسخه کې "په هر کار" راغلی دی.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د قسمت شوی" راغلی دی.
(۶) د "خ" دوهمه او نیمګړې نسخه: "خان ایمان سپارلی بویه وه هغه ته".

د هر چا په لاس چې حکم حاکم ورکا — جهان واره د هغه په مدعا دی

۲۴۹ چې مولا ورسره مل نه وي تاج — ۲۶۶۶

که لښکر یې ورسره وي یک تنها دی

هسې رنګ نعمت راکړی خدای وما دی — چې هیڅ خیز بهای نشته بې بها دی (۱)

یو خو دا چې یې په شکل د آدم کړم — دویم دا چې محمد ﷺ مې رهنما دی

لاس ولیښې غوږ وسترګې خوله او ژبه (۲) — یو صورت مې په خواسه مسما دی

آسمان ځمکه لمر سپوږمۍ او روښنا ستوري — درست جهان مې ونظر ته تماشا دی

شپه او ورځ د ماه و مهر له پرتوه — مخ د ځمکې راته درست نقره طلا دی

په شپه مشک په ورځ کافور رابانديوري — درست صورت مې بیکې غرق سرتر پا دی

په هر دم زندګاني بخښي وما ته — هر نسیم د یار له لوري مسیحا دی (۳)

د چمن وسر وګلونو ته چې ګورم — هر هر ګل راته د فدا یه په خندا دی

د ګلګونو میو نا وې راته ناسته — زنګاري قمیص اغوستی د مینا دی

خیلې وینې په ورغوي کې نیولې — هر ساغر د مې فروشو جان فدا دی (۴)

د شنه رود په غاړه ناست سرود په لاس کې (۵) — هر مطرب لکه بلبل هسې ګویا دی

سپین مخونه سرې لښتي دي د دلبرو — هر دیدن یې د آفتاب په څېر رڼا دی (۶)

---

(۱) قلمي نسخې: "چې هیڅ هیڅ بهای نشته بې بها دی".
"ق.ک" چاپ: "چې بهای هرګز نشته بې بها دی".

(۲) د "خ" دوهمه نسخې کې "لوړه" راغلی دی.

(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۴) د "ب" لومړۍ نسخه او د "خ" دوهمه نسخه: "هر ساغر د مې پرستو جان فدا دی".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هر ساغر د مې پر ځښکو ځان فدا دی".

(۵) په چاپي دیوانونو کې "شنه رود" راغلی دی.

(۶) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ، او "ق.ک" چاپ کې نشته. په قلمي نسخو کې یې لومړی مسری داسې دی:
"سپین مخونه سرې لښتې د دلبرو".

Marfat.com

٢٤٧ — ٢٦٧٩

چې دا هسې معرفت يې پرې پېرزو کړ(١)
په تاج (نيان) باندې منت د پاك مولا دى

دا چې مست په ميو راغى يار د چا دى(٢)
بيا به تاخت کا په کوم غولي واره د چا دى

چې ذره سوى يې د حرم په صيد هم نه شي
دا چې درداوني صرفي گوزاره د چا دى(٣)

ما خو نه دي خولې يې وچې آزاره کړي
دا چې ما آزاروي آزار د چا دى

چې يې درست جهان د مخ په رڼا زيست کا
دا آفتاب غوندې روښان رخسار د چا دى(٤)

چې بلبل بې رسېدې تر گلو نه شي(٥)
دا د ننه په حرم گلزار د چا دى

٢٤٨ — ٢٦٨٥

چې هيڅ ترس په زړه کې نه لري تاج (زمانه)(٦)
دا نا ترس او بې پروا نگار د چا دى

غواصان که گوهر غواړي گوهر دا دى
بېدلان که دلبر غواړي دلبر دا دى(٧)

زما يار غوندې به بل يو دلبر نه وي
د جملهٔ دلبرانو سرور دا دى(٨)

خوند دلبو و د چاه زنخدان يې(٩)
دا شه گوره زمزم دا دى کوثر دا دى

چې يې وصل او هجران و ته نظر کړم(١٠)
زه گومان کړم جنت دا دى سقر دا دى

---

(١) د "خ" د همه نسخه: "چې نعمت د معرفت يې پرې پېرزو کړ".

(٢) دا غزل د "خ" په مصوره نسخه کې نشته او "خ" په د بهمه نسخه کې د "غولي" پر ځاى "لوري" راغلى دى.

(٣) قلمي نسخې: "چې ذره سوى يې د حرم په صيد نه شي — دا د غمنې يې صرفي گوزار د چا دى".
د "خ" د همه نسخه: "دا چې دربغه يې صرفي گوزار د چا دى".

(٤) دا بيت د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(٥) د "ب" په قلمي نسخه کې "تر گله" راغلى دى. د "خ" لومړۍ نسخه: "چې بلبل يې رسېدى نه شي تر گلو".

(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "چې هيڅ ترس يې په زړه نه کړي رحمانه — دا نا ترسه نافرمان نگار د چا دى".
"ق. ک" چاپ او "ق" چاپ: "دا نا ترسه بې پروا گونار د چا دى".

(٧) دا غزل په مصوره نسخه او "ب" په د بهمه نسخه کې نشته.

(٨) د "خ" د همه نسخه: "زما يار غوندې به بل پر جهان نه وي — د جمله و دلبرانو سردار دا دى".

(٩) د "خ" لومړۍ نسخه: "خوند دلبو و د چاه زنخدان دې".
د "خ" د بهمه نسخه: "خوند دلبو يې او چاه يې زنخدان دې".

(١٠) د "ب" نسخې: "چې د وصل د هجران نه يې نظر کړم".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې د وصل د هجران و نه يې گورم".
د "خ" د همه نسخه: "چې د هجران و وصال و ته يې نظر کړم".

Marfat.com

ته خطبه په منبر څه لولې خطیبه — قدم کېږده په ځان باندې منبر دادی
د کعبې سفر آسان دی مرد هغه چې — که له ځانه سفر وکړې سفر دادی (۱)
هر منعم چې دلجويي د قلندر کا — هغه نه دی قلندر، قلندر دادی
چې توانګر د قناعت په خزانه شي — بل توانګر په جهان نشته توانګر دادی

۲۴۹ — ۲۶۹۴

دا هنر نه دی چې خاوره په څوک سره زر کا
چې زر خاورې کا لا له هنر دادی

هغه زړه چې ستا د عشق په اور کباب دی — که مرهم ور باندې کېږدې ډېر ثواب دی
حجاب نه له اغیارو مناسب دي — د یارانو په یاري کې څه حجاب دی
بې له تا چې ښایسته ډېر بې حسابه — نور ښایست د جهان وار په حساب دی (۲)
ښایېږي که هر څو ډېرې ښایسته دي — په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی
لکه ګل (۳) چې تر آفتاب پورې خجل دی — دغه هسې ستا تر مخ پورې آفتاب دی
دا د میو څه مستي او سرخي نه ده (۴) — تېغ د سترګو دې په وینو کې غرقاب دی

۲۵۰ — ۲۷۰۱

زه رالګ به خواب څه کوم ویاړ نه
و ژوندیو ته د مړیو څه خواب دی

د ساقي په لاس کې جام د میو ناب دی — مطرب ایښی په زانو باندې رباب دی
ته چې ما وته توبه وایې ناصحه (۵) — په دا وخت کې چا څه د توبې تاب دی
زه چې ځان منع کوم د عشق له کاره — په دا هسې کار کې کوم سود او ثواب دی (۶)

---

(۱) چاپي دیوانونه: "د مکې سفر آسان دی مرد هغه دی چې له ځانه سفر کاندې سفر دادی".
(۲) چاپي دیوانونه: "په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی" یعنې دا دی بیت دوهم مسرۍ او دریمې بیت لومړی مسرۍ په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۳) په قصه خواني چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "ګل" پر ځای "شمع" راغلی ده.
(۴) قلمي نسخې: "دا د میو د مستي سرخي نه ده".
(۵) د "خ" لومړی نسخه: "ته چې ما ته توبه فرمایې ناصحه". مصوره نسخه: "ته چې ما وته توبه ښیې ناصحه".
(۶) دا بیت اول دې نه وروسته بیتونه په مصوره نسخه کې نشته. په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "کاره" پر ځای "لاری" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "اده" راغلی دی.

Marfat.com

د آسمان چې لوی په عقل کې باله شي — په محیط د عاشقۍ کې یو حباب دی[1]
محتسب په رقص ګډېږي باک یې نشته — صوفي پروت په میخانه کې مست خراب دی[2]
هر چې ژغوري سر و مال په عاشقۍ کې — هغه کړي کور په مخ کې د سېلاب دی
په رقیب باندې غفلت راغی ویده شو — یار پېلوله مخه واخیست بې حجاب دی[3]
ته چې خوب غواړې[4] په عشق کې راته وایه — کوم چاکړې د منزل په خوله کې خواب دی
بې عمل که کتاب کېږي په سر خه شو — ګویا الېني یې تر پېنو لاندې کتاب دی
چې د شر له عملونو نه خیر غواړي — تشنه لب غونډې سر شوی په سراب دی[5]
د دښمن له مکارۍ نه و وېرېږه — په نرمۍ یې غلط مه شه سنګ د راب دی

۲۵۱ — ۲۷۱۳

عبادت په شتاب هسې کړه ماخ (رانه)[6]
لکه عمر چې دې تلونی په شتاب دی

چې تر سنګ و تر آهنه یې زړه سخت دی — زړه هغه لره ورکړی ما کم بخت دی
خدایه کله به هغه غل راته اسیل کړې[7] — چې لوټلی یې زما د خاطر رخت دی
هو مره غم به نور په هېچا باندې نه وي — لکه غم چې د خپل یار په ما یک لخت دی

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "په محیط د عاشقۍ یو حجاب دی".
(۲) دا بیت د "خ" له لومړۍ او دوهمې نسخې نه نقل شو.
(۳) دا بیت د "خ" له لومړۍ او دوهمې نسخې نه نقل شو.
(٤) "ق، ک" چاپ: "کوی" او "ق" چاپ کې "والې" اغلی دی.
دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "ته چې خوب په عاشقۍ کې له ما غواړې".
(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "که سړی له عملونو خیر خبر غواړي".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې د شر له عملونو خیر غواړي تشنه لب غونډې سېر شوی په سېراب دی".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "عبادت په شتالجه کوه رحمانه".
(٧) په قلمي نسخه کې "یاغیان" اغلی دی.

Marfat.com

مگر ببل په تېره تېغ شي یاں له یاره — گنه بناخ له خپله شاخ سره درخت دی [1]

د پالنګ او د بېړۍ [2] حاجت یې نشته — د یارانو نشستن دزړه په تخت دی

چې له دېره درده وخت پر اندې نه شي

۲۵۲ — ۲۷۱۹

په رحمان باندې بې یاره هسې وخت دی [3]

ستا له لاسه په ماجوړ دی که داد دی — زما مراد خو واړه ستا د خاطر مراد دی [4]

ستا په مینه کې زما له مخه تښتي — که آفت دی که آسیب دی که فساد دی

هر اهداد چې راکاوه شي ستا په مینه — په لیمه زما قبول هغه اهداد دی

که تمام جهان مې پرېوځي په لیمه کې — بې تا نه راځرګندېږي نه مې یاد دی

ماچې غوږ د استاد عشق په ترانه کې — نصیحت مې نور دزړه په غوږ و باد دی

اوس زما له ننګ و ناموس سره خمر دی — چې دې نام د عاشقۍ را باندې زیاد دی

هر ګلشن چې له ګلرخه بې نهره وي — د عاشق په نظر غولی د صیاد دی

د رحمان و توان ته ګوره هومره ناز کړه

۲۵۳ — ۲۷۲۷

چې داوسېنو روغ نه دی آدم زاد دی

که یې مهر و محبت که یې عناد دی — ما دیار په یارۍ کړی اعتماد دی [5]

زه او یار که په تن دوه په معنی یو یو — هزار خوني واړه شهر بغداد دی

هېڅ بېلتون زما دیار و بله نشته — کار همه واړه موقوف په خپل میعاد دی

زه خپل آه آتشین له خدایه غواړم — د آشنا خاطر که موم دی که فولاد دی

هېڅ موقوف د معشوقې په حسن نه دی — د عاشق خاطر په خپله مینه ښاد دی

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې یې دوهمه مسره داسې ده: "ګنه بناخ له خپله درخته سره درخت دی".

(۲) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "شهره" راغلی دی.

(۳) قلمي نسخې: "په رحمان د یار له غمه هسې وخت دی".

(٤) په چاپي دیوانونو کې "زړه" راغلی دی.

(۵) په قلمي نسخو کې "اعتقاد" راغلی دی.

Marfat.com

چې د آه و د فریاد طاقت یې نه وي
هر سکوت دې طاقتو آه فریاد دی

سل په دا رنګه نو منه د عشق نوړ دي
لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد دی

چې یې زړه شي هلته کېني هلته پاڅي
عشق د عقل و د هوش کره داماد دی

بادشاهان په عاشقۍ کې ملنګان شي
ما او تا غوندې ګړی د چا یاد دی

چې پرېشان د یار د زلفو په خبر نه وي
جمعیّت د هغو زړونو لوی فساد دی

که رښتیا له خرابۍ سره ګنج وي
خرابات دې بنیاد و بیخ بنیاد دی

که کمال د کمینه په اندازه دی
فوقیّت د شاګردانو په استاد دی

که په یار پسې رحمان تر جهان تېر شي[1]
په رحمان زمونږ هسې اعتقاد دی

چې دا نور شاعران کاندي هغه نه کا
رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی[2]

۲۵۴ ۲۷۴۱

په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دی
همیشه مې په زړه پروت انبار انبار دی

که رهبر وي ګمراهانو لره خضر
عاشقانو لره خضر ستا رېبار دی

ګوندې چېرې خوله د خدای په در قبول وي
ستا له لاسه مې فریاد په هر دیار دی

د شهیدو په رهاړو نو ته نظر کړه
هسې رنګه مې له دوو سترګو خونبار دی

چې د غم په بار یې زړه دی زما کښېلی
هم هغه مې په زړه کښېلی په بار بار دی[3]

چې هر دم مې د څېرو په تورو وژني
لا مې زړه د هغه سترګو منت بار دی[4]

دا آسمان دې د هغو په مدعا وي
چې په ما باندې یې کړی ستا اختیار دی

که یار سل ځله جفا ورسره کاندي
د رحمان داهسې کله اعتبار دی

۲۵۵ ۲۷۴۹

(۱) دا بیت د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.
(۲) دا بیت د "پ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په "ب" نسخه کې نشته. د "پ" په لومړي نسخه کې دوهم مسرې داسې ده: "لا مې زړه د هغو سترګو منت بار دی".
(۴) دا بیت د "پ" په لومړي نسخه کې نشته.

Marfat.com

کمیني یو نا درکار دی — چې کمال څخني اظهار دی
چې اختیار یې کمیني کړه — په دانه کې یې خروار دی
چرګ په دوه پیسې حلال شي — بان په سل روپۍ مردار دی
چې آسمان شو سرګردان شو — چې زمین شو برقرار دی
نښتر ګوره سرکښي کا — انګور ګوره نګونسار دی
ذره خواره شوه آفتاب شوه — ابر خورب دی غبار دی (۱)
کوه بلند شو سیه سنګ شو — لعل وړو شو ګوهر دی (۲)
لوی آسمان توره تبه شو — هلک لمر څخه انوار دی (۳)

٢٥٦ — ٢٧٥٨

وور سري ګوره زمانه
چې لوی فیل یې بار بردار دی

زلفې دې له ډیرې درازیه پای تر سر دي — یا د بنفشې لښتې خورې په صنوبر دي
لب دې آب حیات دي یا شکرې یا نبات دي — یا خوږه غلط شوم (٤) تر همه واړو بهتر دي
قد ته دې خولګ نه شي رسیدی له بلندۍ — ولې چې معراج وته خاته د پیغمبر دي
ما چې ستا بنایست ولمر سیوږمۍ سره په تول کړه — تللي په میزان کې تر آسمانه سیوږمۍ لمر دي
څاڅکي له آسمانه په هر چا وورې یکسانه — برخه په واښه شي په صدفو کې ګوهر دي (۵)
بخت دی چې یې خولګ متمکن کړه په تخت باندې — خولګ دغم په خار سره پاره پاره جګر دي (۶)

---

(۱) قلمي نسخې: "ذره ضعیف شوه افتاب شوه — ابر خورب شو تش غبار دی".
(۲) په "ق. ک" چاپ کې "ابدار دی" راغلی دی.
(۳) "ق. ک" چاپ: "نمر هلک نورالانوار دی"
نور چاپي دیوانونه: "هلک لمر سره انوار دی".
د "پ" لومړی نسخه: "هلک لمر شو څخه انوار دی".
(٤) په قلمي نسخو کې "نیم" راغلی دی ددې بیت لومړی مسری په "ق" چاپ کې داسې ده: "لبې ستا آب حیات دی یا شکر دی یا نبات دی".
(۵) دا بیت د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

باد چې دې په زلفو باندې قصد د پرېشانۍ کړ | خلک بې ګردونه د جهان واړه په سر دي
هله به سړی شي چې دې نوم نه عبدالرحمان شي | اوس سړی په څه بې که دې لوښتی زبر و زر دی (۱)

سپینې او سپکې زبر خسار مینې لره دولته (۲)

۲۵۷ ای زاهده دا د عاشقانو سیم و زر دی ۲۷۶۷

دنیا دار که مستغني په سیم و زر دی (۳) | هنرمند و ته خو ګنج د خپل هنر دی
بېهوده به زور ور وځان ته وایې (٤) | د دنیا سړی که هر څو زور ور دی
هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې | پیدا کړی خدای د ستا په شان سړی دی
ځینې ځینې بې ولیان پېغمبران کړل | نه چې هر سړی ولي او پېغمبر دی (۵)
جو دانه قدر یو لعل یکې پیدا شي (۶) | نور جهان واړه د تور و کانو غر دی (۷)
یو بادشاه دی چې لښکرې یې سې درومي | نه په هر یوه سړي یې سې لښکر دی (۸)
پیدا کړي خدای سړي په تفاوت دي | هسې نه چې جهان واړه برابر دی (۹)
که د عمر ورځ تېر ته څوک نظر کا | دا به وایي چې آفتاب د نماز دیګر دی (۱۰)
چې یې (۱۱) سر په ځمکه ایښی وي و یار ته (۱۲) | په آسمان باندې ختلی تکه لمر دی

---

(۱) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۲) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته.
(۳) د "ب" لومړی نسخه: "دنیا دار که دنیا دار په سیم و زر دی".
(٤) د "ب" لومړی نسخه کې د "به" پر ځای "و" راغلی دی.
(۵) د "ب" لومړی نسخه: "ځینې ځینې بې ولیان پېغمبران کا هر سړی نه اولیا نه پېغمبر دی".
د "خ" لومړی نسخه: "نه چې هر یو اولیا او پېغمبر دی".
د "خ" دوهمه نسخه: "ځینې ځینې اولیا د ځینې نبیان وو نه چې هر یو اولیا و پېغمبر دی".
مصوره نسخه: "ځینې ځینې اولیا و پېغمبران کړه نه چې هر یو اولیا و پېغمبر دی".
(۶) د "ب" لومړی نسخه: "جو دانه قدر چې لعل یکېنې پیدا کا".
نورې قلمي نسخې: "جو دانه قدر یو لعل یکېنې پیدا کړه".
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "نور جهان واړه تور کاڼي او نور غر دی".
(۸) د "ب" لومړی نسخه: "نه په هر چا پسې کړی خدای لښکر دی".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسری یې په "ق.ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "سړي" پر ځای "هر څوک" راغلی دی.
(۱۰) د "خ" دوهمه نسخه: "دی به وایي چې رفتن د نماز دیګر دی".
(۱۱) "ق.ک" چاپ: "چا چې".
(۱۲) "ب" چاپ: "خپل یار ته".

تعجب زما د دېروا وسنکو مه کړه(۱) — ما موندلی په دا بحر کې گوهر دی

دریا خرقه یې خدای (ح) مه کړه په غاړه(۲)

۲۵۸ — ۲۷۷۸

تاج کوږ دستار ترلی قلندر دی

د واړه سترگې مې کړې دستا په لور دي — مدام د وینې د فراق په آب شور دي

زه یوسپی یم چار چشمه د ستا له سپیو — چې مې ستا ودرته دوه سترگې خلور دي(۳)

کنه ولې مې دوه سترگو ستا په طمع — وهر در(۴) وته نیولې کور په کور دي

چې مې خیال د ترکو ولید په خیل زړه کې(۵) — د واړه کسي مې وزړه وته نسکور دي

اعتبار د زمانې په اشنا مه کړه — همگي(۶) واړه د خپلو رختو چور دي

ما قبول د رقیب ناز کړ ستا د یاره — سود و زیان په دا جهان کې خواوور دي

په تاج باندې گمان داهسې مه کړه(۷)

۲۵۹ — ۲۷۸۵

چې بې تا په نور څه غولېږي هغه نور دي

ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دي — گویا میشت(۸) مې په سر شهر د لاهور دي

په افسون و په جادو د تورو سترگو — خراب دل مې له جملې عالمه تور دي

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه : "ته زما په دېروا وسنکو عیب مه کړه".
د "خ" لومړی نسخه : "ته زما د دېرو او سنو ته عیب مه کړه".
د "خ" دوهمه نسخه : "ته زما د دېرو او سنکو غیبت مه کړه".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه : "دریا خرقه دې خدای مه کړه په غاړه".

(۳) دا بیت د "پ" چاپ کې نشته. د "خ" لومړی نسخه کې لومړی مسرۍ داسې ده : "زه یو سپی چار چشمه یم دستا د سپیو".
دوهمه مسرۍ په مصوره نسخه کې داسې ده : "چې ستا د لور ته مې دوه سترگې خلور دي".

(٤) چاپي دیوانونه : "وهر لور ته".

(٥) مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه : "چې مې خیال د ترکو ولید په خیل ځان کې".
د "خ" دوهمه نسخه : "ما چې خیال د ترکو ولید په خیل ځان کې".

(٦) دا بیت د "خ" دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

(٧) چاپي دیوانونه او نورې قلمي نسخې : "په رحمان باندې داهسې گومان مه کړه".
دوهمه مسرۍ د "خ" په دوهمې قلمي نسخه کې داسې ده : "چې بې تا به په لور څه غولېږي لور دی".

(٨) "ق" چاپ او "ق ک" چاپ کې "جوړ" راغلی دی.

Marfat.com

که مې زړه له غمه چوي راته والي — غم د هجر د غمه ګنه لا نور دی

د هجران په بیمارۍ کې را معلوم شو — چې اخستې مې آزار د پلار و مور دی

دا دنیا په مثال کور شو د غمونو — چې په هسې کور نازېږي هغه کور دی

دا جهان نه د چا خپل دی نه به خپل شي — چا په خپله رضا پرېښو چا په زور دی

چې د مرګ په پوړ و دېو کې یو ومري — دی د واړه یو پوړ دیو زوې او ور دی(۱)

۲۶۰ — ۲۷۹۳

که رحمان په عاشقۍ بې عزت کېږم(۲)
ما په سترګو قبول کړی دا پېغور دی

که دلدار په دلدارۍ زما قدم نه دي — ګویا هر قدم په لارې(۳) د حرم نه دي

ځای لري که بې منته بوسه راکا — کوم کریم په چا منت د خپل کرم نه دي(۴)

معشوقه مشفقه بویه هم با نه(۵) — نه قارون چې په ځان اسم د حاتم نه دي

خلک وما وته ګلونه د جنت کړل — که دا غونډې په نړه باندې د غم نه دي

هسې پټ الزم(۶) دا زېر رخسار له خلقو — لکه زر چې خوک له خلقو پټ پنهم نه دي

هېڅ مانه دې خوک له مستو سترګو نه کا(۷) — کوم یو مست دی چې قدم په لارې سم نه دي

راحت بې زحمته نه دی چا موندلی(۸) — کوم طبیب دی چې په روغ صورت مرهم نه دی

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "که رحمان په عاشقۍ کې غیرت نه کړي".
(۳) مصوره نسخه: "په لوری".
(۴) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) "ب" چاپ: "معشوقه شفیقه بویه هم با نه".
د "خ" دوهمه نسخه: "معشوقې مشفقې بویه هم با چې"
(۶) "ق" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه: "پټ ګرځم".
"ق، ک" چاپ او مصوره نسخه: "پټ ساتم"
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه: "بر بند وسترګو".
(۸) چاپي دیوانونه: "راحت نه دی بې زحمته چا موندلی".

Marfat.com

زه هرګوره تر خیل صمد لوړی شرمیږم[1] — برهمن چې سر په پښو د خپل صنم بندي
و آسمان ته لاس د عقل نه رسېږي[2] — دا خو عشق دی چې په عرش کرسي قدم بندي

۲۶۱ — زه ساحل (ان) لی تاج ګنج د یاں له لاسه
کړمي پناه په سر د جود و ستم بندي — ۲۸۰۳

د دنیا کاروانه واره غولول دي[3] — دا ګمان په هیڅا مه کړه چې مې خپل دي
هیڅ مزه په دا جهان کې پاتې نه شوه — دا یخ خوړی په اولو پورې کول دي[4]
کړ دې د وه کاسې دانې وی په کندو کې[5] — پس له شامه هسې والیه[6] چې د بل دي
پوزه غوږ د غوښو شته په هرچا پورې — که د شرم[7] پوزه غوږ غواړې باطل دي
کړ ته دوه[8] اوړې عیبونه د بل شمار کړې — بل به تا ته هسې والي چې ستا شل[9] دي
نصیحت د ناصحانو اثر نه کا — د سرې او سپینې خوښې تنکول دي[10]

۲۶۲ — دا نا اهل همدمان دي نه پوهېږم
کړمې د ساحل (ان) پناهې په ګوګل دي — ۲۸۱۰

---

(۱) "ب" چاپ او د "خ" لومړی نسخه : " زه هر ګوره تر خیل صنم پورې شرمیږم ".
"ق" چاپ : " زه هر ګوره خیل صنم لوړې شرمیږم ".
"ق ک" چاپ : " زه هم ګوره خیل صنم لوړې شرمیږم ".
"ب پ" چاپ : " زه هر ګوره تر صنم لوړې شرمیږم ".
مصوره نسخه : " زه هر ګوره تر خیل یار لوړې شرمیږم ". لومړی بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نشته .
(۲) "ب پ" چاپ : " واسمان ته لاس د عقل نه رسېږي ".
"ق ک" چاپ : " دې اسمان ته لاس د هیچا نه رسېږي ".
(۳) "پ ب" چاپ : " د دنیا چارې همه واړه غولول دی ". د "ب" لومړی نسخه : " د دنیا ورځ ګاره همه وبله غولول دی ".
د "خ" لومړی نسخه : " د دنیا ورځ ګاره همه واړه غولول دی ". د "خ" دوهمه نسخه : " د دنیا کار وبار واړه غولول دی ".
(٤) د "خ" دوهم او مصوره نسخه : " هیڅ مزه په دا جهان کی طمع مه کړه دا یخ خوړی په اولو پورې کول دی ". د "خ" لومړی نسخه :
" هیڅ مزه په دا جهان کی طمع مه کړه یخ خوړی دا د اولو پورې کول دی ". چاپي دیوانونه : " دا یخ سوری په اولو پورې کول دی ".
(۵) د "خ" لومړی نسخه : " په کندو لکې ".
(۶) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه : " والي ".
(۷) مصوره نسخه : " سر ".
(۸) چاپي دیوانونه : " یوا ودوه ". د "خ" لومړی نسخه : " دوه درې ". د "خ" دوهمه نسخه : " دوې نورې ". مصوره نسخه : " دوه ".
(۹) چاپي دیوانونه او نورې نسخې : " سل ".
(۱۰) قلمي نسخې : " بیهوده د سرې او سپینې کوتل دی ".

سپین رخسار و مشکین خال دې و بله ضم دې　　یا محمود او ایاز ناست سره همدم دي
که دې مخ په زلفو پټ شو باک یې نشته (١)　　د حیات اوبه هم پټې په تورتم دي
ستا د زلفو له رخساره له سرو شونډو　　پیدا شوي شام شفق د صبحدم دي
په دهن کې دې غاښونه تجلي کا　　یا غوټۍ په غوټچه کې د شبنم دي (٢)
نه چې اوس زمانه غوڅ ستا په غمزه دی　　چاړه غوښې لا قدیم سره په غم دي
بې ستا وچا ته نه ګوري سیه چشم　　د نرګسو غوړېدو د جوی په نم دي
راحت نه دی چا موندلی بې زحمته　　ستا جفا و وفا دواړه منقسم (٣) دي
ستا د حسن د تعریف له برکته
د رحمان د شعر کوکب پر عالم دي

٢٦٣　　٢٨١٨

چې د خنګه مې دلبر په لاس کې جام دی　　نن اورنګ د زمانې زما غلام دی
مدام کله وي دنیا د دنیا دارو　　بې له عشقه چې دولت یې مستدام دی
د هارون غرخ پای نیلي دی د سپهر　　خو به دوکا چې یې دو په سر د بام دی (٤)
د دنیا چارې په مثل دي د سیوري　　د آفتاب په مخ د سیوري څه مقام دی
که یې صبح ښایسته دی خنده رویه　　بیا یې هسې په هر صبح پسې شام دی
نه په مهر کې آرام شته نه په ماه کې　　په دنیا راغلی هر یو بې آرام دی
ښېګڼې په دنیا چېرې ده رحمانه
یو ښېګڼه دې خوک را وښیې کرام دی

٢٦٤　　٢٨٢٥

ما د ستا و لمن ته اچولی دا چپل ځان دی　　ستا دی زما ندی که دانا دی که نادان دی

---

(١) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "که دې مخ په زلفو پټ دی باک یې نشته".
(٢) د "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "یا غوټۍ چې په غوټچه کې د شبنم دي".
(٣) قلمي نسخې: "مغتنم".
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

خپله سرکشي لوېږي واړه فراموش دي | هسې مې ځان ستا و لوی قامت ته ځیراندی

بې له تاکه سیل[1] په گلستان کړم د گلونو | نه لوهېږم هېڅ چې گلستان د مې کړ زندان دی

چا پېژاندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې | اوس مې ستا له رویه نوم رسوا په دې جهان دی

د بې همه ولې تېر شول د مجنون بې نام ونقشه[2] | عشق دی چې عاشق له ړه هم نام د هم نشان دی

لوی ترکوم چېنجی دې پس وانه چې افسانه شو | واړه په سبب د عاشقۍ دي نمایان دي

واړه د خپل ځان په نظر گوره که دانا یې
اې عبدالرحمانه جهان درست عبدالرحمان دی

۲۶۵

۲۸۳۲

په نامه د هغه خدای مې دا بیان دی | چې یو نوم یې په نومونو کې سبحان دی

هم[3] بادشاه دی د جمله و بادشاهانو | هم د هر لوی سلطان په سر سلطان دی

هغه کار چې وهرچا و ته مشکل دی[4] | هغه کار واړه و ده و ته آسان دی

څوک آفتاب شي په آسمان راخېژ ولي[5] | ده آفتاب راخېژ ولی په آسمان دی

څوک د نمر په مخ حجاب شي غوړ ولي | ده پټ کړی نمر په ابر کې پنهان دی[6]

څوک په شپه کې شي مهتاب[7] پیدا کولی | ده په شپه کې پیدا کړی ماه تابان دی

څوک یو څاڅکی پریستی شي له آسمانه | نزول[8] کړی ده په مونږ باندې باران دی

څوک شي روح ننویستی په یوه ماشي | ژوندی[9] کړی ده په روح تمام جهان دی

---

(۱) "ب" او "ق" چاپ کې "سیر" او په قلمي نسخو کې "گذر" راغلی دی.
(۲) "ب" په لومړي نسخه کې "نام ونشانه" راغلی دی.
(۳) "ب" په لومړي نسخه کې د "هم" پر ځای "دی" راغلی دی په "ب ب" چاپ کې یې دویم مسرۍ داسې ده: "هم د هر لوی په سر باندې سلطان دی"
(۴) د "ق ک" چاپ: "هغه کار واړه په ده باندې اسان دی".
(۵) "ق" چاپ: "څوک آفتاب شي د اسمان ته خېژ ولے".
(۶) له مصري نسخې نه پرته په نورو نسخو کې "پنهان" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړي نسخه: "آفتاب". او دا بیت په "ق ک" چاپ کې داسې دی:
"څوک په شپه کې شي مهتاب راخېژ ولے — ده په شپه کې خېژ ولی ماه تابان دی"
(۸) "ق ک" چاپ او "ق" چاپ کې "نازل" راغلی دی.
(۹) قلمي نسخه: "زنده".

Marfat.com

خوک وسنګ شي رنګ د ګلو ورکولی — ده وسنګ ورکړی رنګ دارغوان دی (۱)
خوک له خاوره شي یو ګل پیدا کولی — ده له خاوره پیدا (۲) کړی ګلستان دی
خوک له اوره شي اوبه پیدا کولی — ده له اوره پیدا کړی زمستان دی (۳)
خوک له سنګه شي ګوهر پیدا کولی — پیدا کړی ده له سنګه درّ و مرجان دی (۴)
خوک شي رزق وهر (۵) مخلوق ته رسولی — دی دهر یوه مخلوق روزي رسان دی
خوک بنده لره ایمان شي ورکولی — ده ورکړی هر مؤمن لره ایمان دی (۶)
خوک له ځمکې وآسمان ته شي ختلی (۷) — ده عیسی لره ورکړی دا امکان دی
خوک له خدای سره خبرې شي کولی — ده موسی مشرف کړی په دا شان دی (۸)
خوک ایښودی په توسن د هوا (۹) زین شي — ایښی ده په هوا تخت د سلیمان دی
خوک په سیند نیره پالي تر قیامته (۱۰) — ده په خضر پاندي کړی دا احسان دی
چې په ده شي هغه کار په هیڅ نه شي — هر توانا د ده تر توان پورې ناتوان دی
په اوبو کې یې د کاني کوټ بنا کړ — ده ورکړی پکې اور لره امان (۱۱) دی

---

(۱) "ق. ک" چاپ: "خوک شي سنګ ته ورکولی رنګ د ګلو — سنګ ته ده ورکړی رنګ دارغوان دی".
"ق" چاپ: "خوک شي سنګ ته ورکولی رنګ د ګلو — ده وسنګ ورکړی رنګ دارغوان دی".
د "خ" لومړی نسخه: "خوک شي سنګ لره د ګلو رنګ ورکولی — ده وسنګ ورکړی رنګ د ارغوان دی".
د "خ" دوهمه نسخه: "ده ورکړی سنګ ته رنګ دارغوان دی".
(۲) د "خ" له دوهمې نسخې نه پرته په نورو نسخو کې "ارغوان کړی" راغلی دی.
(۳) دا بیت په "ب" چاپ، "ق. ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته
(۴) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "د کل مخلوق ته". په "ق" او "ق. ک" چاپ کې د مصرعه داسې ده: "خوک شي رزق رسولی هر یوه ته".
(۶) دا بیت د "ب" په لومړی نسخه کې نشته. د "خ" لومړی او مصوره نسخو کې د "مومن" پر ځای "بنده" راغلی دی
(۷) قلمي نسخې: "خوک له ځمکې وآسمان وته ختی شي".
"ق" او "ق. ک" چاپ: "خوک له ځمکې وآسمان ته دی ختلی".
(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۹) په چاپي دیوانونو کې د "هوا" پر ځای "اسمان" راغلی دی.
(۱۰) "ق" چاپ: "خوک تر دې ره به وبالي تر قیامته".
(۱۱) چاپي دیوانونه: "مکان دی"
لومړی بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
په "ب" چاپ او په نورو چاپي دیوانونو کې د "کوټ" پر ځای "ګوټ" راغلی دی.

په سجده(۱) یې ځمکې سر دی لګولی | هم یې زور ند په رکوع سره آسمان دی
هره ونه په قیام ورته ولاړه | هر ګیاه یې په تسبیح سره ژبان دی (۲)
همه واړه په تسبیح د ده مشغول دي | که ملک دی که پیری دی که انسان دی (۳)
هر ماهي یې په دریاب کې حمد(۴) وایي | هر مرغه یې په چمن کې ثنا خوان دی
حق په حق یې ثنا هیچا کړې نه ده(۵) | نه له هیچا واقع شوی دا بیان دی
مخلوقات و هسې نه دی پېژندلی | لکه د ده سره(۶) چې قدر د خپل ځان دی
حد پایان یې هیڅ سړي موندلی نه دی | معرفت یې هسې بحر بې پایان دی
نه هیڅوک د ده په خبر د ده په شان دي | او نه دی د چا په خبر د چا په شان دی (۷)
نه یې زیان نه یې زوال نه یې نقصان شته | دی(۸) بې زیانه بې زواله بې نقصان دی
نه یې مثل نه مثال نه یې مکان شته | دی بې مثله بې مثاله بې مکان دی (۹)
پاک یې وګڼه بې شکه بې ګمانه | له هغو چې د چا شک د چا ګومان دی (۱۰)
نه یې څوک په سترګو وینې نه لیده شي(۱۱) | او یې چونه بې چګونه نمایان دی
که څوک وایي لیده نه شي لیده نه شي(۱۲) | او که وایي و هر چا وته عیان دی

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "سجود" راغلی دی.
"پ پ" چاپ کې دوهمه مسره داسې ده: "زور ند سر هم په رکوع سره آسمان دی".
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "ګویان دی"
(۳) قلمي نسخه: "که سړي دی که پېری دی که حیوان دی".
(۴) د "خ" دوهمه نسخه کې د "حمد" پر ځای "ثنا" راغلی دی.
(۵) "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "حق په حق یې هیچا نه ده ثنا کړې".
"ق، ک" چاپ کې دوهمه مسره داسې ده: "نه هیچا نه واقع شوی دا بیان دی".
(۶) قلمي نسخو او "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "سره" پر ځای "څخه" راغلی دی.
(۷) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه نسخه کې د "دی" پر ځای "او" راغلی دی.
(۹) دا بیت په "ق" چاپ کې داسې دی: "نه یې مثل نه مثال نه یې پایان شته دی بې مثله بې مثاله بې پایان دی".
په "ق، ک" چاپ کې یې دوهمه مسره له "ق" چاپ سره یو شان ده. په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې یې لومړۍ مسره داسې ده: "نه یې مثل نه مثال نه یې مکان شته".
(۱۰) مصوره نسخه: "له هغو چې د چا فکر په بل شان دی".
(۱۱) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "که یې څوک په سترګو وینې لیدی نه شي".
(۱۲) د "خ" دوهمه نسخه: "که څوک وایي چې لیده شي لیده نه شي".

منزه دی له جمله و جهتونو — او بیا هر جهت په ده باندې ودان دی (۱)

بې پردې په حسن چا ندوي لیدلی — که څوک وايي چې لیده شي تش گومان دی (۲)

له زر گونو صفتونو راشه گوره
چې یې کړي نیم صفت عبدالرحمان دی (۳)

۲۴۶ — ۲۸۶۸

زړه مې ستا په ذکر فکر گلستان دی — تن مې ستا له غمه پا نه د خزان دی

ستا د غم له هجره هسې تړه مند یم — چې په ستر گو کې مې جوړ د ره وکان دی (۴)

ستا کتو مې (۵) عجب زخم په زړه وکړو — چې هم وینې ترې تهېږي هم خندان دی

هسې رنگ مې د خپل زړه له وینو واخست — چې ځان د هست راته په شکل د جانان دی

که د ستا د زلفو مار کاندي خونونه — ما مونده لې ځنې عمر جاودان دی

ځنگدن که هر څو تریخ و تلخ وایه شي — ستا د لبو په مدد آب حیوان دی

آشنايي ترجه الحه کمزورې نه ده — معطر په بوی د مصر د رست کنعان دی

لکه لمر په څلورم آسمان لیده شي — محبت په سل حجابه کې عیان دی

نور د شمع په فانوس کله پټېږي — عشق د عقل په پرده کې نمایان دی

که د ستا په مخ کې بوی د حجاب نشته — زه له ډېرې ځلې (۶) وایم چې پنهان دی

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۲) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو.

(۳) د "ب" لومړی نسخه : "له هزار و صفتونو با ور مه کړه — چې یې کړي دا صفت عبدالرحمان دی".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "له زر گونو صفتونو راشه گوره — یو صفت یې کړي ما عبدالرحمان دی".
د "خ" لومړی نسخه : "له هزار صفتونو یې ادا نه کړه — چې یې کړي دا صفت عبدالرحمان دی".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "له هزار و صفتونو با ور دو کړې — چې یې کړي نیم صفت عبدالرحمان دی".

(٤) دا بیت او ور پسې دوه بیتونه د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو کې دا بیت داسې دی : "ستا د هجر په غم هسې طرح مند یم
چې په ستر گو کې مې جوړ د ور روان دی"
د "خ" په لومړی نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده : "چې له ستر گو مې د میو جوی روان دی".

(۵) په "ق، ک" چاپ کې "ستا لیدو" راغلی دی.

(۶) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "مینې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "حیا" راغلی دی.

طاوس رنګي زلفې چا دي سمې کړي (۱) — چې هر موی یې په څو رنګه په خوشادی
بې پردې په حسن نه وې چا لیدلی — که څوك والي چې لیدلی شي تش ګمان دی (۲)
ښادي غم غوندې اسانه موندل نه شي — سود په خپلو وینو لعل د بدخشان دی
که وصال په هر زمان وای هسې دریغه — لکه غم چې د هجران په هر زمان دی
بې د ستا له ملاقاته چې مشکل شو — نور مشکل واړه په ما باندې اسان دی
هم په دا راته اسان شوه نور غمونه — چې ستا غم د حد په هو رته راته ګران دی
قافله د صبر هیڅ وپساپرې (۳) نه کا — ستا له غمه مې منزل د زړه ویران دی
یو نفس به دې له دره بېرته نه شم — څو مې یو نفس (۴) باقي په دا جهان دی
لکه سر و سامان ستا د زلفو نشته — هسې زړه زما بې سر و بې سامان دی
لکه تا چې تور ګیسو په مخ پرېشان کړه — هم مې هسې خراب زړه پسې پرېشان دی
خوار خاطر به د زنخ سلامت څوک وي
چې ګذر یې ستا په چاه زنخدان دی

۲۶۷ — ۲۸۸۹

ستا د عشق حروف نه تور زړه دی ګلګون دی — هم په دا چې نوشته په جګر خون دی (۵)
تشریح نه شي هغه غم د عشق له مېو — چې یې خاوري د فرهاد و د مجنون دي (۶)
د دنیا چارې همه واړه فاني دي — دا د ستا جور و فا ولې افزون دي
مقتولان ستا د غمزو دي لاله نه دي — چې په سر کفن له څمکې را بېرون دي

---

(۱) چاپي دیوانونه : " طاوس رنګه زلفې دې چا هسې ګره کړي ".
د " خ " دوهمه نسخه : " طاوس رنګه زلفې نه دي چا لیدلي — که څوك والي چې لیده شي تش ګومان دی ".
(۲) دابیت د " خ " په دوهمه نسخه او نیمګړې نسخو کې نشته.
(۳) د " پ " لومړۍ نسخه او د " خ " په لومړۍ نسخه کې : " را باندې نه کا " راغلی دی.
(۴) " ق " چاپ او " ق ، ک " چاپ کې " دم نفس " راغلی دی.
(۵) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(۶) " ق ، ک " چاپ : " یاره ستا جور و جفا ولې افزون دی ".

چې لې هيڅ بها زلميو څخه نشته — جونه نه دي سکه ګنجونه دقارون دي

بادشاهان په يوه دم کې ګدايان کا — مال بدلي فساد ونه دګربون دي

۲۶۸

د صالح ژړه خوناب مګر قبول شي

چې مخونه د دلبرو پرې ګلګون دي

۲۹۹۶

غم دې هسې غلبه شو په ما باندې — چې مې ځای نه شي د ننه نه د باندې

له زګيرويه مې نور خلق په عذاب شول — تل د وچولي کېبله سو ځي تاندې

زه د ستا په غم کې شمع غوندې ژارم — ته زما په ژړا صبح غوندې خاندې

زړه مې هسې ستا په لورې آوېزان دی — لکه زلفې دې په مخ دې آوېزاندې

ما دې ستا دانه ښنو په اور کې سوي — د دنيا اندېښنې واړه لکه سپاندې

دا دستور دی چې لوی[1] غم په سرې ور شي — نور غمونه يې همه شي تر پښو لاندې

هر چې ما په نصيحت له تا جار باسي — بيا دې ستا په لورې درومي ترما وراندې[2]

۲۶۹

سره لمبه ګوره چې څه کا په وچ ځګي

مخ د يار په صالح هسې چاری کاندې

۲۹۰٤

په دنيا کې که څه کار دی خو دين دی — د دې کار په کننده ؤ آفرين دی

چې تقوی او ديندار يې شي په بخره — دهغو د سعادت ستوري قرين دی

قناعت مې هسې خوند په خوله کې کېښنود — چې وچ ټوک مې په دهن کې انګبين دی

بې هاتيانو بې اوښانو بادشاهي کا — دزاړه پوزي ټوکر کې يې قالين دی

چې په خواست د حاجت پورته کالاسونه — دآسمان د ملايکو پرې آمين دی

چې قبوله کهتري کا په دنيا کې — دهغو په بهتري باندې يقين دی

---

(۱) په قلمي نسخو کې "يو" راغلی دی.
(۲) د ن خ دوهمه نسخه: "هغه تله کا ستا ولور ته ترما وراندې".

Marfat.com

تل د لوړې اوبه د رومي وښوړ ته
حق تعالی کمال ورکړی و کمین دی

خاکساري د خاکسارانو مرتبه ده
که زړه وکې یې خیر ن و زړه یې سپین دی

د سرکښو سرکه ورشي و آسمان ته
په دوه ورځې پسې ځای زیر زمین دی

چې سنبوه یې وي په سرکې اولوي کا
د رحمت لیاقت نه لري لعین دی

که صورت یې د سړي، سړي بالرشي
په معنی کې سړی نه دی شیاطین دی

که ګنج سره متاع د دنیا نشته
شکر دا چې نه خودرای دی نه خودبین دی

۲۷۰ — ۲۹۱۶

مخ د یار شمس و قمر درې واړه یو دي
قد د سرو صنوبر درې واړه یو دي

حاجت نه لرم په شهدو په شکرو[1]
لب د یار شهد و شکر درې واړه یو دي

که یې یار په بستر د یاسرین وتیم
نار و خار و د ابستر درې واړه یو دي

چې ور در و دیوار ته یې نظر کړم
باغ بوستان او دغه در درې واړه یو دي

چې غبار یې د کوڅې را باندې راشي
دا غبار مشک و عنبر درې واړه یو دي

خدای د یار له هجره هیڅوک خبر مه کړه
تاخت و قتل دا خبر درې واړه یو دي

هغه دم چې سړی د رومي له جهانه
تور ې خاوري سیم و زر درې واړه یو دي

قلندر چې په رښتیا قلندري کا
خان، سلطان و قلندر درې واړه یو دي

ور دې نه شي په پردي ملک حمله هیڅوک[2]
کوږ و کړ او مبصر درې واړه یو دي

چې دې نه لکې یو یار نه دې آشنا وي
هغه نهر بحر و بر درې واړه یو دي

په دکان د نابینا و جوهر پیانو
خرمهره لعل و ګوهر درې واړه یو دي

پسران دې عار زما له عشقه نه کا
پاک عاشق پسر[3] پدر درې واړه یو دي

---

(۱) د "خ" لومړۍ نسخه: "حاجت نه لري په شهدو په شکرو".
(۲) په قلمي نسخو، "ب" چاپ، "ق" چاپ، او "پ" چاپ کې دا مسره داسې ده: "ور دې نه شي په پردي که حمله هیڅوک".
(۳) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته او په مصوره نسخه کې د "پسر" پرځای "پیر" راغلی دی.

په سبب د ظالمانو حاکمانو — گورا و گورا و پښتنو دري واره يو دي (۱)

۲۷۱ — ۲۹۳۰

غزل و شوه که ځان ستايي و نصيحت ته
بې هنره گاو خر دي واره يو دي

چې دا هسې لاس په لاس دنيا پرېښودي — څه چو چندن په ځان پورې مښودي
دا دنيا په مثال پوله مرگ سيلاب دي — د سيلاب په مخ کې څه پوله ايښودي
جل ځلي لا واده ندوي سره کونه وي — دا رنگ چارې د مرگي د خرښو دي
قافلې چې په دنيا کې شوې داخلې — بيا هم هسې معلومېږي چې دلښودي (۲)
دا سفر به په هغو باندې آسان وي — چې تر کوچ مخوا په زېرمه د توښودي
چې بې وخته راهمان کا په وخت اوده وي — د هغو عالمو بېرې د وکښو دي
په هر شان چې يار خوښېږي زه هغه کړم (۳) — خپلول د صاحبانو په پېښو دي
ديار غم مې لکه تاج وي په سر ايښې — نور غمونه مې همه لاندې تر پښو دي
معشوقې په عاشقانو خود پوهېږي — دلته څه د عاشقو د نښې د ښو دي (۴)

۲۷۲ — ۲۹۴۰

مي خواران کړي خبر شي له مستي نه
د نصيحت د ميخانې شراب د څښو دي

زه بلبل ستا د وصال بوستان خر دی — ستا د وصل په نسبت گلستان خر دی
چې آشنا شي ستا له دره لر د بواره — انتظار يې په روضه د رضوان خر دی
چې روزي يې شهادت شي ستا له تېغه — احتياج يې په چشمه د حيوان خر دی
چې مسکن يې د زړه ستا د زلفو خم شي — وهغوته د عطارو دکان خر دی

---

(۱) دا بيت د "خ" په نسخه کې نشته، په "ن" چاپ او "ق، ک" چاپ کې دا مسرعه داسې ده: "گورا و گورا و پښتنو دري واره يو دي".
(۲) "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ، په "مصره" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دتلو دي" راغلي دي.
(۳) تلميذ نسخې: "په هر رنگ چې يار خوښېږي زه يې کړمه".
(۴) د "خ" دوهمه نسخه کې "ايښودي" راغلي دي.

هر چې لاندې خپل وجود تر خپل قدم کا — عرش یې لاندې تر قدم شي آسمان خه دی

بوالهوس که بوسه غواړي له تا خه شو — هر رنګ هر رنګ ویل کا ندی نادان خه دی

زه چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم — برق و رعد چکاره دي باران خه دی

ځان ځهان مې هسې ستا په مینه هېر دی — نه پوهېږم چې ځان خه دی ځهان خه دی

ته چې نه ګورې وما ته لږ مې پوه کړه — په دا کار کې دې ضرر او نقصان خه دی

که ستا سترګې دي قاتلې زه مقتول یم — وایه نور دې په خاطر کې ارمان خه دی

زه بې صبره یم که مهر د ستا نشته — له دې دوار و دې په زړه کې ګومان خه دی

چې مې وینې ترو مې خه پوښتې له حاله — له عیانه احتیاج د بیان خه دی

۲۷۳ هر چې والي ستا رسی د ملاح غاړه ۲۹۵۳

و توانا و ته حجت د ناتوان خه دی

ښیخ (۱) مې ستا د بنو غشي په سینه دي — پورې وورې مې وتلي تراینه دي

تل یې مخ دیان په مخ باندې وي الښی — هغه زړونه چې بې زنګه آیینه دي

هسې نه چې زه نن ورځ په تا شیدا یم — ستا غمونه مې په زړه کې دېرینه دي

لکه ستورې چې بریښنا کا په آسمان کې — په تهمن مې ستا داغونه نګینه دي (۲)

د رته وایم چې له آهه یې پرهېز که (۳) — ده غو چې پوښاکونه پشمینه دي

که د ستا رخسار سوزانې لمبې وي — ولې کسې زما تور سوي نبینه دي

خه بد سم په صبحدم ګورې وچا ته — چې دې سترګې په مي مستې شبینه دي (۴)

هغه سترګې چې پیدا کړې خلق خونریزې — بې غضبه (۵) په غضب او په کینه دي

شرابیان (۶) چې شراب مومي خو یې شومي — کله منعه په اختر (۷) په آدینه دي

---

* . د دې مخ پاڼیکو: دې په (۲۰۵) مخ کې وکتل شي.

٢٧٤ — ٢٩٦٣

چې تمام د خپل ځيګر په وينو رنګ شو
د تماشاخ (ن) خبرې ځکه رنګينه دي

د عاشق نظر[1] په خوږ دو په خواب نه دی — مراد يې بې د يار له دره[2] بل باب نه دی
ته نظر په خپل هنر په عقل مه کړه — دا اسباب په عاشقۍ کې اسباب نه دی[3]
چې د يار سره حساب د دنيا کاندي — د غه هيڅ په عاشقانو حساب نه دی[4]
چې عاشق په عاشقۍ کې ارباب نه شي[5] — که د درست جهان ارباب شي ارباب نه دی
هر چې يار منعه کوي له خپله ياره — دا کتاب د عاشقانو کتاب نه دی
دا حجاب چې نور[6] عالم يې حجاب بولي — دا زما د يار تر ميانه حجاب نه دی
که ثواب دی هم سيوا د يار له مخه[7] — ما ګڼلی د غه کار په ثواب نه دی
که ليدلې زليخا يوسف په خوب و — ما په ويښه دی ليدلی په خواب نه دی
صبر وښيه په مخ کې که مراد غواړې — هيڅ اګرې د غه کار په شتاب نه دی

٢٧٥ — ٢٩٧٣

تماشاخ (ن) سوال د بوسې کړی دی له ياره
لا يې هيڅ ځنې موندلی جواب نه دی

د عشق زخم خو د زخم پرېشان نه دی — د بل زخم په څېر سهل و آسان نه دی[8]
عاشقان و معشوقې سره پوهېږي — د غه راز و نور عالم ته عيان نه دی[9]
عاشقي نه ده که ګورې حيراني ده — کوم سړی په د غه کار کې حيران نه دی[10]
يو عاشق دی خوک راوښيي په عشق کې — چې يې روڼ په مخ د اوښکو روان نه دی[11]
هو ره اوښکې د عاشق په ګرېوان ووړې[12] — ته به وايې چې يوسيند دی ګرېوان نه دی
دا هجران دی چې يې مرګ په عاشق ګران کړ — که هجران وه سره نه وي هيڅ ګران نه دی[13]

---

* دوې مخ د متن پايليکونه دي په (٢٠٥) مخ کې وکتل شي.

Marfat.com

نور غمونه که په ځان د سړي بد دي — غم د ترکو بد د هیچا په ځان نه دی (۱)

د دوزخ داور که تا وته حده تېر دی — برابر د بېلتانه لمبه نېران نه دی (۲)

چې بالشي څوک په عشق کې کم عقل — دا کم عقل د بر هوښیار دی

۲۷۶ — ۱۸۳

چې بې یاره وجهان وته نظر کړم
کاخ واړم چې ویران دی وران نه دی (۳)

---

د (۲۰۳) مخ د متن پایلیکونه :

(۱) په قلمي نسخو کې "خرخ" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. په "ق" چاپ او "ق .ک" چاپ کې د "داغونه" پر ځای "غمونه" راغلی دی.
(۳) د "ب" لومړۍ نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه : "ورته وایه چې له آدمي پرهېز که"
د "خ" دوهمه نسخه : "ورته وایه چې له آهوېې پرهېز که".
(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) "ق" چاپ او "ق .ک" چاپ کې "بې سببه" راغلی دی.
(۶) د "خ" په دوهمه نسخه کې "مې خوران" راغلی دی.
(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "په جمعه" راغلی دی.

د (۲۰٤) مخ د متن پایلیکونه :

(۱) دا غزل د "ب" په نسخو او مصره نسخه کې نشته.
(۲) "ق .ک" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه کې "دیار له بابه" راغلی دی.
(۳) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "دا اسباب د عاشقۍ اسباب نه دی".
(٤) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "د غه هېڅ په عاشقۍ کې حساب نه دی".
(۵) د "خ" نسخې : "ارباب نه وی".
(۶) د "خ" دوهمه نسخه : "عام عالم"
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه : "که ثواب دی هم ثواب دیار په عشق کې".
(۸) "ق .ک" چاپ : "د عاشق زخم د زخم په شان نه دی
د غه راز ولو عالم ته عیان نه دی".
"ق" چاپ : "د غه راز ونیا عالم ته عیان نه دی".
د "خ" دوهمه نسخه : "د عاشق زخم خو د زخم په شان نه دی".
(۹) "ق .ک" چاپ : "دا د عشق اسرار په هاخا بیان نه دی".
"ق" چاپ : "دا د عشق اسرار په جالما بیان نه دی".
د "خ" دوهمه نسخه : "د غه راز وهر سړي ته عیان نه دی".
(۱۰) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۱۱) "ق" چاپ : "باران نه دی".
(۱۲) د "ب" لومړۍ نسخه : "هو مره اوښکې د عاشق په ګرېوان درومي".
"ق .ک" چاپ : "هو مره اوښکې د عاشق په مخ را درومي".
د "خ" دوهمه نسخه : "هو مره اوښکې په ګرېوان د عاشق درومي".
(۱۳) چاپ دیوان نوند "کم ځان د مخه دمې هېڅ ځان نه دی"
(پاتې یې (۲۰۶) مخ کې)

Marfat.com

هر نګار چې بې وفا دی نګار نه دی / په ګلزار کې چې ګل نه وي ګلزار نه دی (۱)

هغه یار چې اخلاص نه لري یار نه دی / هغه کار چې بېفایدې دی خه کار نه دی (۲)

په تلخۍ د میو مست خلق (۳) مې خوښ دي / هغه خار چې بوی د ګل لري خار نه دی (۴)

دیندار چې د دنیا داري ده حیله (۵) لري / ما لیدلی هیڅ دیندار دنیادار نه دی

که روزګار دی پښتهان کې عاشقي (۶) ده / د دې نور عالم روزګار خه روزګار نه دی

چې تصدیق یې په خپل زړه کې محکم نه وي / دا په خوله ظاهر اقرار خه اقرار نه دی (۷)

په هر زړه چې د خپل یار د غم غبار وي / د غدا بن د رحمت دی غبار نه دی

حیا به کسب نې له عشقه نور خه نه کړي / باري ګنج دی چې هر چا ته اظهار نه دی (۸)

معشوقه وفا له هیچا سره نه کا / ګنه کوم یو د دې رخت خریدار نه دی

---

د ۲۰۵ مخ د متن پایلیکونه :

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . د "خ" لومړۍ نسخه کې یې لومړی مسری داسې ده : " لو غمونه که په ځان د هر سړي دي ".
(۲) دا بیت او ورپسې بیت په قلمي نسخو کې نشته .
(۳) "ق ، ک" چاپ : " نه رحمان وایم چې وران دی ودان نه دی ".

د دې مخ د متن پایلیکونه :

(۱) دا غزل د "پ" په نسخه او مصوره نسخه کې نشته . د دې غزل لومړی بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی : "هغه یار چې بې وفا دی خه یار نه دی
هغه کار چې بې بقا دی خه کار نه دی"

د "خ" دوهمه نسخه : له اغیار سره سودا خه په کار نه دی
له مکار سره روزګار خه روزګار نه دی

(۲) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو .
(۳) "ق ، ک" چاپ : "انسان".
د "خ" دوهمه نسخه : "په تلخۍ د میو مست عالم خرم دي".
(۴) دا مسری د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : "هغه کار چې بوی د خار لري خار نه دی".
(۵) "ق ، ک" چاپ او "ق" چاپ : "سره".
د "خ" لومړۍ نسخه : "وسله".
(۶) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "که روزګار دی په دنیا کې د عاشق دی".
(۷) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "چې بنا یې د تصدیق محکمه نه دي
د ظاهر په خوله اقرار خه په کار نه دی"

(پاته په (۲۰۷) مخ کې)

Marfat.com

د دلدار وصال د خدای په داد مونده شي(۱) — دغه کار مې د هېچا په اختیار نه دی

په (رحمان) باندې منت د معشوقو دی(۲)

۲۷۷ — ۲۹۹٤

د بې حسنو معشوقو منت بار نه دی

هغه یار چې بې وفا دی خه یار نه دی — هغه کار چې بې بقا دی خه کار نه دی

که د سر بښندل د شوار په ما وباديې(۳) — دا په عشق کې سهل کار دی دشوار نه دی

اندېښنه سړي بیدار کاندي لخوبه — کم اندېښنه که بیدار دی بیدار نه دی

که خه عمر دی عاشق لره وصال دی — د هجران عمر د عمر په شمار نه دی(٤)

د چشمانو په ځنبل کې تېر وبېر(٥) شي — اعتبار د زماني اعتبار نه دی(٦)

که د سلون ولیو بېلار شي به لې خه کا(۷) — بې وقوفه زوی د پلار خه په کار نه دی(۸)

معشوقې همېشه ناز په عاشق کاندې

(رحمان) هېڅ لد خپله یاره آزار نه دی(۹)

۲۷۸ — ۳۰۰۱

عاشقان دې په اور سوي دي که نه دي — ستا د عشق په اور الوي دي که نه دی(۱۰)

---

د (۲۰۶) مخ د پاملیکونې پاته برخه:

(۸) "ب" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "باري ګنج دی چې هر یو ته اظهار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه: "چا به کسب د عشق نه کړ باری خه کړي — چې دا ګنج وهر یوه ته اظهار نه دی".

ددې مخ د متن پاملیکونه:

(۱) "ب" چاپ او "ق، ک" چاپ: "د خپل یار وصال د خدای په داد مونده شي".
"ق" چاپ: "د خپل یار وصال د خدای په امر مونده شي".
د "خ" لومړی نسخه: "د خپل یار وصال د خدای په داد مونده شي — دغه کار و هېڅ بنده ته اظهار نه دی".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړی نسخه: "که د سر بښندل دشوار دی وتا ته".
(٤) د "ب" لومړی نسخه: "د هجران عمر په عمر خه شمار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه: "د هجران عمر په عمر شمار نه دی".
(٥) د "خ" دوهمه نسخه: "وهل".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "اعتبار د زماني خه اعتبار نه دی". او هم دا بیت او دو رلسې بیتونه د "ب" په لومړی نسخه کې نشته.
(۷) "ق، ک" چاپ: "که د سلون ولیو بېلار شي خولک به لې خه کا". "ق" چاپ: "که د سلون ولیو بېلار شي خولک به لې خه کاندي".
د "خ" دوهمه نسخه: "که د سلون ولیو بېلار شي ته به لې خه کړې".
(۸) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "بې وقوفه زویه زویه د پلار نه دی".
(۹) د "خ" لومړی نسخه: "معشوقه همېشه ناز په عشاق کاندي — دا رحمان لد خپله یاره ازار نه دی". په "ق" چاپ کې قسم معشوقه راغلی دی.
(۱۰) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه، مصوره نسخه او نیمګړې نسخه کې نشته.

Marfat.com

زحمتونه د هجران واړه په عشق کړې — تا وما وته شو ولې دي که نه دي
په دنیا کې خو یا سر و مال ویل شي — د واړه ما په تا بایللي (۱) دي که نه دي
تل د وړو څو په لېمو د بنو غشي — تا په ما باندې رالکښلي دي که نه دي
چې مدام یې زمانه له غمه چوي — توري زلفې دې پېچوي دي که نه دي
راشه وګوره احوال د عاشقانو — مړه د عشق په تیغ کوټلي (۲) دي که نه دي
ناصحان چې نصیحت وما ته (۳) کاندي — چېرې دوی هم مین شوي دي که نه دي
ښایسته که په ښایست کې ملایک وي — په وکښه د زمونږ نوروي دي که نه دي

۲۷۹ — ۳۰۱۰
بلبلان پسې ناري وهي رحمانه
د بهار ګاونه شوې (۴) دي که نه دي

داڅرونده چې معلوم یې واړه مړه دي — که څه دي هم هسې وایه چې څه نه دي (۵)
یاد باد په مخ کې خاورې دي داتورې — یادا ور په مخ کې واړه وچ واښه دي
د خپل عمر شپې او ورځې چې په زړه کړم — هسې درومي ګویا بهنده (۶) اوبه دي
غافلان که وینې اوري به یې خبر کړي (۷) — دا لې خوب دی نه لېده نه اورېده دي
چې د خدای له معرفته خبر نه وي — هغه واړه که بېدار دي هم اوده دي (۸)

۲۸۰ — ۳۰۱۶
د رحمان د زړه له حاله خدای خبر دے
چې په زړه کې یې دیار له غمه څه دي (۹)

---

(۱) په قلمي نسخه کې "پاسلوي دي" راغلي دي.
(۲) د "ب" په لومړي نسخه کې "په شیر کوټلي دي" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "په سترګو کوټلي دي" راغلي دي.
(۳) په "ب" چاپ او د "ب ب" چاپ کې "دیار ته" راغلي دي.
(۴) په قلمي نسخه کې "توي دي" راغلي دي.
(۵) دا غزل د "ب ب" چاپ کې نشته.
(۶) د "ب" لومړي نسخه: "هسې درومي چې د سیند ګویا اوبه دي". د "خ" دوهمه نسخه: "هسې درومي ګویا بحر دي اوبه دي".
(۷) "ق ـ ک" چاپ: "غافلان چې وینې اوري عمل نه کړي".
(۸) د "خ" لومړي نسخه: "بیدار نه دي".
(۹) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه: "چې په زړه کې یې د اشنا له غمه څه دي".

په ظاهر صورت چې ستا د در ګدای دی ——— په معنی کې د جمله ؤ کدخدای دی[1]
مجنون بېد غوندې رونق د ګلستان شي ——— چې يې ستا له غمه سر په پښت پای دی
چې له غمه د جرس غوندې نالان دی ——— د جمله ؤ ګمراهانو رهنمای دی
چې خوك زړه د ستا و توره وسترګو ورکا[2] ——— ستا د وروځو تر محراب لاندې ئې ځای دی
چې مسکن يې د زړه ستا د زلفو خم شي ——— د هغو نا ستی په سیوری د همای دی
چې تا وويني وما ته نصيحت کا ——— شك پرې مه کوه بې شکه چې خودرای دی

٢٨١ ——— که زردار دي آشنايان د زردارانو
د رحمان د آشنايانو تکيه خدای دی ——— ٣٠٢٢

که مطلب و مدعا د سړي خدای دی ——— هر هر سړی د ژوندیو رهنمای دی
مسافر چې په رحلت کې حبله غن کا ——— هر آواز يې خواب آلود لره درای دی
که سړی و حقيقت وته نظر کا ——— ژوندی خلق واړه ناست د مړو په ځای دی
داخو بخت دی خوك يې سپين او خوك يې توره ——— ګنه عيني لکه زاغ هسې همای دی
لکه فرق چې د همای او د زاغ نشته ——— هم د غه دليل د شاه و د ګدای دی
ته نظر د کاريګر و په کار مه کړه ——— کار هسه واړه موقوف په کارفرمای دی
سالکان چې د جهان تماشا کاندي ——— له جهانه يې مطلب جهان آرای دی
که خوك خپل د دست و پای و ياسي له ميانه ——— خدای بخپله د بې دستو دست و پای دی
په هغه جهان نيکي و بدي نشته ——— هر مطلب د طالبانو په دا سرای دی

٢٨٢ ——— زه رحمان يوازې نه يم په دا کار کې
هميشه ديار په يار پسې وای وای دی ——— ٣٠٢٣

---

(1) قلمي نسخې: "په معنی کی د جمله جهان کدخدای دی".
(2) "ب" په لومړی نسخه او "خ" په نيګړي نسخه کی "توره و زلفو" راغلي دی.

Marfat.com

که د خلقو و نظر ته آدمي دی — خوار عاشق د معشوقې د کوڅې سپی دی

هر چې خان د یار په سپیو کې داخل کا (۱) — تر و هاله به ورته وایم چې سړی دی

ما د خدای د یار له غمه بې غم نه کا — دا په ملك د عاشقۍ کې لوی ورانی دی

زه د یار په غم کې زیړه خیړه خوښیږم — دا زما خزان خزان نه دی سپرلی دی

زه ژوندون د یار و وصال ته وایم — ګنه هر یو د وزخې په ژوند ژوندی دی

ته چې ما منعه کوې د یار له دره — کوم یو دی له د غه دره بریالی دی (۲)

زه د یار مینې په یار باندې شیدا کړم — که خوك ماکښې زه نه یم وایه دی دی

چې وحشي مجنون یې بهر له ره راوست — د لیلی د زلفو هسې غم وندی دی (۳)

زرداران که او به ښې په جام د زرو — خوش زما د اخپل د خاورو کنډولی دی

اورنګ زیب که د ډیلي په تخت نازیږي — خپله خونه هر ګدای له د ډیلی دی

چې له خپله کوره ووځي مسافر شي — خوك یې پیژني ساهو دی که مرتی دی

چې یې خاورې شي له خاورو سره ګډې — تر و چا څه زده چې د کوم نیکه نمسی دی

توره شپه په آشنایانو رڼا ورځ ده — رڼا ورځ په ناآشناؤ تر و ږمی دی

نه دي ستر ګې یو زه غوږ د کم شناختو — په معنی کې یو د بوال سوړی سوړی دی (۴)

عاشقان یې د دنیا له غمه خلاص کړه — عشق په مثل د سلیمان بادشاهي دی

هر چې حب د عاشقۍ لري په زړه کې — که په قطع (۵) صد ساله وي هم ځوانی دی

دا هلال دی چې لیده شي په شفق کې — که په لاس د ګل ندامې سپین نوی دی

ناآشنا به بهره خستګی ځني مومي — چې مدام یې په آشنا باندې غوږی (۶) دی

---

(۱) د "پ ب" چاپ کې "حساب کا" راغلی دی

(۲) دا بیت د "خ" په نیګری نسخه کې نشته.

(۳) دا بیت د "خ" په "وهمه" نسخه کې نشته.

(۴) دا بیت په نیګري نسخه کې نشته.

(۵) په "ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ کې "عمر" راغلی دی.

(۶) په "ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ کې "زبیرګی" راغلی دی.

Marfat.com

خر بوي مې قرباني لره پوهېږم — دا چې کړې دې په ما باندې زړه سوې دې

چې په نوم باندې باله شي لېونی نه شي — معلومېږي چې نر خوږ يا سپين پېرى دى (۱)

چې د خط په دود خلق يکې پرېوځي — زنخدان يې تر سبزې لاندې کوهې دي (۲)

۲۸۳

زه رحمان له ياره خوښ يم که جفا کا
که جفا نه کا وفا کا خو تېرې دي

۳۰۵۵

ستا له غمه مې په مخ باندې ولې دي — لږ مې وپوښته له حاله چې ولې دي؟

زه په تا پسې مجنون يم قارون نه يم — چې مطلب مې غوا وغيلې يا غلې دي (۳)

هغه کوږې لکه تا دي په ما کړې — کله کړې په مجنون باندې ليلې دي

لکه ما چې مصلې درپسې لنګ کړې — کوم ملنګ هسې لنګ کړې مصلې دي

بوی هم ستا د وفا نه دی رالوتی (٤) — ما پخپله خپلې کړې تسلې دي

نصيحت اثر په زړه د عاشق نه کا — ګنه يادې زما ډېرې مسلې دي (۵)

۲۸۴

که رحمان د عاشقۍ په تېغ شهيد شي
د جنت حورې همه واړه دلې دي

۳۰۶۲

چا چې کړې و دنيا وته اسرې دي — د همه واړو په سر خاورې ايرې دي (۶)

نادانان که د دنيا په چار نازېږي — و دانا ته واړه وښتې (۷) مسخرې دي

چې بې خدايه محبت کا هغه خلق — نارينه يې واړه خره او ښځې خرې دي

و سپين ږيري وته مه وايه سپين ږيره — همګي واړه طفلان د ګهوارې دي (۸)

---

(۱) دا بيت په نورو نسخو کې نشته. "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "معلومېږي چې نر خوږ نه سپين پېرى دى".

(۲) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) "ب" چاپ: "زه په تا پسې موسى يم قارون نه يم — چې مطلب مې غوا وغيلې يا ګلې دي".
د پېښور چاپي ديوانونه: "زه په تا پسې موسى يم قارون نه يم — چې مطلب مې غوا، غلې او يا ګلې دي".

(٤) په قلمي نسخو کې "رابلودلى" راغلى دى.

(۵) دا بيت په "ب ب" چاپ کې نشته.

(۶) چاپي ديوانونه: "د هغو په سر همه خاورې ايرې دي".

(۷) "ق، ک" چاپ: "تو کې"؛ د "خ" لومړۍ نسخه: "ږستي".

(۸) د "ب" لومړۍ نسخه: "دا همه واړه طفلان د ګوارې دي". د "خ" دوهمه نسخه: "و سپين ږيري ته مه وايه چې سپين ږيری".

هسې وايه چې څمرې دي دښمنانو | کړي يې ايښې په دستار کې قروړې دي
نه څه فيض نه ځهره ځني مونده شي(۱) | همګي واړه بې فيضه بې بهرې دي

۲۸۵ ۳۰۶۹

ذخيره د دنيا مه کوه صالح نه

دا همه واړه د خاورو ذخيرې دي(۲)

په هر ځای چې ستا ثنا شي شپوه ګرې | خوږه شي هلته د رو مرغارې
د هغو سترګو به اوښکې وي ګلرنګې | هر چې ستا په ګل رخسار وي منتظرې
هغه کله د ناصح خبرې اورې | هر چې اورې ستا خوږې خوږې خبرې(۳)
مړ وړکاندي عاشق له جمله خلق | معشوقې له هيڅ ما مه شه مروري
په ساعت کې سرې مړ هم يې ژوندی(٤) کا | طايفي دي د خوبانو سحر ګرې
زه ځان د وب ګڼم يې تا په خيال و وينو | که مې د وب کا څوک په شهد و په شکرې
لړې لړې غم دې واړه رانږدې کړې | چې له مخه دې حجاب کړې راته لرې
چې مې نوم د ستا د تورو زلفو واخيست(۵) | راپسې شوې د بلا تورې لښکرې
هيڅ په حق د حقلانو نه ګروهېږې | هميشه زما د زړه په ورو منکرې(٦)
زما ستا مينه ښکاره په جهان ده | ولې دا رنګه ښکاره ګواهي(۷) نغرې

---

(۱) چاپي ديوان: "چې نه فيض نه څه ځهره ځني مونده شي".
مصوره نسخه: "نه څه فيض نه څه ځهره ځني مونده شي".
(۲) د "ب" لومړۍ نسخه: "دا همه واړو په سرخا ورې ايرې دي".
د "خ" دويمه نسخه: "د دنيا ذخيرې کل خاورې ايرې دي".
مصوره نسخه: "دا همه دايرو خاورو ذخيرې دي".
(۳) د "خ" په دويمه نسخه کې "ورې ورې خبرې" راغلي دي.
(٤) چاپي ديوان: "په ساعت کې سرې مړ کا هم ژوندی کا".
د "خ" دويمه نسخه: "په ساعت کې سرې مړ بيا يې ژوندی کا".
(۵) چاپي ديوان: "چې مې نوم د ستا د زلفو په خوله واخيست".
(٦) د "ب" لومړۍ نسخه: "هميشه زما په زړه ورې منکرې"
مصوره نسخه: "هميشه زما په ورې زړه منکرې". نو موړی بيت د "خ" په دويمه نسخه کې نشته.
(۷) د "خ" په دويمه نسخه کې د "ګواهي" پر ځای "دعوی" راغلي دي.

Marfat.com

زه چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم — د رقیب کره هم د ولو وي هم سندرې[1]

چې میوه یې د کابل خوږه لیږه وي — د هغو له خمه وخلکې شي ګرګرې[2]

د رند وستړګو حاجت د رانجه نه وي[3] — په بد رنګه ناوې ښه والې سندرې

که په غره په سمه ګرځم باک مې نشته — مزرې تل ګرځي په لوړو په ژورې

۲۸۶

د رحمان شعر به ولې نادر نه وي

چې ثنا کاندي د تا غوندې نادرې

۳۰۸٤

عاشقي را باندې سورې کړې مرې — هیڅ مې نه درومي بې یاره تر مرې[4]

خدا اثر به یې د عقل و په سر کې[5] — د هغو په سر چې کېني سنا پېرې

د مژګانو په پنجو مې زړه راکاږي — خدای د ترکو بڼدې[6] سترګې کړې زمرې

علو فه به یې بې غمه نور څه نه وي — هر چې کاندي د خوبانو چاکرې[7]

لږ د صبر سبق ما لره هم راکړې — که په عشق کې خوك د غه طاقت لرې[8]

خدایه څه دې د کوتوال په لاس کې ورکړم — چې شپه ورځ مې غنو ې لکه تورې[9]

په صورت مې نرې نه شوه ولاړه — تا چې د واړه سترګې تورې کړې نرې[10]

د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم؟ — چې بندي شوم د هجران په کچرې

نور د شمع په فانوس کله پټیږي — تا چې واغوستې د خیال جامې نرې

---

(۱) د "خ" د همه نسخه: "زه چې ستا له غمه تل ژړا فریاد کړم — د رقیب کره هم د ول شته هم سندرې".
د "ق. ک" چاپي دیوان کې د همه مسرې داسې ده: "د رقیب کره مې د ول دي یا سندرې".

(۲) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه په "ب" چاپ، "ق. ک" چاپ، "ق" چاپ، او "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

(۳) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "په رند دستر ګو" راغلي دي.

(٤) د "خ" د همه نسخه: "عاشقي را باندې سورې کړې ژندې — هیڅ مې نه درومي بې یاره تر حلقې".
په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې لومړۍ مسرې داسې ده: "عاشقي را باندې سورې کړې مرې".

(۵) مصوره نسخه: "خدا اثر به یې په سر کې دي د عقل".

(٦) چاپي دیوانونه: "مستې".

(۷) د "خ" لومړۍ نسخه: "که په عشق کې خوك د غه طاقت لرې".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۹) دا بیت په نورو قلمي نسخو کې نشته. په [illegible] نسخه کې داسې دی: "خدای د عشق د [illegible] دلاوه په لاس کې ورکړم — شپه ورځ مې [illegible] وي لکه تبرې".

(۱۰) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.

۲۸۷ — ۳۰۹٤

زه رحمان په زړه نري کړم هغو ترکو[1]
چې يې ملاوې د وښتو په دود نري

که له تا يې شرم نه کېدی هري … مخ به پټ نه وو د حورې او د پرۍ[2]
چې آفتاب دې تر رخسار پورې خجل شو … له دې وېرې زيست په شپه کا قمري
ستا تر حسنه پورې حسن وار هيڅ دی … نسبت به څه له هستو کا برابري
بې د ستا د تورو سترګو چا د وګړو … کوم آهو د بيابان زده وې د دم ګري
ستا د عشق د تورې هسې بار نګ ګوزار دی … چې له مخه يې حباب شي ککري
دلبري او دلجويي لکه چې ستا زده … چا زده هسې دلجويي او دلبري
حسن واره د عاشق په عشق موقوف دی … معشوقه که فرښته وي که چوري
وعاشق ته د يار غم واره ښادي ده … د رضا په ملک کې نشته دلګيري
دا دستور دی چې له درده زګيروي وخېږي
ګنه څه وو د رحمان له زاري

۲۸۸ — ۳۱۰۳

ستا د تورو سترګو په ياد امې اوښکې اوري … حق دی که پر لوڅې په شرات د غم ستوري[3]
زلفې دې سايه کړې مخ دې او رپه تهمان کړي … هر چا ترې ګودم نيم په نور نيم په سيوري[4]
خوږ دې په وصال کې قند نبات خول څېګر خوري … چا وکړو ديد د چا شوه سپين دسترګو توري[5]
او رستا د رخسار د ما په ځيلو اوښکو بل کړو[6] … تل په آتش سوزي آيينه چې لمر ته ګوري
ستر ګې مې د استا له خيال پر بوڅې وزمه ته … څه شو که مې بې سترګو صورتې په بل لوري[7]

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "زه رحمان په زړه هغو ترکو زخمي کړم". په مصوره نسخه او چاپي ديوانونو کې د "ترکو" پرځای "جونو" راغلي دي.

(۲) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.

(۳) دا غزل د "خ" په نسخو کې نشته، د روښتې مسري يې په "ب" چاپ ___ کې راغلې ده: "حق دی که پر لوڅې په شرات د غم کې ستوري".

(٤) د "پ پ" چاپ او قلمي نسخو: "زلفې دې سايه کړې مخ دې نور په تهمان کړي"، د "پ" لومړۍ نسخه: {زلفې دې سايه کړې مخ دې او رداما دې اور ي / او ر دې کړم د ميخ د زړه ترڅ هر يو په دا سيوري

(۵) د "پ" لومړۍ نسخه: "يو اصل دی چې خوږ قند نبات خول څېګر خون خوري — حال ستا دلبا او زما دسترګو توري".

(٦) د "پ" لومړۍ نسخه: "او رستا د رخسار په ما د ځيلو سترګو بل کړم".

(۷) د "پ" لومړۍ نسخه: "څه شو که بې سترګو تش د دي په بل لوري".

کله رقیبانو ته نظر کړي کله ما ته ستا باران د مهر په ښو بد و یکسان اوري

ځان په مستو سترګو بانديې مه غلوه رحمانه (۱)

۲۸۹ ۳۱۱۰

دا مستان هوښیار دي له حکمته سره ښوري

غمخواري یې دا هسي چېرې وي غمخوري چې به ما د لته کې ناست لرې ته ووړې (۲)

هغه خدای چې یې ستا مخ بله لمبه کړ د المبه یې کړه زما په ګوګل پورې

هم هغه دي زما تورې لیمه سره کړي چې یې ستا لا سونه سره کړه ستر ګې تورې (۳)

غل د سرو د مال غلا په توره شپه کا ته په ورځ زما د سر و د مال چور ي

اصیل نه دي چا پیر و دي نه یې پلورې ته اصیل په دیدن پېرې هم یې پلورې

د اکوم رنګ د آشنایۍ او دیارۍ دی (۴) چې زه ستا د مخ ننداره کړم ته مې نورې

د رخانۍ په سل غمونو خدای اخته کړه زه به ولې له تا زار کوم که ګورې (۵)

زه وتا وته د ستا له جوره ژاړم ته را واخلې (۶) سل ګیلې نا درې نورې

د رحمان په عاشقۍ به آفرین کړې

۲۹۰ ۳۱۱۹

که لمن مخ په آئینه کړې ځان وګورې (۷)

ته په هره ګړۍ (۸) غم د سیم و زر خورې زه دې هره ګړۍ وینم چې خپل سر خورې

عاقبت به دې یو څنډه تر سینې ورځي ته چې تل په هر هر (۹) شاخ باندې ثمر خورې

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه: "مه غولېږه د سترګو په وهلو یې رحمانه".
(۲) قلمي نسخې: "چې ما دلې وته ناست لرې ته دورې".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۴) په چاپي دیوانونو کې د "یارۍ" په ځای "وروری" راغلی دی.
(۵) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په لومړي نسخه کې د دوهمه مسرې داسې ده:
"زه به ولې له تا زار کړم خیلې موري".
(۶) "ق" چاپ او "ن. ک" چاپ کې "راوښکې" راغلی دی.
(۷) د "ب" لومړي نسخه: "که لمن مخ وآئینې ته کړې وګورې"
د "خ" لومړي نسخه: "که لمن مخ وآئینې وته وګورې".
د "خ" دوهمه نسخه: "که ته مخ د آئینې وته وګورې".
(۸) د "خ" دوهمه نسخه: "چې په هره ګړۍ".
(۹) چاپي دیوانونه: "هر یو ښاخ"، د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "په هر ښاخ".

Marfat.com

معلومېږي چې خپل غم د سره نشته — ځکه غم د برادرانو د پسر خوري (1)

په عوض یې کوم طاعت کړي راته وایه — دا نعمت چې (2) په هر شام په هر سحر خوري

روژتي هم په څلور پارېسو افطار کا — ته څلور ځله طعام په هر پهر خوري (3)

که یو ځله تر کماله ورسېږي — نو به غوښې د خپل ځان لکه قمر خوري

بې هنر وله قند هم زهر قاتل دی (4) — قند یې وګڼه که زهر په هنر خوري

که سبسبه د نام و ننګ دې شي ترخه ګه — د هر چا په کج روی به خپل ځیګر خوري (5)

۲۹۱

نهال په زړه د صبر (6) نخل کړه رحمانه
چې (7) مدام د بر خوردار و په خیر بر خوري

۳۱۲۸

له چشمانو مې د غمرا و بهي ایدي — چې اغیار (ته) یار زما له قصه ګوي (8)

سر و مال به د قاصد تر راتلو جار کړم — چې خبر را له اوږي د یار له لوري

تر سر کې پېزوان یې جار شه قلندره — لکه مست هاتي مدام په ځنځیر سنوري

ترڅې راغلې خوبان واړه پسې شا شول — لمر چې وخېژي نور څې پټېږي ستوري

شینکي خال دې د جبین په مخ کې زیب کا — لکه حوره د طوطي ونې تر سیوري

۲۹۲

په ځنځیر د بېغمۍ ساعت حرام شو
لکه بېد مجنون بې شماله سنوري

۳۱۳٤

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.

(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "چې ته هر شام"، "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ: "چې ته په هر شام و سحر خوري".

(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته، "ق. ک" چاپ: "ته به څرنګه روژه نیسي په صبر چې څلور ځله طعام په هر پهر خوري" په نورو چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې لومړی مسری داسې ده: "روژتي په څلورم پهر افطار کا".

(٤) د "ق. ک" چاپ او قلمي نسخې: "بې هنر ولره قند زهر قاتل دی".

(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته لومړی مسری یې د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "که سبسبه د نام و ننګ ده ترخنګه".

(٦) مصوره نسخه: "د خیر نخل کړه".

(٧) "ق. ک" چاپ او "ق" چاپ: "که مدام".

(٨) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو، په نورو نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته.

Marfat.com

ترا به ده وځي پورې به جفا کړي — که به مهر وفا هم چېرې پیدا کړي

معشوقې کله جفا کله وفا کا — مېینا یه چې کله هغه کله دا کړي

ما ستا خوی دی وهرچا وته ستا یلی(۱) — چېرې نه چې دې وغږن مې تر هرچا کړي

ستا خو لاس را باندې نه رسي دلبره — چې په لاس د رقیبانو مې سزا کړي(۲)

مرم په دا چې د رقیب(۳) په رضا دې ومې — نه په دا چې ته په ځان خپله رضا کړي

چې د غما وښکي زما د غم خوښې ستا وي(٤) — دا یې راز به مې په درست جهان رسوا کړي

په درست عمر به هېڅ لبدلې نه وي(٥) — هغه چارې چې ته هر ساعت پر ما کړي

ما ځود په کتې پرېږدې چې کړېږم — ته لا ګرزې د رقیب سره خندا کړي(٦)

لاس ترغاړې د رقیب سره خندا کړي — چې ما وویني له قصده را ته شا کړي(۷)

۲۹۳

هر بېګاه والې چې خوله به سبا د کړېږم(۸)
دا بېګاه به په ماخ کاله سبا کړي

۳۱٤٤

په پیرۍ کې چې هوس د مې وناب کړي — بې هوده ګمان په صبح د مهتاب کړي(۹)

بې طاعته عنایت له خدایه غواړې(۱۰) — د عتاب په ځای امید د ثواب کړي

دانسته ګناه کوې توبې وکا بې — لکه بت هسې په غوسترګو خواب کړي

په هغو غوږو چې ذکر د خدای اوري — بیا سماع په هغو غوږو د رباب کړي

---

(۱) د "پ" په نسخه کې "وېلي" راغلی دی.

(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۳) په چاپي دیوانونو کې "اغیار" راغلی دی.

(٤) چاپي دیوانونه: "چې د ستا د غم خصلت دی زما اوښکي".

(٥) د "خ" لومړۍ نسخه: "په درست عمر به یې هېڅ لبدلې نه وي".

(٦) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "کړېږم" پر ځای "نولېږم" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

(۸) چاپي دیوانونه: "هر بېګاه والې سبا له به خوله د کړېږم". د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "خوله" پر ځای "حق" راغلی دی.

(۹) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۰) د "ب" لومړۍ نسخه: "په طاعت عنایت له خدایه غواړې". په "ب" چاپکې داسې راغلی دی: "بې طاعته عنایت غواړې له خدایه" او دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "بې طاعته عنایت له خدایه غواړم د عتاب په ځای امید د آب وتاب کړي".

Marfat.com

په هغو شونډو چې حمد وثنا وايي — هم هغه شونډې بيا د ونې په شراب کړې

علم وکړې هېڅ [1] عمل ورباندې نه کړې — لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړې

په شپه پروت يې د مغانو په ميخانه کې — او په ورځ مخ په لوري د محراب کړې [2]

تمام عمر د دنيا په طلب ګرځې — بيا د خدای په طالبانو حساب کړې

لَه خالقه دې نه شرم نه حجاب شي [3]

۲۹۴ — ۳۱۵۳

لَه ناسه دې ګوښه ونيسې حجاب کړې

چې مدام د بل وعيب ورته نظر کړې — خدای له خپله عيبه ولې ناخبر کړې [4]

که يو جو دانه عيب وينې په بل کې [5] — هغه يو جو دانه عيب به يې لوی غر کړې [6]

که دې خپله ګناه لويه لکه غر وي [8] — په حيله حيله به غر د مچ وزر کړې [7]

که خوک تله د انصاف په لاس کې درکا — خپل تنه او د بل آس به برابر کړې

تو لعنت دې په دا هسې منصفي شه — چې له حقه و باطل ورته ګذر کړې

خدای ورتا د ملائکو مقام درکړ [9] — ته دا خپل صورت په خپله ګاوخر کړې

په نعمت يې شکرانه کولی نه شې — چې زحمت درباندې در شي شور و شر کړې [10]

---

(۱) د پېښور په "ق، ک" چاپ کې د "هېڅ" پر ځای "بيا" راغلی دی.

(۲) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "او د ورځې مخ په لوري د محراب کړې"
د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "د ورځ د ورځې مخ په لوري د محراب کړې".

(۳) دا مسرۍ په "ب" چاپ او "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "له خالقه دې نه شرم نه حجاب دی".
د پېښور "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "د خالقه دې نه شرم نه حجاب شته".
د "ب" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "له خالقه دې هېڅ شرم حجاب نه شي".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "د خالقه دې نه شرم شي نه وېره".

(۴) دا غزل د "ب" په لومړي نسخه کې نشته. د "خ" په لومړي نسخه کې د "ناخبر" پر ځای "کور وکړې" راغلي دي.

(۵) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "د نورو" راغلي دي.

(۶) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "تور غر" راغلي دي.

(۷) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

(۸) د "ب" نسخې او "خ" لومړي او دوهمه نسخه: "که خوک تله د انصاف درته په لاس کا".

(۹) د "ب" لومړي نسخه: "خدای د تا ته د ملائکو مقام درکړو".

(۱۰) دا بيت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.

Marfat.com

چې خلق ستا په رضا کار کا ستا هم بويه — چې دا خپله رضا واړه وخداى وركړي (۱)

نه هغه چې دی به ستا په رضا کار کا — ته خپل ځان دده په کار کې مقصر کړي

که دې يو وېښته دځان دپاسه كوڼ شي — ځان هغه ساعت له خدايه منور کړي

چې ښندلي دي په خداى وي يو ګلوړي — نمايان يې په جهان کې لکه نمر کړي

لکه خوك تر مځکې لاړ شي بيرته راشي — د دنيا دپاره هسې لوى سفر کړي

که يوه رتى د زر په لاس كې كښېوځي — خرڅ خرواړ د عبادت په رتى وركړي (۲)

د ځوانۍ عمر دې تېر کړو په غفلت کې — په پيرى كې به څه زيرمه د محشر کړي (۳)

په دنيا پسې دې لمرې دې رنګ کمرې — ځان وخلقو ته درويش وقلندر کړي

لكه وار چې د زړې لولې تېر شي — اوس تونې له ضرورته پيپين سر کړي

په پيرۍ کې د ځوانۍ چارې (۴) نه شي — ته په ورځ دعا شوې به خدا اختر کړي

لكه بيخ د زړې ونې چينجي وخوري — په دا تېر ثمر به څه بناخ وثمر کړي

د غرباغ به دې خلاص نه شي له خزانه (۵) — كه چاپېر ورځنې سد د سكندر کړي

۲۹۵

وبدخواه وته خوك نېك نصيحت نه كا
ناصح ستا په غم شريك دى كه باور کړي

۳۱۷۳

خدايه مه کړه نااميد هغه وګړى — چې اميد يې وي د ستا په كرم کړي

ستا له رحمه به زه ولې نوميدي کړم — چې دې ځان دى د رحيم په نام نومړى (۶)

خواست زما قبول کړې اى ملك الملكه — ستا د اسم اعظم روى مې دى درود کړي (۷)

---

(۱) دا دوه بيتونه په چاپي ديوانونو كې نشته.
(۲) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه كې نشته. د "ب" په لومړي نسخه كې يې دوهمه مسرۍ داسې ده: "خرواره د عبادت په رتى وركړي"
(۳) دا بيت په مصوره نسخه كې نشته. دوهمه مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه كې داسې ده: "د پيرۍ په وخت به څه نګدا اختر كړي".
د "خ" دوهمه نسخه: "د پيرۍ په وخت به زيرمه د محشر كړي".
(۴) دا بيت په مصوره نسخه كې نشته. په "ق، ګ" چاپ كې د "چارې" پر ځاى "كاروونه" راغلي دي.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه كې "له زاغانو" راغلي دي.
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "چې دې ځان دى د رحيم په نام يادكړي".
(۷) دا غلور بيتونه په چاپي ديوانونو او قلمي نسخو كې نشته، ملا ارسلا خان په نامه له قلمي جونګ څخه نقل شول. نوموړى قلمي جونګ د ښاغلي رفيع په شخصي كتابتون كې شته.

Marfat.com

خلاص یې مه کړه بندیوان بنده د چې مې بینه — چې په غاړه یې وي ستا د مینې پړی

همیشه به ړنځوری او ملن ګرځي — چې یې نهال وي په سینه د مینې زړی

که ملاح ستا د الطاف وي چې خلاص کا — ګنې نه شي خلاصېدی د عشق سیندولي

دا نیمګړي سړي ننګ هم د خیل نام کا — ته خو خدای یې چې په هېڅ نه یې نیمګړی (۱)

هېڅ بنده دې په بندګي (۲) کې لېده نه شي — چې تا خط د ازادۍ (۳) نه دی ورکړی

دا همه واړه شومیت دی د شومانو — ګنې ته د چا په زړه نه یې ستړی

چې یې تالې په زړه باله هوا ګرزي — تر مقصوده به ونه رسي وګړی (۴)

۲۹۶ هر چې ستا په لاره قدم د راستۍ کېږدي
که یې زیان وي زه رحمان یې پوه وي ۳۱۸۴

د آشنا له لاسه ناست یم په زړه ستړی — په فلوس مې په کار نه دی درست وګړی

چې په ژوندي طمع پرېکړه شي له ژونده (۵) — نو په څه باندې ویرېږي سړي پرېکړي

که ژوندون د عاشقانو په وصال وي — زه مهجور یم په دغه روایت مړی

خوب ژوندون مې جدايي هسې را تریخ کړ — چې د غم له تلخۍ دم نه شم رانغړی

دا صورت (۶) په مثال خس محبت اور شو — ترو د اور په مخ کې څه کاندي خسړی

لا علاج به لکه اوښ باربرداري کا — چې په پوزه یې پېیزوان شي د عشق پړی (۷)

۲۹۷ له احواله یې ووو پوښتي یارانو
بېلتانه د رحمان واره دي خطا کړي ۳۱۹۱

---

(۱) د "ب ب" چاپ: "نه خو خدای وي چې په هېڅ نه دې نیمګړی".
"ق ک" او "ق" چاپ: "ته خو خدای یې په هېڅ خیز نه یې نیمګړی".
(۲) د "ب ب" چاپ او "ق ک" چاپ: "بزرګي".
(۳) د "ب ب" چاپ: "بزرګه".
(۴) د "ب" لومړی نسخه او "خ" لومړی نسخه: "دووړي" ـ د "خ" دوهمه نسخه "خوب وړي".
(۵) د "خ" لومړی نسخه: "بېتر وندون چې طمع پرې کاله ژوندونه".
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "داژ وندون".
(۷) د "ق ک" چاپ: "د غم پړی".

خو به هسې آزادي په دا ځهان کړې — چې خبرې به د سرو د سامان کړې (1)

همېشه به دا ځهان در باندې نه وي — چې به سیل په بوستان په ګلستان کړې

واره دردي بدلوي (بې) په مشکینو — هر تلاش چې د دنیا په سود ... کړې

غمخواري د آل عیال دې حمقي ده — چې د بل په زېړ مه ګرځې خپل ... کړې

په نفاق کې به ضایع شې مرد هاله — که بخواتر دښمن جمع خپ... کړې

چې په دوو به یو یېښې زدي هغه دوب شې — بېهوده دلبستګي په این و آ... کړې

۲۹۸

د تېر عمر ارمان مه کوه ځوانه
چېرې نه وې چې بیا دا ساعت ارمان کړې

۳۱۹۸

خدایه زړه د رقیب نرم په احسان کړې (2) — مال د یاره ، یار له ما سره یکسان کړې

هغه درد چې د آشنا د بېلتانه دی — دفع رفع (3) یې د وصل په درمان کړې

ته چې ما منع کوې د یار له لورې — کشکي باد د سحر منع په بوستان کړې (4)

غم د هجر چې تېری، تر او ره سخت دی (5) — له دې غمه مې په امن په امان کړې

کار و بار د عاشقۍ ډېر مشکل دی (6) — دا مشکل زما په ما باندې آسان کړې

حجاب لرې کړه زما د یار تر میانه (7) — بې حجابه مخ د یار راته عیان کړې

که مطلب د نور چا نورې منتې دي — ما ګدای په آستانه د خپل جانان کړې

که د انور عالم وبله خواته ګوري — ما په لورې د دلبرو (8) نګران کړې

---

(1) دا غزل د "خ" له دریمې قلمي نسخې نه نقل شو.

(2) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته. ددې بیت لومړی مسرعه د پېښور په چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې داسې ده: "خدایه زړه د مهر وبانو مهربان کړې"

(3) په "ب" چاپ کې "دفع ورفع" راغلی دی.

(4) دا بیت په قلمي نسخو او د پېښور د قصه خوانۍ "ق. ک" چاپ کې نه دی راغلی

(5) دا مسرعه د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "غم د هجر چې بتر تر کاڼي اور دی".
په پېښور چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "غم د هجر چې تېری تر کاڼي اور دی".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې "غم د هجر چې تېر تر کمې او وېر دی".

(6) د پښتو ټولنې د لومړۍ نسخې نه پرته په نورو ټولو کې دا مسرعه داسې راغلې ده: "کار و بار د عاشقۍ چې ډېر مشکل دی."

(7) دا مسرعه په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده: "حجاب لرې کړه زما له یاره تر میانه"

(8) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "دلبرانو" راغلی دی.

Marfat.com

نه به ما منع کړي ته، له خپله یاره — نه به کوز په حمله ستوري د آسمان کړي (۱)
نه چې یار لره ورځم په هغې لار کې — (۲) مهتر خضر مهتر الیاس مې رهبران کړي
تاریکي د معصیت راته واخلي — د طاعت په روښنائي مې زړه روښان کړي
چې زما په پریشانۍ یې (۳) زړه سند کړي — زړه یې ما غوندې په یار پسې پریشان کړي
چې زما په چمن راشي گستاخي کا — د شبنم په څېر یې غم یو زمان کړي (۴)
چې آزاده د منگر تر سره پر بوځي — د فلك په څرخ مې توره د زبان کړي (۵)
هغه غشي چې د ترکو د غمزن وي — هر کلام مې د هغه غشي پیکان کړي (۶)
چې کشور د افغانانو معطر کا (۷) — دا هر بیت مسرۍ (۸) مې زلفې د خوبان کړي
چې هر حرف مې د نافې په څېر خوشبوي شي (۹) — برکت مې په جزدان په قلمدان کړي

(۱۰) الهي د خیل حبیب له برکته
دا ساده انشا رنگینه د لعل کان کړي

۲۹۹ — ۳۲۱۶

ما په تا پسې د اسپینې جامې رنگ کړي — تر لا بیا په ما گومان د نام و ننگ کړي (۱۱)
هیڅ اثر دې په سنگین خاطر ونه شو — که هر څو مې مصلي در پسې لنگ کړي (۱۲)

---

(۱) دا بیت په قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۲) دا مسری د "پ" په چاپ کې داسې راغلی ده: "مهتر خضر او الیاس مې رهبران کړي".
"ق. ک" چاپ کې داسې راغلی ده: "نه چې یار لره ورځم په کوم لار کې مهتر خضر او الیاس مې رهبران کړي".
(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "یې" پر ځای "دې" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۵) دا بیت د "پ" او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۶) دا بیت د "خ" په لومړۍ او دوهم او د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۷) په "پ" چاپ او په پېښور ملولو چاپي دیوانونو کې د "کا" پر ځای "شي" راغلی دی.
(۸) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۹) دا مسری په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "چې هر حرف یې د نافې غوندې خوشبو وي".
"پ" چاپ: "چې هر حرف یې د نافې په څېر خوشبوي وي"
د پېښور "ق. ک" چاپ: "چې هر حرف د نافې غوندې خوشبو وي".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "هر چې حرف یې د نافې په څېر خوشبوي وي". دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۰) دا مسری د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "الهي د پیغمبر له برکته".
(۱۱) دې بیت لومړۍ مسری په "ق. ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "ما په تا پسې د خپلې جامې رنگ کړي".
دوهم مسری یې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "تر لا بیا گومان په ما د نام و ننگ کړي" او دا نوري غزل په مصورو نسخو کې نه دی راغلی.
(۱۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "هیڅ اثر یې په سنگین خاطر ونه شو که هر څو مې مصلي در پسې رنگ کړي".

دلسوزي به دې په نور وګړي خو وي (۱) — چې له ما غوندې مخلص سره جنګ کړي
ته په عشق کې ما هاله در وغږن بوله — که (۲) يو بل هم هسې ما غوندې ملنګ کړي
داناړې سوړې غمازي دي په عشق کې — ګنه ما به د بلبل په څېر آهنګ کړي (۳)
عاشقي ومعشوقي ته سپينه لار ده — ته وما وته دا سپينه لار ګړنګ کړي (٤)
چې يو دم مې له نظره پناه کېږې (۵) — دا جهان لکه لحد را باندې تنګ کړي
په ښه خوی سره دخلقو افسانه وې — خدای زما له کم بختيه په زړه سنګ کړي (٦)

۳۰۰ — دا دې خولې له خندګه ناست دی نه پوهېږم (۷)
چې خبر به له کاځ سره په خنګ کړي (۸) — ۳۲۲۵

که د عشق شکرې تېرې تر ګلو کړي — نور لذت به لکه زهر هسې تو کړي (۹)
که دې وشي ملاقات له رسوقده — د قاضي په څېر به کوکې په کو کو کړي (۱۰)
عاشقي به د عشق توره در په لاس کا — تر و د صبر د سکوت په ملک به هو کړي (۱۱)
په انصاف په عدالت به نوشيروان شي — هر عمل به (۱۲) دخپل ځان په ترازو کړي

---

(۱) دا مسري په "ب" چاپ او "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : " دل سوزي به دې په لوړ وګړي خه شي ".
په "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده : " دل سوزي به دې په لوړ وخلکو خه شي ".

(۲) د "خ" په دوارو نسخو کې د " که " پر ځای " چې " راغلی دی.

(۳) دا بيت په اره وادو چاپي ديوانونو کې داسې راغلی دی : " داناړې سوړې غمازي دي په عشق کې ګنه تل به د بلبل په څېر پتنګ کړي ".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی : " داناړې سوړې غمازي دي په عشق کې ګنه تل به د بلبل په دود په ننګ کړي ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : " داناړې سوړې په عشق کې دي غمازي "

(٤) دا بيت په "ب" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : " د عاشق ومعشوقي ته سپينه لار دا ته دما وته دا سپينه لار ګړنګ کړي ".

(۵) دا مسري په قولو وادو چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده : " چې يو دم مې له نظره نه يو خوا شي ".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسري داسې راغلې ده : " چې يو دم مې له نظره يوه خوا شي ".

(٦) په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی : " په ښه خوی سره دخلقو افسانه شې خدای زما له کم بختيه په زړه سنګ کړي ".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې : " چې ښه خوی لوی دخلکو افسانه يې ".

(۷) په پښتو چاپي ديوانونو کې او د "خ" په لومړۍ نسخه کې " ناسته دوايه " راغلی دی.

(۸) د "ب" د لومړۍ نسخې نه پرته په قولو کې " جنګ " راغلی دی.

(۹) دا رديف په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۰) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی " که په قدرس وقد ودې ګذر شي د قاضي په دود به کوکې په کو کو کړي ".
په "ق، ک" چاپ کې په لومړۍ مسرۍ کې د " په څېر " پر ځای " هسې " راغلی دی.

(۱۱) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی او په قولو وادو چاپي ديوانونو کې يې دوهمه مسرۍ داسې راغلې ده : " تو به د صبر د سکون په ملک به هو کړي ".

(۱۲) په "ب" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه او "ق، ک" چاپ کې د " به " پر ځای " چې " او په "پ" چاپ کې " کړه " راغلی دی.

Marfat.com

د سکندر په خېر جهان به د ځر ګند شي(1) — کړ سر کوز په آیینه د خپل زانو کړي

تر یخ لوګي به لې د قند و په خېر نغر د شي(2) — که صورت د عشق په اور کې تمالو کړي

و به نه وینې د ترکو مستې ستر ګې — مګر ځان به په خپلو وینو کې سالو کړي(3)

که یو ځله تورې زلفې په شانه کړي — خاکستر به په چمن کې کښالو کړي(4)

درست جهان به قاف تر قافه معطر شي — که یو ځله شانه ګډه په ګیسو کړي(5)

ستا د زلفو مار خوړلي به روغ نه شي — که افسون د مسیحا ور باندې پو کړي

لاس و پښې دې بې زیوره ښایسته دي — خرمنت به د پایلو(6) د باهو کړي

۳۰۱

که سوزن د بڼو راوړې تار د زلفو(7)
د رحمان د زړګي زخم به رفو کړي

۳۲۳۷

(8)

تا چې ځ د پېرې سترګې د آهو کړي — نه پوهېږم چې آهو یې که جادو کړي

دعاګوي چې د چا و مري خو ښادي ده(9) — تر په خو زما و مرګ و ته ارزو کړي

په محراب د عاشقانو کاڼي وو دي(10) — ته چې چین د جبین غوټه په ابرو کړي

تا چې رنګ د ګلو واخیست زه پوهېږم — زرغونه به په څېره زما ګنګو(11) کړي

ستا له ډېره ډېره څوره معلومېږي — چې به ما په خپلو وینو(12) کې لاهو کړي

---

(1) د امسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده : "د سکندر په خېر جهان به دې د وزې شي"، په "ب" چاپ او "خ" لومړي نسخه کې "د سکندر په خېر شاهي به د پا د وزې شي" او د پښور "ق، ک" چاپ کې "د سکندر په شان جهان به دې د وزې شي" راغلي دي.

(2) د "ب" په لومړي نسخه کې "نغره"، په "ب" چاپ کې "نغرده" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "نغر" راغلي دي.

(3) د "ب" لومړي نسخه : "مګر ځان په خپلو وینو کې لاهو کړي".

(4) دا بیت په ((و دارد چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړي نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې په دریمې ردیف کې راغلی دی.

(5) دا بیت په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړي نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې په دریمې ردیف کې راغلی دی.

(6) د "خ" په دوهمه نسخه کې "پاولیو" راغلي دي.

(7) لوموړي نسخه بلیتونه په چاپي دیوانونو کې په "تا چې ځ د پېرې سترګې دې آهو کړي" غزل کې راغلي دي.

(8) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه او مصحح نسخه کې نه دی راغلی. او دا بیت د "ب" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی : "تا چې ځ د پېرې سترګې د آهو کړي تر و پېرې که آهو یې که جادو کړي" د دوهم مسرۍ یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "نه پوهېږم چې پېرې یې که آهو یې که جادو کړي".

(9) د "خ" په دوهمه او د "ب" په دوهمه نسخه کې د "ښادي ده" پر ځای "ښادي که" راغلي دي.

(10) د پښور "ق، ک" چاپ کې "پر یوځی" راغلي دي.

(11) په "پ" چاپ کې "ګنګو" راغلي دي.

(12) په "پ" چاپ، د "خ" دوهمه او د "ب" په دوهمه نسخه کې د "وینو" پر ځای "اوښو" راغلي دي.

Marfat.com

(۱) روغ به نه شي بې دیار له شه دیدنه — که سل پنده سپېلني څوانه لوګي
د غفلت لېچن لیمه به دې روښان شي — که دیار د کوڅې خاورې ته خښلوکړې (۲)
دا دارو ته بد دوالي کوې طبیبه — چې دیار په درد و غم کې مي دار وکړي (۳)
نصیحت په عاشقانو اثر نه کا — دا محنت وار ه بې ځایه بې قابو کړي

۳۰۲ په ماخ باندې بې یاره خوب حرام دی
۳۲۴۷ که یې سل پالنګه (۴) لاندې تر پهلو کړي

(۵) که نظر په ما توګوره و دروزګار کړې — هومره نه دې چې حساب یا به یې شمار کړې
په هر غم کې خاموش اوسه او که نه وي — د بدخواه خاطر به ښه د دوست (۶) ازار کړې
صبر ونیسه په محکې که مراد غواړې — په تلوار به هیڅ ونکړې که تلوار کړې (۷)
رضا پاسله و قضا ته فراغت شه — او که نور څه نور څروالي ځان به خوار کړې (۸)
آزادي او کاروباري (۹) وبله لري — لاس له کاروباره و باسه که کار کړې

۳۰۳ چې یخیله یې فاني بولي رحمانه
۳۲۵۳ تر و بیا خه په هغو چارو اعتبار کړې (۱۰)

---

(۱) دا دې خ لومړی پنځه بیتونه ، په اردو دارو چاپي دیوانونو کې په " که دعشق شکرې تیرې تر ګلو کړې " غزل کې راغلي دي.
(۲) دا بیت په "پ" چاپ او "ق ،ک" چاپ کې داسې راغلی دی: " د غفلت لېچن لیمه به دې بیناشي که دیار د کوڅې خاورې دې خښلو کړې".
په "ب" لومړۍ نسخه کې یې وروستۍ مسرۍ داسې راغلې ده : " که دیار د کوڅې خاورې خښلوکړې ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده : " که دیار د کوڅې خاورې په خښلوکړې ".
(۳) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی : " دا دوا که بد دوا کوې طبیبه چې دیار په درد و غم کې مې دار وکړي ".
په "پ ب" چاپ کې داسې راغلی دی : " دا دارو ته بد دوا کوې طبیبه چې دیار په درد و غم کې مې دار وکړي ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : " دار دې دادی که دوا کوې طبیبه که دیار په درد و غم کې مې دار وکړي ".
(۴) په قلمي او اردو چاپي دیوانونو کې د "پالنګ" پر ځای "بالښت" راغلی دی.
(۵) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی . په "پ ب" چاپ کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "هومره نه دی چې حساب او یا یې شمار کړې".
(۶) په "پ" چاپ ، د پېښور "ق ،ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې "ښاد" او "پ ب" چاپ کې "خوښ" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او لومړۍ مسرۍ یې په "پ ب" چاپ کې داسې راغلې ده : " صبر ونیسه په محکې مراد غواړه".
(۸) ددې بیت لومړۍ مسرۍ په "پ ب" چاپ کې داسې راغلې ده : " رضا وسپاره قضا ته فراغت شه ".
(۹) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده : " آزادي او کاروبار دې سره لري " ؛ خو د "پ" په دوهمه او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "وبله" او "سره" پر ځای "جُبله" راغلی دی.
(۱۰) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : " تر و به خه په هغو چارو اعتبار کړې ".

Marfat.com

ولې ولې وعاشق ته نظر نه کړې — داگدای(1) په دیدن ولې توانگر نه کړې

ستا دې د برېښ حیا د برکو ونه وران کړل — چې وهچا ته کاته برابر نه کړې(2)

ستا په د حسن مې دا عقیده نه شي — چې دا روغ وگړي وار واوتر نه کړې

ته پلوله مخه وا اخله زه ضامن یم — که او رنگ د زمانې قلندر نه کړې(3)

زما هر زمان هر دم په تا گذر دے — ته یو دم زما په لوري گذر نه کړې

لکه ته چې دلاور زما په مرگ یې — چیرې دا رنگه رقیب دلاور نه کړې

زه دستا په جفا خوښ یم تل تر تله — که غماز مې له دې رازه خبر نه کړې

گذشته جور وجفا دې اواره وي(4) — که دا جور وجفا بار دیگر نه کړې

هغه څوک دي چې په ستا له دره درومي — که یې ته له خپله دره بدر نه کړې

سنگدلي ده هغو خلقو له رحمه — چې یې ته په مجلس ورشې اثر نه کړې

٣١٤ رحمان ستا میني رسوا کړ بارې حیف دے — چې ته هیڅ په دا خبره باور نه کړې(5) ٣٢٦٤

وخوبانو وته ولې نظر نه کړې(6) — دیمن په گلو ولې گذر نه کړې

دا هار چې دبېستان یې معطر کړ — دماغ ولې په دا بوی معطر نه کړې

رضا ولې په قضا سپارلې نه شې — دغه زهر په ځان ولې شکر نه کړې

جاك زده چې په نارو د مرگ خبر یې(7) — ځان پخوا تر مرگه ولې خبر نه کړې

چې د نور خلقو په سر اچوې خاورې(8) — ته په خپله خاورې ولې په سر نه کړې

---

(1) "خ" په لومړي نسخه کې "خوار گدای" راغلی دی.

(2) "خ" لومړی نسخه: "ستا دې د برېښ حیا د برکو ونه مات کړه چې هچا وته کاته برابر نه کړې".

(3) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(4) چاپي دیوانونه: "گذشته جفا دې واړه آواره وي". "خ" لومړی نسخه: "گذشته جور وجفا واړه معاف دی".

(5) مصوره نسخه: "چې یې ته په دا خبره باور نه کړې".

(6) دا غزل "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسری "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "ولې ولې په خوبانو نظر نه کړې".

(7) "ق" "ک" چاپ کې "خواب آلود" راغلی دی.

(8) "ق" چاپ او "ق" "ک" چاپ: "چې نور خلك دې په سر اچوي خاورې". "خ" دوهمه نسخه او "پ" لومړی نسخه: "چې دې هغه تا دې په سر اچوي له خلکه".

پس له مرګه چې پیا مري له لوږې تندې ‌‌ ولې نن ساعت تو سنه د محشر نه کړې

۳۰۵ ‌ ۳۲۷۱

دا ویل چې دي اثر کاندي په نورو[1]
ای رحمان ولې په ځان اثر نه کړې

چاچې مړي وي په خپلو وینو ولّلي[2] ‌ د شبنم په څېر به تل وي سپين سپېځلي
چې صیاد ځنې دا وښکو دانې نه وي ‌ د هوا مرغان هیڅ نه دي نیولي
هر یو مخ کله لایق د آبروئي وي ‌ او ښکې نه دروي په مخ د هر نا ولي
هره شپه به شمع خدای ژړا کا ‌ کنې نه وي په ژړا کې څه موندلي
چې سیلاب د عاشقۍ وړ باندې راغی ‌ مخلوقات په مخه لاړل لکه خلي[3]

۳۰۶ ‌ ۳۲۷۷

ما رحمان به ژړا نه کړه له خوبانو
کـه مې نه وی په قسمت د اهسې ښکلي

دلبر مخ چې ستا له مخه نه شرمېږي ‌ ترو د رنګه ولې زېړ ندې غوږ ښکارېږي[4]
دا سپوږمۍ چې نه لي سر رشته نه لي پښې شته ‌ په کوم حسن به له تا سره سمېږي[5]
زړه مې یو ورستا د مخ په رنګا زلفو ‌ باري غلې په سپين سبا کله پټېږي
خم ابرو مې د پناه د زلفو تم شي[6] ‌ دلبرم لښه له ما سره تا وېږي
که قامت دې خوږ شمشاد بولي غلط دی[7] ‌ دلګیر په نرخ سپين ندې نه یا فتېږي
ورند انو ته دې دُر ویلې نه شم[8] ‌ کاڼي کله د برېښنا په دود ځلېږي

(۱) چاپي دیوانونه: "دا ویل دي اثر کله کا په نورو".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "خ" په لومړۍ او د "ب" په لومړۍ نسخه کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "چا چې لاس وي په خپلو اوښکو وللي".
(۳) دا بیت د "ق، ک" له چاپي دیوان نه نقل شو. په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته.
(۴) چاپي دیوانونه: "لمر سپوږمۍ که ستا له حسنه نه شرمېږي ‌ ترو دوی ولې نه غوښه او نه پر ښکارېږي".
(۵) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "برېښېږي" راغلی دی.
(۶) دا بیت او دوه نور بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. د "ب" په لومړۍ نسخه کې دا بیت داسې دی: "خم ابرو د پناه هم د زلفو تم شي ‌ دلبرم له ښه شرمه، حیله تاوېږي".
(۷) په چاپي دیوانونو کې "ستا قامت" راغلی دی.
(۸) "ب" چاپ: "وسپین غاښو ته دې دُر ویلې نه شم".

ستا د زلفو د ابرو یو له وحشته[1] — همګي لړم ماران دي چې ودرېږي

لکه لوند نمږوکی تا وکړي نوي ووزي — ستا له غمه مې رنګ زېړ پو مې چې بڼي[2]

سپوږمۍ مې هم هسې تا وخوړي ستا له مخه — چې په هره میاشت کې دوه دوه نیمه کېږي

مخ دې اور خط دې سبزه ده زه حیران یم — چې سبزه په اور کې څرنګ زرغونېږي

اور او به سره چا ګډ لیدلي نه دي — دا قدرت دی ستا په لبو کې نمایېږي[3]

باریک خط یې زلفو لاندې کم رحمانه

مورچګان د شپې له مخه پایمالېږي

۳۱۷ — ۳۲۸۹

صبحدم چې هغه یار راباندې راشي — عجب لمر د لمر د پاسه هویدا شي

سنګلي مخ لره حاجت د سینګار نشته — بې ترتیبه چې لمر وخېژي رڼا شي

چې یې وویښم له ورایه پورې نښلم — لکه پېښې چې وبله کاه وکهربا شي

مال د مړي بې ناچاره ویارته شاکره — ناروا د ضرورت په ځای روا شي

زه په وصل کې خواري د هجران ژاړم — د هر کار فکر تر کاره لا پخوا شي

لا پخوا تر جدایۍ نه ژړا بویه — ګنه هلته هر یو ژاړي چې جدا شي

وصال نه دی چا په سر و مال موندلی — مګر غاړه په دا کار د چا ادا شي

زه به سر و مال د یار تر نامه جار کړم — دا په عشق کې سهل کار دی که په دا شي

د رحمان په اوښکو هسې رنګ پوهېږم

چې آخر به په تمام جهان رسوا شي[4]

۳۱۸ — ۳۲۹۸

کړد ګلو کمه چې سېمه دې ګلزار شي — اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي

---

(۱) په قلمي نسخو کې "له ورېځې" راغلی دی
(۲) دا بیت او ورپسې بیت په قلمي نسخو کې نشته
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "ښکارېږي" راغلی دی.
(۴) د "ب" لومړۍ نسخه: "چې دا پټ راز به په تمام جهان رسوا شي".

تر څو بل په غشو ولې هسې پوه شه ... چې هم داغشي به ستا په لسو رګو زار شي

کوهې مه کنه د بل سړي په لار کې ... چې ړې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

تر څو هر چا ته په خوار و ستر ګو ګورې ... لا به پو هې به ستا صورت تر خاور و خوار شي

آدم زاد په معنې واړه یو صورت دی ... هر چې بل ازار وي هغه ازار شي

که ته نه کوې نظر د چا و عیب ته ... هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شي

دهقان کر په لوړه ځمکه باندې نه کا ... سر کوزی کوه چې بن دې مرغزار شي (۱)

دمات لو ښي آواز کله ثابت څېږي ... د هر چا عمل خرګند په خپل ګفتار شي

تر څو صبح دی روښانه لار سمې کړه ... ناګهان به دې دا صبح شب تار شي (۲)

لږ چې مه ګڼه که هر څو ګناه لږ وي ... چې لږ لږ ويله جمع کړې بسیار شي

که بل بد کاندي ته ښه ور سره وکړه (۳) ... هر یو نخل چې میوه لري سنګسار شي

تل وښو وته آزار د بدو رسي ... هر څېنج و نرم چوب وته د و خار شي (٤)

هغه زړه به له طوفانه په امان وي ... چې کښتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي

۳۱۹

خدای دې بد له لاسه مه کړه او کړوي هم

د صالح دي له کل بد و استغفار شي

۳۳۱۲

هر و ګړی چې منصور غوندې په دار شي ... دار ېې پس له مرګه نخل میوه دار شي

روغ صورت که روغ عالم لره کمال دی (٥) ... لیوني لره کمال دی چې سنګسار شي

هر ګیاه چې و کمال ته ورسېږي ... سر و ځمکې وته کوز وي نګونسار شي

نری باد به یې په خپل منزل دا ځل کا ... که څوک پا نه د خزان غوندې ظیار شي (٦)

---

(۱) قلمي نسخه: "سر کوزی کړه چې پېتي دې مرغزار شي".

(۲) دابیت په "ق،ک" چاپ او "خ" په "دوهمه نسخه" کې نشته.

(۳) قلمي نسخه: "که بل بد کاندي ته ښه کړه مه رنځېږه".

(٤) "ب" چاپ او "پ" چاپ کې "چوب ته ور دو خار شي" راغلی دی.

(٥) "خ" په "دوهمه نسخه" کې "په کار دی" راغلی دی.

(٦) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې "ګذار" راغلی دی.

Marfat.com

غفلت هیڅ مناسب نه دی په سپین ږیرو
صبحدم که خندا وری هم بېداره شي

چې یو موټی ایرې نازېږي په آیینه کا
په دغه خبره فخر د خاکسار شي (۱)

کریمانو سود موندلی دی په زیان کې
لکه ښاخ د ونې وتراشي باردار شي

خزانه په سخاوت سره زیاتیږي
د کوهي اوبه چې وکاږې بسیار شي

مړول د ونې ګبهې مشکل نه دی
مړول د ونې یوسترګو مشکل کار شي

کم خوراک سړی نژدې کا فرښتو ته
هر سړی چې بسیار خوار شي بسیار خوار شي

صاف دلانو لره لږ نصیحت بس دی
د ګوهر و پېوستون په نرې تار شي

غلبه د عشق بانه د حسن خوارې
توره شپه په عاشق زلفې د خپل یار شي (۲)

د توفیق له مخه هر مشکل اسان دی (۳)
وسېتي وته داوړلمبې ګلزار شي

ناز د حسن پرورش مومي له عشقه (۴)
هسې نه چې د خوبانو په سینګار شي

راحت بې محنته نه دی چا موندلی (۵)
د وصال خوښي د هجر په مقدار شي

عاشقانو لره واړه سعادت دی
که یې سر و مال د یار تر نامه (۶) زار شي

یاره ! یاره ! هر څوک وایي په جهان کې
زه به پس له مرګه وایم چې یار یار شي (۷)

لکه دار کاندې وړ غوږې له ګرګانو
هسې رنګ له جدایۍ نه زما دار شي

۳۱۰

د رحمان دا پوچ ګویځه په کار نه ده
عاشقي په ګفتار نه شي په کردار شي

۳۳۳۱

تبسم مې د وګړي په روزګار شي
چې یې نه له خدایه وېره نه یې دار شي (۸)

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته او د "خ" په نیګړې نسخه کې د "توفیق" پر ځای "توکل" راغلی دی.
(٤) چاپي دیوانونه او د "خ" دوهمه نسخه: "ناز د عشق پرورش مومي له عشقه".
(٥) چاپي دیوانونه: "بې محنته چا راحت موندلی نه دی" او دا بیت او ورپسې دوه بیته د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٦) په "ق. ک" چاپ کې "خانه" راغلی دی.
(٧) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٨) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې له مرګه یې نه وېره نه یې دار شي".

له ده وزن يې دده د وړاندې ومري — لا يې مينه د دنيا په کاروبار شي
که يې هر قدم د مړيو په سر لاړ وي — يو قدم هسې وانخلي چې په لار شي
د ژوندیو نصیحت پرې اثر نه کا — مګر مړله قبره پاڅي په ګفتار شي
د امید مزی یې هسې رنګ دراز وي — چې له خضره ورته خپل عمر بسیار شي
سپینه ږیره په اورني کې زوی را واخلي — چې به مالره سپاهي او منصبدار[1] شي
د خرما نهړی نهال کا ورته ګوري — چې دا سیوری دا میوه به مې په کار شي
هر فصل چې ترې ربي هوسیږي[2] — چې به ګانده راته بل فصل تیار شي
لا يې ليه تخم هم کرلے نه وي[3] — ناکښته يې څني طمع د خروار شي
غوندې د ناز وکړيو خسيو غوړي — چې سبا بګاه به مالره ګوهار شي
لکه ورکي کموړی غواړي له زاڼې — په دا هسې پوچ ګويي يې اعتبار شي
چې هرګز په عمر نه وي چېري شوي — د هغو ناسند نیو امیدوار[4] شي
هلکان و غوندې پاس په کوته خغلي — خو چې دوه قدمه واخلي نو حصار شي
په زحمت د تن له مالګې هم پرهیز کا — هغه ندکا چې له ځې پرهیزګار شي
د ژوندون په تېرېدو یې نظر نه وي — چې دا ګنج به مې له لاسه تار په تار شي

ساح خه دی څه به پند والي وچاته
هدایت د هر بنده په کردګار[5] شي

٣١١ — ٣٣٤٧

چې شهید د توروسترګو په خنجر[6] شي — خوشنودي یې د سروشونډو په کوثر شي
چې را یاد يې سپین رخسار دراز مژګان کړم[7] — هغه دم مې زړه سپند سینه مجمر شي

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(٢) قلمي نسخه: "هر فصل چې تېريږي هوسيږي".
(٣) "ق" چاپ: "لا يې يا نه ترينده هم نه دي ربېلې".
(٤) دا قلور بيتونه په چاپي ديوانونو کې نشته.
(٥) "خ" لومړي او دوهم نسخه: "هدايت د هر بنده په خپل کردار شي". (٦) "اغزل د "ب" په لومړي نسخه کې نشته.
(٧) "ق" چاپ: "چې را ياد يې تور مژګان او سپين رخسار کړم". "ق ک" چاپ: "چې را يادي تورې سترګې سپين رخسار کړم".

Marfat.com

عندلیب خاطر مې السوزي په ګلو — که د ترکو سنبل زلفې يې شهپر شي
که ياں سل ځله جفا راسره کاندې — زما کله په جفا د ياں باور شي
د ناصح په نصیحت به منع نه شم — که هزار ځله مې ورور(۱) او برادر شي
د رقیب او زما صلح سره نشته — که موچېړې لاس و دست و بله بر شي(۲)
صبوري او قراري له ما خطا دي(۳) — تر هغه ساعته پورې چې محشر شي
تر ساعت به د هجا په لاس کېنوزي — مګر تللې آشنا بیا په آشنا ور شي

۳۱۲ — ۳۳۵۶

خوبرویان به د سیوري مې توکره را واخلي(٤)
که رحمان کچکول په لاس کې قلندر شي

چې غبار د ستا له لارې په خوا ور شي(۵) — که به د وارو ستر ګو روند وي مبصر شي
تازه نوی سر پیدا کا لکه شمع — چې يې غوڅ د ستا په مینه د زړه سر شي
چې کیمیا د قناعت يې په لاس کېوزي — که ګدای وي د قارون په څېر توانګر شي
ستا د در ګدایان واړه پادشاهان دي — خو چې ستا له دره ووزي دربه در شي
تل يې مخ وي له عالمه جار وتلې — د هغو چې ستا په مخ باندې نظر شي
که د درست جهان له حاله خبردار وي — چې تا ووینې له واړو بې خبر شي

۳۱۳ — ۳۳۶۳

آیینه که د جمال کړې ورته ګنده
دا ګدا اې رحمان به شاه سکندر شي

که دې غم د درست جهان تر زړه چاپیر شي — دلګیر مه شه هسې وایه چې به تېر شي

---

(۱) د "خ" دوهم نسخه: "یار".
(۲) "ق، ک" چاپ: "که موچېړې لاس په یو بل سره بر شي".
"ق" چاپ: "که موچېړې لاس و بله سره بر شي".
د "خ" لومړی نسخه: "که دم لاس و دست چې و بله برابر شي". دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړی نسخه: "له صبوري له قراري زما توبه ده".
(٤) د "خ" لومړی نسخه: "خوبرویان به د سیوري مې توکره ور واخلي که رحمان کچکول په لاس قلندر ور شي".
(۵) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "په چا ور شي" راغلی دی.

غم هغه دی هم چې خبر مه وي وچا ته (۱) ورو مبی واره تر وروستیه پوری هېر شي
بې له خدایه چې مدام پر یوه حال دی سری کله شېر شاهي شي کله سپر شي
یو آدم دی چې په خو رنګه جلوه کا یو رقم دی کله زور شي کله زېړ شي (۲)
د دنیا چارې مدام په قرار نه وي د بنو په ځنبول کې به بل پېر شي
په لږ عمر کې د ډېر غم له کومه راځي (۳) خوله خپلي بې صبری په سری ډېر شي
خریدار و فروشنده چې سره خوښ شي (۴) په سودا کې سختي نه کا تېر و بېر شي

۳۱۴ بنا یسته په جهان د ډېر دي بې حسابه
باری څوک به د رحمان دیار په خبر شي ۳۳۷۱

له دې کته له یوزیه خوبه ولاړ شي تر و بیا خدای خبر چې کومه خوا به لاړ شي (۵)
په ظاهر صورت خو هسې (۶) معلومېږي چې به خس غوندې تر پښو لاندې لتاړ شي
د آسمان ځمکه به وي او تنه بدنه یې په وړانه ودانۍ کې به وېجاړ شي
د بهار د ګلو عمر مدام نه وي عندلیب غوندې به پاتې په اهار (۷) شي
په ویلاړ ویلاړ به ځان وړ پسې ورک کړي (۸) چېرې نه وي چې د ترکو په ویلاړ شي

۳۱۵ که لیلی غواړې رحمانه بایده دا دي (۹)
چې مجنون غوندې ساکن د کوه و کاړ شي (۱۰) ۳۳۷۷

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "غم هغه دی هر چې خبر مه وي وځان ته".
(۲) د "خ" دوهمه قلمي نسخه : "یو قمس دی کله زور شي کله زېړ شي".
(۳) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : "په لږ غم کې د ډېر غم له کومه راځي".
(۴) قلمي نسخې : "خریدار و فروشنده وبله راضي شي".
(۵) د "ب" نسخې او د "خ" دوهمه نسخه : "له دې کته له یوزي خوبه لاړ شي تر و بیا خدای زده چې په کومه خواته لاړ شي".
مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه : "تر و بیا خدای خبر چې کومې خواته لاړ شي".
(۶) په "ق. ک" چاپ او "ق" چاپ کې "داسې" راغلي دي.
(۷) "ق. ک" چاپ : "په سوبهار شي".
(۸) د "خ" لومړی نسخه او "ق. ک" چاپ او "ق" چاپ : "په ولاړ ولاړ به ځان ور پسې ورک کړي".
د "خ" دوهمه نسخه : "په ژړا ژړا به ځان ور پسې ورک کړي" او لومړی بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۹) چاپي دیوانونه : "که لیلی غواړې بایده دی دا رحمانه" او لومړی بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۱۰) د "خ" لومړی نسخه : "کوهسار".

که د زړو میړو سر وي خو چې مړ شي · نه يې نوم په خوله اخيست شي نه نوم مړ شي[1]

که هيڅ پرې کړي نه وي په جهان کې · و اجل ته ګله خر په خندا پر شي

راشه راشه دا د برنا او کبر مه کړه · يار څو به دې د ناز په جهان ور شي

دا رخسار چې دې روښان تر آيينې دي · عاقبت به د لحد په خاورو خړ شي

مراد خوواره دلبرۍ دي غزا وشوه[2] · که د سر وي په ښکر غوك په قامت لوړ شي

نيکنامي له نيك خويه نه پيدا کيږي · دغه چاره نه په سوك نه په لوړ شي[3]

عاشقان چې پښېمانيږي هغه نه کا · هغه سوك د نې هنر وي چې خپر شي[4]

دهوا په لغوته مه ځه که دانا يې[5] · دهوا[6] ويشتلی عشق نه په زور شي

دا خوزه له شفقته تا ته وايم · ګنهګار له سرنوشته په چا تغير شي

ورځ به نه کاندي يو حرف خپلي بخرې · که پيدا وښکو د چا درست جهان چمن شي

په تدبير به د تقدير کښلي نور نه کړي · د قسمت علاج په عقل کله کړ شي

په رحمان بې ياره صبر هسې ګران دی[7] · لکه هر چې ديده دانسته نغر شي

۳۱۶

۳۳۸۹

هغه دم چې زړه ملال شي · يو ساعت ور باندې کال شي

حيران تللی وي په فکر · فراموش يې قيل و قال شي

نه يې ګفت نه يې شنود وي · په غوږ کوڼ په ژبه لال شي

نه خواب وچاته کاندي · نه يې غوږ د چا په سوال شي[8]

---

(۱) چاپي ديوانونه: "که د سر وندو سرې دي خو چې مړ شي · نه يې نوم په خوله غوك اخلي نه نوم مړ شي".
(۲) قلمي نسخې: "مراد محمد له دلبرۍ دی غزا دشوه".
(۳) دا بيت په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.
(٤) قلمي نسخې: "عاقلان چې پښېمانيږي هغه نه کا · هغه سکوي دبی هنر وي چې سپر شي".
(٥) "خ" لومړۍ نسخه: "دهوا په فريب فهم کمه که دانا يې".
(٦) په قلمي نسخو کې "هوا يې" راغلی دی.
(۷) چاپي ديوانونه: "په رحمان باندې بې ياره صبر ګران دی".
(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "قال شي".

علم عقل ځني لاړ شي — درست صورت یې خواب وخیال شي(۱)
په ړنو سترګو ویده وي — لکه نقش د دیوال شي
قوت یې و یښ د ځګر وي(۲) — هم د غه یې اشتغال شي
د چشمانو له باړانه(۳) — په رخسار یې پشکال شي
په سبب د عاشقۍ — تبر(٤) تر آل وتر عیال شي
هم تر آل وتر عیاله — تبر تر مال وتر منال شي(۵)
په خپل درد و په خپل غم کې — له(٦) عالمه فارغبال شي
که ژوندی وي په جهان کې — د مړه وُ په مثال شي
نه طاقت نه یې مجال وي — بې طاقت وبې مجال شي
په خشکۍ کې ماهي ګوره — هسې بې تیغه حلال شي(۷)
یا ښخېدی نه شي له ځایه — په زړه غوښ په تن کال شي
د وښتلیو په خبر یون کا — د کل خلق په دنبال شي
لکه خس دلوېې لاړ شي — تر قدم لاندې پایمال شي
خدای له غمه سري ژغوره(۸) — بیا لا ګوره چې(۹) خوشحال شي

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې د لومړي مسري "لاړ شي" پر ځای "پاڅي" راغلی دی.
(۲) د "پ" لومړی نسخه: "خوږي".
(۳) د "خ" دوهمه او مصور نسخه: "له باران شته".
(٤) د "خ" دوهمه نسخه: "هم تر آل وتر عیال شي".
(۵) مصوره نسخه: "هم تر آل تر عیال تبر شي هم تر مال وتر منال شي".
د "خ" لومړی نسخه: "هم تر آل تر اولاده هم تر مال وتر منال شي".
په چاپي دیوانونو کې یې دوهمه مسره داسې ده: "هم تر مال وتر منال شي".
(٦) "پ" چاپ، "پ" چاپ او "ق" چاپ: "تر عالمه".
(۷) د "خ" لومړی نسخه: "هم بې تیغه حلال شي".
د "خ" دوهم نسخه: "د ماهي په خبر بې ګوره هسې بې تیغه حلال شي".
(۸) "ق" چاپ: "ژغوري".
(۹) چاپي دیوانونه او نوري قلمي نسخې: "بویه".

Marfat.com

چې د زړه وینې شي و چې — نوې وینې په محال شي (۱)
د باغبان سترګې کا سپینې (۲) — چې تازه نخل و نهال شي
روئیدن (۳) د کښت آسان دی — پرورش یې لوی (۴) جنجال شي
ویراني په یوه دم شي — آبادي په د پر اشکال شي
چې پلار ومري بیا لا بویه — چې یې زوی باکمال شي (۵)
څوک خبر دی له دې دوره — چې په ما به پېښ څه حال شي (۶)
چې په حال کې یې حال نه وي — څه امید په استقبال شي (۷)
د یوه ساعت له مخه — خدای یې زده څه رنګه احوال شي (۸)
د دنیا چارې فاني دي — رفت آمد یې په یرغال شي (۹)
په مثال لکه د سیورې — خو وشا د هر د بوال شي (۱۰)
عتماد په اولبو مه کړه — چې استادې په غربال شي (۱۱)

---

(۱) چاپي دیوانونه: "چې د زړه ولې شي غوټې — لوز ژوندون یې په اشکال شي"
د "خ" دوهمه نسخه: "د زړه ولې یې شي غوټې — د واکول یې په محال شي".
مصوره نسخه: "لوز یې ولې په محال شي".
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "د باغبان که سترګې سپینې".
(۳) د "ب" لومړۍ نسخه: "د روئیدن".
د "خ" دوهمه نسخه: "دارودن".
(۴) چاپي دیوانونه: "د پر جنجال شي".
(۵) قلمي نسخې: "چې یې زوی په کمال شي"
د "خ" دوهمه نسخه: "چې فرزندې په کمال شي".
(۶) "ق" یک چاپ: "څوک خبر دی له خپل دوره چې به پېښ راته څه حال شي".
قلمي نسخې: "چې زمان لره څه حال شي".
(۷) مصوره نسخه: "بې طاقته یې محال شي".
د "خ" دوهمه نسخه لومړی مسری: "چې په حال کې یې نه وینې".
(۸) "ب" چاپ او "پ" چاپ: "خدای زده څه رنګ به احوال شي".
مصوره نسخه: "ګوره څه رنګه احوال شي".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "رفت آمد یې په غربال شي".
مصوره نسخه: "رفت آمد په د پر غال شي".
(۱۰) د "ب" لومړۍ نسخه: "دهر د حال شي". د "خ" لومړۍ نسخه: "ددې د بوال شي".
مصوره نسخه: "دهر حال شي". مګر دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۱۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. (پاڼه په ۲۳۷ مخ کې)

د بنو په ځنبول کې ــــ شال شړې کاشړې شال شي
که بادشاه د ولایت وي ــــ کنډولي په لاس کنګال شي [۱]
په ثواب یې غلط مه شه ــــ په یوه ساعت [۲] وبال شي
په کمال یې مه نازېږه ــــ په یوه ګړیه زوال شي
دهاتیانو سوداګر وي ــــ بیاد ګاوخر د لال شي [۳]
جوهري وي د ګوهر و [٤] ــــ خاورې اغزي د کلال شي [۵]
کلالي او ګِل کاري کا ــــ فروشنده د مات سفال شي [٦]
په هستۍ کې یې اشراف وي ــــ په نیستۍ کې یې ارزال شي [۷]
د ځوانۍ په وخت کې شېر وي ــــ د پیرۍ په وخت شغال شي [۸]
چې مشهور په صداقت وي ــــ پوچ ګویي واخلي بطال شي
محتسب وي احتساب کا ــــ کوتوالي واخلي کوتوال شي
نیکوکاره نېک افعال وي ــــ بدکردار او بد افعال شي [۹]
سرنوشت د سړي ګوره [۱۰] ــــ یو عیسی وي بل دجال شي
چې نېکبخت وي نېکویي کا ــــ چې بدبخت وي بدسګال شي [۱۱]

---

د (۱۳٦) مخ د پایلیک پاته برخه:
- په چاپي دیوانونو کې د "اعتماد" پر ځای "اعتبار" راغلی دی.
د "ب" چاپ : "استاده به په عزبال شي"
د پېښور لوړ دوه چاپي دیوانه : "چې ولاړې په عزبال شي".
د "خ" لومړی نسخه : "چې استادی په سفال شي".
مصوره نسخه : "چې استادې په ډېرغال شي".

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه : "په یوه ګړیه".
(۳) قلمي نسخې : "ګاو د لالو خر د لال شي".
(٤) چاپي دیوانونه "جوهري دي جوهر پلورې"
مصوره نسخه : "جوهري دي ګوهر پلورې".
(۵) د "خ" لومړی نسخه : "خاورې اغزي د کلال شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "فروشند د مات سفال شي" (پاتې په ۲۳۸ مخ کې)

لاس و پېښې د هغو نیسه — چې خوش خوی و خوش خصال شي [1]
په هجران کې نا امید مه شه — خدای قادر دی که وصال شي [2]
په حرامو کې امید کړه — ګوندې مخ دې په حلال شي [3]
کافر و باسي له کفره — په یوه ساعت ابدال شي [4]
تورهستي کاندي تر سپینو — په سپین مخ باندې تور خال شي [5]
ارزومند د یوه خره [6] وي — خداوند د ملك و مال شي
چې سیالي یې کړې نه وي — له سیالانو سره سیال شي
چې په عمر مفصل وي — په ساعت کې اتصال شي [7]
ممکنات به منع نه کا [8] — که څوك سل ځله سنبال شي
چې د خدای رضا شي پېښه — رمل پاتې د رمال شي

٣١٧ — فال به څه ګوري رحمانه — ٣٤٤٣
خپل افعال [9] د سړي فال شي

---

د (۲۳۷) مخ د پا یلیك پاتې برخه :

(۶) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته . د دوهمې نسخه : "خادري اغزي کلال شي".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته .
(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته . د "خ" دوهمه نسخه : "د څوالفه په ساعت شهره وي دپیریه په جنت مشغال شي".
د "ب" لومړۍ نسخه : "په پیریحه کې شغال شي".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته او په چاپي دیوانونو کې لومړۍ مسرۍ داسې ده : "نیکو کار وي نیك عمل کا".
دوهمه مسرۍ په "ق" چاپ کې داسې ده : "او بد کاره بد افعال شي".
(۱۰) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې یې لومړۍ مسرۍ داسې ده : "سرنوشت د سړي خپل دی".
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته د "خ" په لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده : "چې بد بخت شي بد شکال شي".

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده : "چې خوش خویه خوش خصال شي".
(۲) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته لومړۍ مسرۍ یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : "په هجران کې نا امید شي".
(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . د "ب" لومړۍ نسخه : "په حرامو امید مه کړه ګنه مخ دې په حلال شي".
د "خ" لومړۍ نسخه : "په حرام کې امید وار شه" او د "خ" دوهمه نسخه : "په حرام امید وار مه شه".
(۴) دا بیت او ورپسې بیتونه په مصوره نسخه کې نشته . (۵) قلمي نسخې : "په سپین مخ د پاسه خال شي".
(۶) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "خس" راغلی دی .
(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته د "خ" لومړۍ نسخه ، "پ" چاپ او "ق" چاپ کې لومړۍ مسرۍ داسې ده : "په د بر عمر منفصل وي". د پېښور په لوړو دوو چاپي دیوانونو کې داسې ده : "په د بر عمر معضل وي". (۸) د "پ" لومړۍ نسخه : "ممکنان به منع نه کا".
د "خ" دوهمه نسخه : "ممکنات یې طبع نکه"
(۹) "ق" ، "ک" چاپ : "عمل".

Marfat.com

هر چې ستا په زنخدان کې بې منزل شي[1] — لکه خس په تناره کې به جلبل شي

چې ښولې نوم د ستا د شونډو په خوله واخلي — که یې زهر وي په خوله کې هم عسل شي[2]

په عاشق باندې ګمان داهسې مه کړه — چې یار زړه ورځنۍ تش ګوګل شي

زه په هجر کې بې برګ و بې نوا یم[3] — لکه کښت چې اوبه نه مومي شنډل شي

په جهان تر آشنایۍ خواږه څه نشته — ولې حیف دی چې هجران یې حنظل شي[4]

په خیل حسن باندې مه نازېږه ګله — د غم رنګ به دې په دوو ورځو بدل شي[5]

۳۱۸ — زه لاچار بې یاره هسې شول وشل یم[6]
لکه کب چې بې محیطه شول وشل شي[7] — ۳۴۵۰

که سل ځله هم کنار و هم بغل شي — د دنیا مین به واړه سره بېل شي[8]

دا چې اوس په یوه کور کې سره ناست وي — عاقبت به یې جدا جدا منزل شي

دا ګلونه چې یې ځای دی په دستار کې — همه واړه به تر پښو لاندې غوبل شي

دا لیمځي چې یې مخ د دلبر په خپر دي — تور و سپینه به یې په مخ باندې ځنګل شي[9]

دا شیرین شربت چې د وصال دي — د هجران په وخت به[10] زهر هلاهل شي

ما دیار په بېلتانه کې دی لیدلی — که دانا د زمانې وي مبدل شي

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "زنخدان باندې منزل شي".
(۲) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "که یې زهر وي په خوله کې یې عسل شي".
(۳) چاپي دیوانونه : "په هجران کې زه بې برګ ولې نوا یم".
د "خ" لومړۍ نسخه : "زه په هجر کې د ترکو بې نوا یم".
(٤) د "ب" لومړۍ نسخه : "په جهان کې تر آشنایۍ خواږه نشته — ولې حیف چې په هجران کې یې حنظل شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "په جهان د آشنا یانو خواږه نسته — ولې حیف چې یې هجران دزړه صیقل شي".
(٥) دابیت د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو. په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانو کې نشته. او نو موړی بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٦) د "ب" چاپ : "شم".
(٧) د "ب" لومړۍ نسخه : "لکه کب چې بې محیطه شل وشل شي".
د "خ" لومړۍ قلمي نسخه : "لکه کب چې بې محیطه شل وشول شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "لکه کب چې په محیط کې شول وشل شي".
(۸) چاپي دیوانونه : "د دنیا په مینه واړه سره بېل شي".
(۹) دابیت د "خ" په نسخو کې نشته.
(۱۰) د "ب" په لومړۍ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "کې" راغلی دی.

Marfat.com

پسبه له وېرې د وصال په خمکه نه ږدي — چې خبر د جدايي په دل‌دل شي (1).

د دې هسې رنځ علاج به څوك په څه کا — چې نه فهم د چارسي نه اټکل شي

که د غمونو په سرګرزي سر يې ټيټ وي — هر چې زړه يې د خوبانو پر غمل شي

٣١٩ — ٣٤٦٠

د خوشحال خاطر غمونو هسې زنګ کړ
مګر جام د میو ناب وي چې صیقل شي

که د زړه په وینو رنګ د چا ګوګل شي — چې بېلتون په جهان شته دي خو به بېل شي (2)

که د اوښکو په دریاب (3) باندې نهال کړي — نېشکر به نېشکر شي نل به نل شي

مشقت د سړي واړه ابتر دی (4) — په سبوره کې چې د ګل بوټي نهل شي

د دنیا یارۍ دوستي څه په کار نه ده — له اوله یاري دوست وي پسې غل شي

که هر څو يې وبله هر و محبت وي — نهایت سره به جنګ و به جدل شي

په مثال د دروغژني مس غلی — آب و تاب يې په دوه ورځې کې بدل شي

کړي زنه د ځوانۍ په وخت سبب وي — هغه سبب يې په پیرۍ کې بیا حنظل شي

د رقیب له بده خویه به څه وایم — تر و دا ګوره چې لا یان و د سره مل شي (5)

٣٢٠ — ٣٤٦٩

زه خوشحال په ښه و بد د یار پوهېږم
کښلې زهر په دهن د چا عسل شي

هغه زړه چې خدای روښان کا جام د جم (6) شي — په دا جام کې ور ښکاره تمام عالم شي

په آدم کې د حیوان خوی نه هم شته (7) — بیا هاله يې آدم بوله چې آدم شي

---

(١) "ق" چاپ : "چې خبر د جدايي په تزلزل شي".
(٢) چاپي دیوانونه ، د "خ" لومړی ، ناقصه او مصوره نسخه : "چې بېلتون په جهان ګرزي خو به بېل شي".
(٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې "جویبار" راغلی دی.
(٤) په چاپي دیوانونو او د "خ" په نیمګړې نسخه کې "ابتر کا" راغلی دی.
(٥) دا بیت د "خ" په لومړي نیمګړي او مصوره نسخه کې نشته.
(٦) د "خ" لومړی نسخه : "جام د جم دی".
(٧) د "ب" نسخې : "په آدم کې د حیوان خوی نه شته دی".
د "خ" په دوهمه نسخه کې د "حیوان" پر ځای "چارپای" راغلی دی.

چې خوی ونه دچا ن پایو پکې نه وي[1] سرې هو بس په سرې هاله مسلم شي[2]
چې اغوستې يې لباس وي د پاکانو د ناپاکو چارې کاندي خو به ګرم شي
که هر خو لذيذ طعام وي مزه نه کا چې يوه ذره نمک يې زيات و کم شي
ښادي يا هر چېرې يا د غم په اندازه وي د هغو به خه ښادي وي چې ببغم شي
هر چې خپله رضا پاسلي[3] وقضا ته که هر څو په ځان ناخوښ وي خو به خرم شي
عاشقي چې تر کماله ور سېږي د خپل يار له لاسه زخم[4] يې مرهم شي

٣٢١

که په ځان باندې قدم کېږدي ناصح
نه فلک به دې لاندې تر قدم شي[5]

٣٤٧٨

چې مجنون غوندې يو موټی استخوان شي په قوت د عاشقۍ به پهلوان شي
عاشقانو په شکست کې برې بيا مومند[6] دلته توان د هغه سي چې ناتوان شي
زېړې رنګ د عاشق هسې مرتبه ده[7] چې آفتاب غوندې څرګند په درست جهان شي
له چشمانو يې باران د رحمت ورېږي زر غونه يې پچهره باندې زعفران شي
له رخساره حال د زړونو معلومېږي له بهاره نېک و بد د کال عيان شي
له نکتې نه تمام علم حاصلېږي[8] درست خروار له يوه مشته نمايان شي
په کار نه دي مخالف هزار تقرير موافق له حاله نيم[9] کلام داستان شي
لکه مېله کاروبار وي وتلی د هغو خوا ورېږي په سر چې غافلان شي

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "چې خصلت دچا ن پایانو پکې نه وي".
(۲) د پښور چاپي ديوانونو: "سره ېوب په سرې هاله مسلم شي". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "له سرې" راغلی دی.
(۳) "پ" چاپ او "پ.ب" چاپ: "پاسلوی". "ق.ک" چاپ او "ق" چاپ: "وسپاري".
(۴) د "خ" دوهمه نسخه: "پرې مرهم شي".
(۵) "ب" "چاپ": "آسمانونه به دې لاندې تر قدم شي".
(۶) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "خ" په لومړۍ نسخه کې لومړی مسرې داسې ده: "عاشقانو په خپل بېست کې برې بيا مومند".
د "خ" نېګړې نسخه: "عاشقانو په خپل شکست برې بيا مومند" او "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "عاشقانو په خپل شکست کې برې بيا مومند".
(۷) د "ب" په لومړي، د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "مراتب دی" راغلی دی.
(۸) د "ب" لومړۍ نسخه: "له يوې نکتې تمام علم حاصلېږي".
د "خ" قلمي نسخه: "له يوې نکتې حاصلېږي تمام علم".
(۹) د "خ" په نېګړې نسخه کې "يو کلام" راغلی دی.

Marfat.com

کړي دې عمر په کار د غفلت مړه کړه — په اوده باندې سل کاله یو زمان شي

د غفلت بنیاد دا وسکو په موج خېږي — یو څڅکی خواب آلود لره طوفان شي

ړوند په خپله عصا پر بوځي وکوږي ته (۱) — خپل دلیل د کم دلیل د ځان تاوان شي

سرکښي د عاجزانو په کار نه ده — هر مېږی چې وزر وکاندې پښېمان شي

موم دلان به یې لړشه لمن ژغوري (۲) — سنګدلان که عین لعل د بدخشان شي

چې کیمیا د قناعت یې په لاس کښېوځې — د شرې (۳) په خرقه کې بادشاهان شي

بل پوشاك يې په كار نه وي يې نمده — هغه زړه چې آیینې غوندې روښان شي

عاشقي ده تر جمله بلاو زیاته (٤) — ومجنون ته دیو ودد واړه حیران شي

٣٢٢

پرې به ورکا دُربتان دخپلو غوږو (۵)
کړې تېر تر غوږ و شعر د رحمان شي

٣٤٩٥

آشنایي به بلا ده آشنا مه شي — جدایي به دې فنا کا فنا مه شي (٦)

د غم (٧) به دې د زړه ولې کا غوڅې — ګرفتار په درد و غم د جانا (٨) مه شي

په زیر رنګ به دې تل سرې او سکې بهیږي (٩) — د دو رنګو په خبر ګل د رعنا مه شي

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه: "ړوند په خپله عصا پر بوځي په کوږي کې".
د "خ" لومړی نسخه: "ړوند په خپله عصا پر بوت وکوږي ته".
د "خ" دوهمه نسخه او نمګړی نسخه: "ړوند په خپله عصا پر بود شي پڅنګکه".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او د "ب" په لومړی نسخه کې د "شره" پر ځای "شرم" راغلی دی.
(۳) د "خ" په لومړی نسخه کې "د شړابو" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې د "زیاته" پر ځای "پیمورته" راغلی دی.
د "خ" په لومړی نسخه کې یې دوهمه مسره داسې ده: "ومجنون ته دیو ودد خکه حیران شي".
(۵) د "ب" لومړی نسخه: "پرې به ور کاتبان در د خپلو غوږو".
په "پ" پ چاپ کې: "کاتبان به ور کا دُرد خپلو غوږو".
د "خ" دوهمه نسخه: "شایسته په در د خپلو غوږ و ور که".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "هر دیان به ور که در د خپلو غوږو".
(٦) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د لومړی مسرکه "بده بلا" په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې "توره بلا" راغلې ده.
(٧) چاپي دیوانونه: "درد و غم".
(٨) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "آشنا مه شي" او د "ب" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه "جانان مه شي".
(٩) د "خ" لومړی نسخه: "په زیر رنګ به دې تل او ښې بهیږي".

هم[1] په دا چې د روغږن دخدای دښمن دی     وهچا نه د روغږن په وینا مړ شي

کا اعلی مرتبه غواړي عاشقي ده     نور همه واړه ادنی دي ادنا مړ شي[2]

۳۲۳    همیشه به سرنګون په فکر ناست يي

د رحمان په خبر مشغول په ثنا مړ شي[3]    ۳۵۱

دعاشق بې خپله یاره قرار نه شي     بې طبیبه قرار ي د بیمار نه شي

چې په لوح محفوظ کښلي لیونی وي     په تعلیم دمعلم به هوښیار نه شي[4]

دخپل پلار په غېږ کې پروت وي روح يې وتلی[5]     دقضا علاج په مداوو په پلار نه شي

دهغو چې خدای کمال حسن روزي کړ[6]     هیڅ نقصان يې د منکر په انکار نه شي

درد و غم دعاشقي چې د پر مشکل دی[7]     هیڅ سړی دې په دا رنځ ګرفتار نه شي

زه همه عمر د غه له خدایه غواړم     چې دې یار دیار له لاسه ازار نه شي[8]

یار له یار سره جفا کا هسې د پره     چې هیڅ فرق يې د اغیار او دیار نه شي[9]

۳۲۴    که هر څو يې دلبري او دلجویي کا[10]

د رحمان په ترکو هیڅ اعتبار نه شي    ۳۵۹

---

(۱) د "پ پ" چاپ : "غم په دا".

(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۳) چاپي دیوانونه : "د رحمان هسې مشغول په ثنا مړ شي".

(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسری يې د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده : "چې په لوح د محفوظ سنکلي لیونی دي".

(۵) چاپي دیوانونه : "زوی د پلار په غېږ کې پروت دي روح يې لاړ شي".

(۶) قلمي نسخې : "دهغو چې خدای کمال دحسن ور کا".

(۷) قلمي نسخې : "درد و غم دعاشقۍ د پر مشکل دی".

(۸) چاپي دیوانونه : "زه همه عمر له خدایه دغه خواست کړم    چې دې یار له خپله یاره بېزار نه شي".
د "خ" لومړۍ نسخه : "زه همه عمر دغه شان له خدایه غواړم    چې یو یار دیار له لاسه ازار نه شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "زه همه عمر له خدایه دغه خواست کړم    چې یو یار دیار له لاسه ازار نه شي".
مصوره نسخه : "زه همه عمر دغه خواست له خدایه غواړم    چې دې یار دیار له لاسه ازار نه شي".

(۹) دا بیت په "ب" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته او د "خ" په لومړي نسخه کې دا بیت داسې دی : "یار له ما سره جفا که هسې د پره    چې هیڅ فرق مې د اغیار و دیار نه شي".

(۱۰) د "خ" لومړۍ نسخه : "که مې هر څو دلبري او دلجويي کا".

Marfat.com

دسکوت په تیغ چې ژبه بریده شي — لا قلم غوندې په قال کې دویده شي

هومره اور دعاشقۍ په زړه کې یوسي — چې لا له یې له تربته دمیده شي

همېشه یې دخپل یار په لوري دوي — نهایت چې په داد وکې رسیده شي

خم ابرو دیار مې نقش په لېمه دی (1) — لکه میاشت چې په لوی بحر کې لیده شي

څه حاجت دی چې زه یار وچاته ستایم — کار همه دخپلو سترګو په دیده شي

کله وي چې یو دبل په ویل غولېږي — مګر صافه دچا خپله عقیده شي

خود خرګند وي لکه صبح پنهان نه دی — هرګرېوان چې په یارۍ کې دریده شي

آبرو یې دعاشق هله ځان خرګند کا — چې یې نم د زړه له سترګو چکیده شي

د آه غشي یې په ځمکه کله لګي — هر قامت چې کمان طوره خمیده شي

بې مطلوبه یې هیڅ فهم په چا نه وي — هر طالب چې په طلب کې فهمیده شي (2)

هر چې زړه په هر ویا انو باندې بایلي — بې درمه یې دینار خریده شي

مادیان په خپل بل مخ لېدلی نه دی — مګر پس چې له ننوره مخ آفریده شي (3)

٣٢٥

یا به شهد یا به قند یا به نبات وي
هر کلام چې له رحمانه شنیده شي

٣٥٢٢

چې سړی له بله بد وایي بدګوی شي — لا تر بله خوله روان دده بدبوی شي (4)

مرده شوی چې هوس کا د بل ومرګ ته — بل هم پس دده له مرګه مرده شوی شي

دوست دښمن د سړي وار په خپل عمل دی — هم په دا مقدار یې اجر موی په موی شي

هره ونه چې کږه په یوه لوروي (5) — عاقبت یې پرېوته په هغه سوی شي

---

(1) د "خ" دوهمه نسخه: "خم ابرو یې دیار نقش وي په زړه کې".
د "خ" لومړۍ نسخه او د "ب" لومړۍ نسخه: "خم ابرو چې دیار نقش وي په لېمه کې".
(2) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(3) قلمي نسخې: "مګر پس له ننوره مخ آفریده شي".
(4) قلمي نسخې: "لا تر بله خوا روان دده بدبوی شي".
(5) د "ب" لومړۍ نسخه: "هره ونه چې کږه وي په هغه لوري".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هره ونه چې کږه په هغه لور وي" او دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

په لوټي کې نور خه نشته بې زواله　　هلکان د هلکتوب په سبب لوی شي [1]

داوبه واصل له خاوره پیدا کېږي　　خاکساري د خاکسارانو آبروی شي

هومره زیان له خوگ وخرسه نه رسېږي [2]　　لکه خوک په آدمیانو کې بدخوی شي

سړي هو بنږ چې د سړي له تنه پاڅي　　د سړیو په جامه کې خوشبوی شي

وهغو ته چې خدای بخښلي وښود
خه حاجت یې د رحمان په گفتگوی شي

٣٣٦　　٣٥٣١

وخت د عیش وطرب تېر شو خزان راغی　　ځنگلن د بلبلانو په ځان راغی

دلداري مې ترامید وه باري خه کړم　　هغه یار د دلبرانو په شان راغی

آشنایي مې په هوس وه خو چې بېل شوم　　دواړه لاس مې وبله مېښوا رمان راغی

سود سودا د عاشقۍ که نفع مند وي　　ماهیڅ سود پکې ونه لید تاوان راغی

تمام عمر که وصال وُ هومره نه وُ　　لکه یو زمان د بنکلیو هجران راغی

گوی زما د زړه یې یووړه په چوگان کې　　بیا د ناز په نیلي سور په جولان راغی [3]

غونچه لب چې په خندا کاندي پرېشانه　　په شپېږ زما داو بنکو باران راغی

د میرزا دارزانې دعوی په پرې کا [4]
قدردان د شاعرانو رحمان راغی

٣٣٧　　٣٥٣٩

په اول کې تا د عشق وهلې لافې　　هغه لافې دې اوس وې کړې خلافې [5]

اوس خپل سر ورته محکم نیولی اوسه　　چې د غم مصی دې ځان ته کړې مصافې

سپین چلتار په یوه تهلې بد لماسي　　دا د الو چارې په مدکمه کې اشرافې

---

(۱) په «پ» او «پ» چاپ کې «یوی شي» راغلی دی.
(۲) د «خ» لومړی نسخه: «له ستمه یې په هر لوري غوغا وي»
(۳) دا بیت د «خ» په دوهمه نسخه کې نشته.
(۴) د «خ» دوهمه نسخه: «د میرزا د شاعرۍ قدر به کم کا».
دا غزل د «خ» له دوهمې نسخې نه نقل شو.

بې تمیزه خو معرفت کولای نه شي — تر کره او کوټه معلوم کړه که صرافي
ځان دې ولې بې حیا کړې بې حجا به — چې پټ کړې دې دمینې په غلافي
که داهسې لوټې غواړې لوټې دا ده — که په اصل کې منصور غوندې نه لافې
د دوران له فساده نه امان غواړه — که په عقل د خپل فکر موې شګافي
د تقصیر سبب لې کوم دی را معلوم کړه — مېن وژنې بې له جرمه ناانصافي

٣٣٨ — ٣٥٤٨

کوم صفت به زه رحمان دا ستا بیان کړم
په کامل صفت موصوف په کل اوصافې

یا دا ستا چشم و ابرو وینم په خواب کې — یا مستان دي او ده شوي په محراب کې [1]
یا په جام کې ستا د مخ عکس لیده شي — یا خوشنده تجلي که په حباب کې
یا تر خط لاندې غوټې ستا د خولې دي — یا کوکب دي غرق شوي په شهاب کې
یا دې زلفې په مخ دواړه راخورې کړې — یا سنبل دي ګجک شو داور په تاب کې
یا دې زلفو په مخ توره تیاره کړه — یا خوشنده یې ځان څرګند کړ په آفتاب کې
یا دا ستا پېزوان زما په ځګر ښخ دی — یا سیخ نه دي پیلي په کباب کې
یا خو ستا په غم کې غرق زما صورت دی — یا خسنې دي چاړه وزي په ګرداب کې

٣٣٩ — ٣٥٥٦

چې دیار له کاته لې ووزې بیا له سترګو
د رحمان به څه عزت وي په حباب کې

ستا د مینې ګوهر نشته په هر آب کې — مګر بیا موند شي دا وښکو په دریاب کې [2]
که ته وینې زما پټې خښتې دلبره — رنګ د لبو دې ګواهي لي په داباب کې
په هر ځای چې ستا د لبو نام آغاز شي — د لاله و باران ووزي په حباب کې [3]

---

(١) دا غزل لواری او یوازې د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې راغلی دی.
(٢) دا غزل د "خ" په لومړي او مصوره نسخه کې نشته.
(٣) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

له خسته زړونو به څه دلستاني کا — د خراج ګنجایش نشته په خراب کې

زه حیران دستا د وروځو په تور خال یم — کافر څه شکل سجده کا په محراب کې [۱]

ګل له ډېرې بارېکۍ په شبنم خوړ شي — نازک زړونه بد وي په صاف ځواب کې

د هغو په ګلو اوړي بارانونه — د څڅېکي طاقت نشته په حباب کې

د ملګي غلطي وبښه ای خدایه
داوتر و چارې نه وي په حساب کې

۳۴۰ — ۳۵۶۴

زړه مې بایلوستا په مهر محبت کې — عاشقي دې زهر راکړه په شربت کې [۲]

لا زما و یار ته مه تره ناصحه — ما موندلی دی دا یار په ډېر محنت کې [۳]

که صورت د هغې مستې در ښکاره شي — عقل هوښ به دې هیڅ نه وي په صورت کې

که د عشق ترکس لګي غاښ به بایلې [۴] — ته چې ما ته غاښ چیچې په نصیحت کې

زه توبه په هغه تېر عمر وکاږم — چې صرف شوی دی بې یاره په غفلت کې

د آشنا د مینې پټ به رامات نه شي [۵] — که مې سر له تنې درومي په دا پټ کې

له ادبه یې و مخ ته کتی نه شم — خدای را پېښه جدايي کړه په وصلت کې

په قیامت که څوک له نیسته پوښتېده شي — زه د یار د کوڅې خاورې یم په نیت کې

لکه زه چې یې د دره په خاورو خوښ یم [۶] — خوښ به نه وي سلطانان په سلطنت کې

د درګاه په خاک نشینو یې تل سخ وي [۷] — د غمونو دخل نه وي په جنت کې

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "کافر څه شکله سجده نه کا په محراب کې".
(۲) د دې غزل پاتې په مصوره نسخه کې خپرې شوی ده.
(۳) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته.
(۴) چاپي دیوانونه: "که د عشق ترکس پر پوزې سر به بایلې".
د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "که د عشق ترکس پر پوزې غاښ به بایلې".
(۵) چاپي دیوانونه: "پټ به مې مات نه شي"
(۶) دا بیت په "ب ب" چاپ کې نشته په نورو چاپي دیوانونو کې یې لومړۍ مسره داسې ده: "لکه زه چې ستا د دره په خاورو خوښ یم".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو کې د "تل سخ وي" پر ځای "سختي نه وي" راغلی دی.

Marfat.com

٣٤١ — ٣٥٧٥

د دنیا له دولتونو یې پروا یم (1)
زه رحمان د عاشقۍ په سند دولت کې (2)

مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کې (3) — هر خسمنی تېره تېغ وي په دا لار کې
داسو گل به دې د دستان په وینو سور کا — چې دې ابېنې زماني دي په دستار کې
خو د ترکو چې تر آب حیات صاف دي — نه دي آب حیات سوي یم په نار کې
چې او سپینه آیینه پرې او به کېږي — تروزما هستي یې خړه په دیدار کې (4)
په هر وار چې یې وستر گو ته نظر کړم — لاس مې وللي دی له ځانه په هر وار کې
یاره ته چې له ما صبر و قرار غواړې — عاشق کله وي په صبر و په قرار کې
که مې سر و مال دستا په مینه درومي — زه تر سر و تر مال تېر یم په دا کار کې
هیڅ صرفه مه کړه د زړونو آزار اخله — که د چا سو د زړو ښي شي په آزار کې (5)
عشق د عقل په کوڅه استوگنه نه کا — چا موندلی نه دی یار په دا دیار کې (6)
ستاله دره له دربار به وانه و درم — خو ونه مرم ستا په درو په دربار کې (7)
کم بختان دیار په وصل کې هجوري — د وچ ډکي نهره نه وي په نهار کې
مفلسانو له عین کوهستان دی — که هم عمر یې گور دی په بازار کې
وهغو چې خدای حق بیني ستر گې ورکړې — د یوسف تجلی ویني په دیوار کې (8)

---

(1) د "ج" په دوهمه نسخه کې "فراغت یم" راغلی دی.
(2) قلمي نسخې: "زه رحمان د عاشقۍ په دولت کې".
د پېښور چاپي دیوانونه: "زه رحمان د عاشقۍ په دا دولت کې".
(3) د "ب" په نسخه کې "کاروزار" راغلی دی.
(4) "ب" چاپ او "ب ب" چاپ: "چې دا وسپینو دانه پرې او به کېږي — تروزما دهستۍ خړ دی په دیدار کې".
"ق ک" چاپ او "ق" چاپ: "چې دا وسپیني داني پرې او به کېږي — تاب زما د هستۍ خړه دی په دیدار کې".
د "خ" دوهمه قلمي نسخه: "چې دا وسپیني آهین پرې او به کېږي".
(5) دا بیت په چاپي دیوانو کې نشته.
(6) دا بیت په چاپي دیوانو او د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(7) چاپي دیوانونه: "ستاله دره له دیاره به وانه ودرېږم — خو ونه مرم ستا په درو په دیار کې".
(8) دا بیت په چاپي دیوانو او د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

Marfat.com

و عيب جن نه واره عيب ځرګند بري (۱) — شايسته که ځان يوسف کا په سينګار کې
چې هنر د عاشقۍ يې خدای نصيب کړ (۲) — بې هنره نور خندوينې په يار کې
دا داغونه د خپل زړه ورله بس دي (۳)
څه حاجت دی د رحمان په لاله زار کې

۳۴۲ — ۳۵۹۱

مدام ناست يم وچې ګوګل سترګې په نم کې — عشق را وښوه نور وس په خپل حرم کې
ما چې ستا د تورې زخم په خوله (۴) سنګل کړ — نور مې د الذت بيانه مونده په مرهم کې
خوار مجنون چې سر په پښو د ليلي کښېښود (۵) — سرفراز شو په عرب په عجم کې
نور وو مدام غالب وي په کمزوري — زه له نوره خمه خلاص يم ستا په غم کې
لکه زه چې ستا په غم کې مستغرق يم — بل به نه وي په جمله بني آدم کې
لکه مرۍ د ژوندي يو تر ميان پروت وي — هسې بېل يم له عالمه په عالم کې
هيڅ صحت (۶) مې د دمګړو په دم نه شي — هم په دا چې زما دم دی ستا په دم کې
نه مې بې تاتک وپوی نه جستجو شته — مراد مې تدلي په هر دم په هر قدم کې (۷)
که نصيب مې شي کوغالی ستا د سپيو — وبه نه کړم نور نظر په جام د جم کې
زړه مې هسې ستا په زلفو پسې ورک شو — لکه غوټه د چا پرېوځي په تورم کې
سره به وسوزي سر ګاو په دود زانګي — هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کې
زه رحمان کنار خوښ يم له عالمه
بار يې ستا سترګو رسوا کړم په عالم کې (۸)

۳۴۳ — ۳۶۰۳

(۱) چاپي ديوانونه : "وعيب جو ته واره عيب ځرګند بري".
د "خ" لومړۍ نسخه : "عيب حق واره عيب ځرګند بري".
(۳) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "که هنر د عاشقۍ لې رب نصيب کړي".
(۲) قلمي نسخې : "خپل داغونه د خپل زړه ورله بس کا".
(۴) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "زړه" راغلی دی.
(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "چې مجنون سر خپل په پښو د ليلي کېښود" په چاپي ديوانونو کې د "خوار" پر ځای "خوږ" راغلی دی.
(۶) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "صحت" پر ځای "دمه" راغلی دی.
(۷) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه : "ساري ستا کتو رسوا کړم په عالم کې".

Marfat.com

هسې بې یاره خفه یم په جهان کې[1] | چې مې ځای نه شي په ځمکه په آسمان کې
سره ګلونه د چمن راته سوداوړ شي[2] | چې قدم بې یاره کېږدم په بوستان کې
چې بې مرنه یم له ډېرې بې نیازۍ[3] | حیرانېږم د ناتوان صورت په توان کې
که هر څو فکر له ځانه سره وکړم | هیڅ د صبر طاقت نه وینم په ځان کې
هیڅ ساتنه د سرکښ خاطر رانه شي | څوک ساتلی شي بخرې په ګرېوان کې
تر هغه به نادان بل په جهان نه وي | چې څوک مهر و وفا غواړي په نادان کې
که بې سل ځله په زاړ[4] و قربان بولم | غوږ رانه باسي په زاړ و په قربان کې
هسې رنګ زما په ډېره ژړا خاندې | لکه ګل د سپرلي خاندې په باران کې
جوهري شي دُر و لعل کاندې برسېره | چې مې کېښني د دوستۍ ګوهر په دکان کې[5]
چې مې هیڅ ېرې په خوا په خاطر نه وي | زمانه بې راڅرګند کا په زمان[6] کې

۳۴۴

چې په وصل کې یې اوسېږې نه وچېږې
تر و به حال د ماځان خړوي[7] په هجران کې

۳۴۴

دبلبل له حاله زده کړه په خزان کې | بیا د ګلو تماشا کړه په بوستان کې
خوږې تېره تلخالي ترستوني نه شي | شیریني به خوند درنه کا په دهان کې[8]
ما په هجر کې لذت د وصال بیا موند | له یوسفه ملاقي شوم په زندان کې
لکه متن له معنی، معنی له متنه | یار هم هسې دی زما په دل و جان کې
عاشقي اسانه مه ګڼه خبر شه | سربازي ده هر نفس په دا میدان کې

---

(۱) «ب» چاپ او «پ ب» چاپ: «هسې بې له یاره زه یم په جهان کې».
(۲) «ب» په لومړي نسخه او «خ» په لومړي نسخه کې «دي» راغلی دی.
(۳) «خ» په دوهمه نسخه کې «بې رحمه» راغلی دی.
(٤) «خ» په لومړي نسخه کې «ناز» راغلی دی.
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٦) په «ق» چاپ او «ق، ک» چاپ کې «لوآن» راغلی دی.
(۷) «ب» په لومړي نسخه او «خ» په دوهمه نسخه کې «خرشي» راغلی دی او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۸) مصوره نسخه: «شیریني به دې خوند نه کا په دهان کې»

Marfat.com

د ناتوان له ناتوانۍ نه وویرېږه — که هزار ځله توانايي په څپل خان کې[1]
هم هغه به پس له مرګه ازار بیږي — هرچې بل ازار وي په دا جهان کې

۳۴۵ — ۳۶۲۲

په صالح باندې بې یاره هسې حال دی
لکه حال د زندانیانو په زندان کې

زړه مې ډوب ډوب کېږي ستا د غم په غلبو کې — هسې لکه څوک چې مستغرق شي په اوبو کې[2]
ستا د عشق له موج په هېڅ لوري وتی نه شم — دواړه لاس مې پرېوته د عشق[3] په لامبو کې
سل توبې مې ماتې کړې واړه وښتم له عشقه — سل ووېسا مې نوره پاتې نه شوه په توبو کې
ته چې له ماڅې دا د او وښکو باران ګوره — رخ د سفر هېڅ نه دی په دا ګهنو شپېبو کې
نه یوه سپوږمۍ نه په آسمان کې هزار ستورې — بې تا به څوک څه کاندي خلق په څنبو کې[4]
عشق و عقل دواړه سره ضد دي که پوهېږې — کله کړې آرام داوږ بخري په لمبو کې[5]

هر څوک چې د عشق په آتش ځان سوزي ګهله نه[6]
۳۴۶ — ۳۶۲۹
خدای دې ابراهیم غوندې څوک نه کا په لمبو کې

هسې خوښ یم ستا در په خاکسارۍ کې — لکه خوښ وي سرداران په سرداري کې[7]
عاشقي که نور خلقو ته خواري د ه[8] — ما موندلې دي دولت په دا خوارۍ کې[9]
و بیمار ته که نا خوښ والي و ګرځي — خوښ یم زه د ستا د عشق په بیمارۍ کې[10]

---

(۱) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "په خپل توان کې" راغلی دی.
(۲) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی بیت داسې دی: "زړه مې ډوب ډوب کېږي په غموکې — هسې لکه څوک چې مستوق شي یه اوبو کې"
د "ب" لومړي نسخه: "زړه مې ډوب ډوب کېږي ستا د غم په غلغلو کې — هسې رنګ لکه چې څوک مستغرق شي په اوبو کې".
د "ق، ک" چاپ: "زړه زما ډوبېږي ستا د غم په غلبو کې — هسې لکه څوک چې شي غرقاب په اوبو کې".
(۳) په قلمي نسخو کې "عقل" راغلی دی.
(۴) قلمي نسخې: "نه یوه سپوږمۍ نه هزار ستورې له آسمانه — بې تا نه به څوک څه وکا د خلق په کنبو کې"
(۵) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ق ک" چاپ کې د "لمبو" پرځای "پنبو" راغلی.
(۶) قلمي نخې: "هرڅوک چې د عشق په اتش سوی دی رحمان د".
(۷) دا غزل د "ب پ" چاپي دیوان کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه نسخه: "عاشقي که نور د عالم وته خواري ده".
(۹) چاپي دیوانونه: "ما موندلی دا دولت دی په خوارۍ کې".
(۱۰) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه کې نشته. دوهم مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "خوښ یم زه د عشق په درد په بیمارۍ کې".
"ق ک" چاپ: "خوښ یم زه دیار د عشق په بیمارۍ کې".

Marfat.com

دخپل بام ورو زینو وته نظر کړه | هسې سترګې دې زما په بېدارۍ کې (۱)

یار د یار له سترګو اوښکې پاکیزه کا | تا دریاب (۲) کړې زما اوښکې په یارۍ کې

مال د بېړۍ ناچارۍ و یار ته شاکړه | سرې (۳) عذر دی په بېړه ناچارۍ کې

غم به هیڅ یو هوښیار خوښ کړې نه وي | ما خوښ کړې دې ستا غم په هوښیارۍ کې

۳۴۷ — د (ش) اوښکې به څرنګ په قرار وي — ۳۶۳۷

چالبدلي دي دریاب په قرارۍ کې

سپین مخ نه تور کودې شي په پېرۍ کې | سم قد ونه کوږ لړګی شي په پېرۍ کې (۴)

لکه شمع د سحر آفتاب د ..ي | هم بې تاب وهم زېړي شي په پېرۍ کې

یو طرف ته یې سر بند دي بل خوا د روي (۵) | خپل صورت تمام پردي شي په پېرۍ کې

د مړده وې په حساب وي غزا وشوه | که څرګند لیده ژوندي شي په پېرۍ کې

مړ لا نه دی پس له مرګه بیا ژوندي شي | نشته دا چې څوک ځلي شي په پېرۍ کې

که خوږ وخوي لکه زهر نه هضمېږي (۶) | نه څه ښې نه خوږي شي په پېرۍ کې

دا ځواني ده چې څه اوري یا څه وېني | نه لېده نه اورېدي شي په پېرۍ کې

۳۴۸ — اې (ش) پیرۍ هسې عاجزي ده — ۳۶۴۵

که ستم وي زده پرې سوي شي په پېرۍ کې (۷)

یو ځل ولېدای د یار پرېشانې زلفې | په عارض باندې حلقه پېچانې زلفې (۸)

که تور لم لري ظاهر سیاهي د زلفو | حقیقت لري سفېدي روښانې زلفې

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې یې لومړی مسره داسې ده: "د خپل بام وره دان وو وته نظر کړه".

(۲) په چاپي دیوانونو کې "جاري کړې" راغلی دی.

(۳) د "خ" په لومړي نسخه کې "څره" راغلی دی.

(۴) چاپي دیوانونه: "بنایسته مخ دې تور کودې شي په پېرۍ کې سم قامت وي کوږ لړګی شي په پېرۍ کې".

(۵) قلمي نسخې: "که یو بل بو سر بن دي بل خواته درومي".

(۶) دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. د "سپر" په لومړي نسخه کې "اړ نه بن يي"، د "خ" په لومړي نسخه کې "ورنه بن يي". په مصوره نسخه کې "نه تیر بېږي" او د "خ" په بېهګري نسخه کې "ونه جوړ بېږي" راغلی دی.

(۷) په قلمي نسخو کې "زړه سوي شي" راغلی دی. (۸) — دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

Marfat.com

دا قدرت الهي دی چې راشه ګوره — د دانا ګردن طوق د ناداني زلفې
هم په خپل خپل ځان په زړه حیران یم — په اوبو دیار پرتې حیراني زلفې
په شمیم د خوشبوئي یې زه خوشبو شوم — خدای دې نه کا په خپل داد پښیمانې زلفې
په کوم لوري به زه سر تر پښه وګرځم — وګردن ته مې پرتې ریسماني زلفې
ځکه زار یم له دوو ستر ګو او سینې وینې
چې رحمان یې وینې دیار خنداني زلفې

۳۴۹ — ۳۶۵۲

چې وصال د خپل جانان مې دی موندلی — ګنج د دُرو و مرجان مې دی موندلی[1]
هو مره طمع مې له خپله بخته نه وه — نه پوهېږم چې خرستان مې دی موندلی[2]
که په ډېر مشقت لاس لره خدای راکړ[3] — زه خو وایم چې آسان مې دی موندلی
چې مې یو نفس وصال ورسره وشو[4] — واړه اجر د هجران مې دی موندلی
څه عجب[5] دی که تمام جهان زما شي — چې بادشاه د درست جهان مې دی موندلی
زه رحمان په خپل شعر شکر ګذار یم[6]
چې داهسې رنګ دیوان مې دی موندلی[7]

۳۵۰ — ۳۶۵۸

ما چې سترګې وګرځولې ته وار ولې — په هغو سترګو مې وینې وژړلې[8]
د عمل جزا یې بیا مونده برحقه[9] — دا دستور دی چې کړې هغه اخلې
ترغمز ولې یو په سله زړه قاتل دی — تل چې توره یې په کاڼي تېره ولې

---

(۱) مصوره نسخه : "واړه اجر د هجران مې دی موندلی".
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "نه پوهېږم په خرستان مې دی موندلی".
(۳) د "خ" دوهمه نسخه : "که په ډېر مشقت لاس لره راغی".
(۴) د "خ" دوهمه نسخه : "ورسره وشي".
(۵) "ق، ک" چاپ : "څه تعجب دی".
(۶) د "خ" دوهمه نسخه : "زه رحمان په خپل شعر مدام خوښ یم".
(۷) "ق" چاپ : "چې داهسې رنګ داستان مې دی موندلی".
(۸) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخو کې نشته.
(۹) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "د عمل جزا مې بیا مونده برحقه".

Marfat.com

خو ګرده به ښتا وان له چانه غواړي — چې یې غوښې په خپل تیغ کړې سینې خپلې
مادا مرګ داستا په مینه کې هاله لید — چې ګدای د بادشاهۍ لاڅپې وهلې
له خوبانو به څوک څرنګ وفا[1] غواړي — سروې کله کشمشي میوې نیولې
په دربار یې سندرا سي شه ورته کېنه — تا په تان د سرو ښته ایرې مښلې[2]
کړه دفتر د خپل قسمت د چا په لاس وي — بدې ښې به چا کاله قبولې
چې ښکلي یې ودکوله و ښکا نو — دې بدانو څه بدي نه وه غوښتلې[3]
څوک له خاوره وایږ و پاڅوي تخت وکړي — څوک له تخته د ایږ و په ویران ولې
ستا چې نیت د آشنایۍ نه و صنمه — د رحمان سترګې دې ولې ندګنډلې

دازل په ورځ د بخرو چواړي وه
اې رحمانه چا بایلودي چا ګټلي

٣٥١ — ٣٦٧٠

بدلوې په دنیا دین وایمان ولې؟ — نه پوهېږې په خپل سودا و په زیان ولې؟
همېشه په ځای د شکر شکایت کړې — منکرېږې په عطا د سبحان ولې؟
د رښتیا خدای دې چارې توان دی — په دې بې توانۍ کې خپسر بولې ناتوان ولې؟
مدام اوښکې تویوې د رزق له غمه — د ګوهر په بها پلورې ارزان ولې؟
چې په هر بېګاه سامان د هر سبا کړې — کوږ و کږ شوې د محشر په سامان ولې؟
هیڅ ګیاه له ځایه نه خوځي نم موي — ته د رزق په طلب منې جهان ولې؟
چې بې خواره قضا خپله رضا غواړي — بېهوده په لوټو ولې آسمان ولې؟
په ژوند و مره چې د مرګ له غمه خلاص شې — اسان کار دې کړ په ځان باندې ګران ولې؟
غیرې مېنې دې په زړه باندې انبار کړې — په کعبه کې ننه باسې بتان ولې؟

---

(١) په "ق" چاپ کې د "وفا" پر ځای "میوه" غلطي دی.
(٢) دا بیت او ورپسې څلور نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(٣) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "دې بدانو څو بدي نه وې غوښتلې".

نه به د نفس په پیروي د رحمٰن لاره شو / د خبیث په لاس دې ورکړ قرآن ولې؟

چې یوسف د حبشي په بها مومې / د مطلوب په بها[1] نه سپنې ځان ولې؟

٣٥٢ — ٣٦٨٢

بد په بدو پښېماني کاندې ناکاره

ته په خپلو بدو نه شې[2] پښېمان ولې؟

په نور څه[3] پسې نه ځلېږې زړه ولې؟ / د چاریار په خبرې ځای نه ږدې ولې؟

چې روغه مینه کوې په شخوند خوږ نه یې / ترخې خبرې کوې لوړې لوړې ولې؟

ته د خپل کلام مینه په داخپل شخوند کړه / تا دا رلوته تېرې کړې داړې ولې؟

هغه کار چې دې په نرم ویل کېږي / بیهوده په بیرته ولې لاړې[4] ولې؟

نیک له نیکو بد له بدو مناسب دی / نیک و بد و بله پر بله نغاړې ولې؟

یو قدم د خدای په لور اېښود نه شې / تمامي عمر په پراته لاړې ولې؟

تل دې طوق د تعلق په غاړه کېښوست[5] / وکښې نه شې د غم طوق له غاړې ولې؟

٣٥٣ — ٣٦٩٠

چې په فرح د شیخ لافې کړې ناکاره

په شپه مې له مېړو شه غواړې ولې؟

ته چې خپله نه عقلي هوښیارې[6] بولې / کاشکي[7] بیا مومې دغو ښتو په نرخ شولې

عشق یو داد دی په عاشق باندې له خدایه[8] / هسې نه دی چې یې پېرې یا یې پلورې

زلیخا غوندې به بله شیدا نه وي / که د مصر مستورې شي وارې ټولې[9]

---

(۱) د "پ" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "طلب" راغلی دی.
(۲) د "پ" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "یې" راغلی دی.
(۳) په قلمي نسخو کې "لور چا" راغلی دی.
(٤) دا او ورپسې بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "خ" په لومړي او د "پ" په لومړي نسخه کې "لوني لاړې ولې" راغلی دی.
(٥) د "خ" په دوهمه نسخه کې "گرزي" راغلی دی.
(٦) "ق ک" چاپ: "هوښیارتیا".
(٧) د "خ" دوهمه نسخه: "دریغه".
(٨) "ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "رب". د دوهمې مسرې یې په عدي کتابونو کې داسې ده: "هسې نه چې یې یا پېرې یا یې پلورې".
(٩) "ق ک" چاپ او "ق" چاپ: "که د مصر مستورات شي راټولې".
د "خ" لومړي نسخه: "که د مصر مستورې کړې وارې ټولې"
په مصور نسخه کې د "وارې" پر ځای "خپله" راغلی دی.

Marfat.com

هغه بحر څه په بحر حساب نه دی | چې اوبه یې خاک آلودې وي ختولې (١)

له هغو سره به څه فکر د یاران وي | چې په غم وي د کاله یادکړولې

عاشقي د خپل نغري په غاړه نه شي | څو په یار پسې وانخلي ځلي ځولې (٢)

د وصال په نعمتونو غره مه شه | جدايي یې خلقې کړې په زړه زمولې

٣٥٤ — در گوهر په تله نه دی چا تللی | د رحمان شعر گوهر دی څه یې تولې — ٣٧٩٨

هسې ډوب یم ستا د غم په دریاب تللی | چې ماهي غوندې بې تښته یم کوتلی

مالیدلي چې لیندې دې وه راکښلې | تا د ورو څو په لیندو یم زړه ویشتلې (٣)

په خپل ځان مې تر هغه پورې نظر و | څو مې ته په نظر نه وې کتلی

اوس مې ستا په مینه ځان و جهان هېر شو | د سیلاب په مخ کې لاړم لکه خلي

عاشقي به یې د باد په مخ بنه کا | که چا ځای وي کوه قاف غوندې نیولی (٤)

چې د عشق له بحره روغ سلامت وځي | زه یې نن گڼم له موره زیږیدلی

هر چې ولوېږي په بلا د تورو زلفو | هغه بیا تر گوره (٥) نه دی ورغلی

چې له غرونه پرېوتلي وي بیا پاڅي | پاڅېدې نه شي له زړونو پرېوتلي

چې د اور لمبو وهلي وي بیا روغ شي | نه رغیږي د آزار (٦) لمبو وهلي

٣٥٥ — زه رحمان یې هر دم ونیم ستا په غم کې | که خپل مرگ په سترگو نه دی چا لیدلی — ٣٨٠٨

---

(١) د "خ" دوهمه نسخه: "یا ختولي".
(٢) د "ب" لومړۍ نسخه: "ځلي ځولې" "پ پ" چاپ: "خلي زړولي" "ق ک" چاپ: "زالي زړولې".
"ق" چاپ: "زلي زړولي" د "خ" لومړۍ نسخه: "زړې ژړولي" او د "خ" دوهمه نسخه: "ژالي ژړولې".
(٣) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په "ب" چاپ او د "پ پ" چاپ کې "راکښلي" او په "ق ک" چاپ کې "ویشتلي" راغلي دي.
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٥) د "ب پ" چاپ کې "تر موره" راغلي دي.
(٦) په چاپي دیوانونو کې "هجران" راغلی دی.

Marfat.com

هر چي کښت يې په باران او په سيلاب وي | د هغو عمر به واړه په عذاب وي (۱)
هغه ملك چې پكې سيند او رود بار نه وي (۲) | دهقانان به يې همه خانه خراب وي
و آسمان ته به يې سترګې وي ختلي (۳) | د باران له انتظاره به بې خواب وي
لکه خولګ چې کړوي په کړهي کې (٤) | د هغه ماهي په طور به کباب وي
لا به کله بارانونه پرې نزول شي | چې نخيل و زراعت به يې سيراب وي (۵)
همېشه له خدايه خواست د اوبو کاندي | کړې چې يې خواست په عمر مستجاب وي (٦)
لکه تل چې يې په ژوند د اوبو غوږ وي (۷) | هومره غوږ يې نه په چنګ نه په رباب وي
که همه عمر باران ور باندې ووري | لا ګرمي يې په صورت کې د آفتاب وي (۸)
د ګرمۍ او د خشکۍ له دهشته | د آفتاب په خبر ګومان يې په مهتاب وي (۹)
د اوبو له ډېرې ډېرې قيمتې نه | لړګي لوښي يې مردار په منجلاب وي (۱۰)
فرق د پاکو د ناپاکو اوبو نه کا | که اوبه يې ګېږې وړې په پېشاب وي
د اوبو په وېش چې ورشي انصاف نه کا (۱۱) | که په لاس يې ورقونه د کتاب وي

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) "ق، ک" چاپ: "سيلاب". د "خ" په لومړي نسخه کې دا مسرې داسې ده: "هغه ملك چې يې په سيند په نه دريابونه وي".
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "و آسمان وته يې سترګې وي ختلي".
(٤) "ب" چاپ: "لکه خولګ چې کړوي يې په کړهې کې".
"ب" چاپ او "ق، ک" چاپ: "لکه خولګ چې تله وي په کړهه کې".
د "خ" لومړي نسخه: "لکه خولګ چې تله وي په کټوري کې".
دوهمه مسرې يې په دوهمه نسخه کې داسې ده: "د هغو په طور به درست سره کباب وي".
"ق، ک" چاپ کې دا مسرې داسې ده: "د هغې ماهي په شان به کباب وي".
(۵) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې يې نخل د زراعت به يې سيراب وي".
(٦) د "خ" لومړي نسخه: "که يې کاندې خواست به چېرې مستجاب وي".
(۷) د "خ" لومړي نسخه: "لکه تل چې يې په غږ د اوبو غوږ وي".
"ق، ک" او "ق" چاپ: "لکه تل چې يې په ژوند د اوبو غږ وي".
(۸) د "خ" دوهمه نسخه: "له ګرمه يې په صورت کې هسې تاب وي".
(۹) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته په "ق، ک" چاپ کې داسې دی: "د ګرمه او د خشکۍ له ډېره دهشته په افتاب باندې ګومان يې د مهتاب وي".
(۱۰) قلمي نسخه: "لرګي لوښي يې مردار د منجلاب وي".
د "خ" دوهمه نسخه: "لوښي کوزې يې واړه منجلاب وي".
د "ب" لومړي نسخه: "لوښي لرګي يې مردار د منجلاب وي".
(۱۱) د "ب" لومړي نسخه: "انصاف بوړې وي".

Marfat.com

داو بو په غلا چې ور شي نه جار وزي          که ساکن د خانقاه او د محراب وي

داو بو ثواب يې نه کېږي له لاسه          که په گوټ اوبه يې عين د حج ثواب وي (۱)

د باران اميد يې نه کېږي له خدايه          که يې شپه او ورځ په سر باندې سحاب وي (۲)

پليتي به يې له تنه څه رنګ در (۳) وځي          چې اوبه پکې نايابې تر ګلاب وي

چې د نوکو اچولو په ځای ور شي          تر تنور يې ځان بتر کا که عقاب وي (٤)

هيڅ يې مه پوښته له غسله او دسه          چې يو ښاڅکی پرې ګوهر غوندې نا ياب وي

په سبب د ډېره ډېره تيمم          همېشه يې سپېره ږيره په تراب وي (٥)

د للمي سړي (٦) په مخ کې وي آب څېري          هغه خلق چې يې آب وي خوږې آب وي

په آتي کې لا هم وي خوند وېرانه          هغه کلي چې د بل کلي پايناب وي

يو به نسي هېڅ برې له سړي (۷) ورځه          پايناب سړی که زوی د ارباب وي

سم حساب له عزيزانو کله مومي          تل تر تله يې د بل لاندې (۸) حساب وي

نه طاقت د بد ويل لري نه صبر          لکه مار په ملا وهلی پېچ وتاب وي (۹)

نه يې مرګ نه يې فتنه له لاسه کېږي          لاس تړلی د خپل شرم په طناب وي

چې يې زيست روزګار په کار وي تحمل کا (۱۰)          همېشه يې له بديه اجتناب وي

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "که يو ګوټ اوبه عين د حج ثواب وي".
(۲) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) "ق" او "ق.ک" چاپ : "دور شي".
(٤) دا بيت په چاپي ديوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کې نشته.
(٥) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. لومړی مسری يې په "ق.ک" چاپ کې داسې ده : "په سبب د دې چې ډېر ډېر تيمم کړي". د "خ" په دوهمه نسخه کې د "سپېره ږيره" پر ځای "سپينه ږيره" راغلې ده.
(٦) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په "ق" او "ق.ک" چاپ کې د "سړي" پر ځای "ځمکې" راغلې ده. د "خ" په لومړۍ نسخه کې يې دوهم مسری داسې ده : "هغه خلک چې د بل کلي پايناب وي".
(۷) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. دوهم مسری يې په "پ" چاپ کې داسې ده : "د پايناب سړی که زوی هم د ارباب وي". "ق.ک" چاپ : "پايناب سړی که زوی هم د ارباب وي".
(۸) قلمي نسخې : "تر بل لاندې".
(۹) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. "ق.ک" چاپ کې داسې دی : "نه طاقت يې د ګنځلو وي نه صبر لکه مار په ملا وهلی پېچ وتاب وي". نورې قلمي نسخې : "نه طاقت د بد د بدل لري نه صبر لکه مار په ملا وهلی په پېچ وتاب وي".
(۱۰) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. په چاپي ديوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې يې لومړی مسری داسې دی : "چې يې زيست يا يې روزګار په تحمل شي".

که یوه بده ویناپي تر خولې ووزي — هغه دم یې په خپل ځان باندې عتاب وي [1]
یو هغه سړی تېرې ور باندې کاندي — چې په عمر نه د سوال نه د ځواب وي [2]
همسایه وي چې یکار د پښتنا نه شي — او په اصل یا موچي وي یا قصاب [3] وي
ملایم ویل اثر په هغو څه [4] کا — چې په زړه کې یې نه شرم نه حجاب وي
که دیو چې د سړیو په صورت [5] شي — نه ګومان کړې چې سړې وې دې دواب وي
په هېڅ رنګ له بده خویه نه جاروزي — هسې مست د جاهلۍ په شراب وي
چې اشراف د هسې خرسو په لاس کېوزي — نو خلاصي به یې له خونه په کوم باب وي [6]
هسې رزق دې خدای چا له ورنه کا — که به رزق د چا په هسې رنګ اسباب وي [7]
تر دا هسې زمیندار هغه ښه دی — چې نوکر د یوه تور کافر کلاب وي [8]
نوکري د یوه سپي ورله ښه ده — هغه پر بن ده چې لا نوم یې د نواب وي [9]

٣٥٦

د خشکۍ له خمر قوم د ناصح خوښ دي
که رفتن یې له جهانه په شتاب وي

٣٧٤٥

تل دې ستا د خواب آلوده سترګو خواب وي — چې فتنې په خوب اوده شي ډېر ثواب وي
لکه مخ چې په میناکې تجلي کا — نور د حسن په حجاب کې بې حجاب وي

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته. دوهم مسرۍ یې د "ب" "چاپ" کې داسې ده: "هم هغه یې په خپل ځان باندې عتاب وي".
(٢) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته. لومړی مسرۍ یې په نورو نسخو کې داسې ده: "یو هغه سړی تېرې ور باندې وکا".
(٣) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته، "پ" چاپ: "همسایه یې چې چیکار وبېښتا نه شي — او په اصل به موچي یا به قصاب وي".
"ب" چاپ: "همسایه او چلیکار یې پښتنا نه شي — او په اصل به موچي یا به قصاب وي".
"ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "همسایه یې چرېکار او پښتانه شي — او په اصل به موچي یا به قصاب وي".
(٤) چاپي دیوانونه: "ملایم ویل اثر ور باندې نه کا".
(٥) د "خ" دوهمه نسخه کې د "صورت" پر ځای "صفت" راغلی دی.
(٦) "ق، ک" چاپ: "چې اشراف د هسې خرسو په لاس کېوزي — نو خلاصي به یې له خونه په کوم باب وي".
د "ب" لومړي نسخه: "چې اشراف د هسې خرسو په میان کېوزي — تر خلاصي به یې له خونه په کوم باب وي".
د "خ" لومړي نسخه: "چې شراب داهسې خرسو مینا ګوري — تر خلاصي به له هغو نه په کوم باب وي".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې داهسې اشراف د خرسو په میان کېوزي — تر خلاصي له هغو نه یې په کوم باب وي".
(٧) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. دوهم مسرۍ یې د "ب" "چاپ" کې داسې ده: "چې د چا رزق په هسې رنګ سیلاب وي".
(٨) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٩) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته.

Marfat.com

ترڅې ماته لولوې پټه د صبر — زه هم ډېر په دا راضي یم که مې تاب وي

نه په دا سبب په ترکو یسې ژاړم — چې ژړا د عاشقانو د مخ آب وي

که نادان وي هم دا هومره خو پوهېږي — چې څوک نه ژاړي په یار پسې کذاب وي

د عاشق سترګې په دا سبب شوې پیالې — چې مدام د جوې په سر لکه حباب وي

لخالي خونې به څه وړي چې څه نه وي — که ختلی د حباب په سر سېلاب وي (۱)

هم په دا لې د نغمې اثر پیدا شو — چې په تشه ګېډه صبر د رباب وي

د حرص (۲) له خېله نقده بهره نشته — لکه مار د ګنج د پاسه پېچ وتاب وي

کاملان تعلقات د دنیا نه کا — لکه پامې د ځړان پسنه په رکاب وي

غفلت هېڅ عجایب نه دي په دنیا کې — ساکنان د خرابات واړه خراب وي (۳)

۳۵۷ — ردیف ي — ۳۷۵۷

چې سادي غواړي بېشماره بې حسابه

په ... به د غمونو څه حساب وي

د هغو چې وبله هم و محبت وي — په هستۍ او په نیستۍ کې فراغت وي

عاشقي ده تر هغه مقام پورته — چې د چا مقام په رنځ یا په راحت وي

څه دا وړ په لمبو سوي څه په وار وو — واړه عشق دی که هجران وي که وصلت وي

چې مطلب و مدعا د سړي خدای شي — ناست ولاړ یې همه واړه عبادت وي

که په دوه قدمه ومري هم حاجي شي — چاچې کړې د مکې په لوري نیت وي

هغه څوک چې پېروي د اولیاء کا — دا لې واړه په معنی کې ولایت وي

خاورې نه په سړي واړه برابر شي — هغه دم چې له جهانه په رحلت وي

که د ننوېه تخت کېني غزا شوه — و فهیم و تد کم فهم بې (۴) عزت وي

---

(۱) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه کې "په کوه سېلاب وي" راغلی دی.
(۲) په "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ کې "د رقیب" راغلی دی.
(۳) چاپي دیوانونه: "ساکنان د دهر کل واړه خراب وي".
(۴) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بې فهمه" راغلی دی.

Marfat.com

د دانا و نادان ترمیان یو حد دی — هوښیاري تر حد په هوږ ته حماقت وي
تجاوز له خپله حده په کار نه دی — د هر چا په خپله خونه کې حرمت وي

نور عالم که د دنیا غمونه کاندي
له رحمانه سره دي غم د آخرت وي

۳۵۸ — ۳۷۶۸

د هغې بنا چې نوم محبت آباد وي — ترو خاطر به پکې څرنګ د چا ښاد وي
په خوارۍ او په خښو کله وښې نسي(1) — هر مرغه چې په قفس کې د صیاد وي
د رنځور په خوله کې کله مزه کاندې — که سل رنګه نعمتونه یې معتاد وي
پای بسته ولره هر چېرې زندان دی — هغه هر چېرې آزاد دی چې آزاد وي
عشق تغییر و تبدیل نه لري یکرنګ دی — د آشنا له لاسه داد وي که بېداد وي
د بنیاد نسبه هغه وي په جهان کې(2) — چې په یار پسې بې بیخه بې بنیاد وي
بودني هغه بالښي په معنی کې(3) — چې د تن په نابوري یې اعتقاد وي
نقصاني وي د دنیا عمارتونه — که تري لاندې سل ستونه د فولاد وي
زندګي که څوك پوهېږي حضور دم دی — آینده و رفته کله د چا یاد وي
د دنیا الکه سیلاب هسې بهېږي — نه یې چا تخم استوګنه نه استاد وي
وهغو ته چې خدای خود بخپله وښود — څه حاجت یې په ښوونه د استاد وي(4)
چې کامل اراده لري په زړه کې — د مرشد له اشارته یې ارشاد وي(5)

---

(1) د "خ" لومړی نسخه: "په خوارۍ او به خښنه کله غوښنه نسي".
د "خ" دوهمه نسخه: "په خواره په خښنه به کله وینه نسي".
(2) د "ب" لومړی نسخه: "بېخي وبنیادي هغه دی په یارانه کې".
د "خ" لومړی نسخه: "بنیادي بېخي هغه دی په دنیا کې".
د "خ" دوهمه نسخه: "د بنیادي بېخ هغه دی په یارانه کې".
(3) د "ب" په لومړی نسخه کې "په دنیا کې" راغلی دی.
(4) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته، لومړی مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "وهغو ته چې خدای بخپله وښود".
(5) دا بیت هم د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

Marfat.com

۳۵۹ ۳۷۸۱

د بې یارانو وجود بیل شو و هیڅ کرم نه دی
که رحمان له جدایي نه په فریاد وي

په دنیا کې که هر څو و بله پیوند وي — پس له مرګه به یې درست صورت بند بند وي

زه به و خورم په دا باب هزار قسمه — که باور دې په قسم او په سوګند وي

یا به وړاندې تر تا درومي یاد وه ستو — که دې ورور که دې عزیز که دې فرزند وي

زمانه به یې تر پښو لاندې پایمال کا — که په قطع تر آسمانه سر بلند وي

هم یې هسې پیمانه ګڼه په خاورو — که دې(۱) ډکه خوله تمام عمر په قند وي

هر چې کاندي آزادي په دا جهان کې — پس له مرګه به همه واره په بند وي

هر چې غاړه یې و حق ته ایښې نه وي — همېشه به یې په غاړه کې کمند وي

دا چې زه و تا ته وایم که یې خدای کا — په آیاتو په حدیث کې به څرګند وي

ته چې نه کوې باور په آیتونو — تر و زما ویل به څه درله پند وي

ناپسند به د منکر په انکار نه شي — هر کلام چې دلپذیر او دلپسند وي

۳۶۰ ۳۷۹۲

خدایه ګنج د قناعت و رحمان ورکړې(۲)
چې بې ملکه بې حشمته دولتمند وي(۳)

که د درستې دنیا غم مې په سر بار وي — واړه سهل دي که یار راسره یار وي

هزار وار به یې د یار تر نامه زار کړم — که په قطع مې دا یو صورت هزار وي

هغه نه دي(۴) په شمار د عاشقانو — چې د خپل تن تر داغونه یې په شمار وي

مشکل کار د عاشقي چې خدای پیدا کړ — کله بل په جهان هسې مشکل کار وي(۵)

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "که یې ډکه خوله" راغلی ده.
(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "خدایه ګنج د قناعت رحمان ته ورکړې".
(۳) قلمي نسخې: "چې بې ملکه بې حشمته دولتمند وي"
(۴) "ب" چاپ کې "هغه کس" راغلی دی.
(۵) "ق، ک" چاپ: "بل به کله په جهان دا هسې کار وي".

Marfat.com

خوټې او ښکلې په مخ لاړې روغې نه کا
د هغو معشوقو ته کله لاړ وي

ته چې ګل زما د یار په شکل[1] غواړې
کله دا رنګه ګلونه په ګلزار وي

نه مومنه شي په بازار کې نه په ښهر
هغه رخت چې د خوبانو په بازار وي

زه د یار په څېر مخ نه وینم په سترګو[2]
که په هره خوا خوبان هزار هزار وي

د عاشق نظر په ډېرو په لږ نه وي
که د بدن د یار په لږ که په بسیار وي[3]

شته هزار هزار خوبان ولې سوګند دی
که زما د یار په څېر به د چا یار وي[4]

٣٦١

٣٨٠٣

مرګ له هیچا سره وار نه کا ناصحه
یار به ځان ترې یار رومبی کا که په وار وي[5]

له هغو سره به څه فکر د یار وي
چې یاران یې په هر لوري هزار هزار وي

په آشنا پسې وېښتلي هم هغه وي
چې له نورې آشنايي یې استغفار وي

صبوري او قراري دې په ما نوم شي[6]
که یې تا بدې یا صبر یا قرار وي

هر ژوندون د یار په وصل ښایسته وي[7]
بې مینه که ژوندون وي څه په کار وي

په یارۍ کې آزار نشته خدای دې نه کا
که ذره به زما زړه له تا آزار وي[8]

و هغو ته عاشق نه ویلی بویه
چې یې فکر یا د سر یا د دستار وي[9]

که د یار له لاسه اور په یار بلېږي[10]
هغه اور د عاشقانو ته ګلزار وي

---

(۱) "ق، ک" چاپ کې "رنګه". د "خ" په دوهم نسخه کې "حسن". په "ق" چاپ، د "ب" په لومړي نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې "جنس" راغلی دی.
(۲) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه: "زه دیار په څېر بل نه وینم په سترګو". او د "ب" په لومړي نسخه کې "د بلا مخ" راغلی دی.
(۳) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(٤) په قلمي نسخو کې "په بل د یار" او "په هیڅ دیار" راغلی دی.
(۵) "ب" چاپ او د "پ سپ" چاپ: "که یې واروي" او "ق، ک" چاپ کې "که یې یار وي" راغلی دی.
(٦) د "ب" په لومړي نسخه کې "نه دي"، د "خ" په لومړي نسخه او نیکمري نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نه دي" او "ق" چاپ کې "ګم" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړي نسخه: "لږ ژوندون د یار په وصل کې ښه دي ده".
(۸) د "خ" لومړي نسخه: "که هزار ځله مې زړه له تا آزار وي".
(۹) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۱۰) د "ب" چاپ، د "خ" په دوهم نسخه او دیګري نسخه کې "په ما" او په "ق، ک" چاپ کې "په چا" راغلی دی.

Marfat.com

خای یې اور شي چې زنار یې شي په غاړه — ولې نه چې ستا د زلفو زنار دار وي (۱)

ستا د زلفو زنار دار که په اور سوځي — د غم اور به هم همه ستا د رخسار وي (۲)

۳۶۲ — ۳۸۱۳

هغه څوک نه به لیلی غوندې رسوا شي
چې رحمان غوندې مجنون یې په دیار وي (۳)

که د ستا د خاطر مینه په اغیار وي — ستا پاره دې اغیار هم زما یار وي

چې سړی په یوه مخ باندې مین شي — له یوه مخ یې سل مخه په کار وي

هر چې کاندې نوکري د بادشاهانو — خواه ناخواه به د دربانو منت بار وي

زه به ستا له رقیبانو څه ما نه کړم — دا دستور دی چې له ګله سره خار وي

خوشال خاطر یې څښتن نه شي په تماشې — ګل دوي چې د بلبل و ګل تر لار وي

سجاده به د ساقي د لارې فرش کا — هر صوفي چې د سرو سترګو (۴) خریدار وي

په جذبه د عاشقۍ به لیونی شي — که په قطع افلاطون غوندې هوښیار وي

۳۶۳ — ۳۸۲۱

په رحمان باندې به هیڅ ملامت نه کا
هر سړی چې ستا له حسنه خبردار وي (۵)

(۶) د وصال په هوا والوتې مرغ شوې — د هجران په اور کې درست صورت اوبه شوې

نه وزر کا، له هوس، نه مري له غمه — سړی سخت دی ګنه یواځې پرې وشوې (۷)

زه که چا وي هم له دې غمه به وچاود (۸) — چې د یار د بېلتانه خوارۍ په زړه شوې

---

(۱) دا بیت او وروستی بیت، د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې نشته.

(۲) چاپي دیوانونه: "د غم اور به هم ربښتیا ستا د رخسار وي".

(۳) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "دربار" راغلی دی. او دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې رحمان غوندې ځوانان یې په دیار وي".

(۴) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د سرو شونډو" راغلی دی.

(۵) "ب" چاپ او "پ" "چاپ": "هر سړی چې ستا له مخه خبردار وي".
"ق" چاپ او "ق. ک" چاپ: "هغه څوک چې ستا له مخه خبردار وي".

(۶) دا غزل د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته. د "خ" په دوهمه نسخه کې د "صورت" پر ځای "سر" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. لومړی مسری یې په "ق" چاپ کې داسې ده: "نه نه زر کا له. هوس مري له دیره غمه".
او په "ق. ک" چاپ کې داسې ده: "نه د ژر کیږي په هوس نه مري له غمه".

(۸) د "خ" لومړۍ نسخه: "که د چا نه به له غمه چاودی له دې وچوي".

Marfat.com

د رقیب و ناکردو ته چې نظر کړم
د عاشق له آهه روند په تور لېمه شوې

هېڅ پوره به دې نیمګړې نه شي خدایه
که بېلتون د دوه یارانو و بایله نه شوې

چې بېلتون د دوه یارانو و بله کاندې
د هغو خلقو له مرګه وا و دېره شوې(۱)

خدای رضا له ره چا هسې تعویذ و کړې
چې لږ زه د هغه یار تر خمه بنه شوې

یو ځل یار په سترګو ولیدې(۲) چې دا دې
دغه پسه هر چې شولې بیا هاله شوې

نوم یې یو ځل زما واخستی په ژبه(۳)
نور مې نوم په دا جهان کې پاتې نه شوې

لکه د رست عمر په خوله د رقیب کاږ کا
دغه هسې یو زمان زما په خوله شوې(۴)

زه رحمان(۵) په دا خبره حق حیران یم
نه پوهېږم چې د یار له خمه څه شوې؟

۳۸۳۲ ۳۶۴

چې په مخ باندې دا وښکو یو قدم وي
عین د تورو له پرهره سره سم وي

که ګرېوان مې د سپوږمۍ د لمر مشرق شي(۶)
زه چې یار په سترګو نه وینم تور تم وي

کږ و وړو څو غوندې نېښ وهلې نه شي
که په زړه د پاسه پروت د چا الم وي

دلته سر پوره کول د چار سبب يي
چې پچلې د یار زلفې خم د رخم وي

معشوقه چې د عاشق په غم وي غوڅه
د عاشق سترګې دې وځې چې بې غم وي

همه مې د محمد مو هسې بو یه
چې د دوار و زند ګې په یوه دم وي(۷)

که د رست جهان خوښي ور باندې راشي
مګر خدای چې خوښ لې یا لږ خو خرم وي

بل ستم د بېلتانه د پاسه نشته
که لېدلې چا په سل رنګه ستم وي

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ کې نشته.
(۲) "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ: "ووینم".
(۳) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "خولې نوم یې زما واخستی په ژبه".
مصوره نسخه: "خو چې نوم یې زما واخستی په ژبه".
(۴) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته.
(۵) د "خ" قلمي نسخې: "دا معامله".
(۶) د "خ" لومړۍ نسخه: "که ګرېوان مې د سپوږمۍ مه له نوره غرق شي".
(۷) چاپي دیوانونه: "چې د دوار ژوندي په یوه دم وي".

Marfat.com

دا قضا خو په قاضي موقوفه نه ده — خود بخپله یار تر یاره پورې ګرم وي
راحت هر چېرې ځغولره لازم وي — چې په دردو په محنت کې مقدم وي
چې خوناب یې د چشمانو مې ناب شي — پیوسته له دغه جامه سره جم وي
هیڅ حاجت د هنر نشته ونصیب[1] ته — که په اصل خولک عرب وي که عجم وي
هنرمند خوار طالع له خدایه غواړه — بې سلیمانه په کار نه دی که خاتم وي

د رحمان خندل په اجر د ژړا ده
تازګي د ګل په قدر د شبنم وي

٣٦٥ — ٣٨٤٦

همېشه دې زما سره وستا قدم وي — [2] تر هغه ساعته پورې خو مې دم وي
ستا له لاسه وارده ما له نافع دي — که مې زهر بدې[3] په زخم که مرهم وي
زه بې تا هسې ګومان کړم چې سفال دی[4] — که نسکور مې په لبانو جام د جم وي
نور عالم که د دنیا په ښادۍ ښاد وي — زما زړه دې مدام ښاد د ستا په غم وي[5]
که په زړه باندې مې سل غمونه راشي — داستا غم دې تر همه وُ مقدم وي[6]
ما دې خدای د ستا له غمه بې غم نه کا — تر هغه ساعته پورې خو مې دم وي

د رحمان ستا په مخ مین دی خدای خبر دی[7]
که په داګې به هیچېرې زیات و کم وي

٣٦٦ — ٣٨٥٣

---

(١) په چاپي دیوانونو کې "ورقیب ته" راغلی دی.
(٢) دا غزل په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ، د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٣) د "پ" چاپ: "که مې زهر وي".
(٤) د "ق" چاپ: "زه به یې هسې رنګ ګومان کړم چې سفال دی".
د رفیع صاحب د شخصي کتابتون نسخه: "زه په تا پسې ګومان کړم چې بې حال یم".
د "خ" دوهمه نسخه: "زه ګومان کړم چې په تا پسې بدحال یم".
د "خ" مصوره نسخه او دوېمه نسخه: "زه بې تا هسې ګومان کړم چې هیڅ نشته".
(٥) د "خ" دوهمه نسخه: "زما زړه دې مدام خوښ د یار په غم وي".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "داستا غم مې تر همه وُ مقدم وي".
(٧) د "ق" چاپ "رحمان ستا په مخ مین دی باور وکا که په داګې به هیڅکله زیات و کم وي".
د "خ" مصوره نسخه، د رفیع صاحب شخصي کتابتون نسخه او د "خ" دریمه نسخه: "رحمان ستا په مخ مین دی که باور وکړې".

Marfat.com

ترچې ماته والې چې په چا پاندې شیدا لې — زه په تا شیدا یم وایه ترچې یار دچا لې[1]

زه به تا په کومه زیرکۍ شم پر ولې — چا زده لکه تا زده هومره وایه چې څه والې

زه چې کبر جن وم عاشقي مې گرداڼ کړم — ترچې لکه وې هم هغه هسې کبریا یې

ځان که ستا په مینه کې فاني کړم خربه وکړم[2] — ترچې په دا هسې رنگ له آهه بې پروا یې

مرگ مې په تا ولې خدای اختر کړو نه یوه یم[3] — خو دې حاصل هم شته که مطلق په مرگ زما یې

خو شو که زه یم انگشت نما په مینه ستا کې — زیات له ما نه خوښ تر د قاضي هم د ملا یې

ستا د عشق تر توږې ګکړې د رحمکا زار شه

دا هم سهل کار دې زما یاره که په دا یې

٣٦٧ — ٣٨٦٠

چې پخته شي آشنايي — تر ميان ووزي جدايي

د طالب وته وفا شي — د مطلوب بې وفايي

بادشاهي کاندي بدله — دد بدن په گدايي

خاني پلوري په ورېښو — ميرزايي په ميرزايي[4]

نظر نه کاندي هېچېري — په لوټي په بلا يي

ورته کفر څرگند بري — خود بيني او خود رايي

خود رايي په عاشقي کې — له عاشقه نه ښايي

معشوقې که بې وفا دي — عاشقان خوبې ستايي

غوڅ بې کوڼ ستړگي زندوي[5] — دخپل يار په خطايي

---

(١) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(٢) "ق" چاپ: "که زه ځان ستا په مينه کې فاني کړم څه به وکړم".
(٣) "ب" "پ" چاپ، "ق"، "ک" چاپ او قلمي نسخې، "څه دې په مرگ هم شته که مطلق په مرگ زما يې".
(٤) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" لومړۍ نسخه: "په غوږ وکړې په ستړگو ړوند وي".
د "خ" دوهمه نسخه: "په غوږ وکوڼ په ستړگو ړوند وي".
د "پ" لومړۍ نسخه: "غوږ يې کوڼ وي سترگې ړندې وي".

Marfat.com

کړي کړې وي سل علمه — هم دیني هم دنیا یي
همه واړه فراموش کا — چې پرې وشي شیدایي
ومطلب ته نه رسېږي — په شیخي په ملا یي
اواره ننګ وناموس کا — په سر واخلي رسوایي
تر ناموسه ورته به شي — بې ننګي ، بې نوایي
هره چاریې په اخلاص وي — نه په روی وریایي
قبلوي په دواړو سترګو — هرچې یار پرې فرمایي
نصیحت پرې اثر نه کا — که څوک سل ځله ووایي
فایده نه لري په عشق کې — د دانا و دانا یي[1]
مشکل کار د عاشقۍ — اسان چېرې دی بایي
دغه کار کولی نه شي — هر کم فهم وکجا یي
هر کم بخت یې کله مومي — د دلبر وهمتا یي
خو په کسب مونده نه شي[2] — دغه کار دی عطایي
چې د عشق په لوړه کېوزي — نور یې نه وي رهایي
بې د یار له مخه نه شي — د عاشق دلکشایي
د خپل یار په طلب ګرځي — غاړې غرونه پېمایي
له عالمه وي وتلی — لکه صید صحرا یي
تل تر تله یې وطن وي — ګوشه کنج وتنهایي
مدام سوی لوګړن وي — د خپل آه په ګرمایي
هر زمان یې په اوړ نېسي — د خپل یار تمنا یي

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : " د دانا نه دانایي".
(۲) چاپي دیوان : " خو په کسب موقوف نه دی".

Marfat.com

نه مې ملک و نه مې مال وي — نه مې زهد و پارسایي
په دا هسې ګرانو چارو — معشوقې بې ازمایي
په یوه دیدن یې یوسي — د درست عمر کمایي
هم مې هسې زنګه وژني — یاره ستا بې وفایي
چې په[1] نده کړم زه مې چوي — دغه ستا خودنمایي
هم خودي لري بې قیاسه — هم د حسن زیبایي
ضرر نه لري بې نفع — ستا د مینې سودایي
ستا سودا مال زه سود ده — حق به وایم خدایي
په هېڅ مخ کې لیده نه شي — ستا د حسن صفایي
لمر به څه له تا سیالي کا — په دا بې سروپایي
ادراک نه رسي د سرو — ستا قد په رعنایي
لکه ستا قد و بالا دی — نشته هسې بالایي
که د ستا وصال دریاب دی — زه ماهي یم دریایي
د مګسو زندګي ده — په دوکان د حلوایي
زه توتا شکرپرست یم — د استا شونډې متایي

۳۶۸ — ۳۹۰۵

دا ګمان په ما مه کړه
چې بې تا به وپالې

خوږ ما په ودمبه ماتول شیرین یې — که په مرګ د رقیب هم هسې شمشیرین یې[2]
مرګ خوږ نې چې پخپله را پیسې دی — څه محتاج زما و مرګ وته دیرین یې
کبر و خیال خولا له ځایه ستا عادت دی — او که نن زما له قصده په بل پیرین یې[3]

(۱) له مصري نسخې نه پرته په نورو قلمي نسخو کې "له نده کړم" راغلی دی.
(۲) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت په "ق" "ک" چاپ کې نشته.

Marfat.com

د ابې شماره عاقلان به شي کم عقله[1] | ته چې دا رنګه په زړه وښکه دلبره يې
ستا خوبيونه به پخپله ځان ښکاره کا | زه به څه وايم چې ته تر بلا تېره يې[2]
له حېرته دې تعريف کولی نه شم | چې په څه رنګ دې ستايم د چا په څېر يې
ما چې ستا د لبو خوند بيا مونده محظوظ شوم[3] | که سل ځله په ترخو ويل ګنده يې

۳۶۹ — دجهان ښکلي که واړه د رحمان شي — ۳۹۱۳
خدای دې نه کا چې يې ته له دله هېره يې

په يوه ذره به وږی يا به موړ يې | په يوه ذره به ګرم يا به سوړ يې[4]
که ځواني له خدايه غواړې ځوان به مړ يې | او که پس له ځوانئ پالې خو به زوړ يې[5]
بندګان خو کله جوړ کله ناجوړ وي | څه خدای نه يې چې به تل تر تله جوړ يې[6]
عاشقي به دې آسمان غونده ښکاره کا | که مجنون غونده به هر څو په صورت وړوکی[7]
بدي واړه په سند و نيسه رحمانه | چې پای بند دیان په هر يا به مړ يې[8]

۳۷۰ — عاشقي بې جذبې چېرې ده رحمانه — ۳۹۱۹
ته مجذوب دیان په هر کې لا وړوکی يې[9]

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه: "کم بخته".
(۲) دا بيت او ورپسې دوه نور بيتونه د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، د "ب" په لومړی نسخه کې د "ته" پر ځای "څوک" راغلی دی.
(۳) "ب" چاپ: "محفوظ".
(۴) د "ب ب" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې د "يې" پر ځای "وي" راغلی دی او نوموړی غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۵) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) "ب" چاپ: "سړی کله خو يا جوړ کله ناجوړ وي خدای خو نه يې چې به تل تر تله جوړ يې".
د "ب ب" چاپ: "سړی کله خو يا جوړ کله ناجوړ وي خدای خو نه دی چې به تل تر تله جوړ وي".
(۷) د "ب ب" چاپ: "وي".
(۸) دا بيت په چاپي ديوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته.
(۹) "ب" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ته مجذوب دیان په هر کې مړ وړ يې".
د "ب ب" چاپ: "د مجذوب دیان په هر کې مړ وړ وي"
"ق" چاپ: "ته مجذوب دیان په عشق کې کړ وړ يې".
د "خ" لومړی نسخه: "بدي واړه په سند و نيسه رحمانه چې پای بند دیان په هر يا به مړ وړ يې".
د "خ" دوهمه نسخه: "عاشقي بې جذبې چېرې دی رحمانه چې مجذوب دیان په مينه کې مړ وړ يې".

Marfat.com

خدای دې وژغوره له هرې پریشانۍ | اې زما د کوروکلي ودانۍ
عاشقي چې ماګڼله نادانی وه (1) | اوس خبر شوم له دې خپلې نادانۍ
تر ورځ تېرې اوبه بیرته نه جاروځي | خه په کار ده پوچ بې ځایه پښېمانۍ
ودانۍ په یوه دم کې شي ویرانه | مرد هغه چې کړې یې د ورانۍ ودانۍ (2)
لکه باد چې ځان وهي له کوه و دشته | زه په تا پسې کوم سرګردانۍ
داخوزه دستا له غم سره لوښېږم | ځوک له دیوه سره کا پهلوانۍ (3)
چې په آب و په آتش په خاك و باد وي | خه امید دی په هغې زندګانۍ
ترچې دا رنګ اوږدې اوږدې وعده کا | کشکې راکړې وما خط د امانۍ
که زه تا په هغه وخت وی چا به نه کړی | د مجنون او د لیلٰی قصه خوانۍ
زما ستا وندارې ته به حیران وو | که ژوندي وی آدم خان او درخانۍ

وهر چا وته چې وایم حیرانېږي
خه به وایم د یاران له حیرانۍ

۳۷۱

۳۹۳۰

په ځوانۍ کې بد دماغ بدګمان یې | چې پیری یې در باندې درشي بیا ناتوان یې (4)
که په دا دې زه ستا سنه کېږي داخو نشته | چې به تل تر تله ژوندی هم به ځوان یې (5)
چې هرګز دې په لاس نه دي کبوتونې | بېهوده د هغو چاړو په ارمان یې
چې بې خدایه زه ترې په نور خه پوهې | هم په خدای هسې باور کړه چې نادان یې (6)
پښېماني تر پښېمانۍ لا بخوا بویه | نه هغه چې بیا په تېر ساعت پښېمان یې (7)

---

(1) په قلمي نسخو کې "دانایي" راغلې ده او د "پ پ" چاپ کې د "ګڼله" پر ځای "کوله" راغلې ده.
(2) قلمي نسخې: "مرد هغه دی چې ودانۍ کا ورانۍ".
(3) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لوښېږم" پر ځای "نخښېږم" راغلی دی.
(4) په قلمي نسخو کې "درشي ناتوان یې" راغلی دی.
(5) چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ او دوهمې نسخې: "چې به هم تر مرګه ژوندی هم به ځوان یې".
(6) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(7) دا بیت او ورپسې اووه بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

هسې رنګ دی وهغه جهان ته شاکره — ګویا تل به مستقیم په دا جهان یې
هومره سر دی وخپل خدای ته تیټ نه دی — لکه تیټ په لوړ د خان و د سلطان یې
یوه شپه به طاعت نه شې ړنولی — هره شپه په مال وملک باندې پاسبان یې[1]
په تسبیح دې تاندۀ ژبه وچ لرګی شي — پو ځ ګویې لره بلبل غونډې ګویان یې
ولمانځه ته چې ولاړ خبر یې هاله پاڅې — په قلبه پسې لا نیمې شپې روان یې
اوداسه لره کوزه اخستی نه شې — چې په لوا و په لوړ ور شې پهلوان یې[2]
د هلک په خبر لاس اچوې وا ور ته — نه خبر په خپل بهبود نه په نقصان یې
پېغلې ستر ګې لکه ستوري په ګانې ګرځې — که ړوند یې وکوڅې ته هم روان یې[3]

چې وبل ته نصیحت کا ځان لې هېر وي
نور څوك نه دی هغه ته عبدالرحمٰن یې

۳۹۴۴

۳۷۲

زه د ستا له غمه ژاړم واره وینې[4] — واره وینې، واره وینې، واره وینې
خود مې وینې چې په تش کاته دې مړ مه[5] — لا خنجر په کاڼي مږې دل سنګینې
هر زمان مې په حضور د ستا ګو وژنې — لا یقین دې د زړه نه شي لې یقینې
عالم ستا په مینه ژوي نه پوهېږم — زه په څه سبب وژلی یم ستا مینې
د ړ عالم به نور یې[6] رنګ کا معلومېږي — تا چې هسې جامې واغوستې رنګینې
پښې لې نه وي چې وبله خوا ته درومي — هسې سکنې په غمزه د عاشق سینې[7]
که صورت مې پر بله پورې معلومېږي — زړه مې ستا له غمه چاود دی نازنینې[8]

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "پسې" راغلی دی.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "چې دلو په لوړې ور شې پهلوان یې".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) د "خ" لومړی نسخه: "زه دیار په غم کې ژاړم واره وینې".
(٥) د "خ" په لومړی او د "ب" په لومړی نسخه کې "مړ یم" راغلی دی.
(٦) د "خ" په لومړی، دوهمه نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نور یې" راغلي دي.
(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۸) دا بیت د "ب" په لومړی نسخه کې نشته.

چغه څوک دي چې تر تا به ښه تر ین وي — اې تن وا له و هر و یا نو ښه تر ینې[1]

۳۷۳

چې دې زلفې د رحمان[2] په زړه و تړې کړې[3]

تر ښو یې څکه خالې او به سپینې

۳۹۵۳

ورک شه ورک شه بدکردار او بد سړی — که دې ور ووکه دې عزیزوی که پردی

تر هغه لا ښکو کار بېګانه ښه دی — چې بدکار شي د چا زوی او یا لمسی[3]

لرګي لوښي همه واړه پرې مردار وي — بدکردار دی سو ل لنډي یا ونې سپي[4]

هغه خلق همه واړه لېونې کا[5] — چې په کلي کې یو سپي شي لېونی

بل علاج د لېونیو سپیو نشته — بې له مرګه چې ترې ډک کاندي کوهي[6]

حرام خورد مخنثو په حساب دی — که په توره یا په تیغ وي مړ ني

مړني ولې بو نیه و هغه ته — چې بې وجه آزار نه کاندي یو شي[7]

دیګ یې ایښې په دېګدان ډومبې تر تیغ وې — چې یې سوړ په آه سرد نه شي نغري[8]

هسې فیض یې و هر چا وته رسي — چې بالله شي د خپل وخت حاتم طي

اې رحمانه چې بدفهم بدکردار شي

۳۷۴

راته وایه سپي ښه دی که سړی

۳۹۶۳

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۲) "ق، ک" چاپ: "چې دې زلفې د رحمان په زړه ګې ویخ کړې".

(۳) د "پ" لومړۍ نسخه: "چې بدکردار شي د چا زوی او یا لمسی". "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخه: "چې بد کار شي د چا زوی د چا لمسی".

د "خ" دوهمه نسخه: "چې بد کار شي د چا زوی یا لمسی".

(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. د "پ" لومړۍ نسخه: "لوښي لرګي همه واړه مردار شي — بدکردار که سو ل لنډي یا ونې سپي".

"ق" چاپ: "لوښي لوښي پرې همه واړه مردار دي — بدکردار سو ل لنډي او ونې سپي".

د "خ" دوهمه نسخه: "لوښي کودرې همه واړه مردار که — بدکردار لکه سو لند وني سپي".

مصوره نسخه: "بدکردار دي لکه وني سپي".

(٥) د "خ" لومړۍ نسخه: "هغه خلک همه واړه پرې مردار شي".

(٦) د "پ" لومړۍ او د "خ" لومړۍ نسخه: "بې له مرګه چې ترې ډک کړي یو کوهي". د "خ" دوهمه او مصوره نسخه: "بې له مرګه چې پرې ډاټې یو کوهي".

(۷) "ق" چاپ: "چې بې وجه آزار نه کاندي سړی".

نور چاپي دیوانونه: "چې بې وجه آزار نه کا هیڅ سړی".

(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په "پ" او "ب" چاپ کې دوهم مسرۍ داسې ده: "چې یې سوړ په آه تیغ نه شي نغري".

د "خ" لومړۍ نسخه کې یې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "دیګ یې ایښې په دیګدان او ترې لاندې".

Marfat.com

کله دې په غمه دم د چا ختی | نه به مړ وم ستا په غم کې لړغونی (۱)

نن مې هسې رنګ په تورو زلفو بائیلود | لکه ورک په توره شپه کا څوک کالی

په یوه ساعت مې رد هم مې قبول کا | نه پوهېږم چې یې خپل یم که پردی

په یوه لاس یې مرهم په بل خنجر وي | نه په مړو کې حساب یم نه ژوندی (۲)

که په مرګ د عاشقانو دې رضا وي | خدای دې ما کا ترحمه وارو رومبی

خوله ښکاره مې د ستي په مثل نشته | ما پخپله قبول کړې دی خپل سوی (۳)

وګوره دم ته به ادراك د پاړو رسي | هر و پښتنه یې د کاکل شو منګری (٤)

څوك د محبت غم زما د زړه واو ښکو نه خوري | کم به نه کا په خوړ دن سره نه دی

د هجران په توره شپه کې نه وېرېږم | چې یې نه وینم د وصل سپین سپوږمی

دیار غم لکه مزری را باندې راشي | خدای دې پټ په هېچا نه کاندې مزری

چې پرې غم غلطوم د شپې پاڅم | کله مې په شونډو وکړ دم کله نی

ګاه کتاب ګهې رباب په لاس راواخلم | باري درد مې په هیڅ رنګ نه کا کمی

همسایه مې واړه وواته له خوبه | که په سل کوټو دننه کړم څګېږي

که عاشق تر معشوقې پورې یوسي وي | خدای د هجر په تیغ مړ و ژوندی یوسي

۳۷۵

نه رحمان دیار په غم کې هسې ډوب یم | چې هېڅ نه وینم په سترګو مګري

۳۹۷۸

چې دار و درد و غم دې څښه مې | ساقي راکړه یو دوه جامه پیالې

می د خپلو لبو را نه د انګورو | چې اوّل یې نوشیدن وي پس یې قې

---

(۱) په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې : "نه به مړ وم به په عشق کې لړغونی".
"ق" او "ق ، ک" چاپ : "نه به مړ وم به په غم کې لړغونی". د "خ" لومړی او دوهم نسخه : "نه به مړ وم په هجران کې لړغونی".

(۲) دا بیت په "ق ، ک" چاپ او د "خ" په دوهم نسخه کې نشته.

(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(٤) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

په هر تیغ کې چې آب نه وي د شرابو | څوک د غم په غلیم نه مومي بري (۱)
جام د میو چې غمخوار د کل جهان شو | زه به او سم (۲) په دا غم کې تا بلې
راشه یو ځل مې هسې مست خراب کړه | چې خبر نه شم (۳) له حاله د هیڅ شي
بېخودي هسې پناه ده زورورہ | چې له هر غمه خلاص کاندي سړي
زه هغه تحصیل تمام کړم په عشق کې | چې یې روغ وګرځي بولې لېونی

۳۷۶ رحمانه سوله له رقیب سره پیدا کړه ۳۹۸۶
آشنا سره دې البته خوړونکي سپي

د پرې خولې زما په یاد شکر خوړې شوې | بیا زما (٤) په زمانه خاورې ایرې شوې
یوه بخره خدای هر چا له ورکړې | د چا بخره خاموشي د چا نارې شوې (٥)
د چند نو ونې و سولېدې لارې | هزار ځانګي د شمشاد و په ارې شوې
په هغو ځمکو چې روغې پرې مانۍ وې (٦) | دا ایام په ګردشو نو هدیرې شوې
په دنیا کې چې بنیاد د آشنایي کا | د هجران توري هغو له تېرې شوې
دا فلک چې خدای پیدا کړی دایې خوی دی | چې وچا وته دعا چا ته ښېرې شوې

۳۷۷ د دنیا د محلونو خښتې واړه (۷) ۳۹۹۳
ورحمانه ته د سرونو منارې شوې

---

(۱) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "څوک له غمه په غلیم مومي بري".
(۲) "ق، ک" چاپ کې "سوځم" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې د "نه شم" پر ځای "نه یم" راغلی دی.
(٤) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "زهوب" راغلی دی.
(٥) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو. په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته.
(٦) قلمي نسخې: "په هغو ځمکو چې روغې وې مانۍ".
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه: "د دنیا د محلونو خښتې واړه —
ورحمان ته د سرونو کنګرې شوې"

د "خ" دوهمه نسخه: "د رحمان د محلونو خښتې واړه —
وعالم ته د سرونو منارې شوې"

Marfat.com

بوصل تو ما را کجا ہاتھ ہے — کہ وصل تو خیلی بڑی بات ہے
بگوی تو گفتم کہ مسکن کنم — ولی کی مرا این درجات ہے
خم زلف تو گوشۂ ابروان — دلم را عجائب مقامات ہے
مکن پیش من وصف خورشید وماہ[1] — کہ از حسنت این کم علامات ہے
ہمی دادی دشنام و گالی مرا[2] — بسویم ہمین از تو سوغات ہے
نگاہت نہ امروز خونم بریخت — کہ دایم ترا ہمچو عادات ہے
زآغوش جمان مرو بار قریب
کہ این سفلہ بدخوی و بدذات ہے[3]

۳۷۸ — ٤....

## مخمس ۵

خه یارچې ښایسترډی ترآفتابه — مخ به کله راڅرگند کا له نقابه[4]
بیلتانه پر زړه زهیر کړم بې حسابه — یو سبب و کړه ې مسبب الاسبابه
چې زما ملاقات وشي له احبابه

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه: "خورشید و ماه را".
(۲) د "ب" لومړی نسخه: "همه داد دشنام و کھالے مدام"
(۳) د "ب" لومړی نسخه: "که این سفله بدکار و بدذات ہے"
(۴) د پښنور چاپي دیوان: "حجابه". دا غزل په "ب" چاپ کی نشته.

ملاقات د ښایسته ؤ مې نصیب کړې     د ښایست په گلستان مې عندلیب کړې
عندلیب مې په گلشن د خپل حبیب کړې     خدایه ما په دلبرانو کې قریب کړې

ومې ژغورې د دې اهل له عتابه

هغه یار چې زه یې مینه په دیدار کړم     همېشه یې ودیدن ته انتظار کړم
شپه او ورځ پسې ناري وهم کوکار کړم     که په روی تمام جهان ورته رویار کړم

سترگې نه پورته کوي د ناز له خوابه

بېلتانه یې پټ پنهم په زړه تاراج کړم     ودیدن ته یې په هسې رنگ محتاج کړم
چې غرقاب یې د غمونو په امواج کړم     هېڅ پایاب یې مونده نه شي څه علاج کړم

د آشنا د مینې غم شو نا پایابه

ته چې کس یې د جملهٔ ؤ بې کسانو     هم کارساز یې د جملهٔ وکارسازانو[1]
الهي[2] په بزرگیه د بزرگانو     زه وصال په دعا غوارم د خوبانو

لا به کله دا دعا کړې[3] مستجابه

اسیر کړې دې د زلفو په تناب یم     تکبیر کړې دې د سترگو په قصاب یم
د کشتۍ[4] غوندې مدام په اضطراب یم     لکه زه چې ستا له غمه په عذاب یم

خبر مه شه هېڅ بنده له دې عذابه

دریغه مه وي په دنیا کې پیدا شوی     او که وي هم په داهسې شان خوړه وي
لکه زه یم د هجران په لمبو سوی     خوږه گرزم په داهسې[5] اور الوی

چې سینه مې په درست غم شوه کبابه

---

(۱) په 'ب' چاپ، 'ب ب' چاپ او د 'نخ' په قلمي نسخو کې 'خام کارانو' راغلی دی.
(۲) د 'ب ب' چاپ: "هم په رودی او"
(۳) چاپي دیوانونه: "شي".
(٤) 'ب ب' چاپ: "دماهي په شان"
(٥) چاپي دیوانونه: "دهجران په اور"

هی هی څه مې دا خراب خاطر ناښاد شو[1] زیست روزګار مې همیشه آه و فریاد شو
عمارت مې د زړه هسې رنګ برباد شو چې حباب غوندې بې بیخه بې بنیاد شو
د بنیاد[2] طمع به څو کړم له حبابه

پټ پټ ګرځم د ناصح له نصیحته را ته کاندې نصیحت په خوصورته[3]
چې توبه کړم د خوبانو له قربته هیڅ جواب بې په ما نه شي له غیرته
د رمانه ور ته ولاړیم لاجوابه

دا جواب څه هسې نه دی چې په خوله شي د عشق راز څه هسې نه دی چې وایه شي
دا مشکل حکایتونه په ما نه شي د دې بحر بې پایان حساب په څه شي
چې بې زه وځم ته واېم له حسابه

چا موندلی[4] د دې بحر پایان نه دی د غه راز و هر سړي ته عیان نه دی
هیچا کړی د دې چارې بیان نه دی د غه واره عاشقي ده رحمان نه دی
۳۷۹ چې په خوله کې د ر و لعل لري سېرابه ٤٠٢٧

ستا جفا تر حد په هو تېر ده صنمه تل مې اوښکې موج وهي د زړه له غمه[5]
څو به پټه دا قصه او سې پنهمه هسې ډوب په فکر تللی یمه بې دمه[6]
نه پوهېږم چې په غره یم که په سمه

که خبر[7] وی له دې هسې رنګ خوارۍ ما به نوم اخستی نه وُ د یارۍ
ستا د غم په دریاب ډوب یم ترمړي بې تا نه لرم هیڅوک د دستګیرۍ[8]
مګر ته په خپله لاس راکړې همدمه

---

(۱) د "پ" چاپ: "ستا په هجر مې".
(۲) په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخه کې "بنادي" راغلی ده.
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "په خوګ کړته".
(٤) "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ: "ماموندلی".
(٥) د "پ" لومړۍ نسخه: "د زړه له غمه"، "ق" چاپ، "ق.ک" چاپ او د "خ" قلمي نسخې: "د زړه له غمه".
(٦) د "پ" چاپ، "ق" چاپ، "ق.ک" چاپ او د "خ" قلمي نسخې: "هسې ډوب په فکر تللی یم له غمه".
(٧) قلمي نسخې: "که مې نه ده وي". (۸) د "پ" چاپ: "داد ګیرۍ".

ما وې نور به آشنايي له هېچا نه کړم — هم په دا رنګه مې نيت ؤ باري خه کړم
د قسمت علاج په چا شي چې يې زه کړم — که په سل رنګه تلاش و تدبير کوم
خلاصي نه مومم له لوحه له قلمه

خوبرويان که نې وفا دي خو هم وړه دي — عاشقان که وفادار دي خو هم پېږدي
ستا له غمه هر چې دي زما په زړه دي — اوس به حال و چا ته وايم چې مړه دي(۱)
غرض دا دی چې زه ګرم يم ته ناګرمه

يو خو دا چې په صورت يې پري رويه — هم په خوی و په خصلت فرشته خويه
هم په قد و په قامت هر ګوره لويه — بيا به نه مومي څوک تا غوندې دلجويه
که يې ګوري په هژده هزار عالمه

ستا له غمه(۲) زه په ځان کړم هسې چارې — چې د ښنديې و يله نه کا ګلعذارې
ته په څه سبب له ما ند دل آزارې(۳) — دا زما ګناه راوښيه دلدارې(۴)
چې توبه کړم نصوحا غوندې محکمه

لاس ترغاړې له رقيب سره خندا کړې — چې ما ووينې له قصده را ته شا کړې
خداى يې وينې هغه چار چې چې پرما کړې — تر ابده ورځې پورې به جفا کړې
که(۵) به کله هم جاروزې له ستمه

تا چې هسې بې نيازي د ځان پېشه کړه(۶) — په عاشق دې د خندا حکمه متره کړه
بيا دې ورځ په غريبانو تورې شپې کړه — نور دا هسې د جفا خوى نه مه کړه
خلقه به دې له جوره شي برهمه

---

(۱) "مخمس" په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته. څلورمه مسرۍ په "ب" چاپ او د "خ" په قلمي نسخه کې داسې ده: "اوس به حال د چا ته څه وايم چې څه دي".
(۲) قلمي نسخې او "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ستا د پاره".
(۳) قلمي نسخې "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "له ما لا سته".
(۴) د "ب" لومړۍ نسخه: "ته يارې".
(۵) د "ب ب" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ته به کله". (۶) "ب" چاپ، د "ب ب" چاپ او "ق، ک" چاپ: "تو مېنه کړه".

Marfat.com

زما ستا له میني هر څوك خبردار دي | داخبره کوږ اکوږ په هر دیار دي
چې فلانا فلانا سره دوستدار دي | اوس په ببرته جاروانه وما ته عار دي
چې رسوا شوم تر عرب وتر عجمه

څه غرڅ وي[1] چې په تا باندې مین وي | په وګړیې کې رسوا لکه کوهکن وي
همیشه انګشت نما په مرد وزن وي | چې دا نښې پکې نه وي دا دروغژن وي
که په هره ګړۍ مخ وړی هزار قسمه

نښانه د عاشقانو ول دا ده | چې مدام یې سرې کاروي له فریاده
تل نا مرد بدنامه وي پرې زیاده | نه وېرېږي له پېغوره له اهداده
بې دیان د جدایۍ له ماتمه[2]

هر چې زړه یې مبتلا شي په بتانو | زیست یې نه شي یو ساعت بې مهرویانو
که څوك ورکا بادشاهي د بادشاهانو | په نسبت د هغو سوي سوختګانو
دا متاع ده تر یوه خسئي کمه

که سلیمان غوندې مسند یې په هوا وي | په سبب د عاشقۍ به خاکپا وي
همیشه به په فریاد و په غوغا وي | چې داهسې نښانې پکې پیدا وي
تر وهاله پرې عاشقي ده مسلمه

عاشقي دې هیڅوك نه ګڼي آسانه | داخبره ده لحد پورې تګرانه
وصال نه دی چا موندلی بې هجرانه | ته له ځان[3] سره اتکل وکړه رحمانه
۳۸۰ په دنیا کې سبا دي چېرې چا ده بې غمه ۴۰۶۲

(۱) د پېښور چاپي دیوانونه: "څغرن وېره".
(۲) د "خ" لومړی نسخه: "نه ښکاره ږي دیوې ستنې تر سومه".
"ق"، "ک" چاپ: "بادشاهي ده له یوه خسري کمه".
(۳) په قلمي نسخو کې "له ځانه سره" راغلی دی.

Marfat.com

# ضمیمه

## وروستني لاس ته راغلي

## غزلونه او بیتونه

Marfat.com

## ٦١

تېر شو په دا طمع په دړستا عمر زما — ګوندې چېرې کېږدې یو قدم په سر زما [1]

تا وې چې د عشق پیاله خوږه ده تر شکرو — وسو په هجران کې دې پیالې ځیګر زما

سل جفا که وینم په سترګو ستا له لاسه — ستا په جفا نه کیږي هرګز باور زما

٣٨١

یا له ما (لرې) تاځې سره جفا مه کړه دلبره

یالې تا راوښیه یو بل دلبر زما

٤٠٦٩

## ٦٢

هر ګفتار هره وینا چې خوك عبس کا — تر عبس ویل دا بده چې یې بس کا [2]

په هغې وینا چې ورو وسته پښېمان یې — له اوله دې خوله هسکه (له نفس) کا [3]

هره چار چې له اختیاره وي وتلي — بېهوده به یې خوك لاف د دست ورس کا

فقیري د خدای په مهر مونده کیږي — داهن په کېږنه شي چې یې نس کا [4]

آدم زاد په معنی واړه یو وجود دی — یو وجود دی هم یې پاك هم یې نجس کا

که یې اصل یو وجود دی (په دې) څه شو — د ګلونو هن کله خار و خس کا

په اخلاص د لمانځه روی جنوب دے — هر لمونځ بې چې (په) ریا تیمم [5] اودس کا

٣٨٢

(که خود بین وي) ته یې څه کوې ګمانه

د خود بینو سر اخپله خودي بس کا

٤٠٧٤

---

(١) دا غزل د زلمي هیواد مل شخصي کتابتون له قلمي نسخې نه نقل شو.

(٢) دا غزل د حبیب الله رفیع شخصي کتابتون له نسخې نه نقل شو په دې بیت کې د "عبث" کلمه د قافیې د سمون په غرض د "عبس" په شکل راوړل شوې ده.

(٣) اصلي نسخه: "لا اول دې خوله هسک". چاپي دیوان: "لا اوله دې یې نکه تر خوله هسکه"

(٤) اصلي نسخه: "داهن په کېږنه شي چې نصق کا"

(٥) په اصلي نسخه کې "تیمون" راغلی دی.

## ۳۹

دلربا که دخپل حسن مخ عیان کا — دېن بې غمزه جمع زړونه به لړزان کا
په کشور د صبا برانو به قیامت شي — اسرافیل غوندې آواز به هر نالان کا
چې بې چاجام دلعلو وي نوشلی — پیمانه چغلګیرې په دا نادان کا (۱)
دجبین په چین بې هسې رنګ پوهېږم — چې محراب به دګایلو زړونه ویران کا
دپرېشان ګیسو دلیل بې عین دادی — چې وابسته زړونه په دا رنګ پرېشان کا
که جلوه یې دجمال شي معینه — په شعله به لمر، سپوږمۍ سوې نانان کا
که دباد ګرد (بې) شي وخاکپای تر — دربند و سترګو دار وبه خدای اسان کا
که شانه په تورو زلفو باندې کېږدي — مشک عنبر (به) دیوې پیسې ډېر ارزان کا
تورې زلفې بې هم مشک دي هم عنبر دي — خو زمانه کم بختی (بې) خطای ماران کا
که پلوله مخه لرې کړ حمانه
په دیدن به هندوان وارو مسلمان کا

۳۸۳ — ٤٠٨٤

## ٤٠

که په بخت کم بختان ندي خسته دل خوک — په حضور به لړ ته تا ولې ببلبل خوک (۲)
ودیدن وته د هر چا رضا کېږي — ولې حکم بې لړ تا ندی بل خوک
که بې لاس دخدای په چا رسېدلی — بې مقصوده به یو دم نه شهیدل خوک
دا یو سر دی ما داستا شکرانه کړی — نور ناحق مې ویروي په سر وهل خوک
دا همه زما شومیت دی چې را رسي — ګنهګار تا (۳) او دچا زړونه بد ول خوک

---

(۱) اصلي نسخه: "پیمانه چغلګیې پدا نادان کا"، او دا غزل د رفیع دکتابخانې له نسخې نقل شو.
(۲) دغزل د رفیع خصوصي کتابخانې له چاپي دیوان او قلمي نسخې نه نقل شو (۳) د رفیع کتابخانې چاپي دیوان: "نړه"

Marfat.com

د دیدن په طمع وغلیدم بندي شوم — ګنهٔ زهٔ او د هجران سختي زغمل څوك
په هیڅ رنګ بهٔ دې له میني منکر نه شم — هر شان قصد چې مې کوې په قتلول څوك
کهٔ مې زړهٔ ستا میني نهٔ وای راپیروډې[1] — په رضا الرسه کله تیریدل څوك
که اثر د محبت ورسره نه وي — روغ صورت دا هومره زړهٔ زهیریدل څوك
که په مینه د لیلی مبتلا نه وای — (دا) غریب مجنون بیدیا، غر و ځنګل څوك

مینه هره بلا کاندي (که باور کړې)[*]
ګنه زهٔ عبدالرحمان هومره ویل څوك

٣٨٤ — ٤٠٩٥

٥

د خپل ځان له خاکساری (نه) بلند شوم — لکه ګرد هسې شمسوار د هر هوا یم[2]
کمینی هسې کامل کړم چې زهٔ دروم — لکه ځمکه درست جهان راسره بیا یم
ماچې خپل معراج دداں د پاسه ولید — د منصور په څېر رښتیا و بنا (به) و آیم
د منصورا و زما هومره تفاوت دی — چې ده ناری کړې پا په جهر زهٔ خفا یم

له عیانه هیڅ حاجت د بیان نشته
زهٔ رحمان به په خوله څه وایم چې دا یم

٣٨٥ — ٤١٠٠

٦

هرچې خپلې میني خوار کړ خوار یې مه ګڼه — عشق د رحمت ابر دی غبار یې مه ګڼه
کله تور سنبل کله تور مشك کله عنبر شي — زلفې که د ماں په څېر دي مار یې مه ګڼه

---

(۱) قلمي نسخه: "راپیرې ودلی"
(۲) ددې غزل مطلع په نسخه کی نشته او دا غزل "په سنه خوی له بد خواها نو بې پروا یم" له غزل نه ور دوسته راغلی دی.
(*) چاپي دیوان: "مینه هره بلا کړی په عاشقانو ګنه زهٔ غریب رحمان هومره ویل څوك".

یو مخ یې د سوز دی سل مخه (لې) د ساز دی عشق په اصل نار دی ناریې مه گڼه
د بې بېدار و ېده دی لکه بت په غموستر گو بت که در ته غټ گوري بېدار یې مه گڼه
مراد خو یو اثر دی د خوبانو له رخساره هر چې اثر نه لري رخسار یې مه گڼه
خار چې په گل پورې (وي) د گلو په حساب دی خه و شو که نام د خار دی خار یې مه گڼه
پوه خلق هغه دي چې اقرار په ناپوهی کا هر چې ځان هوښیار گڼي هوښیار یې مه گڼه
بد خو هم هغه دي چې خپل بد و ر ښکاره کړي هر چې ځان بد کار گڼي بدکار یې مه گڼه
هر چا چې اقرار د یار له زلفو سره و کړ تل به نا قرار وي په قرار یې مه گڼه

۳۸۶ هر چې کمال غواړي کمیني (دې) د رحمان کا
عین د غه چار ده بله چار یې مه گڼه ٤١١٠

## ۷۴

اې د نفس او د حرص په هوا لېوه په ظاهر صورت ملک په معنی دېوه
شدادي خصلت دې و نبوه د ظلم خبر نه شوې د مسکین د زړه له غرېوه
تا چې خپل مخ د فرعون په دود تور کړ (۱) په دې خوی به برابر نه شې له نیکبوه
پس وجود به دې په څه رنگ حاصل بې چې لیرې دیار له دره د د و د بو ه
په ظاهر صورت تندرست په روح رنځوره د ربغه و سوی تر دغ پوست لاندې معتبوه (۲)
د نیستی له مکافاتو هغه خلاص شول چې هستي یې د فنا په مخ ابېبوه

۳۸۷ اوس دې پاخاوه له خوبه (باور وکړه)
و رحمان وته په خپله په نار بوه ٤١١٧

---

(۱) اصل نسخه : "تا چې فرعون په دود مخ تور کړ". (۲) چاپي نسخه : "د ربغه وسوی تر دوغ پوست لاندې معتبوه"

Marfat.com

## ۸۸

یا د استا چشم ابرو وینم په خواب کې
یا مستان دي ویده شوي په محراب کې

یا په جام کې ستا د مخ عکس لیده شي
یا خورشید دی تجلا کا په حباب کې

یا تر خط لاندې غوټۍ ستا د خولې دي
یا کوکب دي را ډوب شوي په شهاب کې

یا دې زلفې په مخ دواړه راخورې کړې
یا سنبل دي کنځلکي دا ور په تاب کې

یا دې زلفو په مخ توره تاریکي کړه
یا خوشند رخان خړ ګند کړ په آفتاب کې

یا داستا مژګان زما په خاطر خښ دي
یا سیخونه دي پټ شوي په کباب کې

یا خو ستا د غمه غرق زما صورت دی
یا خسرې دي جاروزې په ګرداب کې

ته د دې رحمان خطا کړه و رمعافه
داوتر و چاره نه وي په حساب کې[1]

۴۱۲۶ چې د یار دمخ کاتند لمیانه ووزي ۳۸۸
د ړانړ (لتاح) به څه عزت وي په حساب کې

---

(۱) دا بیت د زلمی هیواد مل د شخصي کتابخانې د قلمي نسخې نه نقل شو.

## ٩٩

مست د هغه مخ یم چې مستانې لرې سترګې ... بې توري، بې تیغه، قاتلانې لرې سترګې

بې لیده وکتو غایبان زړونه وړي له خلکو ... هسې چشمان بندې ساحرانې لرې سترګې

هر څوک چې یې وینې نو یې سترګې کتې نه شي ... ښکلې پرې یو ل رغوندې حیرانې لرې سترګې

لب آب حیات دي او نفس (یې) د عیسیٰ دي ... هیڅ عجبې نه دي که خوبانې لرې سترګې

هر چې عاشقان دي هغه کله بل خوا ګوري ... وارې ستا په لوري نګرانې لرې سترګې

٣٨٩ ای رحمانه اوښکې هم له تخمه د باران دي* ٤١٣٣
کښت د هغه شین شو چې ګریانې لرې سترګې

## ١٠٠

که په قطع د تمام جهان ملک یې ... چې له خانه خبر نه یې لا هلک یې

آدمیت خو څه په مال او په شال نه دی ... ته چې خیال په شال په مال کړې حلکه سپک یې

منصفان دي د انصاف خبرې وایي ... څه شو څه شو که په خپلو کې شریک یې

که دلم په خبر څرګند شي په جهان کې ... خو په زړه و نو پسندیده نه شې لا ورک یې

بزرګي په دلجویي کې ده د خلکو ... ته چې خلک ږړوې څرنګ بزرګ یې

په لویې کې لویي چې ده لایقه ... کمینه وې ته مت کړه که سالک یې

فلک تا غوندې پیدا کړي بیا فنا کړي[(١)] ... ته لا نوې خواست کوې په ناز نازک یې

٣٩٠ دا نایاب به په دیوان ښکلي پند خلې ٤١٤٠
چې رحمان په خوار نظر ګوري فلک یې

---

(١) اصل نسخه : "فلک تا غوندې هزار پیدا کړي بیا فنا کړي". (*) چاپي دیوان : "ای رحمانه اوښکې دې هم تخم د باران دی".

Marfat.com

٤١٦

دزړه حال و تا ته څه وایم په ژبه — ته خبر د خوبن و زړو نو په منزل یې (١)

هم د ګل په څېر بلبل سېځي په مینه — هم مین لکه بلبل هسې په ګل یې

بې لیده و د ځر ګند بڼې عیب وړه — په کمال د ښکلي چارو کامل یې

هم قاضي یې هم ملا هم محتسب یې — هم ساقي د مې پرستو په محفل یې

یو دي ذات په دوارو کونو کې شهره دی — بل په نام له هر چا لو یه یو په سل یې

چې ته رخ په عبادت کې نه جار باسې — د رستم شیر یې (نفس) بد کالتري خیل یې

ورکول او پېرودل دې په ځېل لاس دي — که وچالې ورکوې که دې اخل یې

جار ترهسې رنځ نبولو شه رحمانه — چې شهي دې په پوښتنه وې راغل یې

خدای طاعت، عبادت څه کوي یې

٣٩١ — ٤١٤٩

خوږې مینه د سرې ده ازمیل یې

## بیتونه:

په "چې یې نقش په زړه خیال شي داشنا" غزل کې:

ترا بده بدې بخره ملالې وي — له هغو چې زړه ملال شي داشنا

په "ته چې ما ته وایې چې په څه کوې ژړا" غزل کې دریم بیت:

خوبه داجفا کړې نه پوهیږم څه بلا شوه — خوبه وې تر کومه داجفا او دا بلا

په "بیه ده بیه ده دا دنیا" غزل کې له مقطع نه دمخه بیت:

(٢) که مې مال د دنیا ډېر وي — هېڅ پرې نه کاندې پروا

په "لاس مې د ترې د زلفو په تناب" غزل کې:

---

(١) د دې غزل مطلع په اصل نسخو کې نشته.

(٢) اصل نسخه: "هېڅ ور نه کاندې پروا"

Marfat.com

لە فراقە چي يي آه کړم سوك پە ستر ګو    يو لستوني مي ګرداب (شي) بل ګرداب

پە "هر مطرب چي غوږي تاو کا د رباب" غزل کي دوهم بيت :

هومره تاو د بېلتانه د را باندي زور شي    چي حساب يي بيان نه شي پە کتاب

پە "چي مي يار وليد پە سيمه د اغيار ګډ" غزل کي لسم بيت :

سخت سفر د عاشقي د خوك او زه خوك    خداى ناخاپه پري راګډ کړم پە دا لار ګډ

پە "نظر دي بلبصر" غزل کي اووه څلوېښتم بيت :

نه بخلا نه مرور وي    پرېشان ګرزي در پە در

پە "زه تر څو يم تر سر" غزل کي ١٦ - ١٧ - ١٨ بيتونه :

کە مي غولوي کە مي وژني    کە مي آس وي کە مي خر

کە مي ميږ وي کە مي مږ وي    کە مي اوښ وي کە غاتر

کە پە کور کي مي کالي وي    کە لنګي وي کە تغر (1)

پە "پس له مرګه څوك ارت غواړي خپل ګور" غزل کي يولسم بيت :

پە يقين به بدکردار بدکردار کا    کشيده شي د بدکردار سره پېغور

پە "بد اختر به نيك اختر نه شي هرګز" غزل کي اووم بيت :

کە تر غره ور باندي وکړي کار به کبري    مرغچه (2) به درګوهر نه شي هرګز

پە "چي پاى بند شه دليلي پە اشتياق" غزل کي :

رحمان خوښ دي د خپل يار پە درد وغم کي    تر به والي چي بادشاه دي د آفاق

پە "چي مشغول نه وي د ترکو پە جمال څوك" غزل کي لسم بيت :

لج بند خو بيد مخ روښني له هيچا نه شي    کە هر څو يي پاکيزه کا پە رومال څوك

پە "مه غوږ باسه د نا اهلو قيل وقال" غزل کي نولسم بيت :

---

(1) اصل نسخه : "کە لنګيه وي کە تغر"

(2) پە اصل نسخه کي "مرغاچه" ليکلي دي. پښتو قاموس "مرغچيچه" ښيي دي اصل شکل يي "مرغچه" ده چي د "مصنوعي مرغه" يا "مشکنبه" معنى ورکوي.

Marfat.com

خراب دل مي نهي غواړي بلا دا شوه    چې نهي را معلوميږي کال په کال

په " په يوه غمزه د سترگو يې فنا شوم " غزل کې ٦-٧ بيتونه :

په خپل کلي په خپل کور کې مې غربت دی    په صدف کې در يتيم غوندې يکتا شوم

مستوري را څخه يووړه مستو سترگو    رحمان ځکه په وگړيو کې رسوا شوم

په " چې له مرگه يې پروا يې په هر دم " غزل کې ٢٨ بيت :

پس له مرگه به دې هوريې هم خانه وي    څه پوهيږې يا به مار وي يا لړم

په " ته چې هسې گاهې ترش گاهې خندان " غزل کې اتم بيت :

د سرې صورت څه روغ د کانې نه دی    نشته کانې څه ستا د جور توان

په " څو به شيبم زه غمونه د هجران " غزل کې شپږم بيت :

لکه غم د آشنايې په ما وورېږي    يا د به نه وي د چا هسې گڼ باران

په " تا چې رنگ د ميو در کړ و لبانو " غزل کې ٦-٧-٨ بيتونه :

ستا د خولې له حقيقته صوفي څه زده    له دې رازه څوک خبر وي يې رندانو

د پيزوان غمي دې زيب کا پر لبانو    د واره زلفې دې چوړۍ د ملنگانو

تور وربل دې لکه مار په جبين پروت دی    شينکی خال دی مواصل د رنځورانو

په " که هر څو په صحرا سر شوم هم په کليو " غزل کې دريم بيت :

هر اشنا چې مخ پنهان کا نه دې موهم    کړې غوا لم شپه او ورځ په سپرو پليو

په " ورځ دې تيره په شوې کړه شپه له خوابه " غزل کې اتم او نهم بيتونه :

اندرون به دې له اوره هسې دک شي    چې نن دک شي په شرابو په کبابه

چې د مخ و آب و تاب ترې نظر کړم    را ته هيڅ شي د گلونو آب و تابه

په " ته څه اې شکر لبه " غزل کې :

نه د لې شوي نه هوريږې شوې    تر ميان و لاړې مذ بذ به

Marfat.com

په "خود به وران شي د دنيا بازار لتاره" غزل کې ٤-٥-٦-٧ بيتونه:

يوه هسې نجې سوزې مې شوه په برخه    چې سر دې يې لا بتره ده تر ساره
مصلې د نجې ننګیالی وړ لیسې لنګ کړه    د هوس مصلې قطع کړه ولې نغاړه
يار زما د سترګو تور په نجې ګر زيد لم    په هجران کې مې د سترګو رڼا لاړه
په خوان يې مونده نه شي له سګانو    په لوخ سر سره د روزې له بګاره

په "ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې مينه" غزل کې پنځم بيت:

راشه نجومي زما د يار فال وګوره    تللی يار به کله له سفره راپېښېنه

په "کشکې زه خاورې ايرې د ستا د در واى" غزل کې نهم بيت:

يا شبنم د صبحدم يا عندليب شومې    چې د ستا په ګلشنو زما ګذر واى

په "ستا له غمه مې په سر کې همې شور دى" غزل کې اووم بيت:

د دوه غم د عاشقۍ جوړه سره کړه    خداى د وکړي و دنيا ته يې سرور دى

په "زلفې دې له ډېرې درازه پاى تر سر دى" غزل کې اووم بيت:

داخوږه له کم بختۍ له تا زار کړم    ستا له نيکه خوى کاڼي بوټي هم خبر دي

په "چې د ځنګ مې دلبر په لاس کې جام دى" غزل کې اووم بيت:

ته چې خپل فراغت غواړې په جهان کې    فراغت خاطر راوښيه کدام دى

په "چې د اسې لاس په لاس دنيا پرېښودې" غزل کې اتم بيت:

په خپل ځاى به يې هر کلام په کار شي    رحمان . . . طالب له د سکو دى

په "خبر مې ستا د بنوغشې په سينه دى" غزل کې لسم بيت:

نه شما زما په سترګو کې جلوه کا    ماه وش يې سينه مخ يې آينه دى

په "غم دې همې غلبه شو په ما باندې" غزل کې اووم بيت:

زه رحمان يې شد نې په ځان ګڼمه    که يار سل ځله ناشد يې چارې کاندې

په "آشنايي توره بلا ده اشنا مه شې" غزل کې څلورم بيت:

خپل خو بنيت وهرڅاروي وته قصاب دی — توانايي د تن تاوان دی توانا مه شې

په "ولې و... و عاشق ته نظر نه کړې" غزل کې دريم او اوو‌م بيتونه:

ښتن لا... د سپېږي په سر باندې راکاږي — ته تش سيوري د مخلص په سر نه کړې

زما هر زمان په تا باندې گذران وي — ته يو دم زما په لوري گذر نه کړې

په "مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کې" غزل کې اووم او دوولسم بيتونه:

هېڅ صرفه نه کړي د زړونو ازار اخلي — د چا سود دی که روزي شو په آزار کې

وهغوی چې خدای حق بينې ستر گې ور کا — ديوسف تجلي وينې په ديوار کې

په "دهغې بنا چې نوم محنت آباد وي" غزل کې شپږم بيت:

بېخ بنياد به دهغوي په يارۍ کې — چې دتن په نابودۍ يې اعتقاد وي

په "که د درستي دنيا غم مې په سر بار وي" غزل کې ٦، ٧ او ١١ بيتونه:

زه به ستا له رقيبانو خبر ما ند کړم — دا دستور دی چې له گلدسته خار وي

کله چې هر زمان په آب زمزم ونځم — بې مېنه مې په زړه باندې غبار وي

څو چې سل خاره خبن نه شي په تا تر کې — کله وي چې دبلبل وگل ته لار وي

په "دوصال په هوا والوتې مرغه شوې" غزل کې څلورم بيت:

چې بېلتون ورته اسان دی هغه خلک — از مېښت له په بند د بېلتانه شوي

په "دېرې خولې زما په ياد شکر خورې شوې" غزل کې څلورم بيت:

خپل قسمت په سر يې کاندې هر چې کاندې — د چا بر خه خاموشي د چا نارې شوي

په "چې په مخ باندې داد بنکو يو رقم دی" غزل کې ١٤ بيت:

قاعده د درد مندي هسې نه ده
چې په درد کې يو درد من تر بل کم وي

په "ترڅي ماته والي چي په چاباندې شيدايي" غزل کې له څلورو بيتونو نه وروسته لاندنی بيتونه:

هر چي په حيات صورت له مرګ سره اشنا شي
خلاص به د قيامت له خرخښو په دې دنيا يي

سنځ د هغو ګلو چي برګ رېږي په بهار وي
ګل سرا به ئې وکا له خزانه استغنا يي

غم (خو) هم (هغه) کړي چي هيڅ غم ورسره نه وي
ولې چي ناګاه به يو ورځ ور باندې زيا يي

حکم د نيستي په هغو دی هم (چي) هست دي
هر چي هستي پر بن دي له نيستي نه خبر وي

زړه د عاشقانو د دښمن له لاس بېغم دی
لکه شمع د مقراض له خصومته په خندا يي

لوږه تنده نشته د قانع په قناعت کې
دا کيميا چي زړه کا په خرقه کې امرا يي

هيچا سره چشمي چا طلبي نه کړي په خرمن کې
بلکه د قحطي په ملک کښه شاه يي هم ګدا يي

ما به ښتيا نه وي اي يارانو باري څه کرم
حق کلمه نغمه د هر ګوش سخته بلا يي

زور د سيلاب وار ترل په مقامات وي
زړه د خاموشي په ځای لره نه (چي) ګويا يي

بې خس و خاشاکه د آتش بقا په څه وي
آه و فرياد واړه په مقدار د تمنا يي

زه د رقيب چارو ناو بسا کرم له حبيبه
زلفي په نسبت د مار خورلو اژدها يي

اې رحمانه هر راحت په اجر د زحمت دی
هر چي د بن (د بن) خانده هسې د بر (د بن) په ژړا يي

په "چي پخته شي آشنايي" غزل کې له مقطع نه وروسته بيت:

په پښتو کې رحمان وي
په فارسي کې سنا يي

په "لوه زړه به ورځي يا به مور يي" غزل کې پنځم او شپږم بيتونه:

عبادت خو په ځوانۍ کېږي رحمانه
په پيري کې به څه زهد کړي چي زوړ يي

بدي واړه په سبب د نيستي رحمانه
چي پای بند د يار په هر يا په مړه يي

په "هر گفتار هره وينا چې څوک عبس کا" غزل کې شپږم بيت[1]:

معتقد له اعتقاده مقصود بيامومند  دهغو طاعت غلط دی چې وسوس کا

په "که په بخت کم بختان نه وای خسته دل څوک" غزل کې ۶ او ۱۲ بيتونه:

زه لاړ غر دستا په مينه کې ښهره يم  نه چې نن کاندې خبرې پر دې خيل څوک

ما دا يو سر دی داستا شکرانه کړی  که دسر ماغزه مې خوري په دا ويل څوک

په "د زړه حال و تا ته څه وايم په ژبه" غزل کې ٤ او ۵ بيتونه:

که يې لاس د خدای په چارو رسيدلی  بد يې بخري به چا چيرې قبلول يې

څوک له خاوره واير و پاڅوې تخت ورکړي  څوک له تخته داير و په ډيران ولې

٤٢٢٠

دَ رحمان بابا ديوان د (۱۳۵۵) لمريز كال دَ زمري په مياشت كي
دَ نصير هنر" پښتون" په قلم خطاطي او نقاشي شو.

٤

(۱) دا بيتونه د سناغلی رفيع د شخصي کتابخانې له يوې زړې چاپي نسخې څخه لاس ته راغلل.

ترتیبوونکی: څېړنیار محمد عارف غروال

# وييپانګه قاموسي برخه

## الف

| لغت | | معنی |
|---|---|---|
| ابتـه (حبطه) | | عبث، بې معنی، بې ځایه. |
| ابلق | | آس، برګ. |
| اختلاط | | ګډون، خبرې کول |
| ارهنډه | *arhánda* | بیدانجیر. |
| آدینه | | جمعـه. |
| اشام | | ؟ |
| اشراق | | دځاښت لمونځ، طلوع کول، ځلیدل. |
| الـوی | *aləway* | وریت شوی. |
| اعراف | | دجنت او دوزخ ترمنځ ځای. |
| افسون | | جادو، اوده، دم. |
| الغیاث | | پناه غواړم، فریاد. |
| الوس (اولس) | | ټبر، قوم، طایفه. |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| آماج | | موخه، هدف، د توپک غشي او نښان. |
| آماس | | پړسوب. |
| اوتاد (دوتد جمع) | | يوه روحاني مرتبه، موږي، مېخونه. |
| اوډنى | odə́nay | يو ډول ښځينه پوړنى دى چې غالباً نجونې يې په وړوکوالي کې پر سر وي |
| اوراد (د ورد جمع) | | دوعا ګانې. |
| اورپسبتى | orpəṣtay | پتنګ، پروانه. |
| اوږمکه | ozmáka | مياشت، ماه. |
| اولاق (اُلاغ) | | خر. |
| اهار | | داوړې دېغتې ګرمي موسم. |
| اهداد (هيداد) | | سزا، پاداش، سرزنش. |
| اياغ | | دشرابو پياله او کاسه. |

# ب

| | | |
|---|---|---|
| باده | | شراب. |
| باړه | bāṛá | يو مشهور خوب. |
| بالي (بهاڼي) | | ورور. |
| بتان (بت) | | مجازاً پيغلې، ښکلې. |
| بدسګال | | بدذات، بدجنس. |
| برنا | | ځوان، زلمی. |
| بساط | | دزمکې فرش. |
| بطال | | بد ويونکي، باطل ويونکي، غلط ويونکي. |

Marfat.com

بګاړ (بګیاړ) *bagāṛ* لېوه، شرمښ.

بیچاونې (بیچاونه) *bičāwṇa* دعزت جامې، بستره، روجايي.

## پ

پارسا پرهېزګار، زاهد.

پارچي *pārci* دجوارې کولو دانې.

پاسلل سپارل.

پايله پايزېب.

پخساک پرېشاني، غم اوخپګان.

پرانه پرته، بې ځايه، بې مورده.

پسندل غوره کول.

پکو په ځان پورې تنګ اوله ځانه ستړې.

پیمم پیټ.

پیڅل *pecəl* زغمل، صبر کول، تحمل کول.

پیچوې (بچوې) دچلغوزې پرې (بچوکي) مجازاً اوبدې ځنې اوتخه.

پېړې دکېناستو تخته، دناستې کټګې کټنځې.

پېشاب متيازې، بولې.

## ت

تبرا بېزاريدل، تبرا کېدل.

تراړه *trāṛa* تېره، کاڼي، ډبره.

تراهي *trāhi* وېره

Marfat.com

ترو *tru* نو .

توسن نیلی .

تولا محبت ، دوستي ، رښتینګلوي ، مینه .

تېزل *tezə́l* ځغلول ، پرېږې سپړېدل .

# ټ

ټوکرکی دپوزي یوه ټوټه یا ټوټکی .

ټند *tə́nd* په زړه پورې ، سخت ، محکم .

# چ

چلیکان هغه کس وندګر چې په ټاکلې ځای یا مزدوری د چا حمله کړي .

چندن صندل .

چوړه چوړه ، چوارېه .

چولک یوکم شی ، لنډ خه .

چوګان نیزه ، د ډېه ، یا ټوټه د ډنډه .

چووه *čowá* عطر ، خوشبویه مواد .

# ح

حط ایسته کول ، الیری کول ، دیو بار کوزول ، پرېښودل .

# خ

خاصا نیکه خوبه ، خاص الخاص ، وتلی .

خاکروب جارو کښ .

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| ختول | | ختنه لرونکی، ناپاک. |
| خپسر | *xpəsár* | خپل ځان. |
| خدنګ | | غشی، خندق، |
| خاړه | *xrāṛa* | یو ډول دښتي وړه مرغۍ ده. |
| خرام | | ناز او نزاکت (غالباً له تګ سره راځي). |
| خمر | | شراب، مُل. |
| خمسور | *xamsor* | همراز، همراه. |

## څ

| | | |
|---|---|---|
| څښکو | *caṣko* | یو بوټی دی چې میده کوي یې او په لیچنو سترګو کې یې اچوي (چشکو) |
| څرې | *caṛə́y* | د کیږدۍ د سراوندہ وښتان. |
| څلې څولې | ع *cale-cūle* | ګنډه ګونډه، زوړ سامان، ګنداو کچکول. |

## ځ

| | | |
|---|---|---|
| ځُبله | *ǰabə́la* | سره، یو له بله. |

## د

| | | |
|---|---|---|
| دد | | ځناور. |
| دښن | *daṣən* | دښمن. |
| دراج | | تنځری (تځری) یو مارغه دی. |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| دراے | | ړغرنجی، ګونګرو، ژرژری، جرس. |
| دلق ازرق فام | | زرغون کند، ګودړی. |
| دمک | | یوه لحظه |
| دواب | | څاروي، څلوربولي، بوده ګان. |
| دوچار | ducār | څرګند، ښکاره، ورمخامخ، نمایان. |
| دیبا | | وریښمین ښکلی ټوکر. میلک |

## ډ

| | | |
|---|---|---|
| ډبر | dabár | تباه، ټبر، کهول. |
| ډلیال | dalyál | د ډلې ملګری. |

## ر

| | | |
|---|---|---|
| راج | | راجا (واکمن) |
| راح | | خوښي، نشاط، مجازاً شراب. |
| رټې | ratə́y | ډېرلږ، ناڅیز، کم وزنه شي. |
| رسن | | رسۍ، تناو. |
| رصاص | | قلعي، سرپ. |
| رعنا | | ښکلی او متناسب اندام. |
| رنځوری | ranӡə́ray | رنځور، ناروغ، علیل، مجازاً زیړ رنګی. |
| ریمن | remə́n | خیرن، بدرنګ، ناولی. |

## ز

| | | |
|---|---|---|
| زباد | | اثبات. |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| زبر | | یاد ، په یاد . |
| زمول | zmol | مراوی ، بې سېکه ، ضعیف . |
| زوېږ | zwəẓ | نشت ، نابود ، جرام . |
| زوم | | کم ، کمی . |
| زیرمه | | تدبیر ، ذخیره ، پانګه ، پاسره . |

## ژ

| | | |
|---|---|---|
| ژغر | zğər | ژغورلی . |

## س

| | | |
|---|---|---|
| سالکان | | زاهدان ، عارفان . |
| ساهو | sāhū | آزاد ، اصیل . |
| سترغلی | stərğláy | کوولک ، دسترګو غالمی ، (کاسه چشم) |
| ستور | stwar | خاروي |
| سنجاب | | ښولی . |
| سراښ | srāṣ | حریص |
| سفال | | ټیټ ، بې قدره ، پستي او بې همتي ، کودړی |
| سقلات | | خیل ځان پېټول . |
| سکه | ska | نو ، ځکه ، ګویا ، لکه چي . |
| سمک | | کب ، ماهي . |
| سنداسي | | واندې کیدل ، ملنګ ، کیمیا لټونکي ملنګ . |
| سولند | swáland | حریص ، بخیل ، ممسک ، لکه سولند سپی . |

Marfat.com

سوها — *sohā* — یو ډول بخواني توکی دی.

سپپاري — *separí* — یوه لوړه غږیزه ونه ده چې په تودو سیمو کې ښنه کېږي.

سیم — یو ګران قیمته فلز دی.

## ش

شب داج — توره شپه، د تروږمۍ شپه.

شط — سیند، هغه ستر رود چې دریاب ته ګډېږي.

شهاب — ستور، ستوري.

## ط

طره — جوغه

طوق — غاړکۍ، امیل

## ع

عتاب — قهر او غصه

عرعر — سپېدار

## غ

غبغب — د چرګ جنجرې، د چرګ ججوړه.

غربال — غلبېل، پرویزۍ.

غزا وشوه — اصل معنا: دا یو شوق دی، په دې پوځ خه وشول؟
( یو تکیه کلام دی ).

Marfat.com

غوړ — *ğor* — برخه، نصیب، قسمت، مجازاً میراث.

غوړځ — په زوره چیغې ایستل، په اتڼ کې تو پونه اوچیغې ایستل.

غوږې — *ğwaẓáy* — سخت انتظار، غوږ ګلی، دچا درا تګ د زیړی انتظار.

غوک — لویه خنګسبه (چونګسبه)، شلاندړه.

غونډۍ — *ğúnday* — دوزغنو جوال.

غونډ ژبې — *ğwanḍ-žəbay* — فصیح، بلیغ.

# ف

فلوس — دفلس جمع، دیوې ونې میوه ده چې په تورو سیمو کې شنه کیږي زیړې تریخ او په طب کې کارځنې اخیستل کیږي.

# ق

قرقره — دچرګ تاج، چرګ خولې، تاج، شوغه.

قنج (غنج) — ناز.

# ک

کاړ — دورو کانو ډیری.

کام — هدف، مرام.

کاواک — ډډ، ګوګ.

کروړ — *Kroṛ* — سخت، محکم.

کړیکه — *Kṛika* — چیغه، وېروونکی غږ.

کښنیده — نقشه، انځور.

کلاب (کلب) — سپی.

Marfat.com

کنگال — مفلس، نیستمن، مینځل شوی.

کوتل *Kutə́l* — ذبح کول، حلالول، پوستکی تری ایستل

کودیکه — پر ډول خاورین دیګ دی.

کورمه *Kormá* — کورنۍ، اهل بیت.

کوله *Kolá* — دساقي د پاسه د ګل برخه.

کوی — چم، کوخه، مالت.

کهی *Kaháy* — ډنګر، لاغر.

## گ

گانده *gánda* — سبا، راتلونکې ورځ.

گایل — ژوبل، زخمي، پرهار ژلی.

گرام *grām* — کلي، سیمه، استوګنځی.

گروهیدل *grohedə́l* — عقیده لرل، معتقد کیدل.

گریال *garyāl* — زنګ.

گورهنده *gorhánda* — وره تیاره کوټه، په غره کې بانډه په ډول خپرې مجازاً قبر

گونته *gontá* — دشطرنج دانه.

گوهار — دغواوو پاده.

گوی — پنډ وس، پنډ وسکه.

گنگو *gongú* — زعفران.

گیډی *gedáy* — ناپوه، بیزل، احمق.

## ل

لارغه *lārǧə́* — ډرنګ، ځنډ.

Marfat.com

| | |
|---|---|
| | گونګ ، یوډول انګور دی . |
| | واګي ، قبضه . |
| lu | لوګی . |
| locedəl | یوه داسې اوږده مبارزه کول چې یوه سیاله ډله هم نهائي بریالیتوب ته نه رسیږي ، خو له مبارزې څخه هم لاس نه اخلي . |
| lostəl | په کوچ پیل کول ، لېږد پیل . |
| | پاشل . |

# م

| | |
|---|---|
| | شته ـ هستي او دارايي . |
| | استوګنځی ، مسکن . |
| matrá | نایاب ، نشت ، زوږ . |
| mət | بازو ، هاند ، همت . |
| | جذب شوی ، عاشق شوی . |
| | نغری ، دیګدان . |
| | مست ، نشه . |
| | نرښځی . |
| | بد ویل ، غیبت . |
| | طلب ، لټون ، کومک |
| | کونجکه ، خرموره . |

Marfat.com

| | |
|---|---|
| مستدام | همېشه، تل. |
| مشاطه | دمه، سینګار وونکی. |
| مشګیرک | دیو مارغه نوم دی. |
| مصحف | کتاب، هغه پاڼې چې یو ځای یې سره ټولې کړي وي |
| مطر | باران، ورښت. |
| معتیو (معتوه) | غیر مکلف، لېوني ډوله. |
| مغاک | ګودال، ژور غالی. |
| مقراض | بیاتي، قیچي. |
| منجلاب | خوسا ډنډ. |
| منزه | پاک، سپېځلی، پاکیزه. |
| مواس | چوغلګر. |
| میثاق | ژمنه، وعده، عهد، پیمان. |
| میزر | پړوني، چادري. |
| محوت | پیلبه، پیل والا |
| عیسی | معاش ـ تنخوا. |

# ن

| | |
|---|---|
| نارون (نارو) | یو ډول دانه ده چې د چتلو او بوله خښلو پیدا کېږي او په منځ کې یې د تارغوندې نری چینجي وي. |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| ناړ | | د نړ، ساقه . |
| ناغه | | دستړګوسره رګونه . |
| ناوك | | غشی، شستی |
| نغل | | دخماوند ، خجوړه . |
| ندا | | غږ، آواز |
| ندی | nadáy | رود ، وړوکی سیند . |
| نغمول | | نغړل، په یوه ساتېرول . |
| نغوتل | | غوږ نیول ، دخبرې منل . |
| نغوته | | اشاره، تلقین . |
| نمړي | | جامې، لباس، کالي . |
| نمط | | طریقه ، نوع ، روش ،رویه<br>هغه دله خلك چې په یوه فكر اوړشروي . |
| نول | | غم ، پرېشاني، اندوه . |
| نومړ | | یادشوی ،نومول شوی . |

# و

| | | |
|---|---|---|
| واړه | wāṛə | غوړه ، وړ |
| وبله | | یوتربله . |
| ورژلی ( ورژل ) | | رېزه رېزه كول، مړل . |
| وشتي | wášte | توكې ټكالې ، لطیفې . |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| وقر (وقار) | | طاقت، تحمل، درښت. |
| ویلاړ | *welāṛ* | عزم، اراده، نیت او مراد. |

## ه

| | | |
|---|---|---|
| همیانه | | هغه تیلی چې پیسې پکې اېښودل کېږ |
| هنډه | *hánḍa* | مضبوطه اراده، د زړه غوښتنه، پد |
| | | یوه خبره غوښته کول. |
| هوک | *huk* | نیغ، شخ. |

## ی

| | | |
|---|---|---|
| یرغال | | بیره، یرغل حمله، برید. |
| یسار | | کین، اسان. |
| یمین | | ښی. |

پای

# یادونه:

د متن تر تیارېدو وروسته، د رحمن بابا د دیوان ځینې نورې نوې خطي نسخې تر لاسه شوې، په دغو نسخو کې ځینې داسې غزلونه وو، چې د متن له غزلو یې بېلتون زیات وو، او یا یې توپیر سره درلود، نو ځکه موږ نوې لاس ته راغلې غزلې په ضمیمه کې ونیولې، په دې ضمیمه کې ځینې داسې غزلې هم شته، چې په متن کې یې نیمګړې شکل هم خوندي دی، لکه د متن د ۸۷ مخ غزله، چې بشپړه د ضمیمې په ۲۸۳ مخ کې راغلې ده، او یا لکه د متن د ۲٤٦ مخ غزله، چې په بشپړه توګه د ضمیمې په ۲۸٦ مخ کې راغلې ده. نو محترم لوستونکي به د دغه کار زموږ تېروتنه و نه ګڼي.

اداره

Marfat.com

ذخیرہ

# *COLLECTIVE WORKS OF RAHMAN BABA*

PUBLISHED

BY

PUSHTU ACADEMY

Government Printing House

1977

Marfat.com

ذخیرہ

# COLLECTIVE WORKS OF RAHMAN BABA

PUBLISHED

BY

PUSHTU ACADEMY

Government Printing House

1977

Marfat.com